# ژورنالیزم



لیکوال: حمید حلیم

# د کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | ژورنالیزم |
| لیکواله: | صفیه حلیم |
| چمتو کوونکی او ایډیټر: | جعفر هاند |
| د پښتي عکس: | جعفر هاند |
| خپرندوی: | مومند خپرندویه ټولنه |
| چاپ کال: | ۲۰۱۳ |
| چاپ شمېر: | |



د کتاب د بیا چاپ حقوق یوازې له ایډیټر سره دي

www.safiahaleem.com

# لیک لړ


1. لومړۍ برخه
2. دویمه برخه
3. درییمه برخه
4. څلورمه برخه
5. پنځمه برخه
6. شپږمه برخه
7. اوومه برخه
8. اتمه برخه
9. نهمه برخه
10. لسمه برخه
11. د لیکوالې په اړه


www.safiahaleem.com

# لومهڕێ برخه

www.safiahaqem.com

# په دې برخه کښې

## د صحافت تاريخ


ژورنال ، ژورناليسټ او ژورناليزم

لومړی ورځپاڼه

ژورناليزم د ريښتيا وپناعلم

د پښتو لومړی خبرپاڼه


## انسان او معلومات


صنعتي انقلاب


## د خبراو معلوماتولرغوني وسايل


غير فعاله وسايل

فعاله وسايل


## د معلوماتو راټولول او ليږل


ټيلېګراف

ټيليفون

ټيلېګراف دوېم دور

ټيليکس

ټيليفون دوېم دور

فکس

سيټيلايټ ټيلېفون

کمپيوټر لومړی دور

کمپيوټردويم دور

ټيلېفون درېم دور

د کمپيوټردرېيم دور


www.safiahaleem.com

د معلوماتوساتل

خپله حافظه

کاغذ او قلم

د غږ ثبتول،ټیپ یا پټه

بې پټې ډیجیټل مشینونه

کیمره، عکس اوفلم

موبایل ټیلیفون کې ثبت

www.safiahaleem.com

# د صحافت تاریخ


د انسان په لیکلي تاریخ کې د ځینو کسانو نومونه د رښتیا وینا لپاره ابدي شوي دي چې یو په کې سقراط و. د یونان دې فلسفي ( فیلسوف) هغه وخت پخپله ټولنه کې د اسطورو لمانځنه یو بې منطقه کار بللو. د حاکمانو دا خبره خوښه نشوه او دی یې د مرګ په سزا محکوم کړو. د لیکلې ژبې د پیل سره سم ښايي انسانان د خپلې ټولنې د ناخوالو او ظلم پر ضد خپل احساس د څرګندولو ته لاره پیدا کړه. د پېړیو راهیسې لیکوالانو په کیسه، شاعرۍ او ډرامه کې د زړه براس ایستی دی. د خوشال خان خټک په شاعرۍ کې هم د دې بېلګې شته. په یو بیت کې وايي:

اورنګزیب بادشاه زړه ډک په لاهور راغی
ګوره څو عالم به وران څو به ودان شي

رښتیا وینا او حقیقت بیانول د ژورنالیزم بنسټ دی.

## ژورنال ، ژورنالیسټ او ژورنالیزم

د لاتینې ژبې دې توري، له فرانسوی ژبې نورو ژبو ته کډه کړې او مفهوم یې د ورځې یاداښتونه دي چې په کاغذ لیکل کیږي. مانا هغه لیکنې چې یو څوک یې هره ورځ یا پرله پسې وکړي. دا لیکنې د خپل یا د نورو د ژوند، د پېښو، د کاروبار، یا دجنګونو په اړه کېدی شي.



د ګویټنبرګ چاپ


په ۱۴۵۶ م کې د جرمني ( المان) د لومړي چاپ ځای ګویټنبرګ، په لږ وخت کې د ډېرو پاڼو د چاپو لوکار اسانه کړو. د کولن په ښار کې یو ژورنال د شپاړسمې پېړۍ په وروستیو کلونو کې لکه د کتاب، په چاپي بڼه وېشل کېده. خو په اروپا کې لومړی خبري پاڼه چې اوسني شکل ته ورته وه،

www.safiahaleem.com

دانګلستان د اکسفورډ په ښار کې په ۱۶۶۵ م کې له چاپه راوتله. هغه وخت د برتانیا شاهي کورنی د لندن د طاعون د وبا نه اکسفورډ ته کډه کړې وه او د حکومت کارونه له هغه ځایه کېدل. د اکسفورډ ګزټ نومې دې پاڼې ته چې په اونی کې دوه وارې خپرېده، وروسته د لندن ګزټ نوم ورکړی شو.

## لومړۍ ورځپاڼه

د اتلسمې پېړۍ په سر کې دانګلستان یوې مېرمنې الیزبت مالیټ د یوې داسې پاڼې د چاپولو هوډ وکړو چې خبرونه ولري. هغې د لندن ښار په مرکز فلیټ سټریت کې د یو پب ( میخانې) د پاسه د خپل دفتر لپاره یوه کوټه په کرایه واخیسته او د مارچ په ۱۱ نېټه ۱۷۰۲ م کې یې د "ډیلي کورانټ " نومې لومړۍ ورځپاڼه له چاپه راوویستله. د دووستنو ( کالمونو) په یو مخ چاپ دې ورځپاڼې یوازې خبرونو ته ځای ورکوو اوتبصره یا نظر به یې نه چاپول. د الیزبت، تګلاره دا وه چې لوستونکې دې پخپله دومره عقل ولري چې د خبرونو نه مطلب تر لاسه کړي. ډیلي کورانټ په ۱۷۳۵ م کې د ډیلي ګزټییر ورځپاڼې سره یوځای کړی شو.


Numb. 2.

The Daily Courant.

Thursday, March 12. 1702.

From the Vienna Journal, Dated March 1. 1702.

Vienna, March 1.

THE Regiment of Hussars commanded by Major General Colonitz, consisting of 1000 Men, is on its March from Hungary towards Bohemia and the Empire; and several other Imperial Regiments are marching this way. Our new Levies are carry'd on with great Success, and Recruits are continually sending away to their respective Regiments. We have Advice from Adrianople that the Sultan is in that City, and that my Lord Pagett, Embassadour from England, is also arriv'd there from Constantinople, and preparing to set out for this Place in a few days. Count Teckely lives in so Poor a Condition at Ismid, otherwise call'd Nicomedia in Asia,

Guards of his Electoral Highness of Bavaria, and the Count D' Autel, Governor of Luxemburg, are made Lieutenant Generals: The Counts of Grebendonk and Touloegeon, the Barons of Winterfelt and Noiremont, Don John de Ydiaques, and Don Antonio Amentaga, Brigadiers, and the Sieur Verboom Engineer General. Orders are given for the speedy repairing the Castle of Ter Veur, where an Apartment is to be got ready for the Duke of Burgundy, who is coming into this Countrey to Command as Generalissimo this Campaign. On Friday last the Marquis of Bedmar went to Ghent, where he is to receive on Sunday next, the Homage from the States of Flanders in the Name of His Catholick Majesty.

From the Amsterdam Gazette, Dated March 16.

## ژورنالیزم د ریښتیا وېناعلم

یو باچا د شپې خوب ولیدو چې ټول غاښونه یې غورځیدلي دي. سهار یې خپل نجومي راوبللو او خوب یې ورته بیان کړو. نجومي ورته ووېل "د باچا سلامت ټول خپلوان به د ده په ژوندوني کې مري " باچا په قهر شو او د نجومي د وژلوامر یې وکړو. بیا یې بل نجومي راوبللو او هغه ته یې هم خپل خوب بیان کړو. دې نجومي ورته ووېل " باچا سلامت به تر ډېرو کلونو ژوندی وي " باچا په دې خبره خوشاله شو او هغه ته یې انعام ورکړو. په ظاهره د دواړو نجومیانو په خبرو کې توپیر ښکاري. خو په اصل کې د خوب مانا یوه وه.

ریښتیا وېنا ښه کار دې خوهنر په دې کې دې چې ښنګه به یې وایې؟

www.safiahaleem.com

په اتلسمې پېړۍ کې د زيات شمېر ورځپاڼو د چاپ سره د دې خطر پيدا شو چې ځينې کسان به د رښتيا وېنا او د خبر چاپولو لپاره دومره کاواکه شي چې د ګټې نه به يې تاوان زيات وي ځکه هغه ازادي چې خدای پاک انسان ته ورکړې ده، د رښتيا وېنا په پلمه بل انسان ترې نشي اخيستی.

په نولسمې پېړۍ کې د راډيو د ايجاد سره ژورنال په صوتي شکل هم خلکو ته رسېد ل پيل شول اوپه شلمې پېړۍ کې د ژورناليسټ توری د هغو لپاره کارېدو چې د معلوماتو راټولول يې دنده شوه. خو په لومړي او دوېم نړيو وال جنګ کې د اروپا او امريکا ځينو جاسوسانو هم د ژورناليسټ په نامه خپلو خپلوحکومتونو ته معلومات ټولول، د ورځپاڼو خپروونکي په دې خواشيني و، ځکه هر چا چې ځان ته ژورناليسټ ويل نو خلکو به ورته د شک په سترګه کتل. اود دې اړتيا وليدل شوه چې د ژورناليزم لپاره خپل اصول وټاکل شي.

د دې لپاره چې رښتينی ژورناليسټ وپېژندل شي، په لويديځو هيوادونو کې د دوی اتحاديې جوړې شوې چې د خپل کار اخلاق وټاکي او ورسره د خپلو حقوقو دفاع هم وکړي. هرې خپرونې د خپل کار تګلاره او هدفونه وټاکل او هم د ژورناليزم اصول شول. د وخت په تېرېدو دې اصولو پر اساس د معلوماتو راټولول د يوه ځانګړي علم بڼه ومونده اوژورناليزم يوه معتبر او مهم مسلک وګرددې.

د ژورنال لپاره د عربي ژبې نه صحيفه ( د ليکنو لړۍ) بيا هم هغسې د صحافت او د صحافي په متبادل توروکارول شول. په نورو ختيځوملکونوکې چې د عربي ژبې تر اغيز لاندې و، د صحافت او د صحافي توری واخيستو. په خيبرپښتونخوا کې هم په پښتو کې د صحافي او د صحافت توری کارېدو او تر اوسه هم کاريږي خو په افغانستان کې د ژورناليسټ توری په شلمې پېړۍ کې رواج شو او په پښتو ژبې کې هم مروج شو.


## د پښتو لومړۍ خبرپاڼه

لکه د نړۍ د نورو وروسته پاتې ملکونو په څير، د پښتوژبې د ژورناليزم پيل هم د ښکيلاکګرو پر ضد غږ پورته کول و. د برتانوي هند شمالي سرحد، اوسنۍ صوبه خيبر پښتونخوا د قبايلي سيمو نه د پيرنګيانو پر ضد په ۱۹۱۵ م کې يوه چاپي پاڼه د الجهاد په نوم خپره شوه. د دې لګښت عبدالغفار پيښوري ورکوو او مدير يې د سوات عبد الغفور غازي و. هغه وخت د ترنګزو حاجي صيب په دې سيمه کې د چاپ د خونې اسانتياوې برابرې کړې وې. لومړۍ پاڼې په يو مخ چاپېدې او زياتې ليکنې په کې د پيرنګيانو پر ضد وې. دا پاڼې به وړيا د خلکو کورونو ته ويشل کېدی. په ۱۹۲۳ م کې د المجاهد په نوم

www.safiahaleem.com

يوه بله پښتو پاڼه خپرېده چې مولوي محمد بشير يې مدير و. په دې کې هم زيات مواد د پيرنگيانو پر ضد خپرېدله. په ۱۹۲۹ کې د خان مير هلالي په مديريت کې "همدرد افغان "او ۱۹۳۳م کې د زلمي پښتون په نوم دوه نورې پاڼې راووتلې. په دې کلونو کې يوه اونيزه پاڼه هم له چاپه راوتله چې " وطن "نومېده او مدير يې محمد نواز خټک و.

په افغانستان کې لومړۍ ورځپاڼه ( چې وروستۍ هم وه) په دري ژبه کې د محمود طرزي " له خواد سراج الاخبار په نوم د ۱۹۰۶ م د جنورۍ په مياشت کې



چاپ شوه. په ۱۹۱۱ م کې د دې خپرېدل بيا پيل شو خو په ۱۹۱۹ م کې د دې ځای حکومتي اخبار "امان افغان " واخيستو. په ۱۹۶۵ م کې د يوقانون تر مخې د افغانستان مطبوعاتو ته محدوده ازادي ورکړل شوه. هغه وخت ورځپاڼې او مجلې که څه هم د حکومت په کنټرول کې نه وې، خو د ملک او ملت ، اسلام او د شاهي نظام پر ضد ليکلي شيان نه خپرېدل. سره له دې هم په افغانستان کې ژورناليزم څه نا څه پرمختګ وکړو. خو په ۱۹۷۳ م کې د حکومت د نسکورېدو پروخت نولس ورځپاڼې بندې کړې شوې. د مطبوعاتود دې لنډ تاريخ نه تاسوپوهېږئ چې ورځپاڼې د يوهيواد په سياست او د عامو خلکو پر ژوند څومره اغيزې شيندلی شي.

د پښتو ژورنالزم د پښتو ادب د لارې هم وده کړې ده. په ۱۹۳۰م په لسيزه کې د پښتو ژبې ناول او کيسه ليکونکي سيد راحت زاخيلي د " افغان " په نوم يوه اونيزه خپروله چې ادبي ليکنې يې لرلې. د دې مدير سيد عبد الله شاه کاکاخيل و. د شلمې پېړۍ په وروستيو دريو لسيزوکې د افغانستان پېښې د پښتو ژورناليزم د پرمختګ سوب شوې. د شلمې پېړۍ په وروستيو دريو پېړيو کې د افغانستان جګړې د پښتو ژورناليزم په پرمختګ کې لوی رول ولوبوو.

www.safiahaleem.com

# انسان او معلومات

تاسو يوې شيبې له فکر وکړئ چې د افغانستان ديوې غرنۍ سيمې په وړوکې کلي کې پاته يئ. هلته برېښنانشته، هيڅوک رېډيو نه لري اوسهار خلک د چرګ بانګ سره راويښيږي. دې ځای ته نږدې سړک پنځه کلومیټره لرې دی چې په پښو به ورځئ. څومره موده به په کې ژوند وکړی شئ؟

د دې نړۍ پر مخ له کله راهيسې چې انسان ژوند پيل کړی دی، يوه اړتيا يې دا ده چې ځان دزمکې د زېرمو لکه اوبو،ونو بوټو،منرالونو ته لاس رسی ولري او دغسې له خطر، لکه سيلاب،اور او د ځناورو، نه پر وخت خبر شي. له نورو انسانانو، د هغو د ژوند او د استعداد نه زدکړې، دې ته اړ ايستلو چې ځان له هر څه با خبر وساتي. په ځينو انساني ډلوکې د خطر پر وخت، ليرې پرتو خلکو ته د خبر ورکولو لپاره به اور بل کړی شو. نورو به له خولې اوازونه راايستل چې اوس هم په ځينو افريقايي قبايلو کې دود دی. په ډلو کې ښکار، حملې او د لښکر دتګ پر وخت د ځناورو ښکرونه لکه د يوې شپيلۍ غږول رواج شو. د ځناورو د پوستکي نه د خپل ځان د پټولو سره سره انسان يو وخت له دې ډول او نغارې هم جوړې کړې چې په خوشالۍ کې يې ورباندې نڅا کوله. خو هم دغه ساز د خبر ورکولو لپاره هم وکارول شو. د پښتنو په سيمو کې د شلمې پېړۍ تر وروستيو هم په کلو باندو کې د مهم اعلان لپاره نغاره ډنګول کېده.


نغاره

زما يادېږي چې يو وخت مونږ په چارسده کې (د خيبرپښتونخوا يوه سيمه) د ماما کور ته تللي و. دا به د نولس سوه شپيتم ميلادي کال و. يوه ماځيګر د ډول غږ مو واورېدو. ماشومانوخپلې لوبې پرېښودې او غږ ته يې وځغستل. ټولو ويل "نغاره ده" ماپه منډه کې د يوې جينۍ نه پوښتنه وکړه چې نغاره څه وي خو هغې څه نه ويل. يو ځای مې وليدل چې د يوې زړې ونې لاندې د چاتۍ په څير لوی ډول پروت واو يو سړي چې په دواړو لاسونو کې يې غټې غټې لښتې وې، کله به يې يواو کله په بل لاس په ډول راخلاصې کړې او د درز غږ به يې وکړو.

هغې جینۍ ډول ته اشاره وکړه اوویې ویل "هغه ده نغاره" مونږ ماشومان د نغارې نه په لږه فاصله په دایره کې ولاړ و. زه خبره نه ومه چې زمونږ شا ته څومره ډېر خلک راټول شوي و. لږه شېبه وروسته د نغارې غږونکي لاسونه ودرېدل او یو بل سړي په زوره وېنا وکړه. ټولو په خاموشۍ دده خبرې اورېدې. زما نه یادېږي چې ده څه ویل خو پام مې شو چې زماملګرې هلته نه وه. زه وار خطا شوم او غوښتل مې چې له هغه ځایه ووځم خود خلکو ګڼه دومره وه چې ما ته هیڅ لاره نه پیدا کېده. ارو مرو یوه مهمه خبره وه چې ډېر خلک ورته راغلي و. زه په انتظار شومه چې هغه سړی به د خبرو نه وروسته یو وارې بیا نغاره وغږوي. زما په شان نور ماشومان هم په دې تمه د ونې لاندې تاوېدل راتاوېدل. یو څو وران (شوخو) هلکانو په لاس د نغارې د غږولو هڅه کوله خو یو سړی لښته راواخیسته نو مونږ ټولو ترې منډه کړه.

په ځینو کلیو کې به د نغارې لپاره ځانګړی ځای جوړ و او دیو یا دوو کسانوبه دا دنده وه چې نغاره به یې ډنګوله. د خطر یا د مهمې پېښې پر وخت د نغارې غږونکي ته مونږ لومړی ژورنالیسټ ویلی شو. ځینو ټولنود یو بل د خبرولو لپاره به خاص وګړي ټاکلي وچې له خولې به یې بېلا بیل غږونه راایستل او لرو اوسیدونکو ته به یې پیغام ورکوو. د یوې سیمې نه وتونکو کوچیانو به تیږې وتوږلې یا به یې ورباندې نښې جوړې کړې چې ورپسې راتلونکي د اوبو د شته والي یا د ځنګلي ځناورو د خطر نه خبر کړي.

خبر د انسان ضرورت دی چې د ژبې د جوړیدوښسټ یې کېښودو.

د لیک او لوست دایجاد نه وروسته خپله خبره بل ته رسول اسانه شول او په تېره بیا د کاغذ د جوړېدو سره لرو پرتو سیمو ته د خبر ورکولو کار چټک شو. تجارتي قافلو سره به د یو ملک نه بل ته د لیکنو وړل راوړل دود شول اود نړی خلک ورو ورو یو بل ته رانږدې شول.

## صنعتي انقلاب

په اوولسمې پېړۍ کې د چاپ د ایجاد سره په یو وخت کې ډېرو خلکو ته د معلوماتو رسول اسانه شول . د کتابونو چاپ، معلوماتي پاڼو ته لاره پرانسته او د دې پاڼو خپرونکو دا د معاش یوه وسیله کړه. خو د یوې ژبې نه بل ته د ژباړو سره سره ټولنو پخپلو ژبو کې د چاپ وسایل جوړ کړل. د ظلم ، استثمار، نا

www.safiahaleem.com

انصافي  او د ټولنې د ناخوالو په اړه ليکنواو خپرونو، خلکو ته د ژوندي پاته کېدو هيله ورکړه.  مذهبي مبلغينو، روڼ اندو او ليکوالانو ، ډېرو خلکو ته د رسېدو لاره وموندله.


په نولسمې پېړۍ کې د برېښنا، الوتکو او بې سيم ( وايرلس) ټکنالوژۍ، دمعلوماتو د ورکولو موده نوره هم رالنډه کړه.  هغه پېښې چې خلک به ترې څو ورځې وروسته خبرېدل ، په هماغه ورځ يا په څو ساعتونو کې به يې په ورځپاڼو او راډيو کې واورېدل.  د معلوماتولېږاره د خلکو لوړه دومره وه چې د ساينس نړۍ يې په مخه واخيسته.  د بې سيم ، راډيو ، ټيلېګراف او د ټيلېفون  نه وروسته،  تلويزون او اوس کمپيوټر هغه کار وکړو چې يو وخت به د انسان په  تخيل کې و.  اوس چې ګرځنده ټيلېفون چا سره نه وي، فکر کوي چې د نړۍ سره يې اړيکې وشلېدې. تاسو ممکن هغه کلي کې د يوې ورځې نه زيات ژوند ونکړل شئ.

www.safiahaleem.com

# د خبراو معلوماتولرغوني وسایل

## غیر فعاله وسایل

د پاکستان په شمالي غرونو کې د اریایي خلکو له خوا د غرونو پر تیږو نقشونه دي. دبغلان د سره کوتل، د رباتک کوشاني ډبر لیکونه، د کندهار او د شهباز ګړي ،د اشوکا ډبر لیکونه، د ونو په پوټکو لیکنې چې یوه بېلګه یې هغه بودایي درسونه دي چې دوه زره کاله پخوا د تبت نه افغانستان ته راوړل کېدل او ټوټې یې د بامیانو په خمځواو نوروځایونوکې ومونډل شوې.


په پوستوکي لیکل سوئ یو لرغونئ لیک

د ثارویو په پوټکي، لرګي، هډوکي لیکنې لکه د اوزې په پوټکي لیکل شوې د تورات پاڼې چې په عراق کې مونډل شوي او په یمن کې د فیل ( هاتي غاښ ) په ټوټو لیکلي د قران ایتونه، انځورونه او نقشي چې په ټوکر کنبل کېدل او یا د قالین په تارونو اوبدل شوي و. دې ټولو ته مونږ غیر فعاله وسایل ویلی شو.

## فعاله وسایل

ډول او نغاره چې د جنګ او د خطر پر وخت غږېدل، اور بلول، د رڼا سګنلونه، د صوابی سره نږدې یوه غونډۍ د اسکندر مقدوني له وخته پاته وه. له دې به پوځ د اباسین نه پوري غاړې خپلو ټولیو ته د رڼا سګنل ورکوو. شپیلۍ، صرنا(صرنی) دحیوان ښکر، دخلکو د راټولولو او یا د خوښۍ د لمانځنو لپاره زنګ او ناقوس غږول. په لنډ واټن کې د خلکو د خبرولو لپاره انساني غږ لکه اذان چې مسلمانان د لمانځه لپاره راټولوي. مارغان لکه کوترې او باز چې د وزرونو یا پښې سره به یې ورله لیک تړلی و.

د خبراو معلوماتو عصري وسایل لکه ورځپاڼې، راډیو، ټیلېویژن، ګرځنده (موبایل ) ټیلېفون او کمپیوټر چې اوس هرڅوک ترې خبر دي.

پوښتنه

که تاسو موبایل ټیلیفون، کمپیوټر او بریښنا ونلرئ او په هغه کلي کې ځو ورځې پاته کېدو ته اړ یئ، نو خپلې کورنۍ ته څنګه د خپلې سلامیتا په اړه خبر ورکوئ؟

www.safiahaleem.com

# د معلوماتو راټولول او لیږل

## ټیلیګراف، لومړی دور

د برېښنا د ایجاد نه وړاندې د وړو بیرغونو په مرسته د پیغام د رسولو وسیله ټیلیګراف نومېده. دا سیستم په ۱۷۹۴ م کې کلاډ چیپ نومي فرانسوي جوړ کړو. یوکس د بېلا بېلو رنګونو وړې جنډې یا بیرغونه په لاس کې واخلي او په یو لوړځای کې ودریږي. هررنګ بیرغ دټکو یا د شمېرو مانا او د دوی په پورته او ښکته کولوبل لوري ته پیغام اخیستونکي هغه ټکي په تورو یا شمېرو بدلوي او خبریږي. د جنګ پر وخت یوه ډله خپلو لیرو پرتو ملګرو ته به په دې لاره خبر ورکوو. د پښتنو په قبایلي سیمه کې حکومتي ملیشیو له دې ډېر کاراخیستو او اوس هم له یوه غره بل ته په دې لاره د لنډ پیغام ورکولوصلاحیت لري چې کله کله یې خلک نندارہ هم کوي.



## ټیلیفون، لومړی دور

د ټیلېګراف کامیابي نورساینسپوهان دې ته وهڅول چې غږ هم د یو ځای نه بل ته ورسوي. د ۱۸۷۶ م مارچ پر لسمه نېټه د امریکا د بوستن په ښار کې الیګزانډر ګراهم بیل او ټامس واټسن لومړی ټیلېفون جوړکړو. په دې ټیلیفون کې د خبرو کولو( سپیکر) او د اورېدو غوږوزي بیل بیل و. ورو ورو دخبرو د رسولو واټن ( فاصله ) زیاته شوه او ددې شکل هم بدل شو. د غږ د زیاتولو، د غوږوزي او د خبر ورکولو د وسیلې یوکولو او خلکو ته د دې اسانتیاو نه د کار اخیستو لپاره کار پیل شو.

## ټیلېګراف دویم دور

د برېښنا د ایجاد سره سم په اروپا او امریکا کې یو شمېر ساینسپوهانو د مزو( تار) د لارې یو ځای نه بل ته د لنډ پیغام او خبر د رسولو وسیله جوړه کړه. اخر ۱۸۳۵ م کې د امریکې سیمویيل مورس ورله هغه

بنه ورکړه چې د شلمې پېړۍ تروروستيو فعاله و. لومړی د برېښنا د مزو په خير د دې خپل سيستم و چې په يو ټاکلي ځای کې تربيه شوو کسانو د سګنل په اورېدو پيغام پر کاغذ ليکلی شو. دا پيغام به د ټيلېګراف په نوم يادېدو. وروسته هم دغه پيغام به يو ماشين پخپله ليکلو. د ټيلېګراف مزې يا برېښنايي تارونه د هند په لر او بر کې غزيدلي و او خلکوبه ټيلېګرام ته " تار " ويل.

## ټيليکس

تر ۱۹۳۵ م پورې د ټيليفون شرکتونو د ليکلي معلومات ژر تر ژره لرې ځايونو ته د ورلېږلوسستم پياوړی کړو. دا مشين ټيليکس نومېدو چې د يو لوی څرخ د لارې پر کاغذ ليکلي معلومات د ټيلېفون په ليکه بل لوري ته وراستول. په المان کې دا سستم په حکومتي دفترونو کې دننه د معلوماتو د لېږلو لپاره کارېدو. د بي بي سي سره د کار په لومړيو ورځوکې به زه کله په اتم پوړ د ټيلېکس ځانګړې خونې ته ورتلم چې هلته له کابله راغلي راپورونه به چاپ شوي و. د ټيلېکس کاغذ لوی اوورباندې ليکلې انګرېزي متن په



لوی ابجد ( اې،بي،سي ) کې و. ددې پيغام چاپوونکې برخې ته به يې ټيلي پرنټر ويل دا راپورونه هماغه وخت چې په لېرې ځای کې ليکل کېده، په بل سر کې به يې چاپېدل پيل شول.

## ټيليفون دوېم دور

د ټيلېفون په پرمختګ د دې کارول هم ډېر شول اوپه پر مختللو ملکونو کې دا د حکومت او نورو خدمتونو د ورځنيو چارو لپاره وکارول شو. د شلمې پېړۍ په سر کې د برېښنا او د ټيلېفون او ټيلېګراف د مزو ( تارونو) د غزولو کار دومره چټک شو چې نوې کارخانې ورته جوړې شوې. دا هغه صنعتي انقلاب و چې د انسان ژوند يې په بل مخ واړوو. د شلمې پېړۍ دوه لسيزې نه وې تېرې چې ټيلېفون د عامو وګړولاس ته هم ورغلو. په لومړي او دويم نړ وال جنګ کې د اروپا او امريکا په

میلیونونوخلکو د ټیلیفون نه کار اخیستی شو. د تور رنګ ټیلیفون د شتمنو خلکو د کورونو یو زینتي توکی و.

## فکس

د فکس یعني لیکل شوي پیغام کټ مټ د یو نه بل ځای ته د ورلیږلو کار په نولسمې پېړۍ کې کېدو خو د دې مشین او د ټیلیفون سره یو ځای کول د اویایمې په لسیزه کې پیل شول. د ټیلیفون پر لیکه د یوکاغذ نه بل ته لیکنه، یا انځور د ورځپاڼو لپاره ډېر ګټور و. په دې به لګښت هم زیات نه راتلو او وخت به یې هم سپما کوو. په بي بي سي کې زمونږ د دفتر فکس نمبر، په سیمه کې سیاسي ګوندونو او نوروبېلا بېلو ډلوته ورکړل شوی وچې هغوی به کله کله خپلې خبر پاڼې رالیږلې. په غیر عادي حالاتو کې زمونږ لپاره د خبر یوه سرچینه دغه د فکس پاڼې وې چې د مسول کس نوم یا لاس لیک به پرې لیکلی و. خو راته په سخته ویل شوي و چې دا لیکلي معلومات به څو نورو ځایونو سره چیک کوئ.



د شلمې پېړۍ په وروستۍ لسیزه کې دوه ډوله تیلیفون د ژورنالیستانو کاراسانه کړو. د سیټیلایټ ( سپوږمکۍ) ټیلیفون ، چې په ۱۹۹۲ م کې زمونږ مشر راته لومړی ماډل وښودلو. دا د یو غټ کتاب هومره تور بکس واو وربانديې ډېرې بټنې او توکمې وې. څلور کیلو وزن یې لاره او د موټر د بیټرۍ سره هم چارج کېدی شو. د دې ټیلیفون خپې به د سپوږمکی له لارې د بل ټیلیفون سره نښلېدې او په لرې پرتو سیمو کې د ژورنالیستانو لپاره ګټور و. خو هغه وخت یې راته وویل چې د دې یو سیټ بیعه شل زره ډالره وه. څه موده وروسته د دې ټیلیفون حجم کم شو،په لاس کې به دې اوړلې شواو بیعه یې شپږ زره ډالره وه. په سیمه کې د سفر پر وخت به د ژورنالیسټ سره تر ټولو قیمتي شې یا د هغه ژوند و او یا داد سیټیلایټ ټیلیفون. مونږ به وېرېدو چې دا ټیلیفون رانه ورک یا خراب نشي. د ټیلیفون د یوې دقیقې د خبرو لګښت لس ډالره و او هر چا ته دا په کلکه ویل شوي و چې بې ځایه خبرې به وربانديې نه کوئ.

www.safiahaleem.com

## سیټېلایټ ټیلېفون

د تورموبایل ټیلېفون او د سپک سیټیلایت ټیلېفونو د لارې ژورنالیسټ خبر ژر اخیستی او لیږلی شو. خو داسې ټیلېفون زمونږ د ثبت د وسیلې ( کیسټ ریکاډر) نه هم درووند واو تول وزن ددې د بیټرۍ و. د ټیلېفون حجم زیات او ډیر گران هم و. زمونږ یو همکار په داسې ټیلېفون له پېښوره د یوې مظاهرې رپورټ راکوو چې د موبایل ټیلېفون د بیټرۍ توان ختم شو. پاتې راپور یې یو ساعت وروسته د دفتر په ټیلېفون راکړو.

په هغه وخت کې د موبایل ټیلېفون جوړېدل هم پیل شوي وچې د ځینو شرکتونو نوم ورباندې لیکل شوی و. هر چا چې دا ټیلېفون پخپلو پېسو اخیستو، ډېر معتبر گڼل کېدو. ددې شکل هماغه وخت د تور سیټیلایټ ټیلیفون ته ورته واو د خبرو نه وړاندې یو ایریل به دی ترې راایستلو. مونږ ډېر وروسته خبر شو چې هغه د ایریل برخه یې اضافه وه اوهیڅ تخنیکي کار یې نه کوو. د ټیلېفون شبکو د دې فرمایش ورکړی و چې که ایریل ( اینټن) ولري نو ټیلېفون به معتبراو باوري ښکاره شي.



د ۲۰۰۱ م د سپتمبر د پېښو نه وروسته له افغانستان خبرونو ورکوونکو ټولو ژورنالیسټانو ته سیټیلایټ ټیلېفون ارو مرو ورکړل کېدو. خو د یویشتمې پېړۍ د پیل سره په څو کلونو کې موبایل ټیلېفون په وزن کې دومره سپک او ارزانه شو چې د سیټیلایټ ټیلېفون اړتیا پاتې نشوه. دموبایل شبکې هرځای جوړې شوې او ځانګړو شرکتونو هرڅو میاشتو کې موبایل د نوو پروګرامونو سره بازار ته راوایستل. اوس نه یوازې په دې ټیلېفون خبر ورکړل کیږي بلکه غږهم په کې ثبتیږي او د نشر وړ وي. سټیلایټ ټیلیفون یوازې د ملاتړ لپاره ساتل کیږي چې که د افغانستان په شان ملکونو کې د موبایل ټیلېفون شبکه کارونه کړي نو هغه وخت بیا د سیټیلات ټیلېفون نه کار اخیستل کیږي.

## کمپیوټر لومړی دور

د شلمې پېړۍ په نیمایي کې د امریکا په بوسټن ښارکې په لومړیو کمپیوټرونو تجربې پیل شوې،او ددې پېړۍ په وروستۍ لسیزه کې دا د هر ژورنالیسټ د ژوند برخه وګرځیدو. په بي بي سي کې د اتیایمې لسیزې په لومړیو کې کمپیوټر یوازې د معلوماتو د تر لاسه کولو ( ډېټابیس) یوه وسیله وه. په پښتو څانګه کې یوکمپیوټر چې پرده یې شنه وه ایښې و. مونږبه ددې په پرده دوه یا درې برخې( فولډر) لرلې چې هلته به لیکلې مواد لکه راپورونه او مضمونونه ساتل کېدل. دا به هره ورځ نوي کېدل او ټولو به ځان ته د کاغذ پرمخ کاپي چاپوله. د چاپ مشین به شور کوو او ددې کرکرکرکر به کله دومره ډېر شو چې د یو بل غږ به مو نه اورېدو. په ۱۹۹۲م کې راته وویل شول چې ډېر ژر به هر څوک پخپل میز یو کمپیوټر ولري. زمونږ باور نه کېدو خو کله چې نوي



کمپیوټر یې راته راوړل نو د کاربڼه مو هم بدله شوه. ټوله ورځ به مو په کمپیوټرکې لیکلې شیان لوستل او د نوې ټکنالوژۍ سره به مو اشنایي کېده.

## کمپیوټردویم دور

د ګیټ وې ( د دفتر خبرونو) سره سره د ایمیل ( بریښنا لیک ) ایجاد یو بل پړاو و چې د ژورنالیستانو په ژوند کې یې بدلون راوستلو. په کمپیوټر کې نورې ژبې هم راغلې نوپه پښتو د ټایپ دودهم پیل شو. د چاپ د مشین ( پرنټر) شور ورک شو او ددې پر ځای د کمپیوټر د کیبورد ( ټایپ توکمو) ټکارۍ زیات شو. د انټرنیټ او په کمپیوټر کې د غږ د ثبتولو ډیجیټل پروګرام سره د ژورنالیزم په نړۍ کې یو بل پړاو پیل شو. د لیرې پرتو سیمونه د پېښې نه سمدلاسه وروسته ددې خبر د اي ـ میل د لارې د نړۍ ګوټ ګوټ ته رسېد و. کمپیوټر د میز نه علاوه د خلکوغېږې ته ولوېدو او د لیپ ټاپ نه وروسته، نوټ بک ، پام ټاپ ( هغه چې په لاس کې راځي) او آي ـ پیډ جوړشول.

ددې بدلون سره د ژورنالیزم لمنه نوره هم پراخه شوه او هر هاغه څوک چې ددې وسایلو پکارولو بریالي دي او د



وېلو لپاره څه لري، د ژورنالیستانو په لیکه کې ودرېدو. اوس په انټرنیټ کې هر څوک خپلې لیکنې چاپولې، خپل غږ او یا فلم خپرولی شي چې کله کله د نړیوالو خپرونکو پام ځان ته راکاږي. دا د معلوماتو د تر لاسه کولو هغه ازادي ده چې یو وخت یې انسان سوچ هم نشو کولی.

## ټیلیفون دریم دور

د نن په عصري موبایل ټیلیفون کې د غږ د ثبتولو، فلم او عکس سره سره د یادښتونو لیکل ، ایمیل کتل او انټرنیت اسانتیاوې یو ځای شوي دي. دا د اوسني ژورنالیسټ لپاره د معلوماتو د راټولولو، خبر ورکولو او ددې د بدلولو تر ټولوغښتلې وسیله ده. خو ددې کارول هم انساني دماغو ته اړتیا لري. نوې ټکنالوژۍ دا مانا نه ورکوي چې انسان خپل سوچ او فکر هم ددې د لارې وکړي او اخلاقي معیارهیرکړي.

## د کمپیوټردرییم دور

د یوېشتمې پېړۍ یوه لسیزه تېره شوې ده او اوس مونږ وینو چې کمپیوټر د میزد سر نه غېږ ته د ولوېدو وروسته اوس لکه د لوبو هرې خوا ته یې وړی شئ. هغه کمپیوټر چې آی پیډ نومیږي، د دواړو مخو نه پرې کار کېدی شي او دومره سپک دی چې ماشوم یې په اسانه خپله بسته کې وړي. که تاسو پام وکړئ نو د اوسني ټیلیفون او د داسې کمپیوټر تر منځ ډېر توپیر نشته. په زړه پورې خبره دا ده چې څو کاله وروسته دا کمپیوټر به د نوې کهول لپاره "لرغونې " ټکنالوژي شي. کېدی شي دا کتاب ستاسو لاس ته ورځي نو د کمپیوټر او د موبایل ټیلیفون یوه نوې بڼه راغلې وي.

د مطبوعاتو اصل دنده څه ده؟
معلومات ورکول، زدکړه او تفریح

## د معلوماتوساتل

د ژورنالیسټ لپاره مهم کار دا وي چې د یوې پېښې معلومات، بې له کوم بدلون یا تعصب خلکو ته ورسوي. انساني حافظه دډېرو معلوماتو د ساتلو توان لري خوهله چې له دې کار واخیستل شي. ځینې کسان د خلکو څېرې نشي هیرولی، نور د یوې لارې نه چې تېر شي نو هغه ترې نه هیریږي.

www.satlahaleem.com

ځینوخلکو ته شمېرې ژر یادېږي خوکله کله داسې هم کیږي چې لږ وخت په تېرېدو د پېښو جزیات له حافظې ووځي. همدا ده چې ژورنالیسټ د معلوماتو د یاد ساتلواو راټولولو کې ځینو وسایلوته اړتیا لري.

## خپله حافظه

د ۲۰۱۰ م کال په پای کې د یو سیمینار د پلان لپاره په غونډه کې وم. تر ټولو مهمه دا وه چې سیمینار په کومه نېټه وشي. د میاشتې اوومه نېټه او دجمعې ورځ وه او مونږ غوښتل چې په پنځلسمه نېټه بیا په دې اړه خبرې وکړو. زه د حساب سوالونه پخپل ذهن کې لرم او ځان ته مې ځینې فارمولې جوړې کړې دي. یوه دا چې د نن نېټې سره توو ( ۷) جمع کړه نو د اوونۍ همهغه ورځ به وي چې نن ده. زما په حساب پنځلسمه د خالي ( شنبې) ورځ کېده. په دې وخت کې مې یو همکار پخپل نوې " آي فون " گوتې تېرې کړې او اعلان یې وکړو، " پنځلسمه نېټه به سه شنبه وي ". بل کس هم سر وخوزاوه او زه حیرانه پاتې وم چې زما حساب څنگه غلط شو؟ ورته مې وویل چې دا سم نه دی خو دوی د ټیلېفون کړکۍ راته ښکاره کړه، چې د سه شنبې ورځ یې د پنځلسمې نیټې سره ښودله. مونږ په نورو خبرو بوخت شو. وروسته هغه همکار راته کور ته ټیلېفون وکړو او ویې ویل چې ده په غلطۍ د ټیلېفون د جنترۍ بله میاشت لیدله اوهغه ورځ یې غلطه کړې وه. زه پخپل حافظه باور لرم او له دې خبره یم چې انساني حافظه د نړۍ له هر کمپیوټرد ډېرو معلوماتو د ساتلوتوان لري، ولې انساني کمزوري کله کله دا حافظه پخپله محدوده کړي.

خو په ژورنالیزم کې په انساني حافظه هم باورنشي کېدی، ځکه هر کس پخپل ذهن کې محدود معلومات ساتلی شي. یوه پېښه وشي او د څو کسانو له خولې که معلومات اخلئ نوتوپیر لري. یو موټر په لاره ولوېدو او څو کسان په کې ټپیان شول. تاسو د هغو کسانو نه پوښتنه وکړئ چې روغ رمټ ترې پاتې شول، نو هر څوک به یوه بیله کیسه درته وکړي. ډېرجزیات پخپله له ژورنالیست هم هیر شي. د معلوماتو د ساتنې او وروسته ترې کار اخیستو لپاره دا وسایل کاریږي.

## کاغذ او قلم

زمونږ یو همکارپه یو کانفرنس کې د مرکې لپاره خپل د ثبت مشین را واخیستو او دفتر نه وتلو خو بل ملګري ورته یادونه وکړه چې کاغذ او قلم دی ځان سره واخلي. هغه وخندل او خپل سر ته یې اشاره وکړه چې هر څه مې دلته ثبتیږي. مرکه ډېره مهمه وه او زمونږ مشر ورسره د پوښتنو په اړه له وړاندې خبرې کړې وې. کله چې همکار مو بېرته راغی نو مشر غوږوزی ولګوو او تر پایه یې هغه مرکه واورېده. اخر په قهر یې زمونږ همکار ته وویل " تر ټولو مهمه پوښتنه درنه پاتې شوه. " زما نه یادیږي چې هغه پوښتنه څه وه خوتر ډېره وخته د دواړو ناندرۍ روانې وې.

سره له دې چې نوې ټکنالوژۍ د ژورنالیسټ کاراسانه کړی دی، خو د کاغذ او قلم اړتیا تر دې دمه له منځه نه ده تللې. ځینې خلک مې لیدلي دي چې هر څه پخپل موبایل کې ثبتوي. مونږ هره ورځ داسې پېښې اورو چې موبایل ورک شوی دی. زما خپل موبایل یو وارې ورک شو، خو په هغې کې ساتل شوي د ټیلیفون نومرې مې په کتابګوټي کې هم لیکلي و، نو دومره تاوان یې راته ونکړو. هغه ژورنالیسټ چې مرکه کوي، باید د یادښتونو وړوکی کتابګوټی او قلم ارو مرو له ځانه سره وساتي. د مرکې نه وړاندې او هم د مرکې پر وخت، په دې کتابګوټي کې لیکلې پوښتنې او د پام وړ ځوابونه د هغه ملاتړ کوي. دا ضرور نه ده چې د مرکې پر وخت دې څوک د هرې پوښتنې لپاره خپل کاغذ ته وګوري. خو د مرکې په پای کې وروباندې یو نظر اچول کله کله ګټه کوي. د ژورنالیسټ کتابګوټی په هغه حالت کې دده د دفاع لپاره کاریدی شي چې څوک یې په دروغ ویلو تورن کړي.

## د غږ ثبتول، ټیپ یا پټه

مسلکي ژورنالیزم، ټکنالوژۍ اوپه رېډیو د خپرونو سره د غږ د ثبتولو کار هم پیل شو. په دې لړ کې ټیپ یا مقناطیسي پټه تر ټولوپخوانۍ او ډېره موده کارېدو. د اتیایمې په لسیزه کې د بي بي سي سره د کار په پیل کې د روزنې پر وخت ، مونږ ته یې ببلا بېل مشینونه راوښودل چې د سټوډیو نه بهر د مرکو د ثبت لپاره کارېدل. یوه ټیپ مشین " یووهر " نومېدو چې وزن یې دوه درې کیلو و. په دې مشین د نیم ساعت یوه پټه غږیدی شوه او که رفتارمو ورته ورو کړو نو یوساعت پورې به یې ثبت کولی شو. د غږ د لوړ یاټیټ کولو لپاره په کې د ساعت په ډول ستنه ګرځېده. په دې کې غوږوزی او لوی میکروفون بیل نښلول



کېده. د دفتر نه بهر ددې هر څه اوړل به زما لپاره یو غم و. خپله بسته به مې په میز پر ښوده، ضروري شیان، قلم کتابګوټی به مې د کوټ په جیب کې کېښودل او مشین به مې په اوږه کړو. د دې مشین ښه والی دا و چې هرځای مود ټیپ ایډیټ ( د خپرولو لپاره د پټې فالتو برخې پرېکول ) کولی شول. د ټیپ د پرېکولو لپاره ځانګړي پترې ( چاقو) او د دوو پرې شویو ټیپونو د نښلولو لپاره سپینه نرۍ سلیخناکه فیته به کارېده. یو ښه والی په کې دا و چې بیا د غږ اړولو ته یې اړتیا نه وه او تیارټیپ به مو نیغ په نیغه، سټوډیوکې غږولی شو. بله دا چې پدی مشین ثبت شوی غږ به ډېرپاک و.
خوددې سره سره په کیسټ ( پټه) ثبت هم کېدو. د "سوني او توشیبا " تور ټیپونه به سپک و. په دې کې یو ډول ټیپ ریکاډر د " یوهرمشین " نه لږ وړوکې د ټولو لویو او نامتو ژورنالیستانو خوښېدو ځکه په دې کې هم د غږ د اندازې ستنه ګرځېده اوکیفیت یې لوړ و.



دا مشین د لږ وخت لپاره وکارول شو اوژر ددې په ځای، نورسپک ټیپونه راووتل چې " سوني پروفیشنل " نومېدل. دا ټیپونه دومره واړه و چې د غاړې په بیګ کې به ځای شول. په هر یومشین کې به بیل میکرفون او غوږوزی کاریدو او د غږ د ثبتولونه وروسته به مونږ د یو تار( مزي) د لارې دا لویو مشینونو ته اړول چې ډېر وخت به پرې تېرېدو. دا ټیپونه د ورځپاڼو د ژورنالیستانو لپاره د کار د اسانولو سوب شول، ځکه په دې کې دننه وړوکی میکروفون هم جوړ و چې کیفییت به یې ښه نه وخو دوی به هر څه ددې داخلي میکروفون د لارې ثبت کړل او وروسته به ددې په مټ خپل راپورونه او مضمونونه لیکل. ددې ټیپونو یو ښه والی دا و چې بی له غوږوزي به ترینه غږ اورېدی شو. له دې وروسته نور هم واړه " سوني " ټیپونه جوړ شول چې غږ به یې یوازې د غوږوزي د لارې اورېدل کېدی شو. دشلمې پېړۍ په وروستي کلونو کې د ډیجیټل د انقلاب سره د غږ د ثبتولو سیستم هم بدلون ومونډلو.
د بي بي سي سره د کار په لومړیو ورځوکې مونږ له دفتر بهرخپل رپورټ په دودیزه ( ځمکنی) ټیلېفون ورکوو. د لندن په دفتر کې د ټیلېفون مزي د ثبت مشین سره تړلي وي چې "اېلس پروب " نومېدو. تر ۲۰۰۴ م کال پورې مونږ د مرکو لپاره دا مشین کاروو. کله چې لیرې سیموکې د رپورټونو او پروګرامونو لپاره ثبت شوې مرکې د ټیلېفون د لارې به مو لندن ته ورکولې. ددې لپاره به یې یو وړوکی سپین دپلاسټکو ډبی راکوو چې " مټر باکس " نومېدو. د ثبت د مشین یو مزي به مود مټرباکس سره او بل د ټیلېفون سره ونښلوواوپه کیسټ کې ثبت شوې مرکې به موورته وغږولې. خو د خبریالانو لویه

www.sajjadaleem.com

ستونزه د سم ټيليفون موندل و. په ډېرو ځايونو کې داسې ټيليفون به نه و چې د مټر بکس مزي يې ورسره نښلولي وې. يو وخت ما د ډېره اسماعيل خان د پوسټ افس نه لندن ته راپور ورلېږلوچې په کې د هغې سيمې د کسانو مرکې وې. خو ټيليفون زوړ و او د مټر بکس مزي يې نه اخيستو. هم هلته يو تن ټيليګرام لېږلو ته راغلی و. هغه راته وويل چې د کمشنر په دفتر کې ممکن داسې ټيليفون وي. زه هلته ولاړم نو ځو تور او سپين ټيليفونونه مې وليدل. د حکومت يودوه کسان چې ناست و اجازه مې ترې وغوښته او دا چې لندن ته د ټيليفون کولو پېسې به ورله ورکړم. يو کس خپل مشر ته ټيليفون وکړو، اجازه يې واخيسته او ميز ته يې اشاره وکړه. ما دهر يو ټيليفون د تارونو د نښلولو برخه معاينه کوله او اخر مې يو په کې پيدا کړو چې د "مټربکس "مزی يې نښلولې شو. زما په هغه رپورټ کې ځينو خلکو د حکومت غندنه هم کړې وه او زه وېرېدم چې حکومتي کسان راته څه ونه وايي، خوهلته ناست کسان "مټربکس "او تور ټيپ ته ځير و.

## بې پټې ډيجيټل مشينونه

د ژورناليسټانوپکارکې يو مهم بدلون هغه ډيجيټل مشين راوستلو چې د يوېشتمې پېړۍ په سر کې يې رواج وموندلو. دا وړوکی مشين "ميني ډيسک " ( کوچنۍ ډيسک) نومېدو اود انساني لاس د ورغوي هومره و. دا په فولادي، سره او يا نيلا رنګونو کې جوړېدل او د "اېپل کمپيوټر " دحافظې د ډسک هومره يوه پلاسټيکي، څلور ګوټيزه ډسک په کې کارېدو. ښه والی يې دا و چې د کيسټ نه زيات وخت به په کې غږ ثبتېدی شو. بله دا چې دډسک نه به نيغ په نيغه په کمپيوټرموغږ اړولی شو او وخت به نه ضايع کېدو. په دې کې داخلي ميکروفون هم و او بيل ميکروفون هم په کې کارېدو. خو د ميني ډيسک عمر لنډ و او څومره چې کمپيوټر پر مختګ وکړو هماغومره په دې کې د غږ د اړولو کار اسانه شو. د کيسټ د تورو مشينونو په ځير ډيجيټل مشين راوتلو. دا " مرانټز " نومېدو او ښه والی يې په دې کې هغه وړوکی ډيسک و چې د غږ داخيستلو يا اړولو لپاره به يې




نيغ په نيغه کمپيوټر کې اېښودو. ددې داخلي ميکروفون دومره قوي و چې کله کله به بل ميکروفون ته حاجت نه و. د دې سره ځو ډوله د ثبت نورو مشينونو هم رواج وموندلو. د سيګرټ د ډبلې په ځير،

www.safiahaleem.com

د بانکي کارټ په څير او د قلم په څير مشينونه بازار ته راووتل. د ډېرو نورو همکارانو په شان زما لپاره هم په لنډ وخت کې ددې مشينونو نه کار اخيستل يوه ننګونه وه.

## کيمره، عکس اوفلم

"فوټو " يوناني توری دی چې مانا يې رڼا او "ګرافي " راښکلو ته وايي. د شپاړسمې او اوولسمي ميلادي پېړيو اروپايي انځور ګرانو کيمرې ته ورته تخنيک د لارې انځورونه جوړول چې "کيمره اوبسکيوره " نومېده. د کيمرې لومړی عکس په ۱۸۲۷ م کې د فرانسې جوزف نيسفوري واخيستو. يو بل فرانسوي "لوي ډګورې " هماغو وختونو کې عکسونه اخيستل خو په دېرشو ثانيو کې به دا عکس د کاغذ د مخ نه ورک شو. د فوټوګراف ( عکاسي) توري په لومړي وار ساينسپوهانو ۱۸۳۹ م کې وکاروو چې د رڼا او ددې سره تړلو تجربو لپاره به يې کارووو. په کيمرې د عکس اخيستو کار د نولسمې ميلادي پېړی په نيمايي کې پيل شواو د هغه راهيسې کيمره د خبر رسولو يوه مهمه وسيله ګرځيدلې ده.



**کامره په کال ۱۸۳۹ کښې**

يوښه عکس د سلو الفاظود راپور نه قوي ګڼل کيږي. د ورځپاڼو يوه وړه برخه عکسونه جوړوي او لوی اخبارونه دخپل مخ په پاڼه د ورځې عکس ضرور چاپوي. ددې سره سره د هغو خلکو شمېره هم اوس مخ په ډېرېدو ده چې د انټرنيټ د لارې خبرونه لولي او ګوري. د متحرک عکسونو يا د فلم پيغام تر هر څه زيات اغيز من وي. هماغسې چې د غږ د ثبتولو وسيلو پرمختګ کړی دی، د فلم او د عکس لپاره کيمرې چې يو وخت يې تور او سپين عکسونه اخيستل، د رنګين عکسونو او د بېلا بېل ډولو موادو د کارولو نه وروسته اوس په ډيجيټلي کې دور کې ډېر پرمختګ کړی دی، اوس دوه کلن ماشوم هم کولی شي چې په کيمره يا ګرځنده ټيليفون ښه عکس واخلي. د نړی ټوله ميډيا خپلو ژورناليستانو ته د يوې مهمې پېښې پر وخت د غږ سره د عکس د ثبتولو وسايل هم ورکوي چې ورځپاڼې يا د انټرنيټ په پاڼو کې خپاره کړي.

## موبايل ټيليفون کې ثبت

د یوښتمې پېړۍ د پیل سره ګرځنده ټیلیفون د بې شمېرو نورو ښکنو سره سره د عکس، فلم او د غږ د ثبتولو توان لري. هغه ژورنالیستان چې له لیرې د یو چا سره مرکه کوي، پخپل ټیلیفون کې یې غږ اخلي . خو ددې لپاره هغه رسمي اجازه ولري اوبله دا چې کوم کس سره مرکه کوي هغه به خبروي، ناخبره د نورو خلکو خبرې د ټیلیفون د لارې ثبتول په ځینو ملکونو کې جرم دی. همدغسې د پېښې له ځایه په دې ټیلیفون ویډیویي فلم د خپرولو لپاره جوړولی شي او د نړۍ په ډېرو ملکونو کې اوس عام خلک هم دا کار کوي. د ژورنالیزم د اصول او اخلاق په اړه به بل ځای معلومات درکړو.

www.safiahaleem.com

# دويمه برخه

www.safiahalem.com

# په دې برخه کښې

## د ژورنالیزم څانگې

ورځپاڼه

د ورځپاڼې ژورنالیسټ

رېډیو (راډیو)

درېډیو ژورنالیسټ

ټیلیوېژن

د ټیلیوېژن ژورنالیسټ

فوټو ژورنالیزم (معکس صحافت)

فوټو ژورنالیسټ

پورټریټ ژورنالیزم

پټه عکاسي

خبري اژانس ، ایجنسي

ویبپاڼې

د ویبپاڼوژورنالیسټ

www.safiahaleem.com

# د ژورنالیزم څانګې

زما په شعوري توګه نه یادیږي چې څه وخت مې اخبار( ورځپاڼه) لوستل پیل کړي و، خوله ماشومتوبه پخپل کورکې مې د پښتواخبار " شهباز " اوپه دوو ژبو خپرېدونکې ورځپاڼه " انجام " ډېرلیدل. د نورو ورځپاڼوسره مې له هغې راهیسې اشنایي شوه چې لیک لوست مې زده کړل. د انګرېزي ژبې "ډان " او د اردو "مشرق" ورځپاڼې به هره ورځ راتلې. کله به مې له دی پاڼوعکسونه پرېکول او البم جوړوو. وروسته مې هره ورځ اخبار لوستل عادت شو. د دې په دویمه پاڼه به کالمونه ( انشايې) خپرېدل چې زما ډېر خوښ و او وروسته د ښوونځي پکارپې کې مې هماغسې د کالمونو لیکلو هڅه کوله. ډېر وروسته خبره شوم چې ورځپاڼې د خلکو غږ حکومت ته د رسولو او د یوبا انصافه ټولنې په جوړولو کې لویه ونډه لري. حقیقت دا دی چې د اوسني ژورنالیزم بنسټ ورځپاڼو کېښودو.

## ورځپاڼه

په یوبشتمې پېړی کې د نوې ټکنالوژی او په تېره بیا په زرګونو ویبپاڼودخپرېدو سره ځینې خلک فکر کوي چې د ورځپاڼو بازار سوړ شوی دی، خو حقیقت دا دی چې د ورځپاڼو لیکنې معیاري او مسلکي وي او لوستونکي یې شته دي. دیوې ورځپاڼې عاید( امدن) دوه لارې او وسیلې وسیلې دي. یوه یې خرڅلاو( پلورل) او بله یې پخپله په ورځپاڼې کې خپرېدونکې تجارتي اعلانونه. تاسو به د "چپ لاس " او د "ښي لاس " ورځپاڼو نومونه اورېدلي وي. دا د هغې ورځپاڼې دریځ په ګوته کوي چې د سیاست نه اخیستل شوي دي. د ښي لاس ورځپاڼه د نظم ساتونکې او د چپ لاس د حرکت مانا ورکوي. خو دا په هر هیواد کې نورې پراخې ماناوې هم لري. د بېلګې په توګه په یو هیواد کې د ښي لاس ورځپاڼه د پخوانیو دودونو ساتونکې وسې او په بل کې د حکومت پلوې او ملاتړې په توګه وپېژندل شي. دغسې د چپ لاس ورځپاڼه ممکن په یو هیواد کې د دودونو خلاف او په بل کې د سرمایه دارانه نظام پر ضد وي. که تاسو د یوې ورځپاڼې د تګلارې نه خبر نه یئ، نو کولی شئ چې څو ورځې پرله پسې د دې (سرمقاله) ولولئ.

ورځپاڼې د خبرونواو راپورونو نه پرته، د پېښو سیاسي تحلیل کوي، د خلکونظرد وخت حکومت ته رسوي چې خپله تګلاره وټاکي، د سوداګرو لپاره په کې د مهموتوکو بیعې لیکل شوي وي چې زمونږ ټولو پر ژوند اغیزې لري. د انټرنیټ د اسانتیاوو سره- سره اوس هم ډېر خلک ورځپاڼې لولي او په اروپایي ملکونو کې لوی شمېروګړي ورځپاڼه د خپل کور په دروازه تر لاسه کوي. په وروسته پاتې هیوادونو کې د دې بیعه دومره ټیټه ساتل شوې وي چې یو عادي کس یې هم تر لاسه کولی شي.
ورځپاڼې د یوې ژبې په وده کې هم لوی رول لري او لوستونکي ترې نوي توري زده کوي. ځینې حکومتونه خپلې ورځپاڼې خپروي چې ولس یې په کنټرول کې وي. ورځپاڼې په دوو ډولونو چاپېږي، چې یوه یې لویې پلنې پاڼې وي او په انګریزي کې ورته " براډ شیټ " وایي. دا پاڼې د څلورو مخو نه واخلئ، تر اتلسو مخو هم وي. دویم ته " ټیبلوایډ " وایي چې د پلنو پاڼو د ورځپاڼو نیمایي او لکه د یوې لویې مجلې پخپلو کې نښلول شوي وي.
دهرې ورځپاڼې مهمه برخه د دې سرمقاله وي چې مشر مدیرېې لیکي. په دې کې د یو، دوه او تر دریو مهمو پېښو په اړه نظر څرګند شوی وي چې زیات وخت د یوې پاڼې تګلاره په ګوته کوي. د ورځپاڼې سرمقاله د هغې د ملا تېرګڼل کیږي او یوازې با تجربه او مسلکي ژورنالیسټ یې لیکلی شي. د نړۍ ټولې معتبرې ورځپاڼې او ځینې مجلې یوه برخه د سرمقالې په نوم چاپوي. په انګریزي ژبه کې دې ته ایډیټوریل وایي. دا د ورځپاڼې دریځ څرګند وي چې یوه ستونزه په کومه لاره غواړي چې حل کړي.
د ورځپاڼې دویمه مهمه برخه د دې مخپاڼه او په هغې لیکلې، سرلیک وي. په دې سر لیک کې ورځپاڼې د لوستونکو پام ځان ته اړوي او د دې د خرڅلاو سوب وي. درېیمه برخه یې کالم (ستون یا انشایه) وي چې بېلا بېلو ژورنالیستانو په کې د روانو پېښو تحلیل کړی وي. څلورمه برخه د خلکو نظر وي او د دې په پای کې زیات وخت لیکل شوي وي چې د دې نظریاتو سره د ورځپاڼې مدیریت څه تړاو نه لري.
هره ورځپاڼه د دې څلورو برخو نه علاوه نور توکي پخپله خوښه په کې خپروي، لکه اقتصادي خبرونه، د اسعارو بیعې، په نویو کتابونوتبصره، هنري فیچر، عکسونه او کارټون. په ورځپانه کې خپرېدونکي اعلانونه ( اشتهار) خپلې ټاکلې بیعې لري. د مخ په پاڼه خپرېدونکي اعلان زیات لګښت غواړي او کله کله به تاسو لیدلي وي چې د ورځپاڼې پر مخ د خبرونو نه زیات تجارتي اعلانونه وي.

www.safiahaleem.com

## د ورځپاڼې ژورنالیسټ

د ژورنالیزم اساس ورځپاڼو ایښې دی او په دې مسلک کې د پر مختګ لپاره ډېرې اداري خپلو کارکوونکو ته د ورځپاڼو د لوستلو مشوره ورکوي. په ورځپاڼې کې کارکوونکې ژورنالیسټ ښه لیکوال وي چې پخپلې ژبې پوره مهارت لري. مطالعه، څېړنه او لیکنه کوي، د ورځې د پېښو، د سیمې کلچر، فنون، ساینس، تاریخ او د جغرافیې نه خبر وي. د دې نه علاوه د نړیوالو پېښو او د سیاست نه هم باید خبرواوسي. په ورځپاڼې کې د کار کولو لپاره یو ژورنالیست د وړوکي کارونو نه پیل کوي. په سر کې د خبري برخې لپاره د بهر نه راپورونه راوړي او خپل مدیر ( ایډیټر) ته یې ورکوي. بیا ورو رو نور مسئولیت اخلي، خبر لیکي، د لیکلو چل زده کوي او نورو تکړه ژورنالیستانوتر سیوري لاندې کار کوي. په وړو ورځپاڼو کې یو کس ډېر کارونه تر سره کوي. پخپله د خبر د لیکلو سره سره د نورو لیکنې او املایي غلطیانې هم اصلاح کوي. د نړۍ زیاتې ورځپاڼې سهار وختي د خلکو لاس ته رسیږي نو ځکه د شپې چاپیږي. د دې لپاره مسئول کسان د شپې کارکوي اوتر وروستي وخته پورې تازه خبرونو ته په کې ځای ورکوي. هم دا ده چې د ورځپاڼې ژورنالیست باید د شپې د کار کولواو په کمپیوټرد چټک ټایپ توان هم ولري.

## رېډیو (راډیو)

په دې نړۍ کې هر یو غږ د هوا په څپو کې حل شي خو ورکیږي نه. رېډیو هغه ټکنالوژی ده چې دا غږونه راټول او بېرته یې خپروي. که تاسو د زدکړو پر وخت د ساینس تجربې کړي وي نو ځینوبه د مقناطیس او دمیسو د څو تارونو د لارې د معمولي توان رېډیوجوړ کړي وي. زه د اتو نهو کالو ومه اوپه کلي کې زمونږ یو خپل د لرګي پر یوه تخته، یوې غاړې ته دمالګې په تیږه، دوه تارونه ونښلول چې بلې غاړې ته یې ټک وهلي و. مونږ به لیدل چې هغه په یوتورغوږوزي کې څه اوریدل. یوه ورځ یې راته هغه تورغوږوزی راکړو چې ما غوږ ته ونیولو. کله چې تار یې د تیږې سره وجنګوو نو ما د یو سړي غږ واورېدو. دا د پېښور رېډیو خبرونه و چې ما پخپل کور کې په راډیو اورېدل. زما لپاره دا یو حیرانوونکې او په زړه پورې تجربه وه. رېډیوزما لپاره نوی شی نه وځکه زما پلار په ۱۹۳۷ م کې د لرګي جوړ یوالماني راډیو اخیستې وه چې د نولس سوه اویایم په لسیزه کې هم مونږ ورباندې د نړۍ راډیوګانو غږ اورېدو.

د راډیود ټکنالوژۍ تجربې د نولسمي پېړۍ د ورستیو کلونو نه پیل شوې وې او د ټیلیگراف د سگنلونو سره خلکو د غږ د اورېدو هڅې هم کولې. په ایټالیا، هسپانیې او المان کې ځینو کسانو پخپلو کورونو کې سټوډیوګانې جوړې کړې وې. ۱۹۲۱م په شمالي امریکا او اروپا کې په سوونو شوقیانوپه دې لارې یو بل ته سگنلونه وراستول، نو د رېډیو په پرمختگ کې د ډېرو خلکو لاس دی. د ۱۹۲۳ م په اوړي کې د ایټالیا "گوگلیلمو مارکوني " د هوا د څپو نه د غږ د راټولولوپه تجربو کې بریالی شو. هغه مشین چې دا غږونه راټولوي او بیا یې خپروي " ټرانسمیټر " نومېږي او د بحري بېړیو نه یې لومړی خپرونې کولې. هغه وخت د برتانیا عمومي پوسټ افس ( پوسته خانې) د مارکوني سره یو تړون وکړو چې لندن دې د اسټرالیا،هند، جنوبي افریقا او کاناډا سره د څپو د لارې وصل کړي،دا ملکونه هغه وخت د انگلستان مستعمرې وې. دې سروس ته به یې " بیم وایرلس سروس " یاني د وړانگو بې سیم سرویس ویل. د مارکوني سره د تړون تر مخې د رېډیو په څپو د برتانیا لاس برشو. هغه وخت نورو اروپایي ملکونوکې هم رېډیو وده وکړه او هر چا خپلې خپرونې پراوړدو او منځنیو څپواورېدلی شوې. ترهغې د لنډو څپو په اړه د برتانیا اود نورو هیوادونو ناندرۍ رواني وې چې وروسته پرې تړون وشو.

په ۱۹۲۵ م کې دکابل په دارالامان ماڼۍ کې د امیرامان الله خان په لاس د یو ټرانسمیټرافتتاح وشو. دا ۲۰۰ واټ ( توان) او یوازې په منځنۍ څپه یې خپرونې کولی شوې. په ۱۹۲۹ م کې د امان الله خان پر ضد پاڅون کې دا ټرانسمیټرهم ویجاړ شو. په ۱۹۳۱ م کې محمد نادر شاه د نوي ټرانسمیټر د لگولو امر وکړو چې نهه کاله یې کار کوو. په ۱۹۴۰ م کال کې دا په ۲۰ کلوواټ ټرانسمیټر بدل کړی شوچې توان یې زیات او د کابل شاو خوا سیموپورې یې خپرونې اوریدل کېدی شوې. دا د افغانستان د( کابل ) راډیو نه د عامو خلکو لپاره د خپرونو پیل و. هغه وخت په دی ریډېو، دري، پښتو، هندي، انگریزي او فرانسوي ژبو خپرونې کېدې. وروسته دملک نورو ولایتونو کې هم د راډیو د خپرونو لپاره سټیشنونه جوړ شول.

په ۱۹۳۷ م کې د ال انډیا رېډیو تر سیوري لاندې په پېښور کې لومړی رېډیوخپلې خپرونې پیل کړی . د دې ټرانسمیټر د مارکوني کمپنۍ له خوا په هند کې انگرېز حکومت ته د ډالۍ په توگه ورکړل شوی و. ښاغلی اسلم خټک د دې مشراود خپرونو هدف د افغانستان پر ضد قبایلو ته پروپاگنډ کول و. هغه وخت انگریزانوپه دې سیمه کې دالمان ، ایران او ځینې عرب ملکونو زورماتول غوښتل. په ۱۹۳۹ م کې په ډېلي کې هم د پښتو لومړی خپرونې پیل شوې.

www.safahaleem.com

د ورځپاڼې د خبر لوستلو لپاره پکار ده چې يو وګړی با سیواده وي. د راډیو د اورېدو لپاره زدکړه ضرور نه ده بلکه په دېرو هیوادونو کې بې سیوادو خلکو د راډیو له لارې زدکړه کړې ده. د راډیو بل ښه والی دا دی چې برېښنا وي او که نه، د بیټري ( باترۍ یا بالتۍ) په زور چلیدونکې رېډیو سیټ ( ټرانسسټر) د نړۍ له هر ګوټ درته خبرونه او معلومات رسولی شي. دکوکي ( سپرنګ لرونکې) راډیوپه جوړېدو بیټرۍ ته هم اړتیا نه وه خو دا راډیوګانې دومره کامیابه نشوې. د افغانستان په لرې پرتو سیمو کې چې برېښنا نشته او خلک يې د بیټرۍ د اخیستو توان نه لري، یوې رېډیو ته کله کله د ټول کلي خلک راټولیدل. د جنګ، سیلاب ، زلزلې او په داسې نورو افتونو کې چې لارې بندې شي نو خلک بیا هم د رېډیو د لارې د نړۍ سره اړیکې ساتلی شي. هم دا ده چې د نورو وسایلو د پر مختګ سره سره د نړۍ یو ملک هم تراوسه د راډیو خپرونې نه دي بندې کړې.

په هغو ټولنو کې چې وګړي يې ورځپانو ته لاس رسی نه لري، حکومتونه يې جمهوري نه وي اوله خپل ولس معلومات پټول غواړي، اویا د مخالفت برداشت په کې نه وي، د خبرونو او د معلوماتود ترلاسه کولو اسانه او ارزانه وسیله رېډیو وي. که څه هم غاصب حکومتونه ملي رېډیو د خپلوګټو لپاره کاروي خو په اصل کې د رېډیوکنټرول د هغه چا سره وي چې د دې ستنه ګرځوي. کله چې د پخواني شوروي اتحاد پوځ په افغانستان کې و، نو په لویو ښارونو کې دوی د خارجي رېډیو ( امریکا غږ او بي بي سي ) اوریدونکو ته ګواښونه ورکول. د هغه وخت کیسې ځینې خلک اوس هم کوي چې دوی د رېډیود اورېدو په تور نیول شوي و.

## د رېډیو ژورنالیسټ

دوروسته پاتې هیوادونو په ملي رېډیوګانوکې چې کوم کسان د خبرونو د خپرولو مسولیت لري هغه دحکومت تنخوا دار وي اوخپلواکي نه لري. دوی د حکومت په ټاکلي چوکاټ کې دننه راپور او خبرلیکلوته اړ وي. په داسې رېډیوګانو کې د کنټرول خونې خپل مسول کس یا کسان لري چې ټولو خپرونو ته غوږ نیسي او که د وخت د حکومت پر ضد یوه خبره هم تېره شوې وي نوهغه يې جدي نیسي او نطاق یا پروډیوسرګواښل کیږي. یو نطاق په لیکلي خبر کې د خپل ځان نه جملې نشي ورزیاتولی او نه پخپلسر د چا سره مرکه کولی شي. دا خبره د بحث وړ ده چې نطاق ته ژورنالیسټ ویلی شو او که نه؟

www.safahaleem.com

هغه راډیوګانې چې خپلواکه خپرونې لري، لکه د ورځپاڼو یوه تګلاره غوره کوي. کله چې یو نوی ژورنالیست په راډیو کې کار پیل کړي نوهغه ته د غږ د ثبتولو، داړتیا وړ خبرې رااېستلو، او د نشر لپاره د برابرولو روزنه ورکړل کیږي. د ښه او د بد غږ، د وړتیا معلومات او د موضوع سره سم د سکرپټ متن د لیکلو او د خپرولو زده کړه کوي.د راډیود ژورنالیسټ لپاره د مطالعې، څېړنې او د لیکنې نه علاوه په مایکروفون د خبروصلاحیت هم پکار وي. دا توان هم ولري چې که مخې ته یې کاغذ نه وي نو هم د یوې پېښې سترګو لیدلی حال وویلی شي او خلک پخپله خبره پوه کړي. په ورځپاڼه کې ژورنالیسټ دومره وخت لري چې له چاپه وړاندې خپله غلطي اصلاح کړي خود رېډیو په ژوندۍ خپرونه کې د هوا په څپو کې تلونکی غږ بېرته نه راګرځي.

دراډیوخپرونې د غوږ لپاره وي او ددې اوربدل د یو وګړي د نورو کارونو مخه نه نیسي. زه پخپله سهارد کور د کارونو سره سره په راډیو خبرونه اورم. رېډیو د غږ یاصوتي وسیله ده نوځکه کارکوونکي یې د ښه غږ او د ښه لوست صفتونوته اړین وي. د دې نه علاوه،دربډیو لپاره سکرپټ (صوتي لیکنه) او د لوست لپاره لیکل شوي رپورټ کې توپیروي د دې لیکنې مهارت د ژورناسټ د وینا او د ښه غږ سره چې یو ځای شي نو اوریدونکي پام ځان ته اړوي. د راډیو ژورنالیسټ د لیکلو لپاره داسې ژبه باید وکاروي چې نالوستي کسان هم پرې پوهه شي.

## ټیلیوېژن

دنولسمې پېړۍ په پای کې د عکسونو د پرمختګ سره په اروپا او امریکا کې د متحرک تصویر لپاره هلې ځلې رواني وې. د رېډیو په شان د ټیلیوېژن په جوړولوکې ډېرو خلکو کارکړی دی. خو په ۱۹۲۶ م کې د سکاټلېنډ یو انجینیر، جان لوګي بیرډ په دی بریالی شو چې تصویرته ژوند ورکړي. د هغه محال خوځنده تصویرته یې " ټیلي وایزر " نوم ورکړو. د شلمې پېړۍ په نیمایي کې ټیلیوېژن پرمختګ وکړو او په خو کلونوکې دا د تفریح نه علاوه د معلوماتو یوه لویه سرچینه هم وګرځېدله.

تصویر د معلومات یا د پیغام رسولو یوه ډېره قوي وسیله ده.

په ټیلیوېژن کې د یوې شېبې لپاره د یوې حادثې خبر په سوونو جملو کې نشي بیانېدی. انساني ذهن

www.safiahaleem.com

د غږ په پرتله تصویر( عکس ) تر ډېر وخت پخپله حافظه کې ساتلی شي. اوس په یووېشتمه پېړۍ کې ځینې پېښې کله نا کله مونږ ژوندۍ د ټیلیوېژن پر مخ وینو. په ۲۰۰۱ م د نومبر په میاشت کې کله چې امریکایي جنګي الوتکو د افغانستان په بېلا بېلو ښارونو بمباری کولې، نو دا په ډېروملکونو کې عاموخلکوپه ټیلیوېژن لیدلې شوې.

## د ټیلیوېژن ژورنالیسټ

د ټیلیوېژن ټول کار د غږ او تصویر (عکس) سره تړاو لري. په ټیلیوېژن کې غږ او تصویردواړه موجود وي نوځکه ددې ژورنالیسټ د فلم د جوړولو، ایډیټ کولواوخلکو ته یې د رسولو مهارت او تجربې ته اړتیا لري. د ټیلیوېژن ژورنالیسټ لکه د ورځپاڼې او د راډیود ژورنالیزم په اصولو عمل کوي او که په پرده ښکاري نو د دې لپاره هغه ته ځانګړې تربیه ورکړی کیږي. داسې کس باید ښه خیره،( یوازې سپین پوست نه) ښه شخصیت او ښه غږ ولري. په دې اړه به وروسته نور تفصیل هم درکړو.

## فوټو ژورنالیزم (معکس صحافت)

"یوعکس وکاروئ چې د زرو الفاظوبدل وي " دا تاریخي جمله د یوې ورځپاڼې مدیر آرتهر بریسبین په ۱۹۱۱ میلادی کال کې د بحث پر وخت وکاروله. د ورځپاڼې پر مخ د یوې پېښې ښه عکس دکاروبارلپاره ښه وګڼل شو او د شلمې پېړۍ په سرکې د اروپا او امریکا ځینومسلکي عکاسانود بېلا بېلو پېښو او د شخصیتونوعکسونه په ورځپاڼ وپلورل. خلکو عکسونه دومره خوښول چې ځینو مجلو یوازې د عکسونو په خپرولو خپل بازار تود کړو. په څولسیزو کې عکس یافوټو ژورنالیزم د مطبوعاتو د یو ژانر برخې په حیث ومنل شو. دانټرنیټ د ویبپاڼو پرمختګ سره د داسې عکسونو بازار تود شو چې د لیرې پرتو سیمو نه به راوړل کیدل.

## فوټو ژورنالیسټ

فوټو ژورنالیسټ د یوې پېښې راپور پخپل عکس کې خلکو ته رسوي. هغه عکاسان چې په جنګ یا د خطر په میدان کې د پېښو عکس په مسلکي توګه اخلي، لکه د نورو ژورنالیسټانو حقایقو په لټون وي او کله کله په یوعکس کې یې ټول راپور نغښتی وي. د ده اخیستل شوی عکس یو پوره کیسه یا د یوې

پېښې توضیح ورکوي. فوټو ژورنالیسټ د خپل مسلک لپاره ځانګړې زدکړې کوي. د بېلا بېلو کیمرو( کامرو) ټکنالوژۍ، د رڼا او د تیارو انډول، واټن، فوکس او د متحرکو شیانو د عکس اخیستو ماهر وي. د عکسونو اخیستو نه وروسته په دوی کې د خپرولو لپاره یو عکس غوره کول، د دې ایډیټ او د چاپ لپاره برابرول د فوټو ژورنالیسټ دندې دي. زیات وخت فوټو ژورنالیسټ د عکس د پاکولو او سمولو په تخنیک پوهیږي او پخپله دا کار سره ته رسوي. د دې لپاره د هغه ایمانداري او رښتینولي مهمه وي. د دروغژنو او نااصلي تصویرونو او عکسونو خپرول لکه د دروغژنو او ناسمو راپورونو د خپرولو په څېر دي.

د فوټو ژورنالیزم هم څو څانګې دي چې جنګي، سپورټي او هنري یا د فلمي ستورو د عکسونو اخیستونکي د یادولو وړ دي. د دې هرې څانګې عکاسان خبر وي چې د دوی ولسونه کوم ډول عکس به خوښ کړي او کومه موضوع ورته په زړه پورې ده. کله کله یو متحرک فلم هم په دې ژانر کې شامل وي او عکاسان د یوې مهمې پېښې لنډ فلم په ټیلیوېژن یا ویبپاڼو پلوري. د نورو ژورنالیستانو په څېر، فوټوژورنالیستان هم اړ دي چې خپل عکس د پېښې سره چټک د خپرېدو لپاره تیار کړي. د خطر، خلکو په ګڼه، ټیل ماټیل، باران، واورو او سخت لمر کې د عکس اخیستو، د خپلې کیمرې او د نورو کاري وسایلو د وړلوتوان ولري. د چاپ لپاره دعکس په غوره کولو کې د انصاف او عدالت نه کار واخلي.

## پورټریټ ژورنالیزم

د پورټریټ توری په لاس جوړ شوي هغه انځور ته وایي چې د یو یا څو کسانو څېرې په کې ښکاري. د کیمرې د ټکنالوژۍ سره دا توری د انساني عکسونو لپاره هم وکارول شو. د چا عکس اخیستل او خپرول د ژورنالیزم په چوکاټ کې هغه وخت د پام وړ وي چې د ځینو پېښو سره سمون وخوري. تاسوکې به ځینو ته د " شربت ګل " عکس په زړه وي چې په ماشومتوب کې یې د پېښورد افغان کډوالو په یو کیمپ کې یو ژورنالیسټ اخیستی و او د نړېوالې " نیشنل جیوګرافیک " مجلې پر مخ خپورشوی و. د یوېشتمې پېړۍ په سر کې هم هغه عکاس یو وارې بیا پېښور ته ولاړو او د شربت ګل لټون یې وکړو. هغه وخت دا میړوښه او د څو اولادونو مور وه. ژورنالیسټ د دې بل عکس واخیستو او یو وارې بیا د مجلې د مخ په پاڼه یې خپور کړو. دې عکس د لارې ډېر خلک چې پخوا د افغانانو د حال نه خبر نه و، د مهاجرو د ژوند نه خبر شول.

## پټه عکاسي

ژورنالیزم د حقایقو د خرګندولو نوم دی او ددې لپاره ډېر زیار ګالل کیږي. ځینې عکاسان د نامتو کسانو پسې ګرځي او غواړي چې په داسې حال کې يې عکس واخلي چې پخوا چا نه وي لیدلی. که څوک درته ووايي چې ده سره د افغانستان دامیر امان الله خان او مېرمنې عکسونه شته چې پکابل کې د یو دکان مخې ته ولاړ دي، نو تاسو به يې لیدل غواړئ؟ دا انساني تلوسه ده چې ځینې عکاسان د مشهورو خلکو غیر عادي عکسونه اخلي ، ورځپاڼو او مجلو ته يې په لوړه بیه پلوري چې ولس يې په لېدوحیرانه شي.

ځینې عکاسان د لیرې نه د عکس اخیستو لپاره ځانګړي کیمرې ( کامرې) لري چې " پاپارازي " نومیږي. دا یوه ایټالوی اصطلاح ده او د هغو عکاسانو لپاره کاریږي چې په پټه له لیرې عکسونه اخلي. په لویدیځو ټولنو کې د ځینو ورځپاڼو کاروبار په دې عکسونو روان وي. یو مهم شخصیت د چا سره په پټه ملاقات کوي او په بله ورځ يې عکسونه په ورځپاڼو کې خپاره شوي وي. د ژورنالیزم په ډګر کې داسې عکسونه ناندریيز وي او ځینې خلک دا غیر اخلاقي کار بولي. په دې اړه به بل ځای کې نورمعلومات هم درکړو.

## خبري اژانس ، ایجنسي

په ۱۸۳۵ م کې د پیریس (پاغي) د اعلانونو یو شرکت مشر "چارلس لوي " ولیدل چې د مخ پر زیاتیدونکو ورځپاڼو، یوه اړتیا د ورځې نوي خبرونه و. همدا وه چې هغه د " اژانس فرانس پریس " په نوم شرکت جوړکړو چې خبرونه يې خرڅول. دې اژانس مجلو او ژورنالونو ته هم خبرونه ورکول او لمنه يې پراخه شوه. اوس دا اژانس د نړی په یو سل او لسو ملکونو کې خپل دفترونه لري. په ۱۸۵۰ م کې د برتانیې " پال جولیس رویټرز " چې د المان نه يې د ټیلیګراف د لارې لندن ته خبرونه لیږل، د رویټرز ( رایټر) نومې خبري اژانس جوړ کړو. په ۱۹۰۴ م کې د روسیې ، خارجه، داخله او د مالي چارو وزارتونو استازو په یوه غونډه کې د یو بل سره د معلوماتو د شریکولو لپاره د یوحکومتي اژانس د جوړولو وړاندیز وکړو چې د روسیې دویم نیکولا زار ( باچا ) له خوا تصویب شو. هغه وخت دې اژانس د ټیلیګراف دلارې معلومات یو بل ته لیږل او سپتا ( سینټ پیترزبورګ ټیلیګراف اژانس ) په نوم وپېژندل شو. د ۱۹۱۷ م د روسیې د انقلاب نه وروسته دې اژانس ته يې څو وارې نومونه واړول چې " پي تي اې "، "

روستا " ، خو اخر د شوروي اتحاد د جوړېدو نه وروسته " تاس " نوم يې ورله ورکړو چې د " ټيليگراف اژانس سوويت يونين " مخفف و.



د اژانس فرانس مرکزي دوتر

د هريو ملک حکومت تازه خبرونو او نوي معلوماتو ته اړ وي. د دې لپاره په خارجه وزارتونوکې ځانګړې څانګې وې چې هره ورځ مهم معلومات د حکومت مشر ته ورکوي. ځينو حکومتونو چې پخپل ملک کې يې مطبوعاتو ته ازادي نه وي ورکړې، خپل اژانسونه جوړ کړي وي. د دې يوه بېلګه په افغانستان کې د " باختر اژانس " وه. د دې اساس په ۱۹۴۰ م کې کېښودل شو او لومړی مشر يې نور محمد ترکي و، چې وروسته د افغانستان صدر شو.

د خبري اژانس کار کوونکي، هر ډول خبر راټولوي چې نورو مطبوعاتوته يې ورکړي. له دې کبله، د اژانسونو راټول شوي مواد، خام ګڼل کيږي. د نړۍ ډېر مطبوعات کله چې قناعت نه لري او خبر په شک کې وي نو د خپلې غاړې خلاصولو او له ځانه د مسوليت د لېرې کولو لپاره د اژانس نوم اخلي. که کله يو اژانس چې د حکومت په لاس کې وي نو د هغې په خبر باور نه کيږي، تر هاغه چې د بلې سرچينې نه يې پخلی نه وي شوی. دا خبره د يادونې وړ ده چې ولس د اژانسونو ټولوموادو ته لاسرسی نه لري او د دوی له خوا راټول شوي مواد مطبوعات په پېسو اخلي.

## ويبپاڼې

د انټر نيټ اساس په ۱۹۶۰ م کلونو کې د متحده ايالاتو حکومت له خوا کېښودل شو اود شخصي شرکتونودګټو لپاره د داسې کمپيوټري نظام د جوړولوامر يې وکړو چې غښتلی او بې عيبه وي. د شلو کالو د څېړنو او په کمپيوټر کې د پرمختګ سره سره د دې هيواد د ساينس ملي اداري په ۱۹۸۰ م کې د رابطو ديو شمير شبکو په يو ځای کولوپه يو پراخه سيستم جوړلو کې برياليی شوه. د انټر نيټ نه وړاندې د "ګيټ وې " په نوم داسې سيستم جوړ شوی و چې د يو دفتر خلکوبه يو بل ته چټک پيغامونه

پرې استولی شول. د نړیوال جال یا ویب د بریالیتوب سره، هر ډول معلوماتي پاڼې جوړې شوی. بیا هر کس کولی شول چې یو بل ته لیکونه واستوي او د دې لپاره یې برېښنالیک یا اي میل رواج وموندلو. د انگریزي د دریو ټکو، ډبلیو، ډبلیو، ډبلیو نه هر هاغه کس خبر دی چې کمپیوټرکاروي. دا د ټولې نړۍ د "ځالي " مانا ورکوي چې د "ورلډوایډ ویب، " مخفف دی. په ۱۹۹۳ م کې د ایټمي توان د اروپایي اداري ( سرن) یو ساینس پوهه " ټیم برنرز لي " ، دویب په اړه اعلان وکړو چې دا هرڅوک مفت کارولی شي. د دې نه وړاندې هم د لیکلو اسنادو د یو نه بل کمپیوټر ته د ورلېږلو سستمونه جوړ و، چې "ایف، ټي، پي" او "گوفر" نومېدل . خو د ویب له لارې دا کار چټک شو. د شلمې پېړی ترپایه لویو نړیوالو ورځپاڼو او د راډیو اود تلویزون شبکو د انټرنیټ د لارې خلکو ته د خبرونو او نورو معلوماتو په ورکولو کې یو تر بله وړاندې روان شول. دا چې هغه وخت انټرنیټ ته د خلکو لاسرسی د ټیلیفون د مزو د لارې کېدو نو د "انلاین" ( په سیم یا مزي) اصطلاح وکارول شوه.

## د ویبپاڼوژورنالیسټ

دکمپیوټر په پرده د یو ښکلی تصویر او د هغې دشرح یا د سر ټکو د لارې د پوره خبرلوستلو بلنه ورکړی کیږي. هماغسې چې ورځپاڼې کله کله پخپلو سرټکو خرڅیږي، د ویبپاڼې د کتونکو او لوستونکوزیاته شمیره د هغې پاڼې د بریالیتوب نښه وي. د ویب ښه والی دا دی چې ددې د کتونکو شمېره څرگنده شي. د آنلاین ژورنالیزم لپاره هماغسې مسلکي پوهه اوعلم پکار دی چې د ورځپاڼې، راډیو او ټیلیوېژن لپاره یې ضرور گڼو. سره له دې چې د ورځپاڼې او د ویبپاڼې یو ډول کار کوي، خو ددې دواړو لوستونکي او خوښونکي ښایي لږ توپیر ولري. د کمپیوټر کاروونکي زیات ځوانان وي اوخبري ویبپاڼې ممکن د دوی د خوښې مواد په کې زیات خپاره کړي. د ویبپاڼې ژورنالیسټ لکه د نورو د ژورنالیزم زدکړی ته اړتیا لري. د نوې ټکنالوژۍ او د پرمختللو وسایلو پکارولو پوهیږي او له دې هم خبر وي چې دده لوستونکي کوم ډول مواد خوښوي. هره ویبپاڼه لکه د نورو ژانرونو خپله تگلاره ټاکي او د غیرقانوني او غیر اخلاقي موادو د خپرولو نه ډډه کوي. په بل ځای کې به په دې تفصیلي خبري وشي.

**د خپرونو موخه وگړو ته معلومات، تفریح او زدکړه ورکول وي**

www.safiahaleem.com

# درېيمه برخه

www.safiahaleem.com

# په دې برخه کښې

## خلک خبرول

خبر څه وي؟

خبري بولیټن

د خبرونو تصویري بولیټن

تازه خبرکه سم خبر

د خبرونو سرچینې

## د جنګ خبرونه

د جنګ خبریال

## د خبر لیکل

سرلیک یا سرټکي

د راډیوسرټکي

د ټیلیوېژن سرلیک

دورځپاڼې سرلیکنه

دوبیپاڼې سرټکي

www.safiahaleem.com

# خلک خبرول

لکه چې په تېرو پاڼو کې مو وویل، معلومات تر لاسه کول لومړۍ انساني اړتیا ده.  هر هغه ځوک چې ډېر معلومات لري، خپل ژوند له نورو په ښه توګه کولی شي.  د نړۍ پرمختګ په نویو معلوماتو شوی دي او هغه ملکونه چې وروسته پاتې دي، ولس یې د ډېرو شیانو نه خبر نه وي.  د ژورنالیزم درې هدفونه دي، معلومات ورکول، تفریح اوزدکړه یا تعلیم.

د معلوماتولپاره خبرترټولو مهمه برخه ده او د ژورنالیزم د پرمختګ سره د خبرونود تر لاسه کولو، ددې د لیکلو او خپرولو کار هم پرمختګ کړی دې.  زمونږ د کلي اسویلی ترور، یو وخت د غم ښادی خبرټولو ته رسوو. ښایي د هغې کورچې د لوی سړک نه کلي ته تلونکې لارې پرسر و، د دې سوب شوی وي، کله  یو مساپر به له ډېرې مودې کلي ته راتلو نو دې به په پټو کې منډې وهلې چې تر ټولو وړاندې د هغه کور ته خبر ورکړي. په یو کور کې به ماشوم (هلک) وزېږېدو نو د هغه خپلوانو ته به یې زېری وړلو. د کور له دروازې نه به یې ناره کړه،  " زېری مې دربانديې " د کور ښځو به ورته ویل،  " په خوله دې برکت "  بیا د خبر اورولو نه وروسته به شېبه په انتظار وه چې د کور مشره ورته په لاس څو پېسې کیږدي.  که پېسې نه وې نو ګوړه به یې ورله ورکړه.  د مړي خبر به یې په پټه د کورمشرې ته ورکړو او ژربه له دروازې ووتله.  د یوکلي د اوسېدونکو لپاره د اسویلی ترور دا خدمت ډېر مهم و.  مونږ ورته د هغه وخت دکلي  "خبریاله " ویلی شو. خو د اسویلی د خبرونو یو بد والی دا و چې د وخت په تېرېدو په کې خلکو نورې خبرې هم غوټه کولې او کله کله به هغې له ځانه هم یو څه وویل.  په دې به د معلوماتو نه یوه افسانه جوړه شوه چې ځینې وخت به یې خلک اندېښمن کړل اوجنګ به هم تود شو.

تاسو که په کلي کې ژوند کړی وي نو داسې کسان به مو په زړه وي چې خلکو ته یې خبرونه ورکول. په ځینو کلیو کې اوس هم څو کسان ( سړي) سهار راډیواوري یا اخبار لولي او بیا ماښام په حجره کې نورو ته معلومات ورکوي.  مېرمنې زیات وخت د خپل کور کلي د حالاتو نه خپرېدو لپاره د  " اسویلی  " په شان شخصیتونو ته اړې وي.

## خبر څه وي؟

خبر په حقایقو ولاړ وي، دروغ او د ګنګوسو ځای نه لري او انډول یا توله یې برابره وي. د خبر لمنه پراخه وي او د ډېرو خلکو پر ژوند اغیز شیندلی شي. د ورځې په زرګونو پېښې خبر کېدی نشي، ځکه هغه د یو څو کسانو د ژوند پورې تړلی وي. راځئ چې اوس هغو خبرونو ته وګورو چې په مطبوعاتو کې خپاره شوي دي.

خبر

**سرېکال په ننګرهار ولایت کې د اوبو د کمښت له امله د هندوانو حاصلات دوه برابره کم شوي دي. په دې ولایت کې هندوانې ډېرې د جلال اباد تورخم پر لویه لاره د روداتو، غني خیلو او بټي کوټ ولسوالیو کې کرل کیږي. د بټي کوټ ولسوالۍ یوه بزګر محمدادریس وایي،چې دکابل، لوګر،میدان وردګو، غزني او شمالي ولایتونو سوداګر دلته راځي او هندوانې خپلو سیمو ته وړي خو سږکال یې حاصلات د تېر کال په پرتله دوه برابره کم شوي دي. نوموړي، د حاصلاتو د کموالي لامل د اوبوکموالی او تېټه بیه وښوده، چې دده په وینا، ډېری کروندګرو د هندوانوله کر څخه لاس اخیستی دی. د ننګرهار دکرنې ریاست د ترویج مدیر حاجي محصل خان وایي د سږکال هندوانو د کمښت لامل دادی، چې پکارنال کې اوبه کمې وې، اوبو ضایعات درلودل او تېر کال یې بیه هم ټیټه وه.**

که تاسو نن ماښام دا خبر نورو ته ورکوئ نو څومره معلومات به درته هیر وي او څومره به مو په یاد پاتې وي؟

امکان لري چې داخبر مو د یاده وتلي وي، ځکه د ورځې نورې پېښې اومصروفیتونو به ددې ځای نیولی وي. خو که تاسو زمکې لرئ، هلته د کر لپاره د اوبو ستونزه وي، د هندوانو تجارت کوئ نو ممکن ټول خبربه درته یاد هم وي او نورو معلوماتو پسې به هم وګرځئ.

### ۱. خبر هغه وي چې د ډېرو خلکو په ژوند یې اغیز شوی وي او یا امکان ددې وي چې د نورو په ژوند اغیز وکړي.

د افغانستان په شمال کې د سالنګ پرلاره په ژمي کې کله کله لارې بندې شي او خلک په تونل کې پلې ځي. په نورو ورځوکې هم دلته د موټر د اوړېدو او د ټکر پېښې شوي دي. خو دا پېښې په

مطبوعاتو کې نه راووځي. د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ د میاشتې په سر کې په دې لاره د شپیتو نه زیات خلک برف کوچ یا واورې ښویدنې ووژل. دا خبر د نړۍ په هرګوټ کې د مطبوعاتو د لارې خپور شو.

ولې؟ د سالنګ ددې پیښې نه یوازې د مسافرو، ددوی په کورنیو او خپلوانو اغیز کړی و بلکه د لارې په بندېدو د ځو ملکونوتجارت ته یې هم تاوان اړولی و.

په افغانستان کې د برتانوي پوځیانو د وژل کېدو خبر ددې هیواد دخپرونو لپاره مهم وي او د سر په خبرونو کې ورله ځای ورکوي.

ولې؟ داسې پېښه د ډېرونورو خلکو پر ژوند اغیز کوي . په دې کې د هغه پوځي خپلوان په سر کې دي. د هغې ملک د دفاع وزارت لپاره، دحکومت لپاره او د نورو پوځیانو لپاره به دا یو مهم خبر وي. د ولس هغه وګړي چې د افغانستان د جنګ مخالفت کوي، ممکن خپله خبره بیا تکرار کړي او په حکومت فشار راوړي.

### ۲. له یوې پېښې دخبرجوړولو دویم شرط دا دی چې ددې مهم کسان د سیمې خلکو ته څومره نږدې دي.

دافغانستان د کرکټ لوبډلی په ۲۰۰۸ م کې د می په میاشت کې د نړیوالو ډلو سره د یوې ورځې د لوبواجازه تر لاسه کړه. دا خبر نه یوازې د افغانانو لپاره بلکه د نړۍ لوبومینه والو لپاره هم مهم و.

ولې؟ ددې هیواد د جنګ او د نورو ناخوالو تر څنګ دا یوه په زړه پورې پېښه وه او په تېره بیا د ځوانانو لپاره د خوښۍ وړ خبر و.

### ۳. د خبر درېمه ځانګړتیا دا ده چې پېښه څومره په زړه پورې ده.

په ۲۰۰۱ م د سپتمبر په نهمه نېټه د افغانستان په یوه مخور قوماندان احمد شاه مسعود دځانمرګي برید پېښې نه یوازې افغانان بلکه د نورو هیوادونوځینې خلک هیښ کړل. خو له دې دوه ورځې وروسته د نیویارک په نړیوالو تجارتي مرکزونو پېښې ټوله نړۍ هکه پکه کړه.

### ۴. هغه څه ته خبر ویلی شو چې په اورېدویې ډېرخلک ټکان وخوري.

د ۲۰۱۰ م د جون پر شپږمه نېټه د افغانستان دوو وزیرانو د خپلې عهدې نه استعفا وکړه. سمدلاسه د زیاتو افغانانو لپاره دې پېښې تلوسه راوزېږوله . نورې پوښتنې او اندېښنې ورسره شوې چې په دې به د ملک حالات څنګه شي؟

**۵. هغه معلومات چې په ډېروخلکو کې تلوسه پیدا کړي خبر وي.**

د جون په میاشت کې دوه نړیوالې مرستندویې ټولنې په افغانستان کې د مسیحییت په خپرولو تورنې شوې. د تورونونه د انکار او د پلټنو په اړه بیانونه جاري شول. خلکو حکومت ته د پلټنو غږ وکړو او په ځینو ښارونو کې غونډې او مظاهرې وشوې.

**۶. کشمکش او تود والی د خبر ځانګړتیا ده.**

په ۲۰۱۰ م د مې په میاشت کې امریکا ومنله چې په افغانستان کې د سیاسي حل په وروستي پړاو کې اصلاح شوي طالبان د ځینو شرایطو سره کولی شي چې په حکومت کې ونډه ولري. دا هغه خبر وچې د تلوسې سره سره یې خلک حیران هم کړل ځکه دا یو ناشونی کار ښکارېدو.

**۷. یوه غیر عادي پېښه خبر جوړوي.**

د یادونې وړ خبره ده چې دا ټولې ځانګړتیاوې په هر خبر کې نه وي. بله دا چې دا د هرې ادارې خپله تګلاره ده چې کوم خبر، خبر ګڼي او کومه پېښه ورته د خپرولو وړنه وي. د بېلګې په توګه افغانستان کې د ډزو او د بمونو خبر ممکن د خبر وړنه وي چې هلته خلک په ودونو او خوشالیو کې نه یوازې هوایي ډزې کوي، بلکه لاسي بمونه هم د ډز لپاره غورځوي. بله دا چې هلته هره ورځ داسې پېښې کیږي، او که مرګ ژوبله په کې نه وي نو څوک یې د پام وړ نه ګڼي. په اروپایي ملکونو کې دوسلو او د بم ډزې یو خبرجوړولی شي او که یو کس هم په کې ټپي یا وژل شوی وي نوهغه یوه مهمه پېښه شي. د خپرونو مسئولین هره ورځ ددې پوښتنې سره مخ وي چې یو خبر څه وخت د خپرولو وړ وي.

هر خبر په انسان کې درې ډوله احساسات راپارولې شي

**خواشيني او مايوسي:** – طبعي يا قدرتي افتونه، لکه زلزله، سيلاب،واوره ښوېدنه برف کوچ، طوفان او سيلۍ، وبا مرضونه، انساني حادثې لکه د الوتکې غورځېدل، موټر ، لارۍ ټکر او د بحري بېړيوغرقېدل او جنګونه چې ډېر ځاني او مالي تاوان يې اړولي وي. د نامتو کسانو يا دردوی د کور د غړو ناڅاپه ناروغي او مړينه. د نړيوالو لوبو بايلل. د ونډو په بازار کې تاوان، د حکومت له خوا په خلکو يا په تجارتي توکو ماليه زياتول، په بازار کې د توکو بيعې لوړېدل يا ددوی نشتوالی، د سياسي يا مذهبي ډلو له خوا د وګړو شخصي ازادي اخيستل، د پوځ يا پوليسو له خوا په افرادو تېری. د امنيت نشتوالی، په وينا، ليکنو او رايې ورکولو بنديزونه.

**خوښي او تلوسه:** – د ملي ورځو لمانځنه، په ملي يا نړيوالو لوبو کې د لوبې ګټل، د لوبغاړو هر کلی، اتلانو ته ميډال او درناوی کول، د يوې وژونکې ناروغۍ علاج موندل، د نړۍ نامتو کسانو لکه د هيوادونو د مشرانو، فلمي ستورو، سندرغاړو، لوبغاړو او يا ددوی د کورد غړو ودونه، د ماشوم زېږيدنه، په يو ملک کې د ظالم حکومت ختمېدل.

**فکراو سوچ:** – دا هغه خبرونه وي چې تبصرو او نظريو ته لاره پرانيزي. د سياسي مشرانو بل هيواد ته سفر ، ددوی بيانيې او غندنې، د هيواد په کچه، يا نړيوالې غونډې ، د روغې جوړې خبرې، مظاهره او لاريون د لرغونو ځناورو هډوکي يا دپخوانيو انسانانو دتمدن نښې موندل، د ساينس او د ټکنالوژۍ په ميدان کې نوی کشف، د طبيعت، کاينات، زمکې او سمندر په اړه نوي موندنې، روغتيايي څېړنې، د فنونو او هنرونو نوښت، نوې ليکنې اويا د څېړنو نتيجې.

## خبري بوليټن

په راډيو او ټيليويژن د څو خبرونو يو ځای خپرول دخبرونو " بوليټن " نوميږي. لويې او نړيوالې راډيوګانې او ټيليوېژن شبکې په هغو وختونو کې خبرونه خپروي چې زيات کسان يې اورېدی او يا ليدی شي او ددې لپاره ډېر لګښت کوي چې د خلکو دکارونو او داړتياوو په اړه ځان خبر کړي. کومې ادارې چې ټوله ورځ او شپه خپرونې لري، دوی په هر ساعت کې تازه خبرونه وړاندې کوي.

## د خبرونو تصويري بوليټن

هغه لنډراپورچې یوغږ ولري د خبرونو برخه کېدی شي چې د یوې یا یوې نیمې دقیقې نه یې وخت نه زیاتیږي. دې ته د ایلسټریټیډ بولیټن ( تصویري خبرونو) نوم ورکړی شوی دی. هدف یې دا وي چې کوم اورېدونکی یوازې خبرونو ته غوږ نیسي او نورې خپرونې نه اوري، دوی ته په خبر کې هغه مهم غږ هم واورول شي چې خلک یې اورېدو ته تلوسه لري. د بېلګې په توګه د مصرد خلکو د پاڅون پر وخت ولس دصدر حسني مبارک وینا ته په انتظارو. په هغه شپه دده د وینا مهمې جملې چې "زه د کال په پای کې قدرت پرېږدم " د ډېرو راډیوګانوپه خبري بولیټن کې شاملې وې.

## تازه خبرکه سم خبر

د خبرونو نوښت د ډېرومطبوعاتو ترمنځ دسیالۍ سوب شوی دی. هره اداره غواړي چې دوی تر ټولو وړاندې خبر اورېدونکو ته ورسوي چې مشتریان یې زیات شي او دوی د باور وړ وګرځي. خو کله کله په دې منده کې ناسم خبرونه خپرېږي. د مصر د پاڅون یوه بېلګه د خلکو د مظاهرو په درېیمه ورځ ولیدل شوه. نابېره یو چا چیغه کړه چې "حسني مبارک بحرین ته تښتیدلی دی " هغه ژورنالیستان چې په ژوندۍ خپرونو کې یې خبرې کولې، د دې خبرورکړوخو څوک چې باتجربه و، ورسره یې دا هم ویل چې " تر اوسه دا یوه ګنګوسه (اوازه) ده " نورو سم د لاسه د خبر زاویه بحرین ته واړوله او تبصرې یې پیل کړې. په داسې حالاتو کې ښه تګلاره هم دا ده چې لومړۍ د خبر پخلی او بیا یې د خپرولو تابیا وشي.

**یادونه:** د مصر ولسمشر حسن مبارک په ۲۰۱۲ کال کې د ولسي مظاهرو او پاڅون په پایله کې له واکه لېرې کړل شو، په مصر کې مظاهرې په ټوله عربي نړۍ کې د عرب د پسرلي د هغو پاڅونونو لړۍ وه چې ولسونو د حکومتونو د پرځولو او لېرې کولوپه موخه پیل کړې وې.

## د خبرونو سرچینې

په ۲۰۰۸ م یوافغان ژورنالیست په غزني کې دخپلوانو لېدو ته د کابل نه دسورلیوپه مني بس کې روان و. د غزني سره نږدې په لویه لاره ددوو غاړونه ډزې پیل شوې، ټولو سورلیو موټر پرېښودو اود سړک پر غاړه د لویو تیږو شا ته یې ځانونه پټ کړل. موټرچلوونکی خبر و چې په هغه ځای کې ددوو ډلو ترمنځ

شخړه روانه وه. هغه ژورنالیست ته نور معلومات هم ورکړل. ژورنالیسټ له هغه ځایه په موبایل ټیلیفون خپلې ادارې ته خبر ورکړو.

که تاسو په هغه ورځ د یوې راډیو، ټیلیویژن یا اخبار لپاره د خبرونو د ورکولو دنده پرغاړه لرلې نو ایا د ژورنالیسټ له خولې موخبراخیستو؟

ددې ځواب اسانه دې، هو، ژورنالیسټ زما د ادارې سره کار کوي، هغه د پېښې ځای کې دې، هر څه پخپلو سترګووینې او نورو ته یې بیانولی شي. که د پېښې شاهد پخپله ژورنالیسټ نه وي او یوعادي کس د پېښې شاهد وي نو څو کسانو سره خبرې کول او هغه معلومات له چانه ایستل غوره خبره ده. ددې لوی علت دا دی چې د هیښونکې حادثې، ټکان او د وېرې پر وخت انساني حواس پر ځای نه وي. یوځل زمونږ موټر په سړک چپه شو چې په کې شپږکسان ناست و. مونږ ټول معمولي ټپیان شو خو موټر له کاره ولوېدو او د سړک پر غاړه د بل موټر په انتظارخبرې پیل کړې. دوو کسانو ویل چې د موټربریک خراب شوی و، ما او یوبل کس دا حدس وهلو چې د باران له کبله د موټرپایه وښوېده، یو کس په دې نظر و چې ډریورخوب وړی و یا نشه یې کړې وه. کله چې د ډریور نه مو پوښتنه وکړه نو هغه وویل "دا د خدای کار و "

### ۱. د خبرلویه سرچینه د یوې پېښې شاهدان وي

صحافت ( ژورنالیزم) د معلوماتو د تر لاسه کولو مسلک دی. او د یوې پېښې په اړه پوره او رېښتوني معلومات راټولول د یو ژورنالیسټ لومړۍ دنده ده. د دې لپاره هغه د باورړ ملګرو ته اړتیا لري چې د لېرو ځایونو نه معلومات ورکولی شي. د دوی د ټیلیفون نومرې یې پکارې وي. کوم ژورنالیسټ چې ځان سره د نومرو د ساتلوسیسټم ونلري، پخپل مسلک کې وروسته پاتې وي. په لویدیځه نړۍ کې ژورنالیستان خپل د ټیلیفون د نومرو کتابګوټی (موبایل ټیلیفون) ژغوري او په تېره بیا هغه چې د سیاسي مشرانو سره تل مرکې کوي او د خپل معلوماتولپاره د ډېرو سرچینو نه کار اخلي. ځینې ژورنالیسټان د یو بل سره مسلکي ملګرتیا کوي اوهغه معلومات چې دوی یې لري د ملګرو سره شریکوي.

### ۲. په لېرو پرتو سیموکې د باور وړ ملګري او مسلکي همکاران د خبرونو سرچینه وي.

د ۲۰۱۰ م د جون د میاشتې پر لسمه نېټه دهلمند پولیسودکندهارپرلویه لاره د دووکسانونه یوه اندازه کیمیاوي مواد وموندل چې په موټرکې یې پټ کړي و. د دې خبر اصل سرچینه پخپله د پولیسو اداره ده. د دې پېښې په اړه نور معلومات به یو ژورنالیست پخپله د پولیسو نه اخلي چې دا مواد کوم ډول و، څه خطرونه یې لرل، دا دوه کسان د کوم ځای اوسیدونکي دي، اوس کوم ځای ساتل شوي او څوک ترې پوښتنې کوي.

### ۳. پولیس د ځینوخبرونو سرچینه وي.

که ددې خبر په اړه یو ژورنالیسټ پلټنې غواړي نو د حکومتي کسانو سره به خبرې کوي. پدې لړ کې د سیمې چارواکي، وزارت، ویاند، او نور مسئول کسان مهم دي. هغه بیانیې او مطبوعاتي اعلانونه چې د حکومت یا د نورو ادارو له خوا خپریږي، ژورنالیسټانو ته تر ټولو وړاندې ورکړی کیږي. په دې چې هر څوک ترې ژر خبر شي. خوژورنالیسټ دې پام وکړي چې د چا ډنډورچي ونه ګرځي. په داسې اعلانونو کې دخپروونکې ډلې هدف دې ورته معلوم واوسي. هم دغسې مطبوعاتي غونډې د نوي تګلارې او د مهم اعلان لپاره رابلل کیږي چې د معاملې یو اړخ په کې څرګندیږي.

### ۴. چارواکي، مطبوعاتي خبرتیا پاڼې او غونډې هم د خبر سرچینه کېدی شي.

د یوې بمي چودنې یا دې ته ورته پېښې نه وروسته د امنیت ساتونکي هغه ځای د خلکو پر مخ وتړي او ژورنالیسټان هم ورته نه پرېږدي. پداسې وخت کې هغه روغتون چې د پېښې ټپیان یې ورته اوړي وي، د معلوماتو سرچینه کېدی شي. د روغتون کارکوونکي خبر وي چې څومره مړي یا ټپیان ورته راوړل شوي دي. که په ډاکټرانو کې څوک وخت ولري نوله ده د ټپیانو حالت هم تر لاسه کېدی شي. خو په دې وخت کې یو با احساسه ژورنالیست د هغوي پکار کې خنډ نه جوړوي. که په ټپیانو کې څوک د خبروکولو جوګه وي او یا د دوی پخپلوانو کې څوک معلومات لري او غواړي چې څه ووایي نو د پېښې تفصیل درته ښودلی شي. بیا هماغه وخت پوښتنې لنډې پکاردي.

### ۵. روغتون او د روغتون کارکونکي د خبرسرچینه کېدی شي.

کله کله په یوې سیمې کې د سیلابونویا زلزلې له کبله لارې بندې شي اوژورنالیسټان ورته نشي رسیدلی. په دې وخت کې هغه ټولنې چې په چورلکو( هیلي کاپټر) یا په الوتکو کې خواړه او نورمواد خلکو ته رسوي د مالي او ځاني تاوان په اړه معلومات لري او تاسو ترې پوښتنه کولی شئ خو دا د هغوی

دنده نه ده. ځينې کسان چې په مرستندويه ټولنو کې کارکوي او غواړي چې نړيوال له پېښې خبر شي، د خپل توان او وسايلو سره سم ميډيا ته حال ورکوي. خو د دوی معلومات هماغومره محدود وي تر کومې چې ددوی مرستې وي.

### ۶. کله کله ځای او نړيواله مرستندويه ټولنې د خبرسرچينه شي

په ۱۹۸۸ م د اګست په اوولسمه نېټه، د بي بي سي مابنامنۍ ( په لندن کې مازديګر) خپرونه روانه وه. د څانګې د هغه وخت مشرته له پېښوره ځايي خبريال د يوې تازه پېښې خبرورکړو چې د افغانستان سره يې نږدې تړاو لرلو. خبر د پاکستان په ملي ټيلېوېژن هم هغه شپېه اعلان شوی و او نړۍ ترې لاخبره نه وه. زمونږ مشرسمدلاسه د خبرتيا يو څو جملې وليکلي او سټوډيو لوري ته يې منډه کړه. تر څو چې دی هلته رسېدو د پښتوخپرونې وروستۍ رپورټ لوستل کېدو. مشر د سټوډيو د شېشې نه وراخوا ناست پروډيوسرته په غوږوزي کې وويل چې يو مهم خبردې، وروستۍ رپورټ رالنډ کړه. پروډيوسردېوالي ساعت ته وکتل اوسريې وخوزوو چې وخت نه لرو. مشر ورته په غوږوزي کې چيغه کړه چې " ضياالحق مړ شو " هغه ژرد لاس په اشاره بل همکار ته د رپوټ د لنډولو وويل او خپرونه د تازه خبر په اورولو پای ته ورسېده . د اويايمې لسېزې تر پايه په افغانستان کې دسياسي بدلون نه به خلک په دې خبرېدل چې ملي راډيو به ناڅاپه د عادي خپرونو پر ځای، ملي سرود او ترانې غږولې. په ۱۹۹۹ م د اکتوبر په دولسمه نېټه د پاکستان په ټيلېوېژن د شپې يو روان پروګرام په نيمايي کې ملي سرود غږيدل دپوځ له خوا د کودتا د خبرونو تايد وشو. د پروېز مشرف تقرير د نړۍ د ټولو خپرونو لپاره د خبر سر چينه شوه.

د ۲۰۰۱ م وروستيو دريو مياشتود نړۍ د خپرونو بڼه بدله کړه. هغه وخت د امريکې د سي ان ان اداري په ټيلېوېژن هره شپېه د پېښو تازه معلومات د فلم سره ښکاره کاوو اونورې ميډيا ترې ځان له خبرونه جوړول. د نورو راډيوګانو، ټيلېوېژن او د ورځپاڼود خبر يا دمرکې نه خبراخيستل رواکاردی او دا په ډېرغيرعادي حالاتو کې کيږي، خو لوی شرط يې دا وي چې د هغه راډيو يا د ټيلېوېژن نوم ياد شي. د دې دوه ګټې دي، يوه دا چې که خبر غلط راوختلو نوغاړه به مو نه وي بنده او دويم د رسنيو اخلاقو ته به مو درناوی ساتلی وي.

### ۷. نور مطبوعات يا خپرونې د خبر سرچينه وي.

په ۲۰۰۴ م د دسمبر په میاشت کې هغه سیلاب (سونامي) چې د هند دسمندر په تل کې د زلزلې له کبله راوزېږېدو، د زرګونو خلکو کورونه لاهوکړل او لویه مرګ ژوبله په کې وشوه. د دې پېښې د هغه وخت عکسونه او فلمونه د عامو خلکو له خوا واخیستل شول او وروسته بېلا بېلو مطبوعاتو خپاره کړل. نن سبا د نوو الیکټرونیک وسایلو له کبله ولس د خبرونو په موندلو او ددې تفصیل بیانولو کې فعال وي. په ۲۰۱۱ م په پیل کې د تونس او د مصر د ولسونو پاڅون د همدغه عکسونو او فلمونو د لارې خلکو ولیدل. تاسو به په انټرنیت کې داسې عکسونه او یا فلمونه کتلي وي چې عامو خلکو پخپل موبایل تیلېفون یا کیمرې اخیستي وو. دا د ژورنالیزم یوه نوې بڼه ده او اوس ورته د "ولسي ژورنالیزم" نوم هم ورکړی شوی دی. په دې اړه به په بل ځای نورمعلومات درکړو.

**۸. ولس د خبرونو لویه سرچینه وي.**

یو ژورنالیست د معلوماتو لپاره تل د هر ډول خلکو سره خبرې کوي او کله داسې هم کیږي چې د یو مهم کس د مرکې پر وخت داسې معلومات ورکړي چې له هغې خبر جوړ شي. ځینې مرکې د خبر وړ معلوماتو لپاره کیږي او ژورنالیست ورته تیاری نیسي. په دې به د مرکې په برخه کې نوره رڼا واچوو.

**۹. یوه مهمه مرکه د خبر سرچینه کېدی شي.**

د یو ژورنالیسټ کار د ولس د ډېرو وګړو سره اړیکې جوړول اوتر ټولو ګران کار د خپلو خبري سر چینو پټ ساتل وي. د حکومتي چارواکو او په دفترونو کې کارکوونکي د ډېرو داسې پېښو معلومات لري چې د ژورنالیسټ لپاره مهم وي او کله کله د یو خبر یا راپور په لیکلو کې ورسره مرسته کوي. د بېلګې په توګه د یو سیاسي ګوند د دفتر کارکوونکی درته د یوې غونډې په اړه له هر چا وړاندې خبر درکوي.

**۱۰. پټې یا مخفي سرچینې هم خبر جوړولی شي.**

www.safjahaleem.com

# د جنګ خبرونه

د یو جنګ حال د خبریالۍ په لاره لومړی ګام واوبېلګه یې مونږ د هیروډوټس په تاریخ کې ګورو چې د پارس او یونان د جنګونو کیسې یې بیان کړې. خوهیروډوټس پخپلو سترګو دا جنګونه نه و لیدلي او د نورو له خولې بیان شبې کیسې یې ولیکلې. لومړی جنګي خبریال د هالینډ "ویلم وان ډي ویلډي " په نوم یو انځورګر و چې په ۱۶۵۳ م کې یوې وړې کښتۍ کې سپور شو او په سمندرکې یې د هالینډ او د انګلستان د بحري بېړیو د جنګ واړه واړه انځورونه یې جوړاو وروسته یې یو ځای کړل. ده د خپل حکومت لپاره یو راپور هم ولیکلو چې په کې ددې جنګ حال بیان شوې و.

په پښتو ژبې کې منظومې جنګنامې د جنګي خبرونو ښېلګې دي خو په شعر کې د جنګ حال یو اړخیزه وي اود حقایقو پر ځای افسانه او تخیل په کې زیات وي. په اتلسمې پېړۍ کې کښل شوې " احمد شاهي شاهنامه " د حافظ مرغزي له خوا دهغه وخت د ځینو پېښوحال وایي چې په تاریخ کې هم ثبت دي.

په اوسني ژورنالیزم کې د جنګ د پېښو راپوروته له نولسمې پېړۍ دود شول. د لندن " دي ټایمز " ورځپاڼې په المان او هسپانیا کې د نپولین د جنګونو حال د خپلو خبریالانو له خوا په رالیږل شوي راپورونه خپاره کړل.

## د جنګ خبریال

د جنګ راپور ورکول په ژورنالیزم کې یو تر ټولو سخت کاروي چې خبریال په کې خپل سر په داو لګوي. دا د ژورنالیزم تر ټولو بریالۍ څانګه وي اوهر هغه ژوک چې د جنګ خبرونه یې ورکړي وي کامیاب ګڼلی شي. نامتو ورځپاڼې او خپروني د داسې ژورنالیستانو د نوم سره " جنګي خبریال " یا " وار کاریسپانډینټ " توري لیکي چې خلک خبر شي، دوی د میدان نه تازه راوپورونه تر لاسه کوي. دجنګ د خبریالۍ یوه ستونزه دا ده چې ژورنالیسټ به چرې هم د دواړو غاړوپه خبرونو کې انډول نشي ساتلې ځکه دی به د یوې یا بلې جنګي ډلې په مورچه کې ناست وي. ځینولویو خپرونو ددې

لاره دا راویستې ده چې خپلو دوو خبریالانو ته کار سپاري او بیا د دوی په رالېږل شویو خبرونو یو هر اړخیزه راپور جوړوي.

د نوروټولوپېښو په پرتله په جنګ کې د دروغو راپورونو امکان ډېر زیات وي ځکه هره غاړه د وسلې او د جنګ د تاکتیک نه علاوه پخپل حریف روحي فشار هم اچوي. د افغانستان د کورنیو جنګونو پر وخت، په بي بي سي کې زمونږ لپاره تر ټولوګران کار په وړو جنګونو کې د یوې غاړې د دعوو سپیناوی و. دوی به د ژوندیو خپرونو نه لږ وړاندې ټیلیفون وکړو چې مونږ دغه ځای "فتح" کړو. بیا به مو خپل خبریال یا هغو نورو کسانو ته ټیلیفون وکړو چې په سیمه کې به اوسېدل او پوښتنه به موترې وکړه. مونږ به تر هغې دا خبر نه خپراوه چې د بلې غاړې نه مو حال نه وي اخیستي یا به د دې تاید ځایی خلکو نه و کړی. د جنګ د راپور ورکولو لپاره زیات وخت پاخه ژورنالیستان ورلېږل کیږي. د جنګ میدان ته وتل د ژورنالیستانو پخپله خوښه کیږي او هیڅوک یې په زوره نشي بیولی. که تاسودا دنده په غاړه اخلئ نو د ژورنالیزم د ټولو اصولو سره سره دې ټکو ته به هم پام کوئ:

۱. په جنګ کې کاربدونکې د هر ډول وسلو نومونه مو زده وي او د دوی د ډزو غږ هم د یو بل نه توپېر کولی شئ.

۲. د منډو وهلو او لکه د پوځیانو د جنګ په میدان کې خپل ځان ژغورلی شئ.

۳. د راپور ورکولو لپاره درسره ټول عصري وسایل موجود وي.

۴. کله چې د یو جنګ راپور ورلیږئ نو خپل زیار وباسئ چې د مقابل لوري په اړه هم خلک خبر کړئ.

۵. کله کله هغه پوځ چې تاسو ورسره مله یئ، د ځینو راپورونو په ورکولو بندیز لګولی وي. تاسو به خپله اداره خبروئ چې له تاسو دې توقع ونلري.

۶. تاسو د خپل غږ په خپرولو پخپل بندیز لګولی شئ چې څوک مو ونه پېژني او د کارمخه مو ونه نیول شي.

۷. د جنګ پر وخت د ځینو وړو ځایونو نیول او یا دښمن ته تاوان اړول ممکن د هغه جنګي ډلې لپاره به د ورځې مهمه پېښه وي خو دا ضرور نه ده چې د ورځې مهم خبر هم وي. د دې په اړه به تاسو هغه جنګي ډله خبروئ چې تاسو د هرې پېښې راپور خپلې ادارې ته ورکوئ خو د دې د خپرولو یا نه خپرولو اختیار تل د مدیر سره وي.

د جنګ په اړه خبرونو ورکوونکي ته ځینې خلک د ژورنالیسټ نوم نه ورکوي خو په دې به بل ځای بحث وکړو.

www.safiahaleem.com

# د خبر لیکل

**خبر**

**د سولې جرگه دیو شمېر بحثونو او دوه ځلې ځنډېدو وروسته بالاخره نن پیل شوه او هیله کیږي چې درې ورځې به روانه وي.**

د خبر دا لومړی جمله درته څنگه ښکاري؟

هغه کسان چې هره ورځ خبرونه اوري او د افغانستان پېښې څاري، ویلی شي چې دا د هغې جرگې خبر دی چې په ۲۰۱۰ م د جون په میاشت کې د افغانستان په پلازمېنې کابل کې وشوه. خو هغه څوک چې نن د دې خبر سره مخ شوی دی د خبر په لومړی جمله کې یو مهم ټکي ته اړتیا لري،چې هغه د ځای ښودل! کابل.

خبر: یوشمېرخلکود جرگې جوړول ښه کار بللی دی خو نورو یې مخالفت کړی او وایي چې په دې به روانه شخړه پای ته نه رسیږي.

په دې جمله کې څه نیمگړتیا وینئ؟

یو شمېرخلک څوک دي؟ د افغانستان اوسیدونکي دي که بهرنیان؟ایا، داسې جملې د خبر لوستونکو، اورېدونکو، یا کتونکو ته څه معلومات ورکوي؟ داسې جملې دې ولې د خبر برخه شي؟ ایا، د گډون کوونکوشمېره، د جرگې ځای، د دې مشر یاد مشرانو پېژندگلوي زیاته مهمه نه ده؟ که د جرگې خبر په هماغه ورځ اخیستل کیږي نو د نن ټکي کارول‌ئ شئ. خو دا جرگه درې ورځې روانه وه نو د لومړی ورځې نبټه به د اخبار د راپور لپاره مهم وي ځکه چې ورځپاڼه په بله ورځ د خلکو لاس ته رسیږي ، لیکنه تر ډېره وخت پاتې وي اوممکن څوک یې په ارشیف کې وساتي.

کوم ځای؟ څوک؟ او څنگه؟ دا د خبر په لیکلو کې د پام وړ توکي دي.

**خبر**

**د سولې ملي مشورتي جرګه د غبرګولي په دولسمه چې د جون د میاشتې دوېمه نېټه کیږي، په کابل ښار کې پیل شوه . په جرګه کې د افغانستان له ګوټ ګوټ څخه شاوخوا ۱۶۰۰ کسانو ګډون کړی و چې په کې ۱۴۰۰ غړي او ۲۰۰ میلمانه و. جرګې په وروستۍ ورځ د ۲۰۰ مادو یوه پرېکړه لیک صادرکړچې د افغان حکومت له وسله والو مخالفینو سره پر خبرو اترو ټینګارکوي.**

څه فکر کوئ د دې خبرلومړۍ جمله څنګه پیل شوې ده؟ بله کومه ستونزه لري که نه؟
دا خبر د جرګې په وروستۍ ورځ لیکل شوی دی نو ځکه درسمه جمله به په سر کې راځي. پیل به یې د وروستي خبرنه کیږي. بله ستونزه د شمېرو ده. دا خبرکه ثوک په رېډیو یا ټیلېوېژن اوري نو پرله پسې شمېرې یې له یاده ووځي. که دا شمېرې په ورځپاڼې یا په وېبپاڼې کې خپرې شي، نو لوستونکی یې بیا بیا کتلی او لوستلی شي خو د راډیو او ټیلېوېژن ژوندی خپرونې اورېدونکي ته دا موقع نه ورکوي. همدا ده چې د راډیو او د ورځپاڼې لیکنه توپیر لري.
**خبر**

**نړیوالو ټولنو، ملګرو ملتونو، امریکا، برتانیا او یو زیات شمېر نورو هېوادونو په افغانستان کې د سولې د ملي مشورتي جرګې د پرېکړو هر کلی کړی او ویلي یې دي چې په عملي کولو کې به یې مرسته وکړي. د پرېکړې مهمې مادې په لاندې ډول دي.**

دخبر دا برخه د ورځپاڼې یا د وېب پاڼې لپاره سمه ده خو د راډیو نطاق به د خبر وروستۍ جمله بدلوي.هغه نطاق یا وینا وال چې د کاغذ له مخې لولي، دې ته دې پام وکړي چې اورېدونکې، هغه کاغذ نه ویني. لاندې ډول ...دا مانا ورکوي چې اورېدونکې هم درسره کاغذ ته ځیر دی. ولې داسې نه کوي چې قلم راواخلي او و یې لیکي، "د پرېکړې مهمې مادې داسې دي. "
داجمله د غوږ لپاره لیکل کیږي،نه د سترګو لپاره.
دا مادې به په لیکلي بڼه د ټیلېوېژن په پرده راښکاره کیږي او نطاق به پام کوي چې هره جمله په واضح توګه ووایي. لکه "د پرېکړې مهمې مادې "
یوخبرپکارغذ یا کمپیوټر لوستل، د ټیلېوېژن په پرده کتل اوله راډیو اورېدل توپېر لري. پکار ده چې د خبر لیکلو پر وخت دې انساني حسیاتو ته دې پام وشي.

خبر

**په افغانستان کې وسله وال طالبان وايي چې دسولې ملي مشورتي جرګې پرېکړې تکراري دي او په کې هيڅ داسې څه نه وو، چې څوک دې پرې د روانې ستونزې د حل لپاره حساب وکړي.**

څه فکر کوئ دا جملې د يو خبر په توګه خپروول مناسب دي؟

کله کله داسې هم کيږي چې د مخالف لوري له خوا هيڅ نه وي ويل شوي او يا هغوي د خبرو نه ډډه کوي. په دې حالت کې ژورناليسټ د يو وکيل په حيث پوښتنه يا خپل شک څرګندولی شي چې د يو بحث لپاره لاره پيدا شي اوخلک سوچ او فکر وکړي.

خبر

**د افغانستان د سولې د مشورتې جرګې له پيل سره سم د طالبانو بريدونو زور اخيستی او دا د دې ثبوت دی چې هغوی دغې جرګې ته درناوی نه کوی او ورته کوم مفهوم نه لری.**

دا جمله څنګه ارزوئ؟

په خبر کې ژورناليسټ پخپله يوه ادعا کوي چې ممکن غلط وي. دده سره څه ثبوت دی چې د طالبانوپه بريدونو کې زور، د جرګې سره تړاو لري. خپل شک څرګندول او خپله رايه ورکول دوه بيل کارونه دي. په خبر کې د رايې ورکولونه ډډه کيږي او دا په تحليلي راپور يا د پروګرام برخه کېدی شي.

خبر لنډ او په واقعتونو ولاړ وي.

خبر

**د تخار ولایت درې ولسوالۍ د ملي اردو، پولیسو، ملي امنیت او ایساف ځواکونو له خوا د کوکچې تر نامه لاندې عملیاتو کې له مخالفینو څخه پاکې شوې. د ۲۰۹ شاهین قول اردو قوماندان، جنرال مراد علي مراد د غبرګولي په ۱۷مه په خبري ناسته کې وویل، چې یاد شوي عملیات ۹ ورځې مخکې پیل شوي و او په پایله کې درقد، ینګي کلا او خواجه بهاء الدین ولسوالۍ په بشپړه توګه له مخالفینو څخه پاکې شوې. د مراد په وینا، دا ولسوالۍ له نښتې پرته د دولتي ځواکونو لاسته ورغلې او د هغوی له راتګ مخکې طالبانو سیمه پر اېښې او هیڅ مقاومت نه دی شوی.**

په دې خبر کې څه نیمګړتیا شته ؟

ډېرخبرونه یوه تلوسه لري، ژورنالیست له پکار دي چې هغه جمله په کې پیدا کړي چې تلوسه ولري. په دې خبر کې د امنیې قوماندان خبرو یوه تلوسه او شک راوزېږول. ایا دا امکان لري چې یوه سیمه دحکومت د مخالفانو نه پاکه شي؟ په تېر کې څه شوي و؟ خبري ناسته په عامه توګه د حکومت د ژورنالیستانو سره د ښو اړیکو د ساتنې یوه موقع وي. که تاسو د قوماندان په میلمستیا کې ډوډۍ خوړلې ده نو هم مجبوره نه یئ چې څه هغه غواړي ، ورته خپاره کړئ. پام مو وي چې ژورنالیست دچا ډنډورچي نشي کېدی.

ددې خبرېله برخه داسې ده:

**زمونږ د خبریال د راپور پربنسټ، په دې ولسوالیو کې یوازې کورني او بهرني امنیتي ځواکونه لیدل کیږي او خلک ډېر کم تر سترګو کیږي.**

په دې جمله کې ځایي خبریال د خپلو سترګو لیدلې حال په بیانولو دامنیې د قوماندان په خبره خپل شک څرګندوي چې غوره کار دی، خو ددې نه هم ښه کاردا و، چې د سیمې یو څو کسان یې پوښتلي وای.

د خبر وروستۍ برخه:

**د ينګي کلا اوسيدونکي ۳۲کلن بسم الله زمونږ خبريال ته وويل، چې د امنيتي ځواکونو حضور ته خوش بين نه دي. هغه زياته کړه، چې امنيتي ځواکونه څو ورځې وروسته له سيمې څخه ووځي او بيا هم مخالفين ورته راځي او نا ارامي پيليږي.**

پ‌ه دې جملو د خبرتوله ( توازن) برابره شوه خوځه فکرکوئ چې د ينګي کلا ددې اوسيدونکي نوم (که هم دايې اصلي نوم وي) نو څه ستونزه به ورته پېښه شي؟ ممکن داسې نه وي خو تکړه ژورناليستان تل د خپل خبر سر چينه ژغورلې ساتي، د خطر په اړه هر شي ته پام کوي او که په سلو کې يو چانس هم وي چې دده په خبر به څوک وګوابنل شي نو د خبر په ليکلو کې دې احتياط وکړي. د بسم الله نومې کس دوه دېرش کلن دی.ايا دا ويل ضرور دي؟ که دا نظر د ډېرو نورو خلکو هم وي چې هغوی د امنيت په اړه شک څرګندوي نو د خبر جمله به داسې وي.

**ددې ولايت ځينو اوسيدونکو زمونږ خبريال ته وويل چې امنيتي ځواکونه څوورځې وروسته به له سيمې څخه وځي او هماغه حکومت ضد مخالفين به بيرته راځي او نا ارامي پيليږي.**

د خبرسرچينه دې واضح وې اواندول دې په کې سم وساتل شي.

خبر

**"په زابل ولايت کې د يوه ځانمرګي بريد په پايله کې دوه ولسي وګړي وژل شوي او د دوو پوليسو په ګډون ۱۳ کسان چې د يوه حالت سخت دی نور ټپيان شوي دي . د کورنيو چارو وزارت په خپره کړې ويناپاڼه کې ويلي ،بريد د دغه ولايت په شاجوې ولسوالۍ کې شوی دی. ويناپاڼه وايي ځانمرګي چې له چاودېدونکو توکو ډک واسکټ اغوستی و او د بهرنيو ځواکونو يو کاروان يې په نښه کړ خو د هغوی د زيان په اړه معلومات نشته. بهرنيو ځواکونو هم تر اوسه پورې ددغه بريد په اړه څه نه دي ويلي. د کورنيو چارو وزارت بريد غندلی دې ."**

www.safiahaleem.com

ددې خبرژبې اود جملو د جوړښت په اړه څه فکر کوئ؟
داسې ښکاري چې دا خبرد کورنیو چارو د وزارت له خوا خپرې شوې پاڼې نه لیکل شوی دی او لیکونکي په کې خپلو ماغزو ته تکلیف نه دی ورکړی. نتیجه یې هم هغه پېچلې جملې دي چې په خبري پاڼو کې حکومتي چارواکو لیکلي وي. که تاسو د رسمي پاڼو نه یو خبر اخلئ نو باید د هغې ژبه ساده او اسانه کړئ او یوازې هماغه خبرې ترې راوباسئ چې په حقایقو ولاړ وي.

**نن د زابل ولایت په شاه جوې ولسوالۍ کې یو ځانمرگی برید شوی دی. په دې بریدکې دوه ولسي وگړي وژل شوي او ۱۳ نور ټپیان دي چې دوه په کې پولیس دي. د کورنیو چارو وزارت وایي، یو برید کوونکي چې له چادیدونکو توکو ډک واسکټ یې اغوستی و، د بهرنیو ځواکونو یو کاروان په نښه کړو. تر اوسه څرگنده نه ده چې بهرنیانو ته څومره تاوان اوښتی دی. افغان حکومت دا برید غندلی دی.**

لوستونکي او اورېدونکي د خبر د سرچېنې د ښکاره کولو ترڅنگ د هغه تفصیل او جزییات نه غواړي. دا ضرورنه ده چي که حکومت خبر پاڼه جاري کړې ده نو په خبر کې دې ارو مرو د هغې ذکر وشي. د داخله چارو وزارت د حکومت یوه برخه ده، د جملې د تکرار پر ځای متبادل توري اورېدونکې یا لوستونکې ځان ته راکاږي.
د خبر لیکلو لپاره دې ساده ژبه او لنډې جملې وکارول شي او مهم معلومات په کې ځای شي.

## سرلیک یا سرټکي

هغه لنډه جمله چې د خبرونو په پیل کې داورېدونکي کتونکي یا د لوستونکي پام ځان ته راکاږي، د سرټکي او سرلیک نومیږي. دا د خبر یا راپور لپاره د یو دوکان د شېشه یي کړکۍ په شان وي چې د خرڅلاو توکي یې په کې اېښي وي.

**۱. جاپان اعلان کړی دی چې افغانستان ته د بیارغونې او د سولې د عملي هلوځلو په نیت ۳۲۲ میلیون ډالره بلاعوضه مرستې ورکوي.**

**۲. جاپان د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ۳۲۲ میلینو ډالرو مرستو اعلان کړی دی.**

په دې دواړو سر ټکو کې کوم یوستاسو لپاره په زړه پورې دی؟ د دې علت څه دې؟
سرټکي د خلکو پام را اړولوسره سره معلومات هم لري. په سرټکو کې یوه داسې لنډه کیسه پټه وي چې نوره تلوسه پیدا کوي. کله کله یو غبښتلی او تکړه ژرنالیسټ یوعادي خبر د محاورې سره یو ځای کړي اوخونده ورسرټکي ترې جوړوي. د بېلګې په توګه د راډیو یوخبر لوستونکي د افغانستان دکورنی جنګ په یو پړاو کې د خبر سرټکي داسې وویل.

**په افغانستان کې د تېرې یوې میاشتې د اور بند په ماتولو جګړه کوونکي ډلې اوس بیا ښکر په ښکر دي.**

## د راډیوسرټکي

د راډیو لپاره د سرټکي په ساده الفاظ جوړیږي چې شمېره یې له پنځلسو یا شپاړسو زیاته نه وي اود وینا پروخت د پنځو یا شپږوثانیو نه زیات وخت وانخلي. سرټکي یوه پوره جمله وي او د خبر ترټولو مهمه برخه په کې ځای وي. داسې الفاظ غوره کیږي چې په غوږ یې اغیز زیات وي. تصویري محاورې، لکه تورلوګي، سره اور، د خټو کورونه، د خلکو په سترګو کې وېره، او داسې جملې چې اورېدونکی هغه حالت ویني، کاریږي. د هرې خپرونې د سر موسیقي هم کله کله د سر ټکو سره یو ځای کیږي چې د دې ډرامایي اغیز زیات شي. د راډیوځینې خپرونې د ټولو خبرونو نه درې مهم خبرونه د سرټکو لپاره غوره کوي خو په غیرعادي حالاتو کې څلورخبرونه هم سرته راځي . کله بیا یوخبر دومره مهم شي چې د سر په ټکو کې بل خبر ته ځای نه وي. د بېلګي په توګه د یوبشتمې پېړۍ په سر کې په عراق او په افغانستان د امریکا د بمباریوپه لومړۍ ورځ د نړۍ ټولو مطبوعاتو زیات وخت نورسر ټکي نه لرل،هره خبري اداره د دې فیصله پخپله کوي چې نورو خبرونو ته به څومره وخت یاځای ورکوي.

## د ټیلېوېژن سرلیک

د راډیواود ټیلېوېژن په سر ټکوکې لرتوپیروي، په ټیلېوېژن خلک فلم ( عکس) ګوري او هلته د پوره جملې پرځای یو څو الفاظ بس وي. په دغه الفاظو د ټیلېوېژن ویاند د راډیو په پرتله زیات زور ورکوي او لیکل یې هم توپیر لري، یوه بېلګه یې داسې ده:

**په کابل کې د لومړي ځل لپاره د ښځې پله د زندانیانو او د ازادو لوبډلو ترمنځ د والیبال سیالي وشوه .**

دا سرټکي د راډیو لپاره مناسب دي خو په ټیلېوېژن کې د کتونکو پام به ددې لوبې فلم ته وي نو هلته د الفاظو په ترتیب کې بدلون راځي.

**د والیبال ازاد لوبغاړو د یوې ورځې د سیالۍ لپاره د کابل د ښځي پله زندانیانو سره لوبه وکړه.**

ولې دالفاظ ترتیب بدلیږي؟ په راډیوکې مونږ د کابل ذکر لومړی کوو ځکه اورېدونکي ته دپېښې ځای په ګوته کول دده پام راګرځوي. خود ټیلبوېژن کتونکی لومړی په پرده عکس ګوري او داعکس به د والیبال د لوبې وي، وروسته به غږ ته پام کوي. د دې لپاره ضرورده چې د "لوبغاړو " توری دې په سر کې راشي. پوښتنه دا ده چې په سر ټکو کې د زور پیدا کولو لپاره مونږ د ښځي پله د زندانیانو د لوبډلې ذکر په سرکې ولې نه کوو؟ ځواب یې دا دی چې هغه یې هم یوه لاره ده خو دې ته مو پام وي چې د سرټکو جمله لنډه اوساده وي، یوه بله بېلګه داسې ده:

**د سولې د مشورتي جرګې په لومړۍ ورځ شر پېښ شو.**

دا سرټکي درته څنګه ښکاري؟ جمله لنډه هم ده، ساده هم اود ټیلېوېژن کتونکی ترې ممکن خوند هم واخلي. خو په ادبي معیار پوره نه ده. د شر ټکی مبهم دی،کوم ډول شر؟ د چا له خوا؟ مونږ پوهېږو چې خبر په حقایقو ولاړ وي اود دې سر ټکي هم د خبر برخه وي. که د ټیلېوېژن په پرده د هغه حملې فلم ښودل کیږي چې د سولې په جرګې وشوه نو ترټولو ساده او اسانه جمله یې دا ده.

**د سولې د مشاورتي جرگې په لومړۍ ورځ  دوسله والو کسانوبريد.**

تاسو گورئ چې دلته جمله پوره نه ده.  کله کله په ټيلېوېژن د پوره جملې پر ځای نيمه جمله هم کاريږي.  دا کارهغه وخت کيږي چې د کتونکي ټول پام فلم ته وي.  په راډيو کې دا کار هغه وخت کيږي چې ويناند ورسره نورې جملې وکاروي، لکه،

**" دا او نورې پېښې به لږ وروسته وخېړو." يا" د پېښې له ځايه زمونږ خبريال به درته وروستی حال درکړي."**

## دورځپاڼې سرليکنه

د راډيو او د ټيلېوېژن په پرتله ورځپاڼې د يوې پېښې په بله ورځ خلکو لاس ته رسيږي.  که يوايډيټر(مدير) پخپلې ورځپاڼې کې د پېښې نه سمدلاسه وروسته ښه سرليک چاپ نه کړو نوممکن خلک يې هيڅ وانخلي. يوه بېلگه يې داسې ده:

**د سولې د مشورتي جرگې په لومړۍ ورځ دوسله والو کسانوبريد.**

که ورځپاڼه کټ مټ د ټيلېوېژن سرټکي وکاروي نو ځينې کسان ممکن د ورځپاڼې د اخيستو نه ډډه وکړي.خودا سر ليک ممکن خلک اړکړي چې اخبارواخلي.

**دکابل په جرگه بريد**

که په يو دکان کې رنگا رنگ مجلې يا اخبارونه خرڅيږي نو زمونږ سترگې د يورنگ نه بل ته ټوپ وهي. هغه سرليک چې زمونږ سترگې پرې ودريږي او زړه مو وشي چې نور يې هم ولولو د ورځپاڼې کاميابي وي.  تاسو فکروکړئ چې د اخبار په دکان کې ، يا د اخبار خرڅوونکي ماشوم په لاس کې د بېلا بېلو اخبارونو په گيډۍ درته دا سر ليکونه، تاو کوي.

**د سولې په مشورتي جرگې برید**

**د سولې جرگې ټکان وخوړ**

**جنگ، مشوره او سوله**

**د سولې مشورتي جرگې د برید لاندې**

**د مشاورت نه وړاندې**

هر کس ممکن په دې سرټکوکې یوه دخپرولو وړ وګني. دا د مدیردنده وي چې فیصله وکړي چې ددوی زیات لوستونکي به کوم سرلیک خوښ کړي. په ورځپاڼوکې لومړی اودویم سرلیک هم وي چې په دویمه لیکه کې په یواو کله په دوو جملوکې د خبرد لنډیز په توګه لیکل کیږي.دا هم د سر لیک په شان کیسه لري او لوستونکو ته نورمعلومات ورکوي.

د برتانیا "سن "او "ډیلي میل " پاڼې د خپلو سرټکو لپاره شهرت لري. د دې ورځپاڼو په اړه وایي چې دوی دخپلو لوستونکو په نبض لاس ایښی وي. مانا په دې خبردي چې اخباربه یې څنګه خرڅیږي. د برتانیا د شهزادګۍ ډایانه د مړینې پر وخت د هغې خواښې یعني ملیکه الزبت په سکاټلینډ کې وه. تر څو ورځو چې هغه خپلې د لندن ماڼۍ ته رانغله نو د لندن یوې ورځ پاڼې په لویو تورو د مخ په پاڼه ولیکل:

**" ته چرته یې مادام؟"**

په لویواو مخورو ورځپاڼو کې د سرټکو لپاره مسلکي خلک وي او د مدیر په ګډون څو کسان د چاپ نه وړاندې په دې بحث کوي چې د سر لیک توري په کومه بڼه ولیکل شي چې زیات خلک یې واخلي. کله کله په یو توري ټوله پاڼه ډکه کړي.

## دوېيپاڼې سرټکي

که څه هم ورځپاڼې اووېبپاڼې د لوستلو لپاره وي اوپکارده چې د سرليک اصول يې يوشان وي. خو د هر يو ژانر لوستونکي په بېلو لارو خبر تر لاسه کوي.هغه څوک چې پخپله خوښه اخبار په پېسواخلي په څوپاڼو کې خبرونه اوليکنې ترلاسه کوي. داسې کس کولی شي چې ورځپاڼه ټوله ورځ له ځانه سره وګرځوي او هروختې چې يې زړه وي د خپلې خوښې مضمون په کې ولولي.
د وېبپاڼې لوستونکی داسې کمپيوټر(يا موبايل ټيليفون) ته اړدی چې انټرنيټ ولري. دی لکه د ټيلېوېژن د کمپيوټرپرمخ بېلا بېلې پردې بدلولی شي.
له يوې پاڼې نه نوروته هم ورتلی شي او د توکو پلورونکو پخپلواعلانونو د ده پام ځان ته راکاږي.همدا ده چې د خبري وېبپاڼو ژورناليسټ مجبوروي چې په زړه پورې سرليک اوښايسته عکس د يو لوستونکي پام ځان ته واړوي، يوه بېلګه يې داسې ده:

### نيويارک موټربم: 'پاکستانی ونيول شو'

دا د يوې نړيوالی خبري وېبپاڼې سرليک دې. ايا تاسو کولی شئ چې دا سرټکي په راډيو يا ټيلېوېژن وکاروئ؟
د راډيواو ټيلېوېژن په پرتله د وېبپاڼې سرليک لنډ وي،يوعلت ښايي تخنيکي وي.دوېبپاڼو د سرليک لپاره د ټاکلي خونې يا د بکس چوکاټ محدود وي او که د ټاکل شوي شمېرې نه الفاظ ډېر شي نو په وېبپاڼه يې د چاپولو توان نه لري.دويم حد ښايي د املايي تورو د غټوالي ( فونټ) پورې اړه لري. کله کله يو پروګرام درته د الفاظو د شمېرې حد لري او د اندازې نه زيات نري يا لوی توري نه مني. خوتر ټولو لوی علت پخپله د کمپيوټرمخ دی. تاسو په دې پرده په يو وخت کې ډېر محدود متن لوستلی شئ او مجبور يئ چې په ګوتو ليکلي متن ښکته پورته کړئ. ددې عمل سره د سترګوکسي په حرکت کې وي اوکله کله د يو پر ځای څو شيان کتلو ته مجبوره شي.همدا ده چې د ويبپاڼې سرليک ډېرفکر او دقت غواړي چې په لنډه توګه کيسه بيان شي.
په وېبپاڼې کې يو ښه والی دا وي چې لوستونکی يې فونټ ځان ته غټولی او کمولی شي. د خبر د تفصيل لپاره لوستونکی په سر ټکو زور راوړي (کليک کوي)، بله پاڼه ورته خلاصه شي او ټول خبر لولي. که لوستونکی وغواړي او د چاپ اسانتياوې ولري نو دا خبر پر کاغذ چاپولی هم شي. د سرليک سره که عکس مل وي نو ژر د لوستونکي ورته پام کيږي.

**فیصل شهزاد: ټول تورونه ومنل**

تاسو ګورئ چې د وېبپاڼې سرلیک پوره جملې ته اړتیا نه لري. د ورځپاڼې په شان لوستونکی کولی شي چې د یو ځل نه زیات دا ټکي له نظره تېر کړي او که وغواړي نو د پوره خبر د لوستلو پر ځای یوې بلې داسې وېبپاڼې ته مخه کړي چې دده وربانديې باور وي او یا زیاتو معلوماتوته اړتیا لري.

**د کانګرس رپورټ: د امریکا پېسې تر طالبانو رسیږي**

د راډیو، ټیلیوېژن او د ورځپاڼو په پرتله د وېبپاڼې سرټکي د خبرسرچینه لومړی په ګوته کوي.ولې؟ ځینې خلک فکر کوي چې د وېب نړی ازاده ده .هرڅوک، هر څه وربانديې لیکلي او چاپولی شي. خو د ژورنالیزم هغه اصول چې په ورځپاڼو، راډیو ګانواو ټیلیوېژن لپاره ټاکل شوی دی، د وېبپاڼو لپاره هم وي.لوی او معتبرې پاڼې د خبرسرچینه که په سرپاڼه کې نه نو د خبر په سر برخه کې ارو مرو راولي اوسوب یې دا دی چې د وېب لوستونکي په تادۍ کې وي. په وروسته پاتې ملکونو کې د برېښنا نشتوالی، د وېبپاڼې په پرانستو کې وخت ضایع کیدل، انتظار ایستل دوی اړباسي چې په لږ وخت کې زیات معلومات راټول کړي.د افغانستان او پاکستان په شان د نړۍ په ځینو نوروملکونو کې د برېښنا د بندېدو له امله عادي خلک نشي کولی چې په ساعتونو دې کمپیوټر ته ناست وي.همدا ده چې وېبپاڼې دریاب په کوزه کې دبندولو هڅه کوي.

**رېښتیا وینا، انصاف او انډول د ژورنالیزم بنسټ وي**

# ځلورمه برخه

www.safiahalem.com

# په دې برخه کښې

## راپور ( رپورټ)

خبر او راپورکې توپير

راپورليکل

وخت

لومړی ليکنه

ارزيابي، اصلاح او بيا ليکنه

هنري راپور

څېړنيز راپور

انځوريز راپور

د راډيو او تلويزون راپور

د ورځپاڼې راپور

د وېبپاڼې راپور

د انتخاباتو( ټاکنو) راپور

راپورتاژ

د يو عادي کس راپورتاژ

پيکيج

زاويه او فوکس

ګرځنده راپور( واک اباوټ)

www.safiahaleem.com

# راپور (رپورټ)

راپور د فرانسوي ژبې توری دی چې نورو ژبو ته یې هم کډه وکړه او له دې د رپورټر چې د رپورټ لیکونکي لپاره اوراپورتاژ توری چې د سترګو لیدلي بیان لپاره و، جوړشول. دا توری به په اروپا کې یو وخت د سیاسي او قانوني پلټنو لپاره کارېدو. رپورټر به دا دنده لرله چې د یوې لانجې پلټنې وکړي او بیا پرې لیکنې یا رپورټ وکاږي. اوس په هره اداره کې چې د ولس سره تړاو ولري، راپور(رپورټ) لیکل د کار یوه برخه ګرځیدلې ده.

په ژورنالیزم کې رپورټ یا راپور هغه لیکنه وي چې په حقایقو او موندنو ولاړ وي. په رپورټ او مضمون یا مقالې کې توپیرد متن وي. مضمون، یو څوک د کتابونو یا نورو لیکنو د لوست نه وروسته هم لیکلی شي او ممکن د یواړخ یا نظریې ته په کې ځای ورکړل شوی وي. خو رپورټ د پېښو، واقیعتونواو د خبرونو پر اساس لیکل کیږي. د مضمون په پرتله رپورټ فلسفیانه بحث ته ځای نه لري خو ممکن په پای کې نتیجه اخیستنه یا سفارشات څرګند کړي.

په پښتو ژورنالیزم کې دا دواړه توري، راپورهو رپورټ او ځینې وخت د فارسي ګزارش د یو ژانر لپاره کاریږي. د اسانتیا لپاره مونږ به د راپور توری کاروو.

## خبر او راپورکې توپیر

**د سر پل په یو ښوونځي کې ۲۰ نجونې زده کوونکې او ښوونکې په نامعلومه موادو مسمومې شوي دي. ددې ولایت د پوهنې مسوولین وایيي، چې تېره ورځ ۲۰زده کوونکې او ښوونکې له مسموم کېدو څخه وروسته روغې شوې؛ خو پولیس لا هم د پېښې په اړه د چا په نیولو نه دي بریالي شوي.**

دا د یو خبرلومړنۍ جملې دي چې داوربدونکي پام ورته ګرځي. کله کله خلک ګنګوسی هم وري چې د خبر بڼه خپله کړي. ولې خبرد پېښې د معلوماتو سرچینه په ګوته کوي او که هرڅومره تکرار شي،

اصل حقایق یې نه بدلیږي. دلته د خبرسرچینه د سرپل ولایت د پوهنې ریاست دی چې زمونږ باوردی، دروغ به یې نه وي ویلي. د خبرځینې حقایق نه بدلیږي، لکه پېښه د سر پل په ولایت کې شوې، ورځ یې معلومه ده او دا هم چې زهرژن مواد په یو ښوونځي کې و.

د خبرځینې اوربدونکي ممکن د پېښې نورتفصیل اوربدوته اوزګار نه وي او یا کیدې شي نورخبرونه ورته مهم وي. خوځینې خلک به یې معلوماتو ته اړتیا لري او یا به غواړي چې ځان پوه کړي. ددې خبر تفصیل په ژورنالیزم کې راپورنومیږي. دا چې راپور به څومره اوږد وي او څومره معلوماتو ته به په کې ځای ورکړی کیږي، په رسنیو پورې اړه لري. د مطبوعاتو هرې ادارې ځان ته ددې لپاره وختونه ټاکلي وي. د بېلګې په توګه، د بي بي سي راډیو، راپورونه د یوې نیمې دقیقې نه واخلې ترپنځو دقیقو وي. کیدی شي نورې راډیوګانې دې ته زیات وخت ورکړي. ورځپاڼې د راپورلپاره د لیکلو الفاظو حد ټاکلی وي. خبري اژانس د پېښې ټول جزیات ورکوي، خو ویبپاڼې دا معلومات لنډوي. د ټیلېویژن راپور ممکن د ښوونځي فلم خپور کړي یا په نقشه د سر پل ولایت وښایي، فوټو ژورنالیست ممکن د یوې زده کوونکي عکس واخلي چې په زهر ژنوموادو ککړه شوې ده، د پورته خبر تفصیل په دې راپور کې راغلی دی.

د راپور بېلګه:

**د سرپل ولایت د ګوهر شاد بیګم د نجونو د لیسې ۲۰ ښوونکې او زده کوونکې له مسموم کېدو څخه څو ساعته وروسته روغې او خپلو کورونو ته ورسول شوې. دا نجونې تېره ورځ د یو ډول درمل شېندلو له امله بې هوښه شوې وې. ددغه ولایت د مرکزي دولتي روغتون رییس ډاکټر محمد هارون زمونږ خبریال ته وویل، چې په بې هوښه شوو زده کوونکو او ښوونکو کې داسې نښې ونه لیدل شوې، چې د بې هوښۍ لامل یې ترې څرګند شي. نوموړي زیاته کړه، چې ممکن یا ملتین او یا هم کوم ډول بې هوښه کوونکي درمل په ښوونځي کې شېندل شوي وي. د هغه په وینا، ټولې نجونې له وېرې خپل حواس له لاسه ورکړي وو. ډاکټر هارون وویل، چې په څو ساعتونو کې یې درملنه وشوه او بېرته خپلو کورونو ته واستول شوې. خو د پوهنې رییس وايي، چې لا هم پولیس نه دي توانیدلي چې د پېښې اصلي لامل څرګند کړي. د سرپل امنیه قوماندان لوی پاسوال محمد بلال نیرم وايي، چې دوی د پېښې له کېدو**

**سره سم خپلې هڅې پیل کړې دي. نوموړې زیاته کړه، چې د ښوونځي د یوه ټولګي په غولي کې د تیرو په فرش ځیني مواد پاشل شوي و او کېدی شي، چې همدې مایع موادو ښوونکې او زده کوونکې بې هوښه کړې وي.لوی پاسوال نیرم وویل، چې سربېره پردې هم د پېښې په اړه څېړنې رواني دي. د یادونې وړده، چې له دې مخکې په یو شمېر نورو ولایاتو کې هم د ښوونځیو ګڼ شمېر زده کوونکې مسمومې شوې وې.**

د سر پل د پېښې نورجزیات تاسو په دې راپور کې ولوستل چې یو لند خبري راپور ګڼلی شو. خو ددې نه علاوه هم نور راپورونه شته چې یو ژورنالیسټ یې د موضوع او د وخت په لرلو جوړوي.

## راپورلیکل

راپورپه ښه دقت اود یو پلان له مخې کښل کیږي. ددې درې برخې وي چې موضوع غوره کول، الفاظ یا د وینا لپاره وخت ټاکل او که دا د راډیو یا د تلویزون لپاره وي نو په کې د نورو موادو د کارولو فیصله وي. هر راپوریوه منطقي بنه لري او وروستی جمله یې ډېره مهمه وي چې د ټولو خبرو مغز وي. که تاسو د خبري راپور لپاره موضوع لرئ نو په دې فکر وکړئ چې کوم اړخ یې د لیکلو وړدی.

**د سرپل ولایت پېښه تلوسه او پوښتنې رازیږوي اوباوري اداري د هغې لپاره څېړنې او پلټنې کوي.د نجونو په ښوونځیو کې پخوا هم داسې پېښې شوي دي نو د تعلیم وزارت په دی اړه څه کړي دي؟ آیا حکومت پلټنې وکړې؟ که یې کړې وې نتیجه یې څه وه؟ د داسې پېښو اغیز به په راتلونکي کې څه وي؟ داپوښتنې باید یو مسئوول کس ځواب کړي. د بېلګې په توګه، د ښوونځي د نجونو، د معلمانو، د ولایت د امنیت مشر، د معارف د وزارت یو چاروواکي لکه وزیر یا ویاند سره خبرې وشي.**

## وخت

د نشر اداري د خپلو ژورنالیسټانو لپاره دراپور د الفاظو ( یا د وخت) حد ټاکي . دورځپاڼو لپاره دا کار اسانه برېښې ځکه کمپیوټر ورته د تورو شمېره ښايي. خو په راډیو او تلویزون کې د کرښو ( لیکو) د

لوست نه اندازه کیږي چې یو لیکلی راپور به په ویلو کې څومره وخت نیسي. دراډیو د یو ښه ژورنالیست لپاره تر ټولو لومړی کار دا وي چې خپله لیکنه ولولي او د کار دلومړی ورځې نه دا اندازه ولګوي چې په یوه دقیقه کې څومره الفاظ لوستلی شي. هر څومره چې راپور اوږد وي، اورېدونکی ستړې کیږي. همدا حال د وېبپاڼو او د ورځپاڼو دی.د لارښوونې لپاره به دومره بس وي، چې که تاسو پخپله د اوږد راپور د اورېدوحوصله نه لرئ، نو نورو ته ولې د لسو یا دولس ود قیقوپورې سزا ورکوئ؟

## لومړی لیکنه

تاسو کله پخلی کړی دی؟ که د بل چا لپاره مو پخ کړي وي اودهغې خوند مو پخپله نه وي څکلی نوخوړونکي نه مو پوښتلي چې پخلی څنګه و؟ هر پخوونکي د پخلي نه وروسته، پخوا له دې چې نورو ته خواړه وړاندې کړي، له خوړو څکه کوي او بیا یې نورو ته ورکوي. یو لیکلي راپورهم له خپرېدو وړاندې " څکه " غواړي. په تېره بیا هغه وخت چې د ژورنالیزم په ډګر کې مو خاپوړې پیل کړې وي. له خپرېدو وړاندې د راپور د جاج اخیستلو دنده په هره اداره کې د مسولو کسانو پر غاړه وي. دا با تجربه ژورنالیستان ستاسوراپور له هراړخ ګوري او د اصلاح مشوره درکوي. هر ژورنالیست انتقاد، ارزیابي او " فیډ بیک " ته دې خپل زړه لوی کړي. په ځای ددې چې په زرګونو خلک ستاسو د راپورپه اورېدو درته بدې ردې ووایي، د یو ملګري ترخې خبرې درته غوره دي.

د بي بي سي دنړیوالو خپرونو یو مشر مارک بایفورډ یو ځل د ټولو شعبو مشران غونډې ته بللي و. دهرچا نه یې پوښتنې کولی اود پروګرامونو د معیار د لوړولو په اړه خبرې کولی. ده خپله کیسه وکړه چې : پنځویشت کاله پخوا مې د "تربیوي ژورنالیست " په توګه د انګلستان په شمال کې د "نیوز روم ( خبرونو کوټې) کې کارپیل کړو.هلته لس دولس کسان پکار بوخت و او مشر مدیرد خونې په سر کې ناست و. ما ته یو موضوع راکړې شوه چې راپور پرې ولیکم. په هغو ورځو کې مونږ په " ټایپ رایټر " ( مشین) لیکنې کولی. نیمه ورځ مې واړوله، دسته کاغذونه مې خراب کړل او اخر په دی بریالي شوم چې ټایپ شوي راپور د مدیر په میز د لرګي په پتنوس کې کیږدم. دا زما دمسلکي ژوند لومړی راپور واو ډېر ورته خوشاله ووم . سپین ږیري مدیر د خپل ټایپ رایټر نه سر راپورته کړو او زما کاغذ یې ولوستو. بیا یې په ډېر لوړ غږ وویل، " دا چا لیکلی دی؟ " ټول ناست کسان هیښ شول، د مشینونو ټکارې بند شو، هر چا اخوا دېخوا کتل. ما ورو خپل لاس پورته کړو. هغه د عینکو لاندې راته په قهر

وکتل، زما کاغذ یې په دواړو لاسونو کې ومروړلو او لیرې د خزلې ټوکرۍ ( باطله دانۍ) ته ور واچوو " د وینا پر وخت بایفورډ د میز نه کاغذ راواخیستو او په عمل کې یې راته ښکاره کړه چې دده ایډیټر هغه راپور څنګه خزلو ته ورتاو کړو. د کیسې نه وروسته یې یوه خبره وکړه چې غیر معیاري لیکنه د خپرولو وړنه وي.

## ارزیابي، اصلاح او بیا لیکنه

کله کله نوي ژورنالیسټ ته هره خبره مهمه ښکاري اود راپورموضوع ترې بلې خوا ته ولاړ شي. له ځینو نورو ترټولو مهمه خبره پاتې شي او هغه څه ولیکي چې اړتیا یې نه وي. په لویو اداروکې هره لیکنه د مدیر له سترګو تېریږي اوپه ځینو ځایونو کې هرراپورهصلاح کیږي. کله کله چې مدیر نه وي، یو څوک د کار ملګري ته خپله لیکنه ورښکاره کړئ. دا په هغه حالت کې امکان لري چې ستاسود ملګري کاري تجربه له تاسو ډېره وي. مدیر یا کتونکي کله چې ستاسو راپور له نظره تېروي نوورته ویلې شئ چې د یو لوستونکي په حیث یې وګوري. کله کله عادي لوستونکی هم یوه ډېره ښه مشوره درکولی شي. په لویو نړیوالو مطبوعاتي ادارو کې د ارزیابي د شعبې کسان زیات وخت د عامو خلکو، خپلو لوستونکو، اوریدونکو او کتونکو نه پوښتنې کوي او د هغوی نظر ته درناوی کوي. د لومړۍ اصلاح نه وروسته لیکونکي هغه تېروتنې له راپوره وباسي چې په نښه شوي وي. که راپور د چاپ لپاره وي نو د املا تېروتنې او د جملو جوړښت ته به پام کوئ. د راپور ژبه او په دې کې کارول شوي توري به یو واري بیا ګورئ چې د چا سپکاوی په کې نه وي شوې او یا مولیکنه ورباندې بې تولې شوي نه وي.
ژورنالیزم یوازې د جنګ او د بدو پېښو خبرونه ورکول نه دي. هر هغه څه چې د انسان په ژوند اغیز لري، یا ترې څوک زدکړه کولی شي، د خبر یا د راپورموضوع ګرځي. په میډیا کې کله کله داسې پېښو ته " نرم خبرونه " وایي.لویې ورځپاڼې د کاروبار یا تجارت ، ساینس، ارټ یا هنر او لوبو د راپورونو لپاره برخې بېلې کړي وي. د ورځپاڼې لوستونکې د خبرونو سر لیکونه له نظره تېروي اوڅه چې ورته په زړه پورې وي ، هغه ولولي. په دې توګه ورځپاڼه تر ډېره بریده پخپله د لوستونکي په کنټرول کې وي. هغه کولی شي چې په دمه او پخپله خوښه دا ولولي.

## هنري ر اپور

هغه راپورونه چې د فن، موسيقي، لوبو، ورزش، خوړو، فلمونو او د هنر د بېلا بېلو څانګو سره تړاو لري، هنري ګڼلی شو.خو دا توپير ډېر کلک چوکاټ نه لري. د يو هنر مند په اړه راپور، کېدی شي خبري اړخ هم ولري او کله کله يو خبري راپورد هنر يا ارټ په اړه وي. د داسې راپور جوړول وخت غواړي او تکړه ژورناليسټ په لږ وخت کې د يوښه هنري راپور د جوړولو توان لري.

## ځېړنيز راپور

په پښتو ژورناليزم کې څېړنيز راپورونه لږ موندل کيږي. يو علت يې ښايي د مطالعې او د معلوماتو کمی وي. خو د داسې راپور جوړولو لپاره د نور هر څه نه زيات وخت پکار وي. د يوې موضوع د څېړلو لپاره ژورناليسټ د پوهې، مطالعې اوډېر معلومات په لږو الفاظو کې راټولولو ته اړ وي.
دا هغه راپورونه وي چې د بېلا بېلو وختونو معلومات په کې يو ځای شي او ليکونکی د هغی په اساس تبصره کوي. په چټک بدليدونکو حالاتو کې د ليکنې پر ځای زباني ( شفاهي) تحليل کيږي. د مصر،تونس او د ليبيا د پاڅون په اړه تاسو به ليدلي وي چې په تلويزون او راډيو د حالاتوڅارونکي، د سيمې سره بلد خلک او ژورناليستانو ځای پرځای څېړنې کولی. په ورځپاڼو او وېبپاڼو کې هم دا څېړنې په ليکلې ښه خپرېدې.
پوښتنه دا ده چې ددې څېړنې ګټه څه وي؟
مونږ يو بل ځای د انساني حافظې ذکرکړی دی چې محدود معلومات اخلي. د داسې څېړنو هدف، د خلکو ذهن راتازه کول او هغوی ته يو واري بيا د پېښو بيکګراونډ ( شا ليد) ورکول د خپرونو دنده ده. کله کله حالات دومره پيچلي وي چې د خبرونو تر شا معلومات له خلکو پټ وي. په دې موقع ژورناليستان هغه څه د رابرسېره کولو هڅه کوي چې يوه يا بله غاړه يې پټول غواړي. ځينې څېړنې په داسې موضوع هم کيږي چې خبر کې نه وي راغلي خو نيغ په نيغه د وګړو په ژوند اغيزې لري.

## انځوريز راپور

دخبري وېبپاڼو دخبرونو برخې ته وګورئ نو پرله پسې د پېښو يوه لړۍ روانه ده. تاسو خپل د خوښې سر ليک ګوری او ددې تفصيل ته ورځي. هغه خبر چې ورسره علاقه نه لرئ، يا مو پکار نه دی، اوس يې نه لولئ او يا يې وروسته لوستلو ته ساتئ. خو کله کله يو خبر د خپل غير عادي موضوع لپاره د ټولو

لوستونکو پام ځان ته اړوي او که هغه وخت یو ژورنالیسټ وربانديې رپورټ جوړ کړي نوډېرخلک یې لوستلو ته رامات شي.

بېلګه

**فضا ته د سیل لپاره تګ ډېرو خلکو ته یوه خوب بربښي. خو انوشه انصاري خپل دغه خوب په ریښتیا واړاوه. څلوېښت کلنه ایرانۍ مېرمن انوشه انصاري په امریکا کې یوه تجاره ده چې په ۱۹۸۴ کال کې له ایران هلته ورغلې وه. نوموړې دروان کال د سمتبر د میاشتې د ۱۸نه تر ۲۹ نېټې پورې د قزاقستان د بایکانور د فضایي اډې نه په سایوز راکټ کې یو نړیوال فضایي سټېشن په لورسفر وکړو. د دغه سفر لپاره انوشه، نږدې شل ملیون ډالره ورکړي دي .انوشې پخپل سفر ډېره خوښي ښکاره کړې او ویلي یې دي چې فضا ته د دوهم ځل لپاره هم تلل غواړي.**

دا خبر د انساني علومو د کومې برخې سره تړاو لري؟
ساینس؟ تجارت؟ او که نه د ښځې د زړه ورتیا یوه بېلګه ده؟

په راډیو کې د مهم خبر د تفصیل لپاره اورېدونکی مجبور وي چې ټول خبرونه واوري. خو د راډیو ښه والی دا دی چې تاسو ورته غوږ نیولی وي او نورکارونه ترسره کوئ. د تلویزون لپاره باید تاسو ځان وزګار کړئ. دا هم کولی شئ چې د څو شېبو لپاره د پردې نه سترګې لیرې کړئ. خوغوږ به مو په انتظار وي چې مهم خبر کله راښکاره کیږي. ځینی خلک چې نه غواړي تلویزون ته ناست وسي، پردې ته نه ګوري اوغوږ یې ایښی وي. دانسان دې عادت او د معلوماتو ډېروالی اوس دې کچ ته رسیدلی دی چې خبرورکوونکو د موضوع یا مضمون په حساب خپلې خپرونې وېشلي دي. ځوانان زیات وخت د لوبو، موسیقي او د هنر خبرونو ته لیواله وي اوپه اوس وخت کې دوی که کمپیوټر ته لاسرسی ولري نو رېډیواورېدل یا تلویزون ته کښیناستل ورته ګران ښکاري.

## د راډیو او تلویزون راپور

هغه لنډراپورچې یو یا دوه غږونه لري او د خبر په څېر وړاندې کوي. په دې کې څو حقایق بیان شوي وي. د بېړنیو پېښو،غونډواو د یو خبر پر اساس جوړ داسې راپور د دوو یا دریو دقیقو نه زیات وخت نه نیسي.

بېلګه

**کیو(سریزه)**

**افغان حکومت له نړیوالې ټولنې غواړي چې روغتیایي رضاکارانو ته د تنخوا ورکولو په برخه کې ورسره مرستې وکړي. د عامې روغتیا وزارت وایي دا مهال د هیواد په کچه څه باندې ۲۲ زره صحي رضاکاران شته چې، لېرې پر تو سیمو ته درمل لیږدوي او د روغتیا ساتنې په برخه کې خلکو ته عامه معلومات او پوهاوی ورکوي.**

**له کابله نور حال واورئ.**

خبریال..

**په افغانستان غوندې یوه غرني هیواد کې چې په لرو پرتو سیمو کې روغتیایي اسانتیاوې یې په نشت حساب دي، د روغتیایي رضاکارانو موجودیت اغیزناک بلل کیږي. دوی، چې په صحي ټولنیز کارکوونکي هم شهرت لري، تر ډېره خلکو ته د روغتیا ساتنې په اړه معلومات ورکوي اومیندوارې ښځې هڅوي چې په وخت سره روغتون ته ولاړې شې اوپه دې ډول د موراوماشوم د مړینې مخنیوی وشې یا لږ تر لږه کچه یې راټیټه شي.**

**د افغانستان د عامې روغتیا مرستیاله وزیره نادره حیات د دغو رضاکارانو یو شمېر نورې عمده دندې داسې راپیژني:**

د نادره حیات غږ

**(دوی په رضاکارانه ډول کور په کور ګرځي او د میندو د مړینې د کچې د ټیټولو په برخه کې کار کوي.پر دې سربېره د روغتیا په برخه کې د خلکو د عامه پوهاوي په**

**لوړولو، د زيږون ترمنځ د فاصلې ورکولو په اړه له ميندو سره مرسته کوي او هغوی ته درمل رسوي.د دوی کار په ريښتيا هم د ستاينې او پاملرنې وړ دی).**

خبريال

**د مېرمن حيات په خبره دا مهال په ټول هيواد کې داړول څه باندې دوه وېشت زره روغتيايي کارکوونکي شته چې سم نيمايي يې مېرمنې دي.  دغه رضاګاران له کلونو کلونو راهېسې له کوم امتياز پرته په بېلا بېلو برخو کې د افغانستان د عامې روغتيا له وزارت سره کار کوي.  اوس د عامې روغتيا وزارت له نړيوالې ټولنې غواړي چې دغو کسانو ته د معاش ورکولو په برخه کې د دوی لاسنيوی وکړي.**
**د وزارت مرستيالې وزيرې نادرې حيات اندېښنه وښووله چې که نړيوال روغتيايي سازمانونه په دغه برخه کې لاس پکار نشي،ښايي له وزارت سره د رضاګارانو همکاري کمه شي:**

مېرمن حيات غږ

**( د عامې روغتيا وزارت نشي کولی چې دغو رضاکارانو ته مياشتنۍ تنخوا وټاکي.  موږ د روغتيا له نړيوال سازمان او نورو روغتيايي ټولنو نه غوښتي چې په دغه برخه کې له موږ سره مرسته وکړي چې دغو کسانو ته معاشونه وټاکو).**

خبريال

**مېرمن حيات دغه راز وويل،دوی اوس-اوس د نړيوال بانک په مرسته يوه داسې پروژه پيل کړې چې يو شمېر هغوو رضاکارانو ته د هر کس په سر څه باندې درې ډالر ورکوي چې ميندوارې مېرمنې روغتون ته د تللو لپاره هڅوي.**

**دغو رضاکارانوته د افغانستان د عامې روغتيا وزارت له لورې له شپږ مياشتنۍ روزنې وروسته يو شمېر وسايل او تجهيزات ورکول کيږي چې کار وکړي. وزارت وايي دوی دا ډول سلګونه نورو ښځينه او نارينوو رضاکارانو ته هم اړتيا لري.**

دبي بي سي پښتو ويبپاڼه ۲۰۰۹ د جنورۍ د مياشتې ۵ نيټه.

دا راپوربه د تلويزون لپاره به بل ډول جوړيږي. په هغې کې به د نادره حيات د خبرو نه علاوه دروغتيايي رضاکارانويو متحرک فلم هم وي چې پخپل کاربوخت وي.

په دی راپور کې تاسود کيو توری ولوستلو، نو "کيو " څه وي؟

د " کيو " توری ديورپ د تهيټر ( تياتر) په ډرامو کې کاريدو. کله چې يو ايکټربه خپله داسې جمله وويله چې ورپسې به د يو حرکت يا عمل کيدو نود لاس به يې په يو ډول وخوځوو. دی ته به يې " کيو " ويل. په ريډيو او تلويزون د يو راپورمعرفي جملوته د رپورټ "کيو وايي. دا زيات وخت پخپله د راپورد متن يو څو جملې وي چې په ساده او خونده وره ژبه ليکل شوي وي. هدف يې راپورهوريدو ته د اوريدونکي رابلل وي.

بېلګه

**د کندوز د دشت ارچي په يو کلي کې دوه کسان دزنا په تور سنګسار شوي دي. دا پېښه شپږ مياشتې پخوا وشوه خو ددې يوه وراډيو اوس مطبوعاتوته رسيدلې ده. دغه کلی د طالبانو په ولکه دی او په وراډيو کې ښکاري چې عامو خلکوپه سنګسار کې برخه اخيستې ده. دا دی په دی اړه د خبريال راپور.**

دا کيو د راډيواو تلويزون لپاره ليکل شوی دی او په اوريدوبه يې ممکن تاسو د پېښې نورجزيات هم وغواړئ. که داسې وي، نو دا به ښه " کيو " ګڼلی شي. ځينې ژورناليستان چې راپور جوړ کړي نو د کيو ليکلو لپاره هم ورته ويل کيږي. کله کله يو څوک په تادۍ کې او يا د ځان خلاصولو لپاره، د راپورلومړنۍ څو جملې واخلي او د کيو په توګه يې وليکي. دا سم کار نه دی. په کيو کې د راپورنه هغه جملې را اخيستل کيږي چې معلوماتي او خبري بڼه ولري.

www.safiahaleem.com

یو خبر

**په ننگرهار ولایت کې عام ښاریان د برېښنا له رڼا څخه بې برخې پاتې دي، په تېره بیا د جلال اباد ښارګې شمېر اوسیدونکي نیوکه کوي، چې برېښنا د ځینو سوداګرو او زورواکو لخوا یرغمل شوې .د برېښنا ریاست مامور دا خبره ردوی او وایي چې خلک د قانون نه سر غړونه کوي او د برېښنا د بل ورکولو نه ډډه کوي.**

د ریډیو د ژورنالیسټ په حیث تاسوپه دې موضوع د پنځو دقیقو د یو رپورټ جوړولو دنده پرغاړه لرئ. نو ددې پلان به څنګه جوړوئ؟ د راپور فوکس(زاویه) به څه وي؟ چا سره به مرکه کوئ او ولې؟ کوم غږونه به په کې کاروئ او ولې؟

راځئ دراډیودا راپورپه لیکلي بڼه وګورو.

کیو

**په افغانستان کې د برېښنا د نیشتوالې ستونزه په تېرو څو کالو کې هواره شوې او لوی ښارونه اوس تر ډېره بریده برېښنا لري. خو په ننگرهار کې دې ستونزې یوه بله بڼه خپله کړې ده. ځینې ښاریان ادعا کوي چې د برېښنا اداره په غیر قانوني توګه د شتمنو نه پېسې اخلي او هغوی ته د برېښنا کنکشونه ورکوي. په دی اړه د خبریال راپور ته پام وکړئ چې د ښار د یو اوسیدونکي په غږ پیل کیږي.**

عبد الغني

**(د یوه واټ پرسر ۵۰ افغانۍ اخلي او دا برېښنا ډېره کمزورې وي. که برېښنا مصرف کړې او که مصرف نه کړې ،د دېرش کیلو واټو پزسې رانه په جبري ډول اخلي، دا کوم انصاف دې؟).**

خبریال

د جلال اباد ښارد درپيمې ناحيې اوسيدونکی عبد الغني خبرې مو اورېدې. دا يوازې د عام ولس شکايت نه دی. بلکه دحکومتي ادارو يو شمېر کارکونکي هم د برېښنا له نشتوالي اندېښمن دي او پړه يې د برېښنا رياست پر چاواکو وراچوي ، دوی وايي چې د جلال اباد دولتي برېښنا پر څو تنه سوداګرو پلورل شوې او د اړيکو پر بنسټ پر خلکو وېشل شوې چې له امله يې بې وزله خلک د برېښنا څرک په سترګو نه ويني. د ښار ټولو مارکيټونو کې جنراتورونه لګيدلي، چې د برېښنا د نشتوالي پر مهال ورڅخه ګټه اخيستل کيږی. يو تن مامور چې نه يې غوښتل نوم يې خپور شي وويل :

مامور

ننګرهار د برېښنا د ويش مامورين خلکو ته د پېسو په بدل کې مزي تړي او هغه کسان چې د برېښنا تېرولو په موخه يې قانوني پړاونه تېرکړي دي، کارونه يې مياشتو ته ځنډيږي او په وينا هم پېسې ترې غواړي. کله چې د چا لين يا برېښنا خرابه شي او د جوړولو لپاره يې د برق برج ته مراجعه کوي نوکارونه يې نه خلاصيږي

خبريال

د ننګرهار د برېښنا چارواکي که څه هم دا مني چې د برېښنا په برخه کې يو لړ ضايعات رامنځ ته شوي ، خو دوی وايي چې په ټول کال کې يې يوازې تر څلوېښت فيصده پورې برېښنا ضايع شوي ده.
د دې ولايت د برېښنا مشر انجينر ريدي ګل پيمان وايي.

ريدي ګل

**پنځه دېرش فيصده ضايعات نړيوال سټنډر دی. زمونږ زيان چې له دغه ټاکلي سټنډرډ څخه اوښتی لامل يې د برېښنايي شبکې استهلاک کېدل او له ډرونټې څخه تر ښاره پورې يو ميليون غوټو (پيوندونه) شتون دی چې دا خپله د لا ډېرو ضايعاتو لپاره زمينه برابروي.**

خبريال

**که څه هم نوموړی په ښار کې د برېښنا د کموالي پخلی کوي، خو هغه د عامو خلکو دا ادعاوې ناسمې ګڼي چې ګواکې اداره يې په فساد کې ښکيله ده.**
**ريدي ګل... د برېښنا رياست مامورين ۲۴ ساعته د ښاريانو په خدمت کې دي او هر څوک کولای شي چې نيغ په نيغه خپلې ستونزې له دوی سره شريکې کړي. زه دا منم چې د خلکو کارونه په دغه اداره کې يو څه ځنډېږي، خو لامل يې د مراجعينو زياتوالی او د پرسونل لږوالی دی.**

خبريال

**يوې مېرمنې نه مې وپوښتل چې د خياطۍ مرکز کې کار کوي. دا وايي چې کله برېښنا نه وي نو د ګنډلو کارونه په لاسي مشين کوي او د ملا تکليف ورته پيدا شوی دی.**

دمېرمن غږ

**اوس د خلکو شمېره زياته شوې ده او ټولو مهاجرو نوي نوي کورونه جوړ کړي دي. دهر چاضرورت پوره کول خو د دوی دنده ده. زه د حکومت نه پوښتنه کووم چې زمونږ د برق غم څوک خوري او که نه؟**

خبریال

**ددی مېرمنې شکایت مې د برېښنا د چارو ریاست ته ورسوو. ددې مشر راته وویل.**

مشر

**پکارل ۱۳۴۵ لمریز کې د روسي او افغان انجینرانو په ګډو مرستو د درونټې په سیمه کې د یوولس نیم میګاواټه په ظرفیت یو برېښنا کوټ تاسیس شوی چې په وینا یې د درې لسېزو جګړو او د برېښنا کوټ د استهلاک کېدو له امله یې ظرفیت شپږو میګاواټو ته راټیټ شوی دی . د (یو ایس آی ډي) لس میلیون ډالرو په مالي مرستو دمګړی د دغه برېښنا کوټ د جوړولو چارې تر کار لاندې دي چې له بشپړېدو وروسته به دغه شبکه ببرته پخواني حالت خپل کړي. د اسیایي بانک د پنځوېشت میلیون ډالرو په لګښت له نغلو بند څخه جلال اباد ښار ته د شل میګاواټه برېښنا د لیږدولو چارې هم روانې وي خود یو شمېر امنیتي ستونزو له امله یې کارونه ځنډني شوي او تمه ده چې په نږدې راتلونکي کې به چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شې او د ښاریانو ستونزې به بشپړه توګه هوارې شې.**

خبریال

**په ټول جلال اباد ښار کې په سلګونه نادولتي جنراتورونه د یوه واټ برېښنا پر سر له ښاریانو څخه د پنځه دیرش افغانیو ان تر پنځوسو افغانیو پورې پېسې اخلي چې د ځایي خلکو په وینا چارواکو د دغو نرخونو د کنټرول په موخه تر دې دمه هیڅ اقدامات نه دي تر سره کړي. هغوی وایي چې دا د دوی له کاره بهر خبره ده. نو داسې ښکاري چې په نږدې راتلونکي کې د جلال اباد برېښنا ستونزه به پر ځای پاتې وي.**

دا راپورد تلویزون لپاره څه بدلون غواړي؟

تاسو دا کیو د تلویزون لپاره کارول شئ.

د فلم لپاره به کومو ځایونو ته ورځئ؟

له چا سره به تصویري مرکه او چا سره د غږ په اخیستو خبرې کوئ؟

په تلويزون کې د راپورپیل به د تصویرنه کیږي. ممکن خبریال، د برق پایه وښایي، یا د یوکورپه دیوال لګیدلی د برق میټر او یا هم داسې څوک چې د برق په رڼا کې درس وایي. هم دغسې د خلکو معرفي کې به د دوی نومونه نه اخیستل کیږي، ځکه د تلویزون په پرده د هغوی لیکلی نوم ښکاره کیږي.

## د ورځپاڼې راپور

څنګه چې په راډیو او ټي.وي کې د راپورد پیژندګلوي، لومړی څو جملې "کیو" نومیږي، په ورځپاڼې کې ددې اړتیا نه وي. هلته دا پیژندګلوي سرلیک یا سر ټکي بلل کیږي. مهم وي.

بېلګه

**په مزارشریف کې د ښځو لپاره لومړي لوبغالی.**

د سر لیک سره یوه بله جمله هم د کیو ځای نیسي. لکه

**د دېرشو مېرمنو لپاره درې میلینه؟**

په دی جمله لوستونکې ټول راپورولوستلو ته اړ کیږي.

دورځپاڼې په دی راپورکې ټولې خبرې په پیراګراف وېشل کیږي او ممکن یو څه زیات مواد ولري. د راپورسره انځور به د لوبغالي د ودانۍ او یا دننه د یوې کوټې منظره وي چې د ورزش مشینونه ولري. کیدې شي که نجونو اجازه ورکړي وي نو د هغوی تصویر په کې چاپ شي.

## د وېبپاڼې راپور

د وېبپاڼې لوستونکي زيات وخت  تصوير ته ژرپام کوي او کيدې شي چې د ښځو د لوبغالي راپورد يو ښه انځور له کبله د لوستونکي پام ځان ته راواړوي.  خو د ورځپاڼې او د وېبپاڼې په راپورونو کې به بيا هم توپيروي.  يوه دا چې د وېبپاڼې راپور لنډ وي.  دوېمه دا چې د وېب سر ليک د ورځپاڼې په پرتله بل ډول ليکل شوي وي. لکه ددې راپورد سر ټکي ممکن داسې وي.

**مزارشريف. د لوبو نوې مرکز**

**( يا )**

**د ښځو لپاره د ورزش اسانتياوې**

د وېبپاڼې د راپورمهمه برخه د کمپيوټر د پردې يا چوکاټ په لومړی مخ  ځايږي او د الفاظو حد يې ټاکلي وي.

د وېبپاڼې لپاره موضوعي راپورپه يو بل شکل هم خپريږي.  دا راپورممکن خوانځورونه ولري.  د بېلګې په توګه راپورجوړونکې د لوبو په مرکز کې په کيمرې شل يا دېرش تصويرونه واخلي.  له هغې شپږ و نه تر، لسوپورې  د راپورلپاره غوره شي او بيا د هر يو سره لنډ متن وليکل شي.  لکه....

لومړی تصوير. ( ودانۍ د بهر نه )   د چنار مرکز.

دوېم . ( د ورزش تالارچې تش دی) پر مختللي وسايل که د پيسو زيان ؟

درېم . ( د والي بال ميان کې لوبه )  نړئ واله جام ته تياري.

څلورم. د ورزش په يو بايسکل جينې ورزش کوي.  افرين.

پنځم. دوه چاغې مېرمنې د ورزش په حال.  دښځو د روغتيا لپاره .

شپږم.  د مرکز په چمن کې ماشومان.  مرکز د ښځواو مزې د ماشومانو

داسې راپور هم هغه وخت جوړيدې شي چې ژورناليسټ ښه ډېر تصويرونه او د ليکلو لپاره ښه تخيل ولري.

## د انتخاباتو( ټاکنو) راپور

د يوملک ډيموکراسي په څلورو ستنو ولاړه وي. ازاده ميډيا (مطبوعات) سياسي ګوندونه،  د وولسي استاځو پارليمان، اود استاځوبې پرې انتخابات يا ټاکنې.  هر يو ملک د انتخاباتو لپاره وخت ټاکلې وي او

مطبوعات د عادي حالت نه زيات احتياط ته اړدي چې په دې کې بې پرې پاتې شي. په کومو ملکونو کې چې میډیا د حکومت په کنټرول کې وي، هلته د ټاکنو پر وخت دا د زور واکانوډنډورچي شي.

د ټاکنولپاره د ژورنالیزم اصول هم هغسې پر ځای وي، حقایق، بې پرې اوپه انډول د هر یو ګوند او کاندید په اړه خپروني. یو څو نورشرایط په دې دول دي.

۱. ژورنالیسټ باید د ملک د ټاکنو قانون ولوستې وي او د راپورونو جوړولو لپاره هر وختې چې یې اړتیا ولیدله نو ددې شرایطو ته مراجعه وکړي.

۲. د ټولو هغو کاندیدانو د نومونو فهرست ورسره وي چې د ټاکنو لپاره وړاندې شوي وي. دا د ټاکنو له دفتره تر لاسه کیدې شي.

۳. د ټاکنو د مهمو کاندیدانو د سیاسي ژوند په اړه یې څېړنې کړي وي او د هغوی له پروګرام هم خبر وي.

۴. په لنډ وخت کې د ډېرو مرکوکولو توان ولري او ډېروساعتونولپاره کارکولو ته چمتو وي.

۵. د کاندیدانو ترمنځ په بحث کې هر یو ته برابروخت ورکړي او له هغوی یو شان پوښتنې وکړي.

تاسو د ژورنالیزم په اصولوکې، حقایق، توازن او انصاف په اړه خبر یئ؟ څه فکرکوئ چې د نورستان د جرګې په راپورکې دې دریواصولو ته پام شوې دې؟ دا ټول راپورد والي په خبروولاړ دې نوځکه بې طرفه نه دې. که تاسو په دې موضوع خپل راپورلیکئ نویوه برخه به یې د نورستان د والي خبرې وي چې د حکومت استازې دې. دوېمه برخه کې به د مخالفینو نظر اخلئ. کیدېشي د حکومت مخالفین دومره په آسانه د نشرادارو سره خبروته حاضر نشي. خوکه څوک یې پیدا کړي نود راپورتوله به پرې برابره شي. ممکن داراپور بیا هم د ټولو لوستونکو لپاره خونده ورنه وي. د جنګ او د سولې اغیز د خلکو په ژوند کیږي او په دی کې د عاموخلکو نظر ته هم اړتیا شته دې. هغه درې نیم سوه کسان چې په غونډه کې یې ګډون کړې و، څه نظر لري؟ که دوی په غونډه کې وېنا کړې ده نو څه یې وویل؟

## راپورتاژ

دا هغه ځانګړې لیکنه وي چې یو کس د خپلو تجربو پراساس جوړکړې وي. راپورتاژ د ژورنالیزم برخه نه ده بلکه په نورو ځایونو کې هم لیکل کیږي. د بېلګې په توګه ادبیاتو او نورو علومو کې دا په جلا بڼه لیکلې شې. ځینې ژورنالیستان په راپورهو راپورتاژ کې توپیر نشې کولی. راپور تاژ په هغو بېلا بېلو موضوع ګانو لیکل کیږي چې انساني احساساتو او عاطفې ته په کې ځای ورکړل شوي وي او د لیکوال د فکریوه ځرک په کې ښکاري. خو ددې د لیکلو شرایط هم د ژورنالیزم د نورو برخو په شان په حقایقو، انصاف او توازن ولاړ دي. په ژورنالیزم کې ددې د لیکلوپاره، تاسو به ځان د یوې کیمرې ( کامرې) په شان جوړوئ. تاسو به هر څه په نظر کې نیسئ او کټ مټ به یې بیانوئ. د راډیولپاره په راپورتاژ کې تاسوهغه ثبت شوي غږونه کارولی شئ چې د موضوع سره تړاو لري.
د راپور تاژ په سر، منځ او یا په پای کې بېلا بېل غږونه هماغومره کارول پکار دي چې د موضوع په واضح کولو کې مرسته وکړي. تاسوکولی شئ چې د مرکو او یا لنډو خبرو پکارولو یوې ستونزې ته چې په الفاظو کې نشې راتلی وکاروئ، لکه د یوې کارخانې د مشېن غږ یا د ورزش کوونکوغږونه،په ورځپاڼې او وېبپاڼې کې یوعکس یا انځور هماغومره اغیز لري، په تلویزون کې بیا هم دا راپورتاژ تصویري وي او غږ برخه یې لږ وي.
د راپور تاژ یوه ځانګړتیا دا ده چې ژورنالیسټ څه نا څه ازادي لري چې د یوې موضوع سره اړوند نورې وړې موضوعګانې پخپلو کې وتړي او لکه د کیسې یې بیان کړي. د راپورتاژ دکښلو شرایط هماغه دي چې د راپور لیکلو لپاره به په نظر کې ساتئ. پلان، معلومات ، لومړی لیکنه، اصلاح او دویمه لیکنه.

## د یو عادي کس راپورتاژ

د یوېشتمې پیړۍ ژورنالیزم د ډیموکراسۍ یوه برخه ده. دعادي خلکو نظر، د دوی رایه او د ژوند بېلا بېل اړخونه د خپرندویه ادارو کامیابي ګڼل کیږي. که تاسوغواړئ چې ورځپاڼه، مجله او یا ویب پاڼه مو ډېر خلک ولولي نو دوی ته د وېډې موقع زیاته ورکړئ.

**فهیم (چې دده خپل نوم نه دی) په افغانستان کې اروپا ته د تلو ارمان لرلو. د دې ارمان د پوره کولو لپاره کورنۍ یې قاچاقبر ته پېسې ورکړې. لکه د نورو زرګونو ماشومانواو تنکیوځوانانو په څېر دی د یوې ډلې سره د ځمکې د لارې په غیر قانوني**

**توګه له یو ملک نه د بل هیواد ته وړل کیږي. لومړی جلال اباد، بیا پېښور او ورپسې کویټې ته او له هغه ځایه د ایران د پولې اوړي. فهیم راته خپله کیسه د یو راپورتاژ په بڼه ولیکله او ژبه هماغه ده چې دی پرې خبرې کوي . دلته یې یوه برخه هماغسې تاسو ته وړاندې کوو:**

**کله چې د ایران خاورې ته ورداخل شو، قاچاقبر د ایران د پولیسو سره لاس درلودو،نو ښه په قدر او عزت یې د ایران خاورې ته ورداخل کړو. هلته راپسې یو بل قاچاقبر راغې او زه یې د ځانه سره بوتلم. لږ چې وړاندې ولاړو نو هلته دوه موټر سیکلونه او شپږ کسان ولاړ ول. دا نو یوه دښته وه چې ټول د شګو ډک و او ډېر سخت خطرناکه باد هم روان و. څلور کسان په یو موټر سیکل سپاره شو. ځانونه مو په یو بل باندې کلک کړو. نو موټر سیکل داسې خوشې شو لکه چې د راکټ نه ګولۍ خوشې شي. زما بیګ وشکېده او ټول سامان مې ترې لاندې خطا شول. ما په قاچاقبر باندې غږ وکړل چې وروره ، ورو ځه چې زما بیګ وشکېده، قاچاقبر راته وویل چې که دې وخت کې ته پخپله هم وغورځېږې،نو نشم کولی چې موټر سیکل درته ودروم. قسمت دې خپل دی، ځان دی کلک کړه، بیګ پرېږده. د دریو ساعتونو نه وروسته یو ښار ته ورسېدو چې زما یې نوم نه و زده.  زما بیګ نه هر څه غورځېدلي و. د پېښور نه مې څو بنېن ( جمپر) اخیستي و، مور راته اوچه میوه راکړي وه چې په لاره کې به یې وخورې. ما ویل زه هر وختې چې د کشمش یوه دانه به خورم نو د مور مینه به یادیږي خواوس  بیګ تش و او زه ډېر خفه ووم.**

**هلته یوه کنده وه چې ټولو مونږه په کې ځانونه خطا کړل. ټول په کې ژوبل ژوبل شول. بیا قاچاقبر جګ شول او مونږ ته یې وویل،چې راووځئ. کله چې د کندې نه راووتو، یو لوی سړک و، چې په هغې باندې په منډو شوچې د سړک نه هغې غاړې ته ووځو. خو زه ډېر زیات ستړی شوی وم، د سړک په منځ کې پریوتم. خدای د هغه ګلالي ایراني ځوان سره ښه وکړي چې پخپل غېږ کې  یې ونیولم،او د سړک نه هغې غاړې ته بوتلم. هلته د یو کور په دروازه یوه ښځه ولاړه وه او ماته یې وویل چې زر راځه چې پولیس رانشې. کور ته چې ننوتو د کور په کونج کې یو ورکوټی ډېران و، چې مخکې یې یو ورکوټی دیوال جوړ و. مونږ ټول یې هلته کښېنولو چې څوک مو ونه**

**ګوري. اوبه او اوچه ډودۍ يې راته راوړل. نور يې راته وويل چې خبرې مه کوئ، تر ماښامه به هم دلته کښينئ. ماښام به تاسې د زاهدان په لوري روانيږئ. کله چې په ډېرانو کښيناستم، نور نو ما ته مې خپل فاميل په سترګو کې ودرېدو. مور به مې ډېره يادېده. نور په ژړا شوم او د سترګو مې غټې غټې اوښکې تويدې. چې په عمر زما له سترګو داسې اوښکې نه وې بهيدلې. هلکانو چې راته وکتل، هغوی هم زماد درد احساس وکړو او هغوی هم په ژړا شول. ماښام شو نو بل قاچاقبر راغی . يو کورولا ګاډی ورسره و. دوه کسان يې شا ته ډاله کې واچول او نور په سيټونو کښيناستو. ما خپل شليدلې بيګ اوس هم د سينې سره جوخت نيولی و، نه پوهيږم چې ولې؟**

## پيکيج

دا د لاتيني ژبې نه نورو ژبو ته کټه مټ شوی توری دی چې مانا يې ده د توکو يو ځای کول. هماغسې چې چا ته د واده ښادۍ تحفه په يو رنګين کاغذ کې تاو وربانديې ګلونه ټومبلي وړئ. د پيکيج يو ځای کول هغه هنر دی لکه چې څوک د پخلي نه وروسته خواړه پر دستر خوان ږدي. په عملي توګه په راپوراو پيکيج کې زيات توپير نشته. کله کله ژورناليستې د يومهم کس سره د مرکې نه وروسته په يوې او بلې موضوع خبره کړې وي چې نه ترې راپور او نه خبرجوړېدې شي خو ښه معلومات لري. تاسو د مرکې هغه برخه د نورو معلوماتو سره يو ځای کړئ نو پيکيج ورته ويلی شو.

بېلګه

**د کابل ولايت استاليف ولسوالۍ په کلالان کلي کې جوړښکلي ختين لوښي او نورتوکي اوس د کابل په بازار کې هم خرڅيږي. دا توکي چې خپل دوديز رنګونه لري، بهرنيان يې ډېر په شوق اخلي او د مرغانو په کوڅه کې يوې هټۍ په تېر کال کې دومره ګټه کړې ده چې سږ کال نورو هټيوالو هم ورته مخه کړې ده.**

پوښتنه دا ده چې د خبر د جزيياتو نه وروسته ايا ددې اړتيا شته چې په دې موضوع دې راپورجوړشي؟ نو ددې ځواب ځکه مثبت دی چې په اوسني نړۍ کې د خبرورکونکوادارو بنسټ،

معلومات، تفریح او تعلیم وي . په دې کې تفریح د انسان هغه اړتیا ده چې که دامو له پامه وغورځوله نو خپل اورېدونکي یا لوستونکي د لاسه ورکوئ. د استالیف په خبر یو پیکیج جوړیدې شې که نه؟
ددې پیکیج هدف به څه وي؟ معلومات؟ د څه په اړه؟
د تفریح ټکی په کې کوم دی؟ خټین لوښي که بهرنیان؟
آیا څوک ترې زدکړه کولی شې؟ اورېدونکو یا لوستونکو ته به یې څه ګټه وي؟

## زاویه او فوکس

ممکن یو څوک ووایي چې دا خبر او دا معلومات پخپله یوه تعلیمي پیغام لري. دا چې د هر ډول ښکلي، چیني ، فلزي لوښو سره سره چې ډېر ارزان هم دي، د خټو لوښو خپل ارزښت د لاسه نه دی ورکړی. ښه نو چې دا فیصله وشوه چې په دی موضوع یو راپور جوړول پکار دي نو د کومې زاویې نه به ورته ګورئ؟ د استالیف د خټینو لوښوممکن سل زاویې دي چې تاسو پرې راپور جوړولی شی.

**د خټینو لوښو تاریخ په نړۍ کې**
**د خټینو لوښو تاریخ په افغانستان کې**
**د خټینو لوښو جوړول، خټه یې له کومه راځي او په څو ورځو کې یو توکی جوړیږي**
**د خټینو لوښو جوړونکو ژوند، داڅومره سخت کار دی؟**
**د هیواد د نورو برخو خټین لوښي. دا په نورو کومو ځایونو کې جوړیږي**
**د خټینو لوښو کارونکي،څوک یې ولې اخلي؟**
**د استالیف خټین لوښي څه ځانګړتیا لري؟ رنګونه یا ډیزاین؟**
**د استالیف دا صنعت د جنګ پر وخت په څه حال و؟**
**د مرغانو په کوڅه کې دا توکي لومړی چا راوړل او په څومره بیه خرڅیږي؟**
**بهرنیان ولې دا لوښي اخلي او څه پرې کوي؟**

تاسو ممکن یو څو زاویې نورې هم ولرئ. اوس یوه زاویه راواخلئ او د راپور پلان ورته جوړ کړئ.

www.safiahaleem.com

۱. دا فیصله چې کوم مواد به د کیسې لپاره غوره کوئ، کوم عکسونه، کوم فلم، کوم غږ به ددې پیکیج برخه وي؟

۲ . د خپلې کیسې لپاره به تاسو د چا سره مرکه کوئ. ایا د ارشیف نه به مو څه پکار وي که نه؟ د گرافیک، رنگونو او د داسې نوره ټیکنالوژي به مو څومره پکار وي؟

۳. خپل پیکیج په قوي نقطه پیل کړئ. په ټي وي کې د خپل وروستي او ښه عکس نه پیل کړئ. په راډیو کې به د یوغږ یا د خبرې سره یې پیل کړئ.

۴. د یوداسې قوي غږ یا تصویرسره یې پیل کړئ چې اورېدونکو پام ځان ته واړوي.

۵. خپله کیسه په متن کې مه تکراروئ. په دې کې به مهم معلومات راوړل کیږي،پیکیج په منطقي ډول پلان کړئ چې د خلکو د پوهې سره برابر وي.

۶. یوه مهمه جمله یاد وساتئ چې د حقایقو په سر ولاړه وي. په دې ستاسو فکرراټول وي او د کیسې زاویه به درنه خطا نشي.

۷. ایا ستاسو ژبه دهرې ورځې د محاورې ژبه ده او که کتابي چې څوک پرې پوهه نشي. په راډیواو تلویزون اورېدونکي او کتونکي ستاسو جملې بیا نه اوري.

د پیکیج له جوړولو وروسته یې پخپله وگورئ یا واورئ او له ځانه دا پوښتنه وکړئ چې تاسو د کیسې ټول اړخونه څېړلي دي که څه درنه پاتې دي؟ په راتلونکي کې ددې کیسې پرمختگ په گوته کوي او که نه؟ هڅه وکړئ چې اټکل په کې نه وي او خپل قضاوت د څېړنو او شواهدو پر اساس وکړئ. له کلیشه یي جملو نه ډډه وکړئ "دا به په راتلونکي کې څرگند شي....دا کتل لا پاتې دي چې....په داسې حال کې ده چې..... د خپل پیکیج جوړولو پر وخت ترې خوند واخلئ چې اورېدونکي هم ترې هم هغه هومره خوند واخلي.

## گرځنده راپور( واک اباوټ)

د انگریزي ژبې دا اصطلاح د ورو گرځېدو مانا ورکوي او په ژورنالیزم کې زیات وخت د تلویزون د راپورونو لپاره ترې کار اخیستل کیږي. د بېلگې په توگه د یو سیاسي غونډې په پای کې ژورنالیسټ د مایکروفون سره د بېلا بېلو کسانو مخ ته ودریږي اولنډې مرکې ورسره کوي. یا څوک د سیلاب ځپلې سیمې ته ورشي اوودانیو ته رسیدلي زیان د خپلو خبرو په بدرگه په فلم کې خلکو ته وښایي.

دد اسې گرځنده راپور لپاره ژورنالیسټ لیکلي متن ته اړ نه وي نو ځکه پکارده چې له وړاندې د یوې پېښې په اړه یې معلومات کړی وي او د راپور د پیل کولو نه وړاندې څو کسان چې ورسره خبرې کول غواړي اماده کړي. که د راډیو راپور وي نود کیمرې چلوونکي خبر وسي چې ژورنالیسټ به په کومه لاره ځي. زیات وخت کیمره مین پخپله ژورنالیسټ ته وایي چې څومره لیرې تلی شې او کوم ځای به ورته د راپور لپاره ښه وي.

په راډیو کې ژورنالیسټ پخپله د ثبت وسایل ځان سره ګرځوي او که ژوندی راپور وي نو موبایل ټیلیفون کې خپلو سترګو لیدلی حال وایي. د راډیو لپاره د " واک اباوټ " راپور سخت وي ځکه اورېدونکي د پېښې ځای نهویني او ژورنالیسټ د ښو او مناسبو الفاظو پکارولو د هغه ځای انځور جوړوي.

**راپورد پېښو ، واقیعتونواود خبرونو پر اساس لیکل کیږي**

www.safiahaleem.com

# پێنجەم بڕگە

www.safiahaleem.com

# په دې برخه کښې

## مرکه یا انټرویو

مرکه څه وي؟

د مرکې ډولونه

خبري مرکه

تحلیلي مرکه

هنري یا فیچري مرکه

د مرکې پلان

فوکس یا زاویه

د مرکې پوښتنې

څو ډول پوښتنې

بندې پوښتنې

د تلویزون د مرکې پوښتنې

د پوښتنو لیکل

بحث او مباحثه

د بحث پلان

نالیدلې ستونزې

مطبوعاتي غونډه ( پریس کنفرنس)

د غونډې موخه

خبري غونډه

اصولي غونډه

عکسي غونډه

www.safiahaleem.com

د مطبوعاتي غونډې شرايط

د غونډې ځای

د غونډې پر وخت

د پيغام ڇسپلن

د نه کولو کارونه

www.safiahaleem.com

# مرکه یا انټروېو

معلومات هماغه وخت ترلاسه کیږي چې پوښتنه وشي. په ژورنالیزم کې پوښتنه کول او د دې ځواب ترلاسه کول مرکه یا انټرویو نومیږي. مرکې په دوو برخو ویشلي شو. هغه مرکه چې د یوچا د امتحان یا ازموینې لپاره وي چي د کار روزګاراو تعلیم لپاره کیږي.هغه مرکه چې په ژورنالیزم کې کیږي د ولس د خبرولو او معلوماتو لپاره وي. په پښتو ژبې کې په دودیزه توګه "مرکه " خبرو اترو ته ویل کیږي. پخوانیو متنونو کې د مرکې د توري سره د جرګې توري به هم کارېدو. لکه "د جرګو مرکو سړی "، یا "د جرګو مرکو وخت " دا توری په پښتوکې له هغه وخته کاریږي له کله راهیسې چې خلکو پخپل منځ کې د شخړو د هوارولو لپاره د مرکو دود پیل شو.

## مرکه څه وي؟

مرکه د معلوماتو د راټولولواو خپله یا د نورو خبره اړوندو کسانو ته د رسولو یوه وسیله ده. یو ژورنالیست هره ورځ بې شمېره مرکې کوي خو ضرور نه ده چې دا ټولې پخپل اصل حالت کې خپرې شي. په دودیزه توګه د مرکې پوښتنې او ځوابونه د لیکلو لپاره نه وي. یوه ثبت شوې مرکه په راډیو او تلویزون خپریږي او د مرکو د خپرېدو دود له راډیو او تلویزون پیل شو. ددې اغیز په اوربدونکو او کتونکو دومره و چې د خبرونو یا راپورونو نه زیات خلکو مرکو ته تلوسه ښودله.
په راډیو کې مرکې د غږ په حالت، په تلویزون کې دا غږ د متحرک تصویر سره او په ورځپاڼه کې په لیکلي ډول د عکسونو سره خپریږي. خو په ورځپاڼې کې د مرکې خپرول، د پوښتنو او ځوابونو په شکل دود نه لري. هلته دا ټولې خبرې د یو مضمون په ډول جوړیږي او بیاد وینا والو هغه خبرې چې وزن لري یا مهم وي، کټ مټ په مضمون کې اخلي.
په لیکلي بڼه د مرکو چاپول د شلمې پېړۍ په وروستیو کلونو کې د پښتو ورځپاڼو نه وېبپاڼو ته کډه وکړه او اوس ځینې خپرونې ټوله مرکه کټ مټ چاپوي. خو ډېروخلکوته چاپ شوې مرکه خونده وره نه بریښي.

## د مرکې ډولونه

سره له دې چې مرکه د پوښتنو او ځوابونو بل نوم دی خو د متن ، مضمون او د هدف له پلوه دا په بېلا بېلو برخو ویشل شوې ده.

## خبري مرکه

په افغانستان کې یو ځای ځانمرګي برید وشي نو ولس هیښ شي. هر ژورنالیست هڅه کوي چې د پېښې عیني شاهدان راوغږوي او ټول حال ترې واخلي او خلک خبر کړي. که داسې نه وي نو د امنیت ساتونکو، د پولیسو مشر او د روغتون د چارواکو سره مرکه کیږي. کله یوخبریا پېښه د هرچا لپاره دومره مهمه وي چې ټولې خپرونې یې په اړه معلومات غواړي اود یو بل نه په منډه وي چې اړوند کسان پیدا کړي او مرکه ورسره وکړي. دا خبري مرکې وي چې د تازه پېښو تفصیل په کې څرګندیږي. ځینې وخت داسې هم کیږي چې په یوې مرکې کې نوې خبره شوې وي او هغه نه خبر جوړ شي.

بېلګه

**دافغانستان د کانونو د وزیر وحیدالله شهراني یو وارې د اروپایي ملکونو له سفر راګرځیدلی دی. نوموړي په یوې خبري ناسته کې د خبریالانو ته معلومات ورکړل او وروسته زمونږ خبریال ورسره یوه ځانګړې مرکه کړې ده.**

**پوښتنه. شهراني صیب دا راته ووایئ چې ستاسو د سفر هدف څه و؟**

**شهراني. دوو سوو نړیوالو شرکتونو لیوالتیا ښودلې، چې په افغانستان کې د کانونو د استخراج په تېره بیا د افغان تاجک حوزې دنفتو او د حاجیګک د اوسپنې کانونو د استخراج په برخه کې پانګونه وکړي. نو زه د یوې اونۍ لپاره د غبرګولې په ۲۹ ۱۳۹۰ مه ، نړیوالو ته د افغانستان د کانونو په ځانګړي ډول د حاجیګک د اوسپنې کان د ورپېژندنې په موخه د انګلستان پلازمینې لندن ته سفر وکړو. په دې سفر کې د نړۍ د بېلابېلو هیوادونو ګڼ شمېر نامتو شرکتونو استازیوسره د افغانستان د کانونو په اړه د معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه مې لیدنې وکړې .**

پوښتنه.  ډېره زياته مننه . اوس به راته د حاجيگک د کان په اړه څه معلومات راکړئ؟

شهراني.  د حاجيګک د اوسپنې کان  په ۱۲۶۹ هجري لمريز کال کې د ايټاليا په مرسته کشف شوی،د کابل لوېديځ ته په ۱۳۰ کيلومټرۍ کې د باميانو په ولايت کې موقعيت لري . اټکل شوې ده ، چې په دې کان کې د ۶۲ سلنې په عيار سره ۲ ميلیارده ټنه اوسپنه شته ده او ارزښت يې  له  ۳۰۰ ملیارده  تر ۳۵۰ ميلیارده امريکايي ډالرو اټکل شوی دی . د حاجيګک کان  ۱۶ بېلابېل زونونه لري، چې هر زون يې ۳ کيلومټره پراخ دی او ۱۰۰ مټره ډبلوالی لري .

پوښتنه.  دا راته ووايئ چې تر اوسه مو څه فيصله کړې ده چې د دې کان د اوسپنې کشف به کوم هيواد شرکت کوي؟

شهراني.  د کانونو وزارت په پام کې لري ، چې د روان کال د تلې په مياشت کې د حاجيګک  د اوسپنې کان داوطلبۍ ته وړاندې کړي . دغه داوطلبي  به له ۶ تر ۹ مياشتو  وخت واخلي او داوطلبۍ څخه مخکې به لومړی شرکتونه په دقيق ډول مطالعه او وروسته به يې په داوطلبۍ کې د ګډون په موخه وړانديزنه واخيستل شي .

دغه راز په کندوز ولايت کې د افغان _ تاجک حوزې د نفتو کان  به د راتلونکي کال په لومړيو کې په نړيواله کچه داوطلبۍ ته وړاندې کړي . د افغان _ تاجک حوزې د نفتو کان، چې دا مهال  اکتشافات  هم په کې روان دي ، د هيواد په کچه د نفتو يو له پنځو سترو حوزو څخه ده .د افغان _ تاجک حوزې د نفتو پکارن کې ۱،۶ ميلیارده بشکې خام نفت اټکل شوي دي. په يادو پنځو حوزو کې د آمو سيند،کټواز ، هرات او د هلمند حوزې هم شاملې دي .

پوښتنه .  په حاجيگک کې د اوسپنې کان  په اړه معلومات راکړئ؟

ځواب.  دا کان په ۱۲۶۹ کې د ايټاليا په مرسته کشف شوی؟  حاجيگک د کابل لوېديځ ته په ۱۳۰ کيلومټرۍ کې د باميانو په ولايت کې دې.  دلته د دريو نيمو ميلياردو امريکايي ډالرو اوسپنې زيرمې شته.

پوښتنه.  دې کان نه به اوسپنه څوک راباسي؟

**ځواب. تر اوسه دوو سوو نړیوالو شرکتونو لیوالتیا ښودلې ده چې د اوسپنې راایستلولپاره پانګونه وکړي. خو تر اوسه څه فیصله نه ده شوې.**
**سره له دې چې دا مرکه ډېر عاجل خبر نه لري خو هغه معلومات په کې شته دې چې خبر یا لنډ راپور ترې جوړ شي.**

## تحلیلي مرکه

کله کله په یوې موضوع ډېر خلک خپل نظر ورکوي او یو ژورنالیست کولی شي چې له دوی معلومات واخلي او د پېښې هر اړخ ته په کتلو ددې شننه (تحلیل) وکړي چې تبصره هم ورته وایي. په ورځپاڼه کې ژورنالیست پخپله دا کار کولی شي خو په راډیواو تلویزون کې ددې لپاره مرکه کیږي. د پېښې هر اړخ د څېړلو لپاره د یو پوه کس نظر اخیستل کیږي او کله کله ځینې خپرونې پخواني سیاستوال ، د پوهنتون استادان،مشاوران اوپخپل مسلک کې باتجربه کسان د تحلیل لپاره رابولي.
هغه مرکې چې د مهمو عالمانو، مشرانو او روڼ اندوسره د یوې پېښې یا د حالاتو د تحلیل لپاره کیږي، دډېرو اوربدونکو او دکتونکو پام ځان ته اړوي. په داسې مرکې کې ژورنالیست د میلمه نه په یوې ټاکلي موضوع پوښتنې کوي او هغه یې پخپلې پوهې ورته ځوابونه ورکوي. د میډیا لویې اداري ددې لپاره له وړاندې پلان جوړوي. ددې په اړه اعلانونه خپروي او د خلکو تلوسه زیاتوي.
د تحلیلي مرکې لپاره ژورنالیست ته د اړوندې موضوع په تړاوو معلومات د تحلیل لپاره ضروري ګڼل کیږي. که تاسو له دې خبر یئ چې په افغانستان کې هرکال ځومره اپین کرل کیږي، په کوموځایونو کې خلک له دې هیروین جوړوي، په تېره کې نورو حکومتونو ددې د مخنیوي لپاره څه کړي و، بهرني ملکونه ولې غواړي چې ددې کر دې بند شي، نو په دې موضوع د مسولو کسانو سره یوه غښتلې مرکه کولی شئ.

## هنري یا فیچري مرکه

هغه مرکې چې د لیکوالانو، هنرمندانو او داسې نورو کسانو سره د دوی د ژوند، تجربو او خوښې ناخوښې په اړه وي، ولې کیږي؟
د دوی له ژونده خبربدل غواړو؟ د دوی په احساساتو پوهېدل غواړو؟

د دوی د ژوند له تجربو ګټه اخیستل غواړو او که غواړو یا نه غواړو چې د دوی په شان ژوند وکړو؟
یو وخت  هر څو میاشتې وروسته به یو ژورنالیست د نامتو سندرغاړې نغمې سره مرکه کوله.  د څو الفاظوپه توپیر هرکس به ترې هم یو ډول پوښتنې کولې، چې څومره مودې راهیسې سندرې وایي، لومړی سندره یې کله وویله یا دا چې څو اولادونه لري.  فکر وکړئ چې یو څوک له تاسو سره ستاسو د ژوند په اړه مرکه کول غواړي.  هغه کومې خبرې دي چې تاسو به نه غواړئ چې څوک درنه وپوښتي؟
داسې مرکې چې په کې د یو کس د شخصي ژوندد تجربو، د هغه د خوښې اوهنر په اړه په کې خبرې شوي وي، د نورو مرکو په شان تیاری او پلان ته اړتیا لري. که ژورنالیست دا فکر وکړئ چې هرڅه یې غوښتل، له هنر مند به وپوښتي نو دا یې لویه اشتباه ده. لومړی خو هنر مندان ډېرمصروفه وي او د داسې مرکو لپاره وخت نه ورکوي. دویم د دوی سره هم د مرکې هدف ټاکل پکار وي چې دا به کوم وخت خپریږي او اړتیا یې څه ده.
په هنري مرکې کې انډول ( توازن) ساتل ګران وي.  یو هنر مند په ټولې مرکې کې درته د خپلو سندرو د نوې سي- ډي یادونه کوي او ممکن ځینو خلکو ته ستاسو مرکه د یو تجارتي اعلان ښکاره شي.  له دې به ځان څنګه ژغورئ؟

## د مرکې پلان

هره مرکه هماغسې پلان غواړي، لکه چې راپورونو کې مو یاده کړه.  کله چې دا وټاکل شي چې مرکه له چا سره کوئ نو د موضوع بېلا بېلو اړخونو نه ځان خبرول ضرور دي.  که په موضوع کې نوی پر مختګ شوی وي نو دا نوره هم مهمه وي چې ژورنالیست له دې ځان خبر کړي وي.  د ډېرو ژرنالیستانو لپاره دا د خوشالۍ او د ویاړ خبره وي چې د مرکې پر وخت دوی خپل میلمه ته وروستي معلومات ورکړي چې هغه ترې نه وي خبر.
د هرې مرکې نه وړاندې پکارده چې ژورنالیست د موضوع په اړه مطالعه وکړي.  که وخت ورسره نه وي نو له خپلو همکارانو معلومات واخلي.  د مرکې هدف درته روښانه وي چې ولې دا مرکه کوئ او اصلي موضوع درنه هېره نشي. که تازه خبر د یوې مهمې فیصلې په اړه وي او تاسو په دې یوه مرکه کول غواړئ نو ددې فیصلې بېلا بېل اړخونه راوښېږي او اورېدونکو یا لوستونکو ته موقع ورکړي چې هغوی قضاوت وکړي.  ځینې خپرونې د وخت د ډکولو یاخپل اعتبارد جوړولو لپاره هر وخت په دې هڅه وي

www.safiahaleem.com

چې مهمو کسانو مرکې خپرې کړي.خو کله کله د داسې مرکواړتیا نه وي، ځکه موضوع یې مهمه نه وي.

## فوکس یا زاویه

**۱. د افغانستان د ملي دفاع وزارت وايي چې په راتلونکو څوکلونو کې به افغان ملي پوځ ددې جوګه شي چې د خپل هیواد امنیتي چارې پرغاړه واخلي.**
**۲. د لرغونو توکو د پلورلو د مخنیوي لپاره نوی قانون جوړ شو.**
**۳. افغانستان له نورو ملکونو خپل لرغوني توکي راغواړي.**
**۴. د فرهاد دریا د نویو سندرو،سي ډي بازار ته راوتلې ده.**

په دې ټولو خبرونو مرکې کېدای شي او د هرې مرکې موضوع او زاویه هماغسې توپېرلرلی شي. دا په ژورنالیست او یا د خپرونو په چلونکو پورې اړه لري چې له مرکې څه تر لاسه کول غواړي.
د بېلګې په توګه، دویم خبر چې دلرغونو توکو په اړه دې د درېیم خبرته ورته دی. ژورنالیست ممکن یو چا سره یوازې په دې خبرې وکړي چې دا نوی قانون څه دی او څنګه به عملي کیږي. بل کس ممکن چارواکي راوغږوي چې ددې اړتیا څه ده . درېیم کس ښایي په دې مرکه وکړي چې افغانستان په شان په نورو هیوادونو کې داسې قانون څه ګټه لرلې ده. اوممکن یو څوک په دې ټولو موضوعګانو د یوه کس سره تفصیلي مرکه وکړي. خو هر هغه څوک چې مرکه کوي، لومړی به په دی موضوع ځان خبروي بیا به دمیلمه نه پوښتنې کوي.
مرکه له چا سره؟
د خپرونو چلونکي هره ورځ د خبرونو او له پېښو وروسته دا پوښتنه ارو مرو کوي چې په دی اړه چا سره مرکه وکړو. تاسو د یوې ورځې درې خبرونه لرئ. کوم یو د مرکې وړدي او دا مرکه به له چا سره کیږي؟
کله داسې شوي دي چې تاسو له چا سره مرکه کوئ او ذهن مو له خبروتش وي؟ ځینې شخصیتونه داسې وي چې ژورنالیست ترې اغیزمن شي. له دې حالت د وتلویوه لاره دا ده چې د مرکې د ثبت د

وسایلو ، مایکروفون یا کیمرې ته پام وکړئ چې فکر مو پرځای شي. خو تر ټولو غوره هغه کتابګوټی وي چې هر تکړه ژورنالیست یې له ځانه سره ساتي او د مرکې پر وخت پرې یو نظر زغلولی شي.

هغه مرکې چې د پېښو پرځای او سمدلاسه کیږي، اغیز یې ډېر وي ځکه د مرکو ژبه غیر رسمي اونوي معلومات لري. خو ددې سره سره دهرځای خپل درنښت او حریم وي. روغتون، هدیره او د زدکړو مرکزونه د لوبو د میدان، بازار، او ننداړتون نه توپیر لري. همدغسې په بېلا بېلو پېښو کې د خلکو احساسات هم بېل وي. یو ټیپي چې د خپلو پرهرونو د لاسه چیغې وهي د هغه خولې ته مایکرفون نیول مناسب کار نه دی. د داسې کس نه پوښتنې کول چې خپلوان یې په زلزله کې ورک وي د ژورنالیست د برداشت او د پوهې یوه ازموینه وي.

په ۱۹۹۷ م کې د افغانستان په اړه په اکسفورډ کې یوه غونډه جوړه شوې وه. وینا وال زیات افغانان و او په ګډون کوونکو کې د برتانیا خلک هم و. هلته یوافغان فلم هم جوړونکی هم و. یوسپین ږیری د خپلوخبرو په پیل کې له جیبه د دارو ګولۍ وویسته او په خوړلو یې وویل چې دې د شکرې ناروغي لري. ده ځوخبرې کړې وې چې ستړی شو، بیا په چوکۍ کښیناستو او شېبه وروسته بې هوښه شو. غونډه وځنډول شوه او یو چا امبولنس ته ټیلیفون وکړو چې سمدلاسه راورسېدو. ترهغې دوو کسانو سپین ږیری پرزمکه څملولی و. عکاس په دې وخت کې خپله کیمره د سپین ږیري مخ ته نږدې کړه خو هلته ولاړی یوې مېرمنې له لاسه ونیولو او یوې خوا ته یې کړو. بیا تر ډېره وخته یې هغه عکاس نه دا پوښتنه کوله چې د سپین ږیري دا حالت د فلم په پرده کتل به دڅومره خلکو لپاره مهم وي؟

## د مرکې پوښتنې

مونږ هره ورځ څومره پوښتنې له نورو کوو، یا یې اورو او یا یې ځوابوو. زیاتې پوښتنې سمدلاسه د وخت او داړتیا سره سم شوې وي او ژبې ته مو دومره پام نه وي کړي. خودلته مونږ د هغو پوښتنو په اړه خبرې کوو چې پکار ده یو ښه ژورنالیست یې د کولو سلیقه ولري. داسې پوښتنې چې د ډېرو خلکو په ژوند اغیز کوي.

په ژورنالیست کې ترټولو مهم استعداد د پوښتنې کول دي. څوک چې په سم وخت، سم ځای اوسم کس نه سمه پوښتنه وکړی شي یو بریالی ژورنالیست ګڼل کیږي. تاسوداسې مرکې اوریدلي یا کتلي دي چې د میلمه د ځوابونو پر ځای مو د ژورنالیست پوښتنو نه خوند اخیستی وي؟ خونده ورې

پوښتنې یو درې کلن ماشوم هم کولی شي او کله کله د ماشومانو داسې پوښتنو ته یو لوی کس بې ځوابه پاته کیږي،د ژورنالیست او د ماشوم په پوښتنو کې توپیر پکار دي.
میلادي کال ۲۰۱۱ د اپریل په دویمه نېټه د خیبر پښتونخوا په ایبټ اباد کې د اسامه بن لادېن د وژل کېدو خبر یوې خوا ته د ډول ډول غبرګون سوب شو نو له بلې خوا ډېرې پوښتنې یې پیدا کړې. د خبر ورکوونکو ټولو وړو او لویو ادارو د دغو پوښتنود ځواب لپاره خلک راغږول. د ژورنالیست لپاره ډېرې پوښتنې د خلکو له خولې راووځي او ښه ژورنالیست تل د عامو خلکو خبرو ته غوږ نیسي او یاد یې ساتي. دا هم ضرور نه ده چې دی به ارو مرو هماغسې پوښتنه کوي څنګه چې له خلکو یې اوریدلي وي. د پوښتنو د ژبې په اړه به وروسته وضاحت وکړو.

## څو ډول پوښتنې

خبر: د صوبه خیبر پښتونخوا سوات،دیراو د چترال ته تلونکې زمکنۍ لارې د سیلابو اوبو وړي دي او د نور باران له کبله دې سیمو ته د هوا د لارې د مرستو رسولو پکار کې خنډ پیدا شوی دی. دلته دوه میلیونه خلک د څښلو د اوبو او د خواړو د کمي سره مخ دي.
د یو ژورنالیست په حیث داخبر ستاسو په ذهن کې کومې پوښتنې رازیږوي؟

- کومې لویې لارې اوبو وړي دي؟
- د سیلابو اوبو څومره ځاني تاوان اړولی دی؟
- هغه کوم خنډونه دي چې هوایي مرستې خلکو ته نشي رسېدی؟

د سیلاب او د داسې نورو افتونو خبرونه تر ډېرې مودې خپریږي، هره ورځ د نویو پېښو او ستونزو سره سره د پوښتنو شمېره او ددې بڼه هم بدلیږي. ممکن ستاسو په ذهن کې د سیلاب د خبرونو په اورېدو بې شمېره پوښتنې پیدا شي خو مهمې پوښتنې چې د ډېرو خلکو ژوند سره تړاو لري، د لومړیتوب وړدي. کله کله د یوې ستونزې په اړه یوه پوښتنه بس وي او کله د چارواکو له خولې د خبرې د رااېستلو لپاره څوبېلا بېلې پوښتنې کیږي.

## بندې پوښتنې

دا هغه پوښتنې وي چې ځواب یې په "هو" یا "نا" کې ورکول کیږي.

**د چارواکي نه پوښتنه: ایا اسامه بن لادن ، امریکایانو ووژلو؟**
**ځواب. هو**
**د سندرغاړي نه پوښتنه. ستاسو اولادونه هم د سندرو ویلو سره شوق لري؟**
**ځواب. نه، دوی دا شوق نه لري**
**څه فکر کوئ ، په دې پوښتنوکې څه ستونزه ده؟**

دا پوښتنې بندې دي ځکه مرکه کوونکي خپل میلمه ته د ځواب لپاره ځای نه دی پریښې. پوښتنه پرانستې او د معلوماتو لپاره وي چې میلمه یې د ځواب توان او قدرت ولري.

**د چارواکي نه پوښتنه: د جون په میاشت کې کېدونکې غونډه څه هدف لري؟**
**دسندرغاړي نه پوښتنه: ډېر سندر غاړي د دې مسلک یا شوق نه خپل اولاد ولې لرې ساتل غواړي؟**

که څه هم پوهه ژورنالیست ځان سره ډېر معلومات لري خو د مرکې پر وخت به هغه په دې فکر کې وي چې د مقابل نه خبرې راوباسي ځکه پوښتنه د معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره وي.

**پوښتنه: جنرال صیب، مونږ داسې اورېدلي دي چې په پاکستان کې د سیلابونو له امله د القاعده جنګیالي د افغانستان ختیځو ولایتونوته را اوړي؟**
**ځواب. هو دا خبر سم دی. ( یا دا خبر سم نه دی)**
**پوښتنه: جنرال صیب، آیا تاسو په دې اړه معلومات لرئ چې په پاکستان کې د سیلابونو له امله د القاعده جنګیالي د افغانستان ختیځو ولایتونوته را اوړي؟**
**ځواب. نه زه داسې معلومات نه لرم.**

ولې دا پوښتنې هم ستونزې لري؟

www.safiahaleem.com

ژورنالیست دې جنرال ته د فکر موقع او ذهن ته ټکان نه ورکوي. ښه پوښتنه هماغه وي چې د ځواب لپاره بل کس مجبور کړي.

**پوښتنه: جنرال صيب، په پاکستان کې د سيلابونو له امله د القاعده جنګيالي د افغانستان ختيځو ولايتونوته را اوړي؟ تاسو څه فکر کوئ؟**
**ځواب: دا دروغ دي.**

ښه نوجنرال د دې پوښتنې ځواب ولی ورنکړل شو؟
دا ډول پوښتنی مونږ دځینو مرکچیانو له خولې اورو. یوه بیانیه ورکوي او ورپسې، "تاسو څه فکر کوئ؟ " وایي. یو ځل مې هم داسې یوه مرکه د بېلګې لپاره زده کوونکو ژورنالیستانو ته وغږوله چې هره پوښتنه هم په دې ډول شوې وه. د دریمې پوښتنې نه وروسته ځینو زده کوونکو به ورسره خپل غږ ګډ کړو چې " تاسو څه فکر کوئ "؟
راځئ چې اوس د جنرال نه ښه ځواب تر لاسه کړو.

**پوښتنه: جنرال صيب، په پاکستان کې د سيلابونو له امله يوه انديښنه دا ده چې د القاعده جنګيالي به افغانستان ته را اوړي نو ستاسو ځواک په دې اړه څه تابيا کړې ده؟**
**ځواب: لومړی خو زه دا انديښنې نه ردوم ځکه مونږ يوه داسې پوله لرو چې په هغې تل خلک اوړېدای شي خو زمونږ سرحدي عسکر او د ناټو ځواکونه او داسې نور...**
دا پوښتنه جنرال ته یو ټکان ورکوي، دده تابیا، دده مسولیت، او ورسره دده علم ننګول شوي دي. دی موځواب ورکولو ته اړایستلو. په دې پوښتنې کې ژورنالیست په ځان باوري ښکاري . د یو ښه مرکچي ځانګړنه دا ده چې هغه پخپله خبروي چې له مرکې څه تر لاسه کول غواړي.
ځینې ژورنالیستان د مرکې په پیل کې میلمه ته وایي " خپل ځان راوپېژنئ " که میلمه خوله ور وي نو هغه ژورنالیست ته ویلی شي چې "ته له ما سره مرکه کوې خو خبر نه یې چې زه څوک یم. " داسې پوښتنه د ژورنالیست سستي او یا نا پوهي څرګندوي. د مرکې د پلان پروخت د خپل میلمه د پوره نوم

نه به ځان خبروئ. تکړه ژرنالیستان دمهموکسانو تېرې مرکې هم په یاد کې ساتي ځکه کله کله یو څوک که خلک تېر باسي نو ژورنالیست یې ننګوي .

د ځان د راپېژندلو جمله په ځینو شرایطو کې کارولی شئ. کله کله یوې لویې غونډې یا کنفرنس کې د ډېرو میلمنو سره د خبرو پر وخت نومونه ګډ وډ شي یا له یاده ووځي. نو په دې حال کې غوره خبره دا ده چې له خبرو وروسته د میلمه نه پوښتنه وکړئ چې تاسو په کوم نوم معرفي کړو. د ځینو نامتو خلکو تخلص په خبرونو کې دومره ځلې راغلي وي چې کله کله دهغه خپل نوم له ژورنالیست هېر شي. یو وخت ما د یو سیاسي مشر سره ژوندۍ مرکه کوله. د هغه تخلص راته یاد و خو په سټوډیو کې رانه دده پوره نوم هېر شو. هلته یو مشرهمکار پکارغذ دده نوم ولیکلو اومخې ته یې راته کېښودو. په راډیو کې د مخاطب نوم اخیستل په ځینو اوږدو مرکو کې د هغو اورېدونکو لپاره ښه وي چې په نیمایي کې یې مرکه اورېدل پیل کړې وي. د تلویزون معتبرې شبکې، د مرکې پر وخت په پرده هر څو شېبو کې د میلمه نوم په لیکلې بڼه ښایي.

د هنري ستورو او لوبغاړو له ژونده ، د هغوی له مسلکي بریاوو او ناخوالو که ژورنالیست له وړاندې خبر شي نوتکراري پوښتنې به نه کوي. خو دلته یوه خبره یاد ساتل پکاردي چې کله کله ژورنالیست له وړاندې خبر وي چې دده د پوښتنې ځواب به څه وي. مونږ بیا هم پوښتنه کوو، د دې لپاره چې نور خلک دده له ځوابه خبرشي. دا هغه ثبوت وي چې په نورو راپورونو او پروګرامونوکې ترې کار اخیستل کیږي. د بېلګې په توګه تاسو د یوې ثبت شوې مرکې مهمه برخه د هغه مقابل ته اورولې شئ چې خپل غبرګون څرګند کړي.

## د تلویزون د مرکې پوښتنې

د راډیو د مرکې محدودیت په دې کې وي چې اورېدونکې د هغه کس څېره نه ویني چې ورسره مرکه کیږي. د ورځپاڼې مرکه زیات وخت تحلیلي وي چې لوستونکي یې پخپل فرصت کې لولي. د تلویزون ژوندۍ مرکه قوي او اغیز من ګڼل کیږي. پکاربل کې مې د تلویزون په پرده د یو تجارتي شبکې له خوا د یو وزیرمرکه لیدله چې د هیواد د بی وزله خلکو په اړه غږېدو. هغه وخت د تلویزون په پرده دده ښکلې وریښمین نکټایي او په لاس قیمتي ګړۍ هم ښکاره کېدل او د کیمرې چلوونکي دا دواړه له نږدې وښودل. یوه بله مرکه کې یو تن د خرابو سړکونوګیله کوله او ورسره د تلویزون په پرده

دوزیرښکلې موټر ورښکاره کېدو. په دې مرکو کې دژورنالیست پوښتنوته مې پام نه و، ځکه عکسونو راته هر څه ویل، چې زما په نظر ډېر اغیزمن و او کتونکې هڅوو چې ټوله مرکه وګوري.

## د پوښتنو لیکل

د نړۍ د لویو مطبوعاتو یوه تګلاره دا وي چې د مرکې نه وړاندې لیکلې پوښتنې چرې هم میلمه ته نه ورکوي. دا یوازې په یو څو شرایطو کې امکان لري.

١. هغه کس چې ورسره مرکه کیږي عمر یې خوړلی وي، په غوږونو دروند وي او بیخي خبره اورېدی نشي.

٢. یو څوک ګونګی وي او په لیکلې بڼه د مرکې ځوابونه درکړي.

٣. د یوې مجلې یا ورځپاڼې لپاره د بېلا بېلو خلکو نظر اخلئ او څو پوښتنې ورته استوئ.

هغه خلک چې روغ جوړ وي او د مرکې نه وړاندې د لیکل شوي پوښتنو خواست وکړي، مرکه کول نه غواړي، یا پخپلو شرایطو مرکه غواړي. که پوښتنې یې خوښې شوې نو ځوابونه به درکړي او که خوښې یې نشوې نوله مرکې به ډډه وکړي.

په ۱۹۹۷ م کې د یو پروګرام د جوړولو لپاره زه په ایران کې وم. دا د انتخاباتو وخت و او د نورو ژورنالیستانو سره زه به هم هره ورځ بې شمېرو مطبوعاتي غونډو ته ورتلم. څو وارې مې هڅه وکړه چې ددوی د مذهبي مشرانو سره مرکې وکړم خو د هر چا غوښتنه دا وه چې لیکلې پوښتنې دې دوی ته له وړاندې ورکړل شي. دا د بي بي سي د اصولو خلاف کار و. ما یوازې د مرکې موضوع ورته څرګندولې شوه. د بېلګې په توګه ما د مرکې د خواست پر وخت د ښځو د سیاسي حقوقو په اړه د معلوماتو غوښتنه کوله. د یوې اوونۍ له هڅو وروسته د قم (قوم) په ښارکې یو ملا مرکې ته حاضرشو زه قم ته ولاړم او د یو جومات په دروازه کېناستم. د ملا یو معاون راښکاره شو او لیکلې پوښتنې یې رانه وغوښتې. ما سره مل ترجمان هم هلته په دروازه کې پکارغذ څو پوښتنې ولیکلې او دننه دفتر ته یې ور واستولې. مونږ درې کسان نیمه ورځ د جومات په دروازه کې ناست و او د ګرمۍ د لاسه مو حال بد و.اخر نهیلي شو نو د بېرته تګ لپاره ودرېدو .هماغه وخت یو بل مشر ملا چې جومات ته روان و مونږ یې ولېدو او پوښتنه یې وکړه. زمونږ په حالت یې زړه وسوځېده او خپل دفتر ته یې بوتلو، یخې اوبه او زما د

ځینو پوښتنو ځوابونه یې راکړل. د جومات نه په وتلو هغه کاغذ چې پوښتنې پرې لیکلې وې چا بېرته راوړو.
که تاسو داسې حالت سره مخ شئ او وخت ولرئ نو د هغه کس د قانع کولو لپاره هر څومره هڅه چې کولی شئ، و یې کړئ، زیات وخت ددې امکان وي چې میلمه مرکې ته غاړه کېږدي.

## بحث او مباحثه

د یوېشتمې پېړۍ راډیو اود تلویزون چینلونه د څلورویشت ساعته خپرونو لپاره یو تربله وړاندې ځغلي. ځینې شبکې دورځې یا د اوونۍ مهمه پېښنه غوره کړي او تهوله ورځ پرې بحث کوي.مهمو ادارو د وخت پر حساب نړۍ په برخو وېشلې ده او هرګوټ ته د خپل غږ په رسولو بوخت وي. د داسې ادارو تکړه او مخو ور ژورنالیستان کله کله پخپل نوم د بحث کوربه، څو میلمانه یې کښېنولي او د پېښنو تحلیل کوي. په افغانستان کې داسې بحث د ګردې میز په نوم هم یادیږي چې میز نه چاپېره میلمانه په یوې موضوع خپل نظر ورکوي. بحث د راډیو او د تلویزون هغه برخه ده چې په ورځپاڼو کې ځای نه لري. خوهلته د دې متبادل، اداریه، انشایه یا کالمونه (ستون) وي.په لویو ورځپاڼو کې د داسې انشایو لپاره پوره یو یا دوه مخونه ځانګړي شوې وي.

یو خبر

**د کندهار ولایت د امنیي قومندانۍ چارواکي وایې چې په کندهار ښار کې یې د بېلا بېلو پېښنوپرمهال څلورتنه غله نیولي دي. ددوی په وینا چې په دې غلو کې یو تن له جلال اباد ښار څخه یو موټر تښتولی و او نن یې دغه موټر خپل خاوند ته تسلیم کړ ولې نیول شوی کس تر پوښتنو ګرویږنو لاندي دی.**
**چارواکي څرګندوي چې په ښار کې یې درې تنه نور غله هم د بېلو بېلو پېښنو پر مهال نیولي دي او وروسته به یې اړونده ارګانونو ته ور وپېژني.**
**په کندهارښار کې چارواکي وایې چې د غلواو داسې نورو پېښنو په وړاندې یې پولیس په دندو ګمارلي دي او دي کار تر ډېره بریده ښې پایلي هم ورکړي دي.**

یوه پېښنه

www.safiallaleem.com

ستاسو په ګاونډ کې بيګاه د ميلمستيا يا د واده محفل ټوله شپه تاسو خوب ته نه يئ پرېښي. د کور واړه او زاړه ټول نا ارامه و. سهار په بازار کې هغه خلک چې ستاسو په شان يې ټوله شپه نا ارامه تېره کړې وه ددې شکايت کوي. خو ستاسودخبر لپاره دا يوه وړه پېښه ده. د واده په محفل کې خلکو ډزې وکړې چې قانون له مخې يو جرم دی او پوليسو يو څو تنه ونيول خو وروسته يې پرېښودل،دا هم خبرنه جوړوي.

په دی دواړو موضوعګانو کې تاسو په کوم يو د دريو يا څلورو ميلمنوسره ښه بحث کولی شئ؟

## د بحث پلان

هماغسی چې د رپورټ يا مرکې لپاره پلان جوړوئ، د بحث لپاره د موضوع له غوره کولو وروسته به، تاسو دې ټکو ته پام کوئ.

د بحث نتيجه يا پايلې به څه وي؟ تاسو له دې بحث څه تر لاسه کول غواړئ؟ ايا دا موضوع به خلک اوربدل يا کتل غواړي؟

د بحث ګډون کوونکي يا ميلمانه به موخوک و. ايا دوی به وزګار وي چې له تاسو سره خبرې وکړي؟

په راډيو يا تلويزون بحث ژوندی يا نيغ په نيغه خپرېږي او که نه؟

د ورځپاڼې يا ويبپاڼې د چاپ لپاره تاسود ثبت کوم وسايل لرئ؟

د ميلمنو د راوستلو لپاره وسايل لرئ؟

که د يو ميلمه د نه راتلو امکان وي نو پر ځای يې بل څوک راتلي شي او هغه ته مو خبر ورکړی دی ؟

آيا ميلمانه په دې موضرع خبرې کولی شي؟ تر ټولو خوله ور ميلمه به څنګه له زياتو خبرو منع کوئ؟

په موضوع کې کومه خبره نادريزه ده چې خلک به مخالف نظر ولري؟ د بېلګې په توګه پورته موضوعګانو کې تر ټولو پاروونکې موضوع د خوشالی په محفلونو کې شوراو د ډزو کول دي. په دويمه موضوع کې د غلو او د پوليسو د فعاليت په اړه نادرې راپورته کېدای شي.

## ناليدلې ستونزې

هماغسی چې د مرکې لپاره به د موضوع هر اړخ ته پام کوئ، د بحث نه وړاندې نويو خبرونو او په دې کې پرمختګ ته به مو پام وي. په ژوندي بحث کې ددې خبرې امکان ډېر وي چې په ميلمنو کې يو

څوک د توهین یا د سپکاوي توری وکاروي. په دی حالاتو کې باید کوربه له وړاندې ورته پام وکړي چې بحث کوم لوري ته روان دی. کله کله داسی کیږي چې میلمانه د یوبل سره مخامخ په ناندریو اخته شي. که څه هم داسې ناندری په بحث کې تلوسه راولي خو ددې حد تاکل د کوربه په لاس کې وي. د بحث وړاندې کوونکی ددې کنټرول به پخپل لاس کې لري اومیلمانه به دې ته نه پرېږدي چې د موضوع نه بهر ووځي.

په ۲۰۰۴ میلادي کال کې د افغانستان د لومړي انتخاباتو نه وړاندې مو د بي بي سي نړیوال ټرسټ له خوا د افغان ژورنالیستانو د روزنې په لړ کې یوه برخه ، په لویو ښارونو کې ولسي بحثونه جوړول و. د داسې بحث پلان به مونږ میاشت وړاندې جوړووو. ټولو ګډون کوونکو ته به بلنکلیونه استول چې په کې د بحث موضوع او د وخت او ځای په اړه پوره معلومات لیکلي و. خو دا ضرور نه ده چې ستاسو میلمانه دې دا ټولې پاڼې پر وخت ولولي او د بحث لپاره ځان چمتو کړي.

ددې بحثونوپیل مونږ له کابل وکړه او له اتیاوو ډېر میلمانه مو ورته راوبلل. د یو ساعت په دې بحث کې مو څلور میلمانه د سټیج په سر او نورمخامخ په کرسیو ځوکیو کښینولي و. دوی ته به د بحث پر وخت یومایکرفون ورکول کېدو چې د موضوع په اړه خپله پوښتنه له میلمنو وکړي. ګرځنده سټوډیو مو د تالار په بل سرکې د دوو همکارانوپه لاس کې و. د حاضرینو شمېره دومره ډېره نه وه او د بحث کوربه، نهیلی ښکارېدو. هغه ته مې ډاډ ورکړو چې ځو کسانو راته ټیلیفون کړی دی چې ناوخته به راځي نو پر ټاکلي وخت بحث پیل شو. موضوع د انتخاباتو د پروسې او دخلکو د پوهاوي په اړه و. د نیمایي بحث نه وروسته مو د چایو لپاره وقفه وکړه او کله چې د دویمې ناستې لپاره خلک راټولول نو یو سپین ږیری میلمه راښکاره شو چې ناوخته رارسیدلی و. ما ورته د هر کلي نه وروسته په لومړي صف کې د کیناستو وویل نو دی هم هلته راسره ودرېدو. ویل یې چې زه خو به په سټیج کښینم. ما ترې معذرت وغوښتو چې نیم بحث ثبت شوی دی اوپه سټیج د نوي میلمه لپاره ځای نه لرو، که څه ویل غواړې نو پخپل وار به مایکروفون درته درکړل شي. د سپین ږیري میلمه دا خبره خوښه نشوه او راته یې وویل، زه په ټول ژوند کې په ښکته چوکۍ نه یم ناست او له تالاره ووتلو. ورپسې مې منډه کړه چې بهر ورته قناعت ورکړم. خو دی په قهر و اوهمدغسې ببرته ولاړو. وروسته مې هغه میلمه ته ټیلیفون وکړو چې ولې داسی په قهر و نو راته یې وویل، ستاسود بحث کوربه زما خوښ نشو نو ځکه هلته کیناستل راته عبث و.

څه فکرکوئ هغه کوم نالیدلي حالتونه وي چې یو ژورنالیست د بحث پر وخت ورسره مخامخ کېدای شي؟

۱. یو میلمه په لاره کې بند پاتې دی او د خپرونې وخت هم نږدې دی.

۲. میلمه ناوخته راورسېدو او د بحث زیاته برخه شوې ده.

۳. د بحث په نیمایي کې یوه نوې پېښه وشوه او موضوع بدله شوه.

۴. یو میلمه په بحث کې ټولې خبرې کوي او نورو ته د خبرو موقع نه ورکوي.

۵. په نیمایي بحث کې د کیمرې یا د ټیپ بیټري مړه شي.

## مطبوعاتي غونډه ( پریس کنفرنس)

د تلویزون په خبرونوکې به مولیدلي وي چې یومهم کس یا کسان د بې شمېرو ژورنالیستانو مخې ته دوی پوښتنې ځوابوي. دا مطبوعاتي غونډه وي چې د خبري یا د پریس کنفرانس په نوم یادیږي او د خپرونولپاره د خبر یوه سرچینه وي.

## د غونډې موخه

مطبوعاتي غونډې ډېر وخت د حکومت،د وزارتونو یا نورو څانگو، نړیوالو مرستندویه ټولنو،د امنیت د ساتوونکو لکه پولیس، د انساني حقوقود ساتونکو، مدني ټولنو اود تجارتي شرکتونوله خوا په ډېرو ځانگړو موقعو او د خاص هدف لپاره بلل کیږي.ددې پلان د وړاندې نه جوړ وي خوکله کله په بېړني حالاتو کې هم یوه خبري غونډه رابلل کیږي.

هغه ځانگړې مواقع چې د خبري غونډو د جوړېدو سوب کیږي په لاندې ډول دي:

۱. داسې پېښه چې په هغې کې یومهم ولسي شخصیت گډون کړی وي اوددې لپاره چې ټول دهغه شخصیت خبرې په گډه واوري ، مطبوعاتو ته یو ځای بلنه ورکړې کیږي.

۲. کله چې یوه نامتو اداره یا ټولنه خپل یو کمپاین پیل کوونکی وي نو د بېلا بېلو خپرونو سره د مرکو پر ځای، په یو مخه ژورنالیستان راوغواړي.

۳. کله چې دیو نه زیاتې ډلې په گډه نوی کار پیل کول غواړي. په پرتانیا کې د زاړه پال او لبرل گوندونو دایتلافي حکومت مشران کله کله داسې غونډې جوړوي.

۴. کله چې یوه ډله یا حکومت مخالف کسان د یوې پالیسي یا قانون په اړه خپل غبرگون ښودل غواړي نو مطبوعاتوته بلنه ورکوي چې د دوی خبرې واوري.

یوبریالی پریس کنفرانس د هرې ادارې لپاره اغیزمن وي. که غونډې ته ډېر ژورنالیستان ورغلي وي نو دا پخپله د حکومت یا د هغې ادارې لپاره د تبلیغ یوه وسیله شي. خپل پیغام اولس ته د رسولو لپاره دا یوه ارزانه، ساده او غوره لارگنل کیږي. د ۲۰۰۲ م کال د فروري د میاشتې په اوولسمه نېټه پکابل کې د افغانستان نوي مشر حامد کرزي او د پاکستان پوځي جمهور ریس پروېزمشرف یو گډ مطبوعاتي کنفرانس کې د ژورنالیستانو پوښتنې ځوابولې. یو ژورنالیست پوښتنه وکړه چې اوس د ډیورنډ د کرښې په اړه تاسوکومه تگلاره غوره کول غواړئ. حامد کرزي هغه ژورنالیست ته په قهر شو چې دا وخت د دې پوښتنو نه دی.
که تاسوهغه ژورنالیست وای نوڅه به موکړی وای؟
څو ډول مطبوعاتي غونډې ؟

## خبري غونډه

په داسې غونډه کې مهم اعلان کیږي چې ځوک ترې خبر نه وي. د ۱۴ دسمبر ۲۰۰۳ م په بغداد کې همدغسې په یوې غونډې کې د عراق د پخواني مشر صدام حسین د نیولو خبر ورکړل شو. په هغه غونډه کې ژورنالیستانو ته دسدام د نیول کېدو ویډیو هم وروښودل شوه.

## اصولي غونډه

په داسې غونډو کې د یو نه زیات کسان د څو دقیقولپاره خپله وینا واوروي یا زباني او ورپسې ژورنالیستانو ته د پوښتنوبلنه ورکوي. د هیواد مشران، لوبغاړي، فلمي ستوري، د تجارتي شرکت او د پوځ ویندویان په داسې غونډو کې هماغومره معلومات ورکوي، چې دوی یې غواړي. د پولیسو مشران زړه نا زړه هغه وخت په داسې غونډو کې خبرې کوي چې په راتلونکي کې د بې شمېرو ژورنالیستانو د پوښتنو نه ځان وساتي.

کله داسې هم کیږي چې د وینا وال د بیانیې پر ځای نیغ په نیغه د یوې پېښې په اړه پوښتې ځوابیږي. که د یو چا په اړه منفي تبلیغات شوي وي نو په مطبوعاتي غونډې کې د ځان دفاع کوي.

## عکسي غونډه

داسې غونډه چې نه په کې بیانیه وي او نه پوښتنې ځوابیږي، " د عکس موقع " یا فوټو اوپرچونېتي " په نوم یادیږي.د بېلګې په توګه د لوبو یوه ډله د اولمپیک نه بېرته راګرځېدلې ده اوغواړي چې د دوی عکسونه د مډالونو سره خپاره شي. یا یو فلمي ستوري کتاب ولیکي او غواړي چې ورته اعلان وکړي. یوه بېلګه یې دا ده چې حکومت ژورنالیستانو ته بې له دې چې د ګډون کوونکوخبرې ثبت کړي، پخپل بحث کې د کیناستو او د فلم جوړولو اجازه ورکړي. تاسو ممکن یوې جرګې ته ورشئ او فلم برداري یې وکړئ.

## د مطبوعاتي غونډې شرایط

د هرې مطبوعاتي غونډې وخت د ۴۵ دقیقو نه زیات نه وي. یو وینا کوونکی د ۳ نه تر ۵ دقیقو پورې وخت لري چې خپلې خبرې پای ته ورسوي. که دا بېړنۍ غونډه نه وي نو لږ تر لږه یوه اوونۍ وړاندې ورته تیاري نیول شوې وي. په ځینو حالاتو کې د غونډې نه وړاندې یوه معلوماتي پاڼه ژورنالیستانو ته وراستول شوې وي او کله داپاڼه د کنفرانس پر وخت هم ورکړې کیږي.

## د غونډې ځای

د مطبوعاتي غونډو لپاره داسې ځای غوره کیږي چې د میډیا ټول کسان په اسانه ورته رسېدی شي. پلان شوې غونډې د وزارتونوپه دفترونو، صدارتي ماڼۍ ، ځانګړي تالارونو او په هوټلونوکې وي.بېړنۍ غونډې په هوایي ډګر یا لوبغالي کې هم کېدای شي.

د غونډې نه وړاندې:

۱. د موضوع په اړه نوي او تازه معلومات درسره وي. په دې هم خبر واوسئ چې غونډه د څه لپاره رابلل شوې ده.

۲. که غونډه د یوې ادارې له خوا کیږي نو د هغې ادارې مشر څوک دی، بودجه یې څومره ده یا چا نه پېسې اخلي. د مرکچي یا د غونډې وینا وال څوک دي او پخوا یې څه ویلي و.
۳. د خپل مدیر یا مشر سره سلا مشوره چې ستاسو دخپرونو لپاره د دې غونډې خبر څومره مهم دی؟
۴. کله کله د غونډې ټاکل شوی وخت ستاسو ژوندی خپرونې ته نږدې وي. که ددې غونډې د ژوندۍ خپرېدو امکان وي نو ددې لپاره به مو څه تیاري پکار وي؟
۵. دمطبوعاتي غونډې لپاره بلنه ټولو خپرندویه ادارو ته تللې وي او که ستاسو ادارې ته چا نه وي ویلي نوځان ته بلنلیک راوغواړئ. بیا په هغې غونډې کې مسولو کسانو ته خپل ځان وروپېژنئ او کارډ ورله ورکړئ چې په راتلونکي کې هم درته خبر درکولی شي.
۶. کله کله په بلنلیک کې د مرکې لپاره د چارواکو نومونه او د ټیلیفون شمېرې ورکړل شوي وي. که تاسوغواړئ چې د غونډې نه وړاندې یا وروسته ورسره مرکه وکړئ نو وخت ورسره وټاکئ.
۷. مطبوعاتي غونډه که د کوربه لپاره د تبلیغاتو موقع وي، نو خپرندویه ادارې یې هم د ځان ښودنې لپاره کارولی شي. د وینا وال د خبرو د ثبتولو لپاره به مو د مایکرفون بې شمېره خولې لیدلي وي چې رنګا رنګ نومونه او نښې پرې څرګندې وي. لویې خبري ادارې د مطبوعاتي غونډو لپاره ځانګړی نښه لرونکي مایکروفون کاروي.
۸. ژورنالیست د وړاندې نه معلومات تر لاسه کړي چې د غونډې په ځای کې د کیمرې یا د ټیپ اېښودو لپاره ځای شته او که نه؟ دکوم ځای نه به فلم جوړوي؟ کوم ځای به پخپله کیني؟ تکړه ژورنالیستان د غونډې نه وړاندې هغه ځای ته ورغلي وي او خپل کاري وسایل یې ځای پرځای کړي وي.
۹. په امریکا کې د نهې، چارشنبې اود زیارت ورځې د لږو خبرونو ورځې ګڼل کیږي. په اروپا کې اتوار( یک شنبه) تشه ورځ وي. په افغانستان کې د جمعې ورځ تشه وي. که یوه اداره وغواړي چې د دوی خبرې دې د خپرونو برخه شي نو په دغو ورځو مطبوعاتي غونډه راغواړي. د غونډې یا کنفرانس لپاره د لسو او یوولسو تر منځ وخت غوره ګڼل کیږي ځکه هغه وخت زیاتو مطبوعاتوخپل د ورځې پلانونه سنجولی وي.

## د غونډې پر وخت

سره له دې چې هر څه مو یا په کیمره او یا په ټیپ کې ثبت کړي وي، هغسې چې په نورو ځایونو کې مو درته یادونه وکړه، ښه ژورنالیست تل له ځانه سره قلم او کاغذ ساتي. که د غونډې په پیل کې وینا وال خبرې کوي، نو د هغه متن په لنډو ځان ته ولیکئ. دا به د پوښتنې پر مهال ستاسو پکار شي.
د غونډې د پیل په څو جملو کې تاسوفکر وکړئ چې .....

۱. دوینا وال په خبروکې څومره نوي مواد دي چې یو خبر یا راپور ترې جوړ شي؟
۲. د اورېدونکي یا لوستونکي پام ځان ته اړولئ شي او خپل پیغام په واضحو الفاظو بیان کړو که نه؟
۳. د داسې غونډو لپاره وینا کوونکی ژبه ور او با اعتماده کس غوره شوی وي چې خپلې خبرې ورته یادې وي. ژورنالیست به د داسې کس نه نورې خبرې څنګه راباسي؟
۴. که دې کس درته سم ځواب درنکړو نو تاسو به خپله پوښتنه څو وارې تکراروئ؟
۵. که تاسو دې کس نه یوازې او یوازې "یوه" پوښتنه کول غواړئ نو هغه به څه وي؟
۶. د نورو ژورنالیستانو پوښتنې اوځواب هم له ځانه سره یاد وساتئ، چې بیا هغه پوښتنه تکرارنکړئ.

## د پیغام ډسپلن

دمطبوعاتي غونډې وینا وال زړه ورکس وي خو بیا هم دومره ډېرو هوښیارو ژورنالیستانو ته مخامخ کېدل، ویرونکی کار دی. په عامه توګه کنفرانس ورکوونکی د سختو پوښتنو لپاره ځان اماده کړی وي. کله چې وینا وال خپلې خبرې بیا بیا تکراروي او ستاسو دتکراري پوښتنو په ځواب کې یې هم نه بدلوي نو مانا دا چې هغه په "مسیج دسپلن " ( د خپل پیغام نه پرته بله خبره به نه کوي) عمل کوي. دا ډسپلن ددې لپاره ساتل کیږي چې د ژورنالیستانو پوښتنې یې بې لارې نه کړي، دوی احساساتي نشي او د خپلې موضوع نه بلې خوا ته ولاړ نشي. د بېلګې په توګه تاسو د حکومت نه د بډو رشوتونو پوښتنه کوي او بل ژورنالیست ورپسې بېلګه ورښایي دربیم ژورنالیست په کې خپله ټپه وروغورځوي. خو وزیرصیب هم هغه یوځواب ورکوي، چې حکومت په دې اړه مناسب ګامونه پورته کړي دي .

د تجارتي شرکت لپاره دا ډسپلن په دې ښه وي چې که يوتوکی په يوکيفيت جوړشوی دی نوهماغه به درته په ګوته کوي. لکه نوی کمپيوټري ټيليفون تاسو ته درې کارونه کولی شي، يادښتونه په غږ کې درته وايي، عکس يا ويډيو سمدلاسه خپل کمپيوټر ته وراستولی شئ، او بل ځوک دا ټيليفون نشي کارولی. ژورناليست به ډېرې پوښتنې لري چې ايا دا ټيليفون په دې بيه ګران نه دی؟ يا دا چې په امريکا کې دا په دې قيمت دی خوپه اروپا کې په دې نو ولې دا فرق دی؟ که وينا وال په ځواب کې ووايي چې دا يوه ښه پوښتنه ده خو زمونږ د ننۍ موضوع سره تړاو نه لري او ممکن بل وخت پرې خبرې وکړو نو پوهه شئ چې ځواب ورسره نشته.

## د نه کولو کارونه

۱. که وينا وال پخپلو ښو جامو کې راغلي وي او د بې وزلو په اړه خبرې کوي، نو تاسو ترې دا پوښتنه نشئ کولی چې پخپله دې ولې ښايسته جامې اغوستي دي؟ دا په هغه شخصي تېری دی.

۲. که بل ژورناليست ستاسو له خوا شوې پوښتنه بيا کوي، نو هغه په خوله کې يې مه وهئ يا بد بد ورته مه ګورئ. دا د وينا وال کار دی چې هغه ته ووايي چې دې پوښتنې ته ځواب ويل شوی دی.

۳. که وينا وال يوه خبره بيا بيا کوي نو ددې دليل ممکن هغه ژورناليستان وي چې غونډې ته ناوخته رسيدلي وي.

۴. که تاسو په بېړه يئ نو شا ته کينئ او بې له اخلال په خاموشۍ له هغه تالار ولاړ شئ. د غونډې په نيمايي کې مه راووځئ.

کله کله ځينې اداري د خپل کنفرانس ريکارډنګ پخپله هم کوي. که داسې وي نو معلومات يې وکړئ او په هغه حالت کې چې ستاسو ټيپ کار پرينښې وي يا بيټري مو نه وي ، له هغوی دا ثبت شوي مواد غوښتې شئ. خو دا کار موعادت نشي، ځکه له دې ډېره پکار ده.

**د مرکې پوښتنې لنډې، نېغې او په ساده ژبه کې پکار وي**

# شیر مه برخه

www.safiahaleem.com

# په دې برخه کښې

## ژورنالیزم او خبرونه

خبرونکي څوک وي؟
د خبرنې دويم پړاو
د خبرنې دريم پړاو
ژورنالیست که خبريال
فيچر
تفتيشي ژورنالیزم
د پلټنو شرايط
کاري پلان
دسيمې په اړه معلومات
د موادو راټولول
ناڅاپي ستونزې
بنديزونه
د معلوماتو اساسي سرچينه
ډاکيومينټري
ډاکيو ډرامه
د موادوايډيټ
انشايه- کالم
په مطبوعاتو بنديز
کره کتنه
ورځپاڼې
په کتاب تبصره
په فلم تبصره

www.safiahaleem.com

# ژورنالیزم او څېړنه

په پښتو کې یو متل دی چې "که څوک درته ووایي چې غوږ درنه سپي یوړو، نو ته به په غوږ لاس ږدې او که سپي پسې به منډې وهې " د څېړنې دا یوه ډېره ساده بېلګه ده او یو مسلکي ژورنالیست تل د یو خبر په اورېدو لومړی کار دا کوي چې سپیناوی یې وکړي. د ژورنالیزم په ډګرکې د ښه او کمزوري ژورنالیست تر منځ توپیر په دې کیږي چې د یوې پېښې په اړه یې څومره څېړنه کړې او څومره معلومات یې راټول کړي دي. څېړنه د "ریسرچ" متبادل توری دی او د علمي (اکېډیمیک) څیړنو نه توپیر لري. اکېډیمیک څېړنه یوازې د پوهنتون په چاپېریال کې لوستل کیږي او کتابتون کې خوندي وي. د ژورنالیزم څېړنه په زرګونو خلک لولي یا یې ګوري او اوري. د ژورنالیست په څېړنه کې یوه ستونزه د انډول یا د توازن کمی وي ځکه ساینسي نه وي او کله کله بې تولې شي.

## څېړونکي څوک وي؟

د میډیا لویې ادارې د بېلا بېلو خپرونو لپاره د ژورنالیستانو د مرستې لپاره څېړونکي پکار ګمارلي وي. هر یو تلویزون چې څلورویشت ساعته خپرونې لري، په کې یوه ډله د څېړونکو پکار اخته وي او د ژورنالیست سره د موادو په راټولولو کې مرسته کوي. د یو پروګرام د جوړولو لپاره کله کله د پنځو نه زیات څېړونکي د موادوپه چاڼ اوسمولو اخته وي. د راډیو او د ورځپاڼې ژورنالیست پخپله دا کارترسره کوي. څېړنې زیات وخت د لیکلو راپورونو اوپه تېره کې خپاره شوي موادو پر بنسټ کیږي. یو ژورنالیست خپل معلومات د شواهدو سره په یو ځای کولو ښه څیړنیز راپور جوړولی شي.

یوه بېلګه

کیو

www.safiahaleem.com

**په کابل ښار کې د هوا د ککړتیا له امله روغتیایي ستونزې د تېر کال په پرتله ډېرې شوي دي. د روغتیا نړیوال سازمان وايي، که دلته د موټرو اوکورونو په لوگي کې کمی رانغلو نو د سږو ناروغۍ به لا ډېرې شي. د خبریال رپورټ.**

غږ (د ټریفک شور)

**خبریال. دخیر خانې دعمومي سړک پر سر چې اوس ولاړه یم، یو وخت شنه پټي او ونې له لېرې ښکارېدې خو اوس په کې د لاریو او موټرو اډه جوړه ده. هرې خوا چې وگورئ، د نوي ماډل گاډي په کې ولاړ دي. ما څو شېبې وړاندې دلته د یو څو موټروانانو سره خبرې وکړې چې دوی هره ورځ څومره ډیزل سوزوي.**

**غږ: یره داسې څه نا څه ځلوېښت یا پنځه څلوېښت لیټر به سوځي .**

**بل غږ: زما د لارۍ ټانکۍ په دوه سوه لیټر ډیزل ډکیږي او چې ماښام شي نو ټانکۍ تشه وي.**

**دریم غږ: کله دېرش او کله څلوېښت لیټره تیل سوځووم.**

**خبریال: دا ټول هغه ډریوران دي چې کابل او شاو خوا سیموته سپرلۍ وړي راوړي. نور چې د ولایتونو نه سپرلۍ راوړي ددې نه علاوه دي. د اډې د مشر نه مې پوښتنه وکړه چې د ورځې څومره گاډي کابل ته رادننه کیږي نو راته یې وویل،د دوو زرو شاو خوا هر ډول گاډي له دې اډې ځي او راځي. که دا د یوې اډې حال وي نو فکر وکړئ چې د ښار دوو نور اډو کې به څومر گاډي وي او د دوی لوگي چې یو ځای شي نو په هوا کې د ککړتیا به څه حال وي. په دې هواکې د کورونو او د کارخانو لوگي چې ښایي په ژمي کې به یې اندازه زیاته وي، هم گډشي.**

ددې راپورد جوړولو لپاره لنډه څېړنه شوې ده اومواد د موضوع سره تړلي دي. هماغومره معلومات ورته یو ځای شوي دي چې په هغه ورځ پکار و. خو که څوک په دې موضوع نورې څېړنې غواړي نو کېدي شي د ښار ساینسپوهانو سره پرې خبرې وشي، په روغتون کې د ساه لنډۍ ناروغان وغږول شي او داسې نور.... د نورو راپورونو په څیر د څېړنو لپاره هم پلان جوړول ضرور وي.

که ستاسو مدیرپه ښار کې د ښځو د اوبو په حالت د یو ځېړنيز راپور د جوړولو سپارښتنه وکړه نو د دې لپاره به کومو ټکو ته پام کوئ؟

ستاسوپلان: د عامو خلکو ستونزې او د ښار والی فعالیت معلومول.

معلومات: په ښار کې د وګړو شمېره، پاکو اوبو ته لاسرسی، ستونزې، د اوبوله لارې خپرېدونکې ناروغۍ، د ځو کورونو د مېرمنو یا سرېوسره خبرې چې د اوبو لپاره د کوځې د نلکې نه کار اخلي او د ښاروالی د هغې ځانګې مشر سره خبرې چې خلکو ته د اوبو د رسولو دنده پرغاړه لري.

د ځېړنې لومړی پړاو:

۱. هغه بنسټیز حقایق درسره وي چې فیچر یا راپور پرې جوړېږي.
۲. د موضوع پراختیا او خبري اړخ يې ځرګند وي.
۳. د اړوندو خلکو خبرې نيغ په نيغه درسره ثبت وي.
۴. د موضوع زاویه درته روښانه وي.
۵. د مرکو لپاره د خلکو نومونه او ددوی نومرې درسره وي.

## د ځېړنې دویم پړاو

د موضوع په اړه هر هغه څه چې تاسو يې لوستلی شئ، پکارېږي. د بېلګې په توګه تاسو په وزیرستان کې د بې پیلوټه الوتکو (ډرون) حملو د قربانیانو په اړه راپور لیکئ یا د راډیو پروګرام پرې جوړوئ. په سر کې به تاسو ددې سیمې د جغرافیې نه ځان خبروئ. ورسره دلته پراته قومونه، ددوی د ژوند، د کورونو او په تېرو شلو کالو کې د شویو پېښو په اړه مطالعه وکړئ. پخپله د ډرون تکنالوژۍ او ددې د پیل په اړه هم معلومات پکار دي. دا حتمي نه ده چې هر څه به د پروګرام برخه شي، خوستاسو لیکنه به د هر څه د پوهاوي سره وي او یوه نیمه جمله کې هر څه رانغښتلي شئ.

## د ځېړنې درېیم پړاو

هغه څه چې تاسو تر لاسه کړل، د هغې پر اساس ځو پوښتنې جوړولی شئ. او هم دا ستاسو د راپور یا د فیچر لویه برخه جوړوي.

www.safjahaleem.com

د څېړنيز راپور يوه برخه چې د ابراهيم شينواري په نامه يو افغان ليکوال ليکلی دی چې د بينوا ويب پاڼې نه په متنه دلته يې راخلو:

**(داسې ويل کيږي چې د بشريت راتلونکې لانجې به د منابعو په سر وي، چې تر ټولو ډېرې به يې د اوبو لانجې وي. افغانستان د باران او واورو په اوبو متکي هيواد دی. که څه هم سرشاره سيندونه لري؛ خو زياتره يې ژور تللي دي؛ نه د اوبو لګولو او نه هم د برېښنا لپاره پوره کارېدلي دي. ما د مرستو له يوه بهرني کارپوه سره خبرې کولې او ترې ومې غوښتل، چې نړيواله ټولنه ددې پر ځای، چې ميلياردونه ډالر په بې نتيجې پروژو او د ظرفيت جوړونې او جنډر په نومونو دوه ورځنيو او پنځه ورځنيو کورسونو ولګوي، بايد د اوبو لګولو او برېښنا په لويو پروژو دې يې ولګوي، چې هم د ډېر شمېر خلکو ضرورت پرې رفع شي او هم د هيواد اقتصادي پرمختيا او تخنيکي کولو لپاره لار خلاصه شي. هغه وويل، چې له اوبو څخه په راولاړو شويو سياسي ستونزو کې يې خپله ماسټري اخيستې ده او دا مشوره نه ورکوي ځکه اوس د افغانستان ګاونډيان پياوړي دي او نه پرېږدي، چې افغانستان خپلې اوبه پخپله استعمال کړي. هغه وويل، چې که افغانان اوس دې کار ته اقدام کوي، يو څاڅکې اوبه به ورته په يو څاڅکي وينه تمام شي.**

**افغانان هم غواړي چې افغانستان بايد له خپلو ټولو ګاونډيانو سره د اوبو مسئلې حل کړي . په دې برخه کې نړيوال قوانين شته او بايد د هغوی په مرسته دا مسئلې هوارې شي. د "ناکامو دولتونو رغول" کتاب کې ډاکتر اشرف غني د ځينو هيوادونو بيلګې راوړې دي، چې څنګه يې له يوې خاصې منبع نه د ټول هيواد د ترقۍ په ګټه کار واخيست :سينګاپور له خپل ټايم زون نه په ګټې اخيستو سره د نړۍ له پرمختلليو او پياوړي اقتصادي قوتونو څخه شو. ايرلنډ معلوماتي ټيکنالوژۍ ته په ودې ورکولو سره د اروپا د دغې برخې د مرکز په توګه يو پياوړی اقتصاد شو. د امريکا د متحده ايالاتو جنوبي ايالتونو، چې د شمالي ايالتونو په نسبت ډېر وروسته پاتې وو، د باکفايته واليانو او کاري ټيمونو په جوړولو خپل اقتصادونه دومره پياوړي**

کړل، چې ځینې یې د نړۍ د سترو هیوادو په اندازه اباد او ماړه شول . د ډاکټر صیب غني په نظر ،افغانستان د بریښنا په جوړولودغسې چټکه اقتصادي وده کولای شي . بریښنا اواوبه سره تړلي دي . د بریښنا بندونه به د اوبو د بندونو لپاره پکار راشي او که له یوې خوا به، په افغانستان کې د بریښنا په جوړېدو د هیواد روښانتیا، صنعتي کېدو او ګڼو نورو پرمختګونو ته لارخلاصه شي، له بلې خوابه ګڼ شمېر خلکو ته د ښې کرنې زمینې جوړې شي

که افغانستان خپلې شاړې ځمکې خړوبې او یوازې دولتي ځمکې بې ځمکو او کم ځمکو افغانانو ته وویشي؛ نو ۱۲ میلیونه کسانو هر یوه ته ۵۰ جریبه ځمکه رسیږي . همدا راز د اوبو د مسیرونو سمون او کنټرول یو ډېر ضروري کار دی، او که نه وي، نو پردې سربېره چې ځمکې مو اوبه وړي، په راتلونکي کې راته لویې ارضي ستونزې هم زېږوي . د امو د سیند حال دغسې دی چې هر کال په زرګونو جریبه ځمکه لاندې کوي.

د اوبو جنګونه به د بشریت راتلونکې حادې او خطرناکې لانجې وي . نړیوال کارپوهان وړاندوینه کوي، چې دا لانجې به تر ټولو زیاتې په منځني ختیځ او افریقا کې وي . منځنی ختیځ به نور د تیلو په خاطر نه بلکې د اوبود لانجو په خاطرځوربږي . دجنوبي اسیا ځینې سیمې؛ لکه هند، پاکستان او بنګلدېش به هم له سترو چیلنجونو سره مخ شي او یو څاڅکی اوبه به ورته تر ۱۰ څاڅکیو تیلو ډېرې قیمتي شي.

افغانستان د نړیوالو وړاندوینو له مخې په دغو لسټونو کې نه راځي؛ خو دا چې د پاکستان او ایران ځینې برخې د افغانستان په اوبو ابادې دي؛ نو پکار ده، چې له همدا اوسه د اوبو د مسئلې د حل لپاره پلانونه جوړ او د هواري لارې یې ولټول شي . د شاهي دورې وروستي صدر اعظم محمد موسی شفیق د هلمند د اوبو مسئله له ایران سره حل کړه . که څه هم د هغه وخت ځوانو مبارزینو نوموړی په اوبو خرڅولو او

**ابرو خرڅولو تورن کړ؛ خو بې پرې پوهان او څېړونکي وايي، چې هغه حل خورا عادلانه و؛ او د موسی شفیق ابتکار د ستایلو وړ دی.**

**د پاکستان پخواني ولسمشر پروېز مشرف د کالاباغ بند څخه پخپله دفاعیه ویناکې په دې ټینګار کاوه، چې (افغانستان د جوړېدو په حال کې دی؛ او خپلې هغه اوبه،به خامخا ګرځوي او پخپله ښه به یې راولي؛ چې حق یې دی؛ نو پاکستان باید عاجل اقدامات وکړي، که څه هم د نړیوالو قوانینو له مخې په دغو اوبو کې له پاکستان سره تفاهم او جوړجاړی ضروري دی. دا ددې مانا ده، چې د هیوادونو مشران او اولسونه مخکې له مخکې خپلو ستونزو ته متوجه دي او د هوارې او بدیلو لارو په باب یې فکر او عمل کوي . موږ باید هم همدغسې واوسو.**

**افغان مشران باید له ګاونډیانو سره د اوبو مسلې هوارې او د نړیوالو همکارې راوګرځوي، چې د اوبو لوی بندونه او پرې پیاوړې بربېښناکوټونه جوړ شي، چې د ولس د کار، بوختیا او نیکمرغې یون چټک او د هیواد ترقي ګړندی شي).**

## ژورنالیست که خبریال

د ژورنالیست لپاره مهم کار دا وي چې په سلګونو پېښو کې نوی خبر ولټوي. ددې فیصله به څوک کوي او څنګه به کیږي چې د یو خبر پر اساس راپور جوړیږي خو بل د خبر په توګه خپور او بیا ورک شي. دا هنر له کومه کیږي؟ دا د کار په ډګر کې د وخت د تیرېدو سره پیدا کیږي. خو ددې لپاره هم یو څه استعداد پکار وي:

۱. ژورنالیست پخپل فطرت کې تجسس (لټون) لري. هر هغه څه چې ورته نوی وي، وربانديې د ځان پوهولو هڅه کوي.

۲. ژورنالیست دومره زړه ور وي چې د ظالم کس نه هم پوښتنه وکړی شي او ترېنه د وېرې احساس ونه کړي.

۳. د یو چا د خوشالولو لپاره د حقایقو نه سترګې پټې نه کړي.

۴. پخپل ځان قانع وي اود خپلونیمګړتیاوو نه خبر وي. که یوه تېروتنه کوي نو هغه ومني او په راتلونکي کې یې مخنیوی وکړي.

هغه کس چې د سیمې نه خپلې ادارې ته نوي او تازه راپورونه او خبرونه ورکوي، د خبریال ( په انګریزي کې کاریسپانډېنټ) په نوم یادیږي. دده معلومات د خپرونو بنسټ وي او یوه غښتلې مطبوعاتي اداره بې له دوی کار نشي کولی. خبریال دفتر نه لري او زیات وخت یې د پېښې ځای ته ورتلل، اړوندو خلکو سره پرې خبرې کول اوخپلې ادارې ته راپور وراستولو تېریږي. دې خپلو لوستونکو،اورېدونکو یا کتونکو ته نږدې وي نوځکه ریښتونې ژورنالیست وي چې هم د پېښو جاج اخلي، هم یې د خپرونو لپاره ترې خبر جوړوي او خپلې ادارې ته دهغې پېښې ټول بیکګراونډ ( تاریخچه) وایي. ځینې نړیوالې ادارې په هرهغه ملک کې خپل وړوکی دفترجوړ کړی وي چې په کې مهمې پېښې کیږي اوخبریال ته یې د کار وسایل ورکړي وي. داسې دفتر "بیورو" نومیږي چې کله کله په کې د راډیو، تلویزون او د ورځپاڼوخبریالان په ګډه کار کوي.

خبریال د تازه خبرونو د تر لاسه کولو لپاره به د ټولنې د ډیرو وګړو سره اړیکې ساتي، لکه د بېړنو مرستو رسوونکو، پولیس، روغتون، ښار والی او داسې نور ولسي ځانګې چې د اړتیا پر وخت ترې معلومات ترلاسه کېدي شي.غونډو او میلمستیاوو ته ځي، په وړو محکمو کې قضیې اوري، د فټبال کریکټ او داسې نورو مهمو لوبو، خبري کانفرنس او مظاهرو ته ورځي. پخپلې سیمې کې د هرې پېښې نه تر ټولو وړاندې ځان خبروي. د خپلې ډلې د نورو غړو لکه عکاس، کیمره مین تخنیک کار او مدیر( ایډیټر) سره د خپرونو جوړولو لپاره همکاري کوي. مهمو خلکو سره مرکې کوي.

## فیچر

د خبرونو ورکولوهره اداره د خپلو لوستونکو یا اورېدونکو او کتونکو په اړه معلومات لري چې څوک دي.ځوان، بوډا، مسلکي، نالوستي او نور. ددې نه علاوه هره اداره خپل هدف لري چې خلکو ته ، معلومات، تفریح او تعلیم ورکړي.ځینې اداري د خبرونو نه علاوه ټولنیزې موضوعګانې هم اخلي. دسر پل د خبر تر ټولو ژور اغیز ممکن دهغه ځای په خلکوزیات وي. خو په عمومي توګه دا پېښه د نجونو د تعلیم سره تړاو لري. او یو شمېر خپرونې په دی پلمه په ټولنه کې د ښځو زدکړو او ددوی ستونزو ته پام وکړي. کېدای شي یو ژورنالیست دا دنده په غاړه واخلي چې په دې موضوع لنډ یا اوږد فیچر

جوړکړي چې په دې پېښه به د نجونو زدکړې څومره زيانمنې شي؟  په فيچرکې خبر، راپور، څېړنه اوتحليل ځای کېدای شي او هدف يې ټاکلی وي.  فيچر خبري هم کيدی شي او غيرخبري هم ، ولې ددې ځانګړتيا په دې کې وي چې بحث يا نظريې ته هم په کې ځای ورکړل شوي وي.  د فيچر پلان ډېر په احتياط او د ليکلو يا جوړولو ته يې وخت پکار وي.  د فيچر هم څو ډولونه دي، چې لنډ او اوږد نه علاوه، ډاکومينټري، ژوندانځور (بايوګرافيکل) او داسې نوردي.

بېلګه

**د عجب خان اپريدي نوم سره زيات پښتانه اشنا دي. د شلمې پېړۍ د پيل راهيسې دې د پښتنوپه قبايلي سيمه کې د انګريزانو لپاره يو سر خوږۍ و او اخر دخپلو بندي ملګرو د راخلاصولو لپاره يې يوه انګريزه جينۍ مولي ايلس وتښتوله. د ده په اړه ځينو کيسو کې حقايق راته څرګند نشول.**

په لندن کې مې د بي بي سي د رېډيوفور نه د يو خپور شوي پروګرام ټيپ وغوښتوچې په کې په هغه پېښه کې شاملوځينو ژونديو کسانو سره خبرې شوې وې.  هغه پوځي افسر چې د عجب خان کور يې د وسلې لپاره پلټلی و.  هغه مېرمنه چې د ايلس په راخلاصولو کې يې ونډه اخيستې وه.  په ١٩٩١ م کې مې دده زوی نيک محمد سره پکاربل کې يوه مرکه وکړه چې په کې يې د خپل پلارله خولې اورېدلي معلومات يې راته راکړل.  د پښتنو له خوا هر څه چې ليکل شوي و، زيات يې افسانې وې او خلکو د ځان نه کيسې هم په کې زياتې کړې وې.  مېرمن ابلس په هغو ورځو کې ژوندۍ وه او ورسره مې وليدل چې ډېره زړه شوې خوحافظه يې ښه وه. د اېلس د کيسې له اورېدو او د هغې د غږ ثبتولو نه وروسته په تېراه کې هغه وخت د انګرېزانو د پوځي فعاليتونو په اړه مې څو کتابونه لوستل چې ددې پېښې سياسي عوامل راته روښانه شي.  ددې څېړنو په پايله کې مې د راډيو فيچرجوړ کړو چې په دوو برخو کې خپور شو.

ځينې خلک فيچرمخالف خبري راپورګنې خو دا دواړه د يو بل سره ټينګ تړلي دي.  د فيچر لمنه پراخه وي او هر هغه موضوع چې د انسان ژوند سره تړلې وي، ليکنه پرې کېدای شي او د راډيو او د تلويزون پروګرامونه پرې جوړېدې شي. يوژورناليست په فيچر کې د کيسې د بيانولو توان که ولري نو هغه تکړه ګڼل کيږي.

## تفتیشي ژورنالیزم

**Investigative Journalism**

ځیني کسان د خپلې کنج کاوۍ او د ډېرو پوښتنو له کبله د " تریخ مرچ " په نوم یادېږي. یاني هغه کس چې په هر شي کې یې کارويږ. خو ژورنالیست خپله کنج کاوي د نورو په وړاندې نه ښکاره کوي. تفتیش هغه عمل وي چې زیات وخت د یو جرم د معلوملو لپاره پولیس تر سره کوي. په ژورنالیزم کې هم تفتیش کېږي چې موږ یې پلټنې بللې شو او ددې خپل اصول دي. مهمې جنایي پېښې، ډلیزې وژنې ، بډې رشوتونه، دتجارتي شرکتونوغیر اخلاقي چلند ، دیوې اداري تګلاره او په داسې نوروماملو، ژورنالیست تفتیش یا پلټنې کولی شي چې حقایق خپل ولس ته په ډاګه کړي. داسې پلټنې د ورځپاڼو له خوا او یا خپلواکه ژورنالیستانو له خوا تر سره کېږي. کله کله دا پلټنې دومره وغځېږي چې تر میاشتو پرې کار روان وي. دداسې ژورنالیزم لپاره کله کله د انګریزي " واچ ډاګ " ( څارونکې سپې) او "اکاونټیبیلیټي ریپورټینګ " ( د محاسبې راپور) اصطلاح کارېږي.

## د پلټنو شرایط

۱. د ارشیف هغه مواد چې په کې د قضیې په اړه لیکنې ساتل شوې وي. د بېلګې په توګه د محکمې سندونه.

۲. هغه مرکې چې خپرې شوې وي او په کې د معاملې په اړه خبرې شوې وي.

۳. دقانوني اوټولنیزو مادو په اړه لیکلي اسناد.

۴. د حکومت له خوا خپاره شوي اعلانونه یا مطبوعاتي پاڼې.

۵. د ځینو اسنادو په اړه د یو یا دوو کسانو تحلیل.

۶. ولسي دوسیو ته لاسرسی.

۷. عکسونه، ویډیویي فلم او داسې نور مواد چې په پلټنو کې مرسته کوي.

۸. د هغې اداري ملاتړ چې ستاسو راپور په کې خپرېږي.

خبر

www.safiahaleem.com

**دافغانستان تر ټولو لوی بودايي ښار چی تر اوسه ساری نه لري د لوګر د خروار په ولسوالۍ کې دی.خو پخوا له دې چې په دې تاريخي څېړنې شوې وای ځايي خلکو وربانديې ناتار جوړ کړو او په لوی لاس يې لرغون توکي خرڅ کړل. د يوېشتمې پېړۍ په سر کې د خروار د پاتې زړو اثارو په کېندلو او څېړنو کې د افغان ماهرانو مرسته يونيسکو وکړه- له دې ځايه هغه توکي چی د سرکاري کېندنو نه وړاندې په غير قانوني توګه ايستل شوي وو تر لاسه او د کابل ميوزيم ته وسپارل شول. په نږدې ورځو کې لوګرد مسو د کان او دلته د يو بل بودايي ښار د اثارو لپاره په خبرونو کې ياد شو.**

دا موضوع ولې د ژورناليست لپاره د پلټنو وړده؟ هر هاغه څوک چې په افغانستان کې دلچسپي لري ، نور معلومات به وغواړي. دا چې توکي د کوم وخت دي؟ ولې په بازار کې خرڅيږي؟ ددې کار مخنيوی به څنګه کيږي؟

ددې پوښتنو دځوابونو لپاره نه يوازې څېړنې بلکه پلټنو ته اړتيا ده. ددې خبر تر لاسه کول د لرغونپوهانو لپاره د علمي پلټنو لاره پرانيزي. که څه هم دا اوسنی خبر دی خو که د راپور په جوړولو څو ورځې نورې هم تېرې شوې وې نوموضوع زړيږي نه، ژورناليست که ژرتر ژره پرې کارپيل کړي نو ممکن په څو ورځوکې راپور جوړ کړي.

د بېلګې په توګه تاسوپه دې موضوع د پنځلسو دقيقو راډيو يا تلويزون، د دوو زرو الفاظو د ورځپاڼې يا د زرو الفاظو راپورد وېبپاڼې لپاره راپورجوړول غواړئ. تاسو به خپل کار له کومه ځايه پيل کوئ؟

## کاري پلان

د هر راپور د جوړولو وخت د دې د خپرېدو له وخت نه شا ته حسابيږي چې د لوګر د راپور لپاره يې ترتيب داسې دی:

د خپرېدو ورځ، ۲۰ اکتوبرماښام

تيار راپور د مدير سره، ۲۰ اکتوبر سهار

د غلطيانو سمول او وروستۍ ايډيټ، ۱۹ اکتوبرماښام

د راپور ثبتول یا لیکل، ۱۹ اکتوبر سهار

د مرکو ایډیټ او ترتیب، ۱۷ اکتوبر

د چارواکو سره مرکې، ۱۶ اکتوبر

په سیمه کې مرکې، ۱۵ اکتوبر

د راپور لپاره لیکلي مواد راټولول، ځان پوهول، له حکومتي چار واکو د جواز لیک تر لاسه کول،۱۴ اکتوبر

په ژورنالیزم کې یواصطلاح ډېره کاریږي چې ډېډ لاین یا د مرگ لیکه وي، یعني که تر دې ټاکلي وخت مو راپور د خپرېدو لپاره چمتو نه و نو....

د ورځپاڼي او وېبپاڼې لپاره دا راپور یو کس ( ممکن دوه) کار کوي خو د راډیو لپاره به څو کسان او د تلویزون لپاره به له هغې زیات کسان پکار وي. د موضوع د بېلا بېلو اړخونو او د پلټنو په امکاناتو د ټیم ( کاري ډلې ) سره له بحث او خبرو وروسته دې دا روښانه شي چې څوک به څه دنده پر غاړه لري؟

که تاسو دراپور جوړونکې ډلې مشري پر غاړه لرئ نو کومو ټکو ته به پام کوئ؟

که تاسو یوازې په یو راپور کار کوئ نو څوک درسره مرسته کوي؟

## دسیمې په اړه معلومات

هغه سیمې چې لرغوني اثار په کې په بازار کې خرڅیږي، ښایي چې پخوا هم په کې کېندنې شوې وي. دا کار د حکومت په سرپرستی کیږي او له هغه ځایه راوتونکي توکي په ملي میوزیم کې ساتل کیږي. ددې راپورونه د لرغون پېژندنې د ادارو له خوا لیکلي شوي وي. ستاسو د پلټنو لومړی پړاو به د داسې راپورونو لوستل وي. بل په دې سیمه کې څوک حاکمیت لري؟ هلته قاچاق وړونکي او مهم تاجران څوک دي؟ هلته د امنیت ساتونکو زور او واک څومره دی؟هلته ستاسو د اوسېدو امکان به څه وي؟

## د موادو راټولول

د حقایقو د معلومولو لپاره تاسو پخپله یا هغه ډله چې کار ورته سپارل شوی دی، سیمې ته ورځي. که تاسو د تلویزون فلم جوړوئ او دا ضروري ګڼئ چې پټه عکاسي وکړئ نو د ادارې مشران به مو خبر وي. په ډېرو ملکونوکې د پټ عکس اخیستل او یا پټ فلم جوړول غیر قانوني دي خو که ملي میډیا دا د

www.safiahaleem.com

خلکو په ګټه وبولي نو امکان لري او د قانون نه سرغړاوی نه ګڼل کیږي. ژورنالیست باید د هر یو ملک د قانون درناوی وکړي، خو د دې فیصله پخپله ژورنالیست کولی شي چې راپور ورته څومره مهم دی. مونږ داسې ډېرې بېلګې وینو چې تکړه ژورنالیست انو د واقیعتونو د څرګندولو لپاره خپل ژوند په خطر کې اچولی، د قانون نه یې سر غړولی دی و مهم خبر یې خلکو ته ورکړی دي.

## ناڅاپي ستونزې

کله کله هغسې چې تاسو یې پلان جوړکړی وي کارونه سرته نه رسیږي. تاسو د هغه ولایت د بازار ټولو هټیو ته ورځئ خو په یو کې هم لرغوني توکي نه وي. هټیوال درته ډاډ درکوي چې هغوی داسې توکي په سترګو نه دي لیدلي. په داسې حال کې به څه کوئ؟ هغه چارواکې چې تاسو ورسره د مرکې لپاره وخت اخیستی و اوس په سفر تللی دی. په داسې حالت کې متبادل یې لرئ؟ د امنیت ساتونکي تاسو هغه سیمې ته نه پریږدي چې د معلوماتو د مخې په کې غیر قانوني کېندنې شوي دي .هغوی ستاسو په لاس کې سرکاري لیک هم نه مني. بله کومه لاره لرئ؟ ځینې کلیوال درسره مرکه نه کوي خو درته وایي چې د امنیتي ځواک غړي پخپله په دې کاروبار کې ګډ دي، د دې سپیناوی به څنګه کوئ؟

## بندیزونه

داسې هم کیږي چې د راپور د جوړولو نه وروسته ژورنالیست یا مدیر خبریږي چې حکومت یا بلې اداري ددې راپورد نه خپرولو امرکړی دی.

د خپرونو مدیران هره ورځ د داسې فشارسره مخ وي چې یوې یا بلې غاړې له خوا ګواښل کیږي. په هغه حالت کې ژورنالیست یا د هغه مشر به په راپورکې بدلون راولي که نه؟ کله کله د یوتوري یا د جملې پکارولو اعتراض یا کله د یوې مرکې د خپرولو یا نه خپرولو او نور کله بیا د موضوع د بدلولو فشار وي. پاخه ژورنالیستان په دې حال کې اعتراض کوونکو ته هم موقع ورکوي چې خپلې خبرې ثبت کړي چې د راپور برخه وګرځي. د ښځو په اړه د یوې موضوع د پلټنې پر وخت ما ځینې مرکې یو کس ته اورولې وې چې هغوی په کې خپلې ستونزی ویلې وې. هغه مشر راته ووېل "دوی دروغ وایي." هغه ته مې مایکروفون ورکړو چې ته اوس راته رښتیا ووایه. د هغه خبرې مې هم په پروګرام کې شاملې کړې.

## د معلوماتو اساسي سرچينه

د هرې پلټنې لپاره يوه سرچينه وي چې ټوله کيسه يې درته کړې وي. دا " پرايمري سورس " يا " اصل سرچينه " نوميږي او د پېښې ټول معلومات ورسره وي. د بېلګې په توګه په يو وزارت کې د بمږو اخيستو خبره ډېرو خلکو کړې وي خو دا تر هغې ګنګوسې ګڼلې شي تر څو شواهد نه وي تر لاسه شوي. يو کس تاسو ته د خپل موبايل ټيليفون هغه ثبت شوي خبرې درکوي چې په کې چار واکې ترينه د يو کار لپاره پېسې غواړي. د پلټنو لپاره هغه کس ستاسولپاره اصل سرچينه وي. دا د هر ژورناليست اخلاقي فرض وي چې د هغه کس د امنيت ساتنه وکړي او نوم يې پټ وساتي.

## ډاکيومينټري

د تلويزون يا د سينما د پردې لپاره هغه فلم چې پر حقايقو ولاړ وي، " ډاکيومينټري " نوميږي. په داسې فلم کې هغه پېښې ثبت شوي وي چې په اصل کې واقع شوي وي او د خلکو د پوهاوي لپاره بيان شي او يا ددې لپاره چې په " ريکارډ " کې راشي. په ريکارډ راتلل دا مانا ورکوي چې که څوک په راتلونکي کې د يو کس د خبرو پر اساس نورې څېړنې کول غواړي نو په ډاکيومينټري کې يې شواهد موجود وي.

د عجب خان په اړه د څېړنو په لاره کې لوی خنډ راته دا و چې مولې ايلس د پېښې نه وروسته هغه څه چې ورباندې تېر شوي و، په يوه روزنامچه ) ډايري) کې د نېټو سره ليکلي او خپاره کړي و. د عجب خان او د شهزاده خان له خوا داسې هيڅ نه و ليکل شوي او څه چې دده زوی ويل هغه شفاهي د پلار نه اورېدلي و. تاسو خبر يئ چې انساني حافظه د تېرو پېښو ټول حال کټ مټ ياد نشي ساتلی او د وخت په تېرېدو په کې د تېروتنو امکان وي.

د ډاکيومينټري فلم د هغو فلمونو برعکس وي چې د يوې کيسې ( فکشن) پر اساس جوړيږي.

## ډاکيو ډرامه

دا د يو ډاکومينټري يا د فيچر پروګرام هغه شکل وي چې اصل پېښې بيانوي خو کردارونه يې فلمي ستوري لوبوي.

www.safahaleem.com

د عجب خان او د ایلس په کیسه ممکن داسې فلم جوړ شي چې د هغه وخت هره پېښه په کې بې له افسانې ځای شي. د بېلګې په توګه د ایلس د کیریکټر لپاره یوه اصلي انګریزه جینۍ چې شکل یې هغې ته ورته وي دا رول ولوبوي. د عجب خان رول یو داسې کس ولوبوي چې نه یوازې کړه وړه یې د هغه په څیر وي بلکه ژبه ( لهجه) یې هم د اپرېدو وي. شهزاده خان دې لوړ دنګ او څیره یې ده ته ورته وي. د امیر امان الله خان دربار د هغه وخت سامان ولري او د انګریز پوځیانو لباس د هماغه وخت واوسي. په ډاکیوډرامه کې د فلم جوړونکولپاره یو څه نرمښت شته. د بېلګې په توګه که څوک تېراه پر ځای ددې فلم بندي یو بل ځای کې وکړي نو کولی شي. همدغسې د قتل یا د جنګ پوره حال په الفاظو کې بیانولی شي. هڅه کېږي چې په داسې یو فلم کې دروغ نه وي اوتوازن او د انصاف نه کار اخیستل شوی وي.

دداسې فلمونو لپاره ډېر خلک پکار بوخت وي او د تاریخ د پاڼو نه د هغه وخت د لباس او د ژبې په اړه پوره څېړنې کېږي او وروسته ترې ډرامه جوړوي. زیات وخت دا ژانر د تاریخ د ځینو پېښو د راپورپروخت کارېږي.

دډاکیوډرامې د جوړولو ځینې شرایط دا دي:

۱. هغو پېښو او واقعیتونو ته دې پام وشي چې په حقایقو ولاړ وي.

۲. د تاریخ د یوې پېښې د بیانولو لپاره ادبي او د کیسې د ویلو ټیکنیک نه دې کار واخیستل شي.

۳. د کیسې د روښانه کولو او واضح کولو لپاره واړه بدلونونو ځای پیدا کېدای شي خو دومره نه چې د کیسې توازن پرې زیانمن شي.

۴. په ډاکیوډرامه کې د خپل نظر ورکولو ځای نه وي او نه په ځینو پېښو ژورنالیست خپل نظر ورکولی شي.

۵. ډاکیو ډرامه د تاریخي افسانې نه توپیر لري. په تاریخي افسانه کې لیکوال لکه د نورو کیسو د ځان نه ډېر څه لیکلی شي.

## د موادوایډېټ

www.safiahaleem.com

لکه چې د هرې یوې څېړنې، فیچر، ډاکیومنټري او ډاکیو ډرامې پلان ضرور وي ، هماغسې ددې د موادو پاکو او چاڼول تر ټولو زیات وخت نیسي. د مرکو اورېدل او له هغوی د کار خبرې رااېستل دي چې د راډیو په ژبه کې ورته اېډیټ وایي د تلویزن او د ویبپاڼو د فلمونو نه اسانه وي خو د کارخبره تراوربېدونکو رسول د ښه او کمزوري ژورنالیست تر منځ توپیر واضح کوي. په ورځپاڼه کې دا د فیچرلیکونکي یا جوړونکي په استعداد او صلاحیت پورې اړه لري چې څومره ژرخپل کارپوره کوي.

## انشایه- کالم

کالم د یوې ورځپاڼې مستقل برخه وي او زیات وخت د کالم لیکونکي په نوم شهرت لري. په دې کې د لیکوال خپل نظر څرګند وي.د ژورنالیزم نورې لیکنې د کالم نه په دې توپیر لري چې دلته په لږو الفاظو یو مضمون ته پام شوی وي اولیکوال د خپلو نظریو له کبله پېژندل شوي وي. انشایه یا کالم په هر موضوع لیکل کېدای شي. د بېلګې په توګه د ورځې مهم خبر، سپورټ، یا خواړه، روغتیا او ګډې وډې خبرې چې طنزیه لیکنه وي.

د انشایې یا د کالم یوه بېلګه د افغان لیکوال نجیب منلي هغه لیکنه ده چې په( د ۲۱۲۱-سپتمبر، اکتوبر) کې په افغانستان کې پر پاکستاني ورځپاڼو د بندیز له فیصلې وروسته خپره شوه او ترې په مننې چاپوو:

## په مطبوعاتو بندیز

**د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د تېرې جمعې ورځې راهیسې پر پاکستاني ورځپاڼو بندیز لګولی دی. افغان حکومت دا پر بکره په دې پلمه کړې ده چې ګواکې پاکستاني ورځپاڼې په افغانستان کې د جګړې اور ته لمن وهي او د وسله والو مخالفینو د پروپاګنډې له پاره زمینه مساعدوی.**

**همدا څو ورځې مخکې چې د یو امریکایي افراطي له خوا اسلام ضد ویډیویي فلم پر لیکه شوی و، د افغانستان د مخابراتو او مالوماتي تکنالوژۍ وزارت پر یوټیوب، ګوګل او جي – میل باندې هم محدودیتونه وضع کړي وو.**

**دا دواړه پېښې که له تخنيکي پلوه سره ورته دي، دواړه مالوماتو ته د افغانانو د لاسرسي پر اساسي حقونو بلوسېدل بلل کېدای شي خو د رسنيو د ازادۍ د ارزښتونو په رڼا کې په يو ډول نشي ارزول کېدای..**

**د افغانستان حکومت په حقه ادعا کوي چې تر ټولو لويه لاسته راوړنه يې د مطبوعاتو ازادي ده. سره له دې چې افغاني مطبوعات لا تر اوسه، د خپلې لنډې او ناکاملې تجربې له امله، ګڼې خامۍ لري، په هيواد کې د زور خاوندان (په حکومت کې دننه او له حکومته دباندې) د مطبوعاتو د ازادۍ پر وړاندې کافي زغم نه لري او ستونزې ورته جوړوي، افغان مطبوعات له ډېر ازاد چاپيريال څخه برخمن دي. د اسيا په کچه، د مطبوعاتو د ازادۍ پر بنسټ افغانستان په دريم يا څلورم مقام کې راځي : په هند او جاپان کې د مطبوعاتو ازادي يو منل شوی حقيقت دی، په اسراييلو کې که مطبوعات ازاد هم دي د هغه ځای عرب وګړي له دې ازادۍ محروم دي. پاتې شو افغانستان چې، له ستونزو سره سره، مطبوعات په کې، ان د بې بندوبارۍ تر کچې، پوره ازادي لري.**

**پاکستانۍ ورځپاڼې ، مجلې او الکترونيکي رسنۍ، ښې دي که بدې، ښکاره ده چې پاکستانۍ دي. هر افغان چې دا مطبوعات لولي او ويني پوهېږي چې اوبه يې څومره خړې دي. که دا رسنۍ بندې هم شي، دا به تر کومه حده د منلو وړ وي چې د مخالفينو د پروپاګنډې مخه نيول شوي ده؟ په افغانستان کې د چاپي رسنيو د نفوذ کچه څومره ده؟ په هيواد کې څومره وګړي ورځپاڼو او مجلو ته لاسرسی لري او په دې شمېره کې بيا پاکستانۍ ورځپاڼې کومه سلنه جوړوي؟ دې پوښتنو ته که هر څومره په ناغيرۍ هم ځواب وويل شي، دا جوته ده چې د افغانستان د حکومت دغه اقدام د افغانانو د امنيت په ښه کولو کې هيڅ اغيز نه لري. د افغان حکومت وسله وال مخالفين په ازاده توګه کولای شي چې خپل هر ډول تبليغات د کورنيو رسنيو له لارې وکړي او په دې برخه کې به ورسره يو شمير حکومتي چارواکي هم د زړه له خلاصه همکاري ولري. هغه نور ارتباطي وسايل چې د مخالفينو په واک کې دي او حکومت يې د بندولو واک هم نه لري، هغه خو لا پر ځای پر پرېږده.**

www.safiahaleem.com

**په داسې شرايطو کې، د يو هيواد پر رسنيو بنديز لګول، پرته له دې چې د دغه هيواد حکومت ته د بې ځايه او بې منطقه زور ښوولو هڅه و بلل شي بل شي نشي کېدای.**

**د پاکستان حکومت، کله نا کله، پر افغاني رسنيو بنديزونه لګوي او موږ تل د هغوی دغه ډول اقدامات غندلي دي. که د هغوی دا ډول اقدامات د غندنې وړ وي نو زموږ ورته اقدامات به څنګه توجيه کړو؟ هغوی خو به يوه پلمه ولري چې ګواکې مطبوعات يې، لکه څنګه چې ښايي، ازاد هم نه دي، خو موږ خو بيا ځان په دې ډګر کې قهرمان هم بولو.!**

**په مقابل کې، د يوې لنډې مودې له پاره د هغو سايټونو بندول چې محتوا يې په آني او فوري ډول د هيواد امنيتي حالات و يجاړولای شي يوه معقوله چاره ده..**

**مطبوعات چې ازادي يې د اساسي قانون پر بنسټ تامين شوي ده، مسووليتونه هم لري. دغه مسووليتونه د قانون په چوکاټ کې او د منل شويو اخلاقي اصولو په رڼا کې ټاکل کيږي او دا تمه کېدای شي چې رسنۍ ورته په داوطلبانه ډول غاړه کښيږدي. که چيرې رسنۍ خپل مسووليت و نه مني بيا ټولنه کولای شي چې د قانون له لارې خپلې لوړې ګټې خوندي کړي. پرته له دغه يواځيني حالته، د مطبوعاتو پر ازادۍ او مالوماتو ته د خلکو پر لاسرسي د هر ډول محدوديت لګول يو بې ګټې، تاواني او ناقانونه کار دی. دا کار که هرڅوک کوي بايد چې و غندل شي.**

**موږ هغه وخت ځان ازاد بللای شو چې د نورو ازادۍ ته هم په درنه سترګه وګورو.**

پای

د ښه کالم ليکلولاندينې شرايط وي:

۱. موضوع تازه او خبري وي.

۲. ليکنه لنډه، ژبه يې ساده او د عام ولس د پوهې سره برابر وي.

۳. د تشو الفاظو پر ځای په کې لوستونکي په فکر او سوچ مجبوره کړي.

۴. د شعارونو او فلسفسيانه خبرو پر ځای حقايق په کې بيان شوي وي.

www.sajjalaeem.com

## کره کتنه

مطالعه د ژورنالیزم سره هماغسې تړلې ده لکه نوک او غوښه. د ژورنالیست یوه دنده د لیکلي موادو لوستل او هغې ته کره کتنه کول وي. که دا یې د کار برخه هم نه وي، هره ورځ څو ورځپاڼې لوستل، د لیکنو سنجول او پرې خبرې کول د ورځې د کارونو نه بېلېدی نشي. هم په دې تاسو د لیک نوې سبک نه خبرېږئ، هغه خبر چې تاسو پرې راپور جوړ کړی وي، په بل ځای کې ګورئ چې هغوی پرې څنګه کار کړی دی.

## ورځپاڼې

د راډیو او د تلویزون لویې نړیوالې ادارې کله کله د خپلو خبري پروګرامونو د برخې په توګه د هغې ورځې مهمو ورځپاڼو ته کتنه کوي چې "پریس ریویو " یا تش "پریس " په نوم یادیږي . ددې لپاره په راډیو کې د دوو نه تر دریو دقیقو وخت ټاکل شوی وي او هدف یې دا وي چې د ورځې مهمې پېښې ورپه ګوته کړي چې نورو خپرونو پرې څه لیکلي دي. په تلویزون د شپې ناوخته د بل سهارد ورځپاڼو سرخبرونه ښکاره کیږي یا ژورنالیست یې لولي چې کتونکو ته د خپرونو اندازه وشي.
ورځپاڼې زیات وخت د سیالۍ له کبله په نورو پاڼو تبصره نه کوي. د ښه پریس لیکلو لپاره څو شرایط دي:

۱. د تبصرې لپاره لږ تر لږه درې ورځپاڼې مو لوستې وي او په دې کې د ورځې د مهمو خبرونو په اړه د ورځپاڼو له زاویې خبر یئ.
۲. یوازې هغه خبرونه د تبصرې لپاره په نظر کې وساتئ چې ستاسو خپلو خبریالانو پرې راپور نه وي جوړ کړی.
۳. د ورځپاڼو اداریه ( ایډیټوریل) مهمه لیکنه وي او له هغې مو څو جملې د بېلګې لپاره را اخیستې وي چې ستاسو لیکنه پرې منطقي شي.
۴. که په یوې پاڼې کې داسې عکس خپور شوي وي چې پوره کیسه بیانولی شي نو د هغې ذکر پکار دی. کله یو کارټون د لارې پیغام ورکړل شوي وي او که کولی شئ نو په ښو الفاظو یې اوربدونکو ته بیانولی شئ.

www.safaraleem.com

۵. د يوې او د بلې پاڼې د ليکنو په اړه هم توازن پکار وي او داسې دې ونشي چې يوې پاڼې ته زيات وخت ورکړئ او بل ته لږ،خپلې جملې داسې وليکئ چې اوربدونکې ورځپاڼې لوستو ته ليواله شي. دلته پوښتنه کېدای شي چې مونږ ولې چا ته تبليغ وکړو. ددې په ځواب کې زما پوښتنه دا ده چې که څوک ستاسو د تبصرې د لارې ورځپاڼې لوستلو ته راوهڅول شي نو تاوان يې څه دی؟

## په کتاب تبصره

په پښتو کې اوس د نويو کتابونو چاپېدل ډېر شوي دي خو د لوستونکو شمېره بيا هاغومره نه ده ډېره شوې. يو علت يې دا دی چې خلک د کتاب له خپرېدو نه خبرېږي. دا د ميډيا کار وي چې نوي کتابونه خلکو ته وروپېژني. په لويو خپرونو کې ځانګړي ليکوالان ددې لپاره پکار بوخت وي چې کتابونه ولولي او پرې تبصره وکړي. ځينې ورځپاڼې د اوونۍ په يوه ټاکلې ورځ لکه د چوټۍ په ورځ ځانګړي پاڼو کې نه يوازې په کتاب تبصره کوي بلکه کله کله د ليکوال د مرکې سره يې خپروي.

په يو کتاب د تبصرې لپاره هم شرايط دي:

۱. هغه چاپي ادارې چې کتابونه خپروي، ورته خپل نوم اوپته ورکړئ چې نوي کتابونه درته مدام راليږي. ځينې ادارې درنه پوښتنه هم کوي چې تبصره به په کومه ورځ خپرېږي. تاسو چاپ شوي پاڼه ورته ليږلی شئ.

۲. د کتاب له لوستلو وروسته يوه جمله وليکئ چې څه ډول کتاب دي او په لوستلو درته څه راياد شول.

۳. د کتاب په اړه يوه يا دوه داسې خبرې وليکئ چې ستاسو په نظر ښې وې او ستاسو خوښې شوې. دا هم وليکئ چې دا خبرې مو ولې خوښې شوې. يو يا دوه هغه خبرې وليکئ چې ستاسو خوښې نشوې او ورسره دليل هم وليکئ چې ولې مو خوښې نشوې.

۴. که په کتاب کې څه داسې نه و چې ستاسو نه وي خوښ نو بيا ليکوال ته مشوره ورکولی شئ چې څه پکار و. د بېلګې په توګه که "طنز" په کې ښه ليکل شوي وي نو تاسو ويلی شئ چې که دا نور هم وې نو ممکن د کتاب خوند به يې لا زيات کړی وي. چرې هم ليکوال

ته د لړو مشوره مه ورکوئ. د بېلګې په توګه " کاشکه کيريکټرونه په کې لږ وي " يا " کيسه يې رالنډه کړې وي ".

۵. د يو کتاب خوښول يا نه خوښول ستاسو شخصي کار دی. که يو ليکوال تاسو له نژدې پېژنئ او يا مو ملګري وي يا فکر کوئ چې د هغه سره به انصاف نشئ کولی نو هغه کتاب بل چا ته د تبصرې لپاره ورکړئ.

## په فلم تبصره

د پښتنو په سيمه کې د شلمې پېړۍ د پای راهيسې سينما ته تګ او په کې معياري فلم کتل يوه ناشونې کار ګڼل کيږي. خو په ويډيو د نويو فلمونود کتلو مخه هيچا نه ده نيولې او که تاسو ته خپلې ادارې په فلمونو د تبصرې کار سپارلی دی نودا مو په پام کې وي چې هغه فلم چې تاسو پرې تبصره کوئ، بايد نوی وي او له نورو وړاندې تاسو ليدلی وي. هماغه فلم غوره کړئ چې ستاسود ټولنې په معيار برابر وي او ستوري يې پېژندل شوي خيرې وي. د فلم جوړوونکي او د کيسې ليکونکي نومونه ارو مرو ياد کړئ. که فلم سندرې لري نو د شاعر يادونه او د موسيقۍ د ترونکي ذکر هم وکړئ. ددې نه علاوه ددې فلم بندي، مکالمې يا ډايلاګ او منظرو په اړه هم وليکئ.

**ځيړنه او پلټنه د ژورناليزم بنسټ جوړوي**

www.samraleem.com

# اوومه برخه

www.safiahaleem.com

# په دې برخه کښې

## ولسي ژورنالیزم

واکس پاپ

د واکس پاپ ځای

د واکس پاپ شرایط

نالیکلی پیکیج

د خلکونظر

ولسي غږ نوي وسیلې

ویب فورم

بلاګ

د خلکوعکاسي

ویکي لیکس

د پټو( مخفي) سر چینو ساتنه

www.safiahaleem.com

# ولسي ژورنالیزم

د خپلو خبرو د رسولو لپاره ځوانان اوس په کمپیوټر کې دننه ډېرې لارې لري. د "فیسبوک " "ټویټر " او ټویټ د لارې دخپل ژوند، احساساتو او اندېښنو نه نور ملګري خبروي. په دې ټکنالوژۍ اوس ولسونه کولی شي چې پخپلو ملکونو کې سیاسي بدلون راولي چې بېلګې یې د تونس او د مصر پاڅون و. خو تر څو چې د ا ټکنالوژۍ په وروسته پاتې ملکونو کې هم د ځوانانو لاس ته رسېږي، ژورنالیست اړ دی چې پخپلو خپرونو کې د هغو خلکو نظر ته ځای ورکړي چې څوک یې نشي اوریدې.

ژورنالیست د حکومت او د ولس تر منځ د یو پله حیثیت لري اود ډېرې پېښې نیغ په نیغه د خلکو په ژوند اغیز شیندي. که داسې وي نود پېښې په اړه د ولسي وګړو نظر اخیستل کیږي چې په ژورنالیزم کې د خلکو غږ یا د واکس پاپ په نوم پیژندلې شي. ددې لپاره چې ددوی له اندېښنو نور اولس او یا چارواکي خبر شي، ژورنالیست د عامو خلکو نظر اخیستو لپاره ترې یوه پوښتنه کوي. دا پوښتنه او ددې ځوابونه "واکس پاپ " نومیږي او زیات وخت د یو راپور د برخې په توګه په کې ځای کړل شي.

راپور

**خبریال: په ګردیز ولایت کې یو روزنیز مرکز پکار پیل کړی دې، چې ماشومانو او ځوانانو ته په کې په بېلابېلو برخو کې وړیا زده کړې ورکول کیږي. دغه روزنیز مرکز دولایت اوسېدونکي طاهر خان بیټني، چې زیات وخت یې په امریکا کې تېر کړی، په شخصي لګښت جوړ شوی دی . په دې مرکز کې د دیني علومو ، د سینما هنر ، ادب ، ریاضیاتو ، کمپیوټر ، رسامۍ او انګلیسي ژبې په برخو کې زده کړې ورکول کیږي . تر اوسه ۶۵۰ تنه ماشومان او ځوانان په دې مرکز کې شامل شوي ، زمونږ خبریال د ښاغلي بیټني نه وپوښتل چې دا مرکز یې څنګه جوړ کړو؟:**

www.safiahaleem.com

**بیټنې. ټول عمر مې په پردي وطن کې خوارۍ مزدورۍ وکړې. اوس غواړم چې خپلو خلکو ته څه ګټه ورسوم. زمونږ هېواد جنګونو او وچ کالیو ځپلی دی او خلک یې ډېر بې وزله دي. پخپل کلي کې راته ځوانانو وویل چې دوی د زدکړو نه بې برخې پاتې دي اوس غواړي چې څوک ورسره مرسته وکړي نو دوی ځان ته د روزي ګټلو جوګه شي. هماغه ده چې په دې مرکز کې هغو کسانو ته د داخولې حق دی ، چې د اقتصادي ستونزو له امله په نورو کورسونو کې زده کړې نشي کولی.**

**خبریال: په دې مرکز کې ، چې د یوې اندازې قرطاسیې او فرنیچر مرسته ورسره والي هم کړې ده ، د اتو استادانو لخوا په دوو وختونو ( د سهار له اتو تر ۱۲ او له غرمې وروسته له یوې تر څلورو بجو) تدریس کیږي. د ګردېز ددې مرکز سره مرکزي حکومت هم مرسته کړې ده او په دې لړ کې د والي د دفتر یو ویاند وویل:**

**ویاند: دا مرکز دګردیز د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست سره په همغږۍ جوړ شوی دی . ددې مرکز جوړېدل د ځوانانو د پوهې د کچې د لوړېدو لپاره یو ښه ګام دې.**

**خبریال: په دې روزنیز مرکز کې شامل کسان هم خوښ دي، چې په وړیا ډول د زده کړو امکانات ورته برابر شوي دي . په پام کې ده چې دوه سوه ښځینه او ۱۵۰ نور نارینه زده کوونکي په دې مرکز کې شامل شي.**

په دی راپور کې څه نیمګړتیا شته؟ د کومو خلکو لپاره چې مرکز جوړ شوی دی،په هغوی کې دچا غږ ( نظر) اخیستل شوی دی؟

## واکس پاپ

د عاموخلکوغږ چې په ژورنالیزم کې واکس پاپ نومیږي د یو راپور خوند د زیاتولوسره سره ددې توله برابره ساتي. ددې نه علاوه دا څرګندوي چې د خپرونو لپاره د خلکو نظر مهم دی، په تېره بیا د هغو خلکو لپاره چې په یوې پېښې یا افرادو له خوا زوریدلي وي.کوم مطبوعات یا راډیوګانې چې د خلکوغږ ته په خپرونوکې ځای ورکوي، د هغه اعتبار زیاتیږي. تر ټولو ښه کار په کې دا دی چې د خلکو غږونه راټولول د ژورنالیست لپاره یوه ارزانه، اوپه زړه پورې دنده وي چې معلومات پرې تر لاسه کیږي.

## د واکس پاپ ځای

سره له دی چې ولسي غږ د يو راپور باور لا پياوړی کوي، مونږ په يو وخت کې د پنځو يا شپږو غږونو نه زيات نشو کارولی. زه تل نويو زده کونکو ژورناليستانو ته وايم چې د دې غږونو ښېلګه لکه په کټوی کې د مالګې په شان وي. کله چې مالګه زياته شوه، پخلی مو، بی خونده کیږي. داسې غږونه د يو څو خلکو نظر وي او په دې مونږ څه نتيجه نشو اخيستی. دا يوه ساينسي ارزيابي هم نه وي چې ترې د ټول ولس په اړه څوک قضاوت وکړي. خو اوريدل يې خلک فکر ته اړباسي.

## د واکس پاپ شرايط

**١. يوه داسې موضوع غوره کړئ چې خلک پرې نظر ولري. داسې موضوع مه اخلئ چې خبرې کول پرې ګران وي.**
**٢. هڅه وکړئ چې د ټولنې د هرې طبقې خلکو نه موپوښتنه کړې وي. په دې کې ښځې، سړي، بی سيواده او تعليم يافته، زوړ او ځوان ټول شامل وي. زاړه خلک ښه ځواب ورکوي.**
**٣. که موضوع د يوې ډلې په اړه وي لکه د تعليم يا د لوبو ، نو بيا د محصلينو ، استادانو او ځوانانو سره پرې خبرې کولی شئ.**
**۴. په داسې حالاتو کې خلکو ته مايکروفون يا کيمره مه نيسئ چې دوی درته پام ونه کړي. لکه د باران يا واورې پر وخت، يا په سور لمر کې.**
**۵. داسې خلکو نه پوښتنه مه کوئ چې په تادۍ کې وي.**
**۶. خلکوسره مودب واوسئ اوپه ملګر تيا اوخندا ددوی پام ځان ته را واړوئ. ښځينه ژورناليسته که په بازار يا ګڼه ګوڼه کې ولاړه وي نوخپل چاپيريال دې په نظر کې وساتي چې په منفي توګه د خلکو ورته پام ونشي.**
**٧. که څوک درسره خبرې کول نه غواړي، نومننه ترې وکړئ او خپل کار ته دوام ورکړئ. ښه اخلاق د ژورناليست نوم لوړوي.**

**۸. پرانستې پوښتنې وکړئ. داسې پوښتنې چې "هو" یا "نه" یې ځواب وي ستاسو پکار نه دي. له ټولو کسانو یوه پوښتنه وکړئ.**

**۹. کله کله یوه پارونکې پوښتنه ښه ځواب را وزیږوي خوپه ځواب کې د چا سپکاوی یا ښکنځل د خپرولو وړنه وي.**

**۱۰. تر ټولو ښه، لنډ اوغښتلي ځوابونه د راپور په پیل او پای کې وکاروئ.**

**اوس د لومړي راپور هغه برخه ولولئ چې د ولس نه په کې پوښتنې شوې دي:**

**د سیدخیلو د بازار اوسیدونکي او د شهید عبدالقیوم د منځني ښوونځي د نهم ټولګي یو زده کوونکی وایي چې پلار یې څو کاله وړاندې له نړۍ سترګې پټې کړي او له دې امله چې کورنۍ یې اقتصادي ستونزې لري ، د پیسو په بدل کې په کورسونو کې زده کړې نشي کولی.**

**۱۹کلن محمد صبور وویل چې که دا مرکز نه وای جوړ شوی ، ده نه شوای کولی چې د اقتصادي ستونزو له امله په کورسونو کې زده کړې وکړي ، ځکه چې د پیسو د ورکولو توان نه لري. نوموړي زیاته کړه چې په سیدخیلو کې شخصي کورسونه هره میاشت د انګلیسي د ابتدایي زده کړو په بدل کې ۱۵۰ او د کمپیوټر د یوې میاشتې ابتدایي زده کړو په بدل کې ۳۵۰ افغانۍ اخلي.**

**دغه راز د سیدخیلو د بازار لیسې د اتم ټولګي زده کوونکی ۱۸ کلن محمدریاض هم په یاد شوي روزنیز مرکز کې له شاملو کسانو څخه دی . ده له دې امله، چې په یاد شوي روزنیز مرکز کې د زده کړو زمینه ورته برابره شوې، خوښي څرګنده کړه او له هغو کسانو څخه ، چې ددې مرکز په جوړېدو کې یې هڅې کړې دي مننه وکړه.**

په دی کې شک نشته چې دا ټولې خبرې د ولس د غږ یو شکل دی. ټول ځوابونه راته ښایي چې د سید خیلو اوسېدونکو محصلینو نه ددې مرکز په اړه پوښتنې شوي دي. خو له دوی به کومه پوښتنه شوې وي؟ له ځوابونو دا څرګندیږي چې پوښتنه عمومي وه.

لکه ....ددې مرکز په اړه تاسو څه نظر لرئ؟

یا ...دا مرکز درته څومره ګټور دې؟

www.safiahaleem.com

که تاسو ددې راپورلپاره د ولسي غږونو د راټولولو دنده لرئ نو څنګه پوښتنه به کوئ؟ ددې لپاره تاسو د راپورموضوع او ددې هدف ته پام وکړئ.

ولې مونږ ددې مرکز په اړه راپورجوړ کړو؟

په دې راپور به چا ته ګټه رسیږي؟

داسې خو به نه وي چې زمونږ راپورددې مرکز لپاره یواعلان په څیر وبریښي. مونږ خبریږو چې ددې مرکز په جوړولو کې د حکومت له خوا هم مرسته شوې ده خوراپور داسې پیل شو چې ګنې مرکز د ښاغلي بیتني په پیسو جوړ شوی دی. دویم ، د مرکز په جوړولو کې ممکن دنورو ادارو لاس هم وي. له هغې به څنګه خبریږو؟

د ولس نه پوښتنه یوازې ددې مرکز د ګټې په اړه ضرور نه ده ځکه یوه واضح خبره ده او تکرار یې لازم نه دی،دا پوښتنې څنګه ښکاري؟

په دی سیمه کې ډېرو خلکو ته د روغتون او د ښځو د پاکو اوبو اسانتیاوې نشته نو د روزنیز مرکز ته څه اړتیا ده؟

یا ،دې روزنیز مرکز له جوړیدو وړاندی محصلینو څه کول؟

یا،د روزنیز مرکز پر ځای محصلین په ښوونځیو کې ولې دا مضمونونه زده کوي؟

د ورځپاڼې واکس پاپ

په ورځپاڼو کې د خلکو د نظرد خپرولو بېلا بېلې لارې دي. یوه دا چې د کومې موضوع په اړه چې له خلکو نظر اخیستل شوی وي، د هغې متن یوې خوا ته په کړکۍ کې یا په سر کې په تورو غټو تورو دې چاپ شي. وروسته د هغو خلکو ځوابونه ددوی د نومونو سره ځای شي. که څوک وغواړي او وګړي ورته غاړه ږدي نود دوی عکسونه هم چاپولی شئ. د ورځپاڼو یوښه والی دا دی چې هلته زیاتې خبرې ځاییدلی شي. خو هماغومره یې چاپ ته وسپارئ چې د لوستونکو لپاره په زړه پورې وي.

## نالیکلی پیکیج

په هغو سیمو کې چې ولس یې لیک او لوست نه وي کړی، د راډیو ژورنالیستان راپور د لیکلو پرځای په شفاهي( زباني) توګه خپروي. ددې ښه والی دا دی چې په ژبه کې یې ډېرې ګوتې نه وي وهل شوې او خلکو چې څنګه خبرې کړی وي هغه اوریدونکو ته رسیږي. په افغانستان کې د ۲۰۰۱ م د پېښو نه

وروسته د ژورنالیستانو د روزنې کار پیل شو. هغه وخت ډېرو ځوانانو دا ستونزه لرله چې د جنګونو له کبله د رسمي زدکړو نه لیرې پاتې شوي و او ډېرو په کې د راډیو سکرېټ نشو لیکلی. خو دوی د مرکو کولو ، د موادو د راټولولو او د ژورنالیزم پوهه لرله.

د نالیکلي پیکیج لمنه ډېره پراخه نه وي اود عادي خلکو د ژوند ژواک په اړه معلومات په کې ځای شيږ د بېلګې په توګه، په جنګ کې دخلکو د ژوند حال، د یوې مېرمنې د میړانې کیسه، د یو سړي غیر عادي مسلک او لاس ته راوړنې دنالیکلې پیکیج ( راپور ) د لارې خپرېږي. دداسې پیکیج لپاره ژرنالیست باید د مرکې د ایډیټ کولو ښه استعداد ولري او خپله ژبه یې ډېره روانه وي. د ۲۰۱۰ م کال په سر کې د مصر د مظاهرو ځینې راپورونه په دې توګه هم تر لاسه کیدل.

اډیو او ویډیواو لیکلې ډایري

دا دولسي ژورنالیزم هغه بڼه ده چې د شلمې پېړۍ په وروستیو کلونوکې دود شو. دا نوې برخه کې هغه وخت رامنځ ته شوه چې د خبرونو ورکولو وسایل لکه ګرځنده ټیلیفون، او ډیجیټل کیمرې د هر چا لاس ته ورغلې. خلکو د خپل ژوند وړې وړې پېښې د یو بل سره شریکول پیل کړل. لویو راډیوګانو او تلویزنونوله دې ګټه واخیسته. د دوی له خوا په ځینوځایونو کې هغو کسانو ته د ثبت او د فلم جوړولو وسایل ورکړل شول چې له نورو لېرې و. د عادي خلکو دا راپورونه د ژورنالیست په مرسته خپرېدو ته برابر شي.

د نړۍ پرمختللې میډیا او په تېره بیا تلویزن داسې ځانګړي پروګرامونه لري چې د یو کس د ژوند انځور په کې ښکاري. که تاسو د داسې پروګرام جوړونکي یئ نو لومړی به هغه کس ته روزنه ورکوئ چې تاسو ته د بصري ( تصویري) یا صوتي ( غږیز) مواد راټولوي.د دې لپاره څو شرایط دي، د بېلګې لپاره به مونږ دې کس ته یو نوم ورکړو،تنویر

۱. له هرڅه وړاندې تاسو به تنویر وپیژنئ چې ژوند یې د نورو خلکو لپاره په زړه پورې دی او که نه؟ بله دا چې د خپل ژوند ناخرګند اړخ نه له نورو سره شریکولو ته اماده دی او که نه. په ده باور کېدې شي او لکه د یو ژورنالیست کار کولی شي؟

۲. ده ته به د دې کار څومره حق الزحمه ورکوئ؟

۳. تنویر څومره دثبت په وسایلوکار کولی شي؟

۴. هغه موده چې تنویر درته مواد ثبتوي، په دې کې څه ستونزې شته؟

۵. دا مواد په څومره وخت کې تنویر تاسو ته رسولی شي؟

۶.ایا ستاسو اداره خبره ده چې تنویر درته مواد راټولوي؟
د اډیو یا ویډیو ډایري پروګرام ډېر په دقت جوړول پکار وي ځکه تاسو تنویر ته لکه د ژورنالیست روزنه ورکړې ده خو بیا هم دا کس ژورنالیست نه دی او کېدای شي چې ځینې داسې خبرې ثبت کړي چې د چا سپکاوی په کې شوې وي.
هغو لرې پرتو یا خطرناکه ځایونو ته چې ژورنالیست پخپله نشي تلی، یوې ادارې له خوا ځایي کسانو ته د غږ دثبت او د فلم جوړولو اسانتیاوې ورکړل کیږي چې دوی په یوې موضوع یا ستونزه څو ورځې کاروکړي او هر څه ثبت کړي.وروسته دا فلم یا ثبت شوي مواد ژورنالیست پخپله ګوري یا اوري او د خپرولو لپاره یې برابروي. د داسې ډول راپورونو غوښتنه د وخت د تېرېدو سره نوې بڼه موندلې ده او ځینوعادي کسانو په دې لاره د ژورنالیزم مسلک سره مرسته کړې ده.
ځینې خلک د خپل ورځني ژوند حال په ډایرۍ کې لیکي او په پرمختللو ملکونو کې ډایري لیکل یوه عامه خبره ده.  د پخوانو خلکو د روزنامچو نه د هغه وخت د تاریخ ځینې ناڅرګندې خبرې هم په ډاګه شي چې د لوستونکو لپاره په زړه پورې وي.  په شلمې پېړۍ کې د یوې یهودی جینۍ  "این فرینک " ډایري په څو ژبو کې ژباړل شوې ده چې په هالېنډ کې د خپلې کورنۍ سره د یو کور په بام کې پټه وه. په دې کې د هغه وخت د یوې ماشومې د خولې مونږ خبرېږو چې خلک څومره په وېره و او د خوراک نه واخله تر شپې وېده کېدو پورې به دوی څومره اندېښمن و.
د ۲۰۰۷ م  د خیبر پښتونخوا په سوات سیمه کې د جینکو د ښوونځیو سوځول او ورانول پیل شول و خو د نړۍ لږ خلک ترې خبرېدل.ان چې په ۲۰۰۹ م کې خلک له وېرې د خپلو کورونو نه په تېښته شول.  هغه وخت د بي بي سي د اردو خپرونو یو ژورنالیست د تعلیم او د ښونځیو د حالت په اړه د یوې ماشومې لیکنې تر لاسه کړې. ددې لپاره چې څوک ورته تاوان ونه رسوي، " ګل مکۍ  " نوم یې ورله ورکړو.  په سوات کې د پوځي عملیاتو نه وروسته کله چې خلک بېرته خپلو کورونو ته ولاړل او حالت عادي شول نو ګل مکۍ د خپل اصل نوم  " ملاله یوسفزۍ " سره د خپرونو سره خبرې پیل کړې او وروسته یې یوه جایزه هم وګټله.  په یوې داسې سیمې کې چې جنګ په کې روان وي، د یو کس د ژوند حال د ډایرۍ د لارې خلکو ته رسیږي اود ولسي ژورنالیزم یوه بڼه ده.

## د خلکونظر

د نړۍ ټولې ښې ورځپاڼې یوه یا نیمه پاڼه د خلکو د نظر لپاره ټاکلې وي. په دې کې د ولس عام وګړي په یو خبر، پېښې یا د خپلو مشکلاتو په اړه لنډه لیکنه کړې وي. زه چې کله هم یو ملک ته په لومړي ځل ورځم نو اخبار ارو مرو اخلم او په دې کې د خبرونو نه علاوه د خلکولیکنې لولم. دا د هغې ټولنې یوه هینداره وي چې یو ځوک د ستونزو نه خبر شي. په ځینو ملکونو کې چې میډیا خپلواکه نه وي، بیا هم د خلکو په لیکلي نظر کې ډېر څه نه وي سانسورشوي.

## ولسي غږ نوي وسیلې

په ۲۰۰۹ م په یوې سروې نظر پوښتنه کې په ډاګه شوه چې د ځمکې په سر د انسانانو څلورمه برخه نوې ټکنالوژۍ کاروي. په افغانستان کې تر ۲۰۱۱ میلادي کال پورې هم یوازې ۱,۵ في صده خلکو د انټرنیټ اسانتیاوې لرلې خو دا شمېره په ډېرېدو ده. په نیټ کتابونه، موسیقي، فلمونه او هغه هر څه چې یو وخت د څو کسانو په اختیار کې و، د ډېرو خلکو لاس ته ورغلي دي.

یو وخت و چې د راډیو اورېدونکو به خپل نظر د لیکونو د لارې څرګند کړو. هغه لیکنې چې به په هرډول لیکل شوې وې، اصلاح به په کې وشوه اومعیاري ژبې کې به خپره شوه. په ورځپانو کې به هم د املا او نورې تېروتنې سمې کړې شوې.

د یوې وېبپاڼې دا لیکنه مې تر سترګو شوه چې لیکونکي د یوې ورځپاڼې په راپور یې خپل نظرڅرګند کړی دی، دلته یې کټ مټ خپروم:

> **"د طلوع افغان ورځپاڼې د روان کال په پرله پسې ۱۸۴ ګڼه کې مې د کندهار د چل (چهل) زینو په اړه یو خبر تر سترګو سو، د نوموړې خبر سرلیک په دې ډول لیکل سوی وو: د څلوېښت غرزینو د ترمیم چاري پیل سوې په نوموړې خبر کې لیکل سوې وه، چې د اطلاعاتو او کلتور ریاست غواړي چې نوموړې تاریخي آبده له سره ترمیم کړي، د اطلاعاتو اوکلتور ریاست دغه فرهنګپالنه پر خپل ځای د ستاینې وړ ده، خو زه په نوموړې خبر کې د چل زینو هغه ترکیبي ترجمه سوي نامه ته هېښ سوم، چې د اخبار مسئولینو به تر څونه سوچ وروسته دغه اصل او مروج نوم برناحقه ترجمه کړی وي او هغه ئې په وچ زور د څلوېښت غرزینو په بې خونده ترجمه بدل کړی دئ.**

www.safiahaleem.com

دغه خبر په همدغه شکل د کندهار راډیو تلوېزیون ویب پاڼي ته هم لاره کړې او هورې هم په دغوالفاظو خپور سوی دئ، ما ته دا نه ده معلومه چي طلوع افغان د هغې ویب پاڼي تر تاثیر لاندي دئ او که پر هغې ویب پاڼي د طلوع ژبي سیوری غوړولی دئ؟

خیر هر ډول چي وي وي به خو زه وایم: که د کندهار ښار په کلیوالي سیمو کي یا خپله په دننه ښار کي دغه نوم (څلوېښت غرزیني) یو کلیوال او یا ښاري سړي ته ور یاد سي او ورځخه وپوښتل سي چي دغه ځای دي په کندهار کي لیدلی دئ، زه یقیني یم چي تر خورا اوږده چرت او فکر وروسته به ووایي چي یا، ما په کندهار کي دغه ځای هیڅ نه دئ لیدلی، خو که د هغه اصلي نوم (چل زینه) ور یاد سي، په خورا ورین تندي به هر پوښتونکي ته د هغه ځای ادرس ټکي په ټکي وروښیي. په دغه ډول بې خونده ترجمو به مو قصداً خپل اولس او عوام بې لاري کړي وي، او په ډېر جبر به مو د هغوی په ذهن کي د یوه ځایي تاریخي نوم بڼه ورمسخه کړې وي او یو مصنوعي او ترجمه سوی ترکیب به مو د هغوی ذهن ته په وچ زور ورننه ایستلی وي .د کندهار ښار د ځینو نورو کلیو او سیمو نومونه هم دغه مثال ته په ورته سرنوشت اخته دي او د مطبوعاتو او ځینو شخصي راډیوګانو او تلوېزیونونو د مسئولینو له خوا په غلط شکل لیکل او ویل کیږي، چي زه ئې ځیني مثالونه دلته راوړم:

په لوی لاس کوښښ کیږي، چي د ماله جات مشهور نوم په محله نجات یا محله جات سره واړوي. ځیني بیا غواړي چي د سپیروان ښکلی او روان نوم په وچ زور د میرزایانو په شکل سپید روان ولیکي ځیني ویندویان په شعوري ډول کوښښ کوي چي لویه او کوچنۍ مزره په وچ زور په لویه او کوچنۍ مزرع بدله کړي، همدا ډول اشوغې په عاشقې اړوي. پنجوایي په پنجابایي تلفظ کیږي، کله کله لا دغه د پنجوایي کلمه هغه د علامه حبیبي مرحوم خبره د هندي تلفظ په پېښه په (پنجبهائي) سره اورم. ځیني نور ښاغلي بیا په وچه سرټمبګي د روربات ښکلی نوم په روح آباد سره لیکي اووایي .زنګاوات چي په ټوله معنی یو ښکلی او مرغوب نوم دئ او د کندهار په

**ټوله سیمه کي هیڅ سړی ئې په تلفظ کي مشکل نه لري، قصداً د زنګکي آباد په شکل ورته لیکل کیږي**
**د رواني موزون او مروج نوم د میرزایي پوهي له مخي په لوحاني سره لیکي. د سنګسار نوم چي هم د وزن له پلوه او هم د عام رواج له مخي کومه ستونزه نه لري په وچه سپین سترګي سنګ حصار ځني جوړېږي .د میرزا محمدخان کلاچه چي د ښاروالی د اوسني وېش له مخي د ښار له ناحیو څخه شمېرله کیږي د خپلي پوهي له مخي د میرزا محمدخان په قلعچه اړوي .زه پخپل نوبت د کندهار د مطبوعاتو د ټولو مسئولینو څخه چي د اخبارونو، اونیزو، راډیوګانو او تلوېزیونونو په برخو کي کار کوي هیله کوم چي په شعوري یا غیر شعوري ډول خپل تاریخي نومونه مه راڅخه پردي کوئ، که نه څه زمانه وروسته به راتلونکې نسل د سخت کړاو سره مخ وي چي نوموړي تاریخي نومونه خپل اصلي شکل ته راواړوي. د مطبوعاتو ټول مسئولین باید د یوه مقدس رسالت پر بنسټ د ژبنیو پانګو هراړخیزي غنا ته پاملرنه وکړي او خپلي شتمنۍ په لوی لاس د لاسه ونه باسي".**

لیکونکې. مطیع الله روحیال د بینوا ویب پاڼې نه په مننه

دا لیکنه د یو لوی مضمون برخه ده چې ډېر نوي معلومات لري او یوې مهمې ستونزې ته په کې ګوته نیول شوې ده. خو سره له دې ښایي ځینې کسان به یې ژبه بدلول غواړي. د مضمون ژبه ډېره ولسي ده اوسوچا کندهاري لهجه لري. لیکوال چې څنګه خبرې کوي هماغسې یې لیکلي دي، لکه " خیر هر ډول چي وي وي به خو زه وایم...... "
یو کس د خپل نظر څرګندولو لپاره هماغه ژبه لیکي چې خبرې پرې کوي. د لیکنې هدف څرګند دی او دا ژبه ورته سمه ده. پوښتنه دا ده چې که یو څوک په یوې بلې موضوع د پېښور نه خپل نظرهاغسې ژبه کې ولیکي چې هلته ویل کیږي نو هم دا وبېپاڼه به یې خپره کړي؟ تر ټولو په زړه پورې خبره دا وه چې د بي بي سي د پښتو وېبپاڼې په مضمون کې د کندهار د "چیلزینې "لپاره یو نوی نوم جوړ شوی و.
دکندهار لرغونی څلوېښت پلګیزه زینه (چهل زینه) چې شاوخوا ۴۰۰ کاله وړاندې د مغول پاچا ظهیر الدین محمد بابر په امر جوړه شوې، بیا رغول کېږي.

د تاريخي ځايونو نومونه د چا له خوا، ولې او د څه د پاره کيږي دا هم د څيړنې وړموضوع ده.

## ويب فورم

اوسني ځوانان د انټرنيټ پرځای تش د نيټ توری کاروي او ځينو خلکو ته د انټرنيټ کارول اوس دومره عامه خبره ګرځيدلې ده چې يوې شيبې له پرې فکرنه کوي چې دا هرڅه څنګه پيل شول. که انټرنيټ نه وي نو د دوی ژوند به څنګه وي.انټرنيټ په ټولې نړۍ کې د کمپيوټر کاروونکي د يو بل سره نښلوي. په اليکټرونيک، بی مزو ټکنالوژۍ له لارې په ميلينونو کسان، کاروبار، دولتي او حکومتي اداري کولی شي چې د نړۍ له يو ګوټ نه پيغام بل ګوټ ته ورسوي.

د انټرنيت د لارې په لومړي ځل خلکو په يوې ډلې کې يو بل ته په يو موضوع د خپل نظر څرګندولو لپاره "ويب فورم " جوړ کړ. د " چټ روم " نه يې په دې توپير لرلو چې مواد به په ارشيف کې پاتې کېدل. بله دا چې د هر يو فورم يو "موډريټر " وي چې د ليکنو د خپرولو يا نه خپرولو کيلي کونجي ورسره وي. ويب فورم د هغو خلکو له خوا اداره کيږي چې د يو بل په نظر يو ځان پوهول غواړي او لکه د يوې ونې ډېرې څانګې لري. هر وختې چې څوک نوی بحث پيل کړي نو هغه د "تار " په نامه ياديږي. څومره چې موضوع په زړه پورې وي هماغومره خلک په کې زيات وي.

## بلاګ

د ويب او لاګ په يو ځای کېدو مونږ د ويبلاګ توری تر لاسه کړو چې يو کس خپله ليکنه پخپله خپرولی شي. ددې لپاره هغه ځانګړې ځای لارې او خپله پته د کمپيوټر نورو کارونکو ته ورکوي چې دده ويبلاګ ولولي او پرې خپل نظر ورکړي، دا "شخصي بلاګ " وي.

د يوې اداري بلاګ، په دې کې د يو دفتر يا د اداري کار کوونکي خپلې ليکنې خپرولی شي.

په ژانر بلاګ کې د يوې موضوع يا څانګې خوښوونکي خپلې ليکنې د يو بل سره شريکوي. د بېلګې په توګه د افغانستان د کريکټ مينه وال به د خپلو بلاګونو د لارې په لوبه او لوبغاړو ليکنې کوي.

که د بلاګ خاوند خپل عکسونه له نورو سره شريکوي نو هغه ته " فوټولاګ " او هم دغسې که ويډيو وي نو " ولاګ " او که انځور وي نوسکيچ بلاګ " ورته وايي.

www.safiadleem.com

يو دول هغه بلاګونه وي چې د کمپیوټري سیستم په حساب نومونه لري. لکه د موبایل تیلیفون د لارې که څوک لیکنه کوي نو هغه "موبلاګ" وي.

سر چپه بلاګ د یو نه زیاتو خلکو له خوا لیکل شوی وي.څو لیکوالان یوه موضوع غوره کړي او بیا پرې خپلې خپلې لیکنې کوي. په دې کې د لیکل شویو تورو حد ټاکل شوی وي چې د ویب فورم نه یې جلا کړي.

## د خلکوعکاسي

د ژورنالیزم دا برخه د انټرنیټ او د ویبپاڼو د پیل سره دود شوه.د ولس وګړي چې د عکسونو اخیستو شوق لري، کله کله خپل څو عکسونه د کیسې په ډول ترتیب کړي او په یوې وېبپاڼې یې وپلوري.ځینې وېبپاڼې او کله ورځپاڼې هم ، د غیر عادي پېښو عکسونه په کمه بیه اخلي او د هر یو عکس سره یوه جمله د کتونکي د لارښوونې لپاره لیکل کیږي خو کله کله دا لکه د یو فلم د موسیقي سره هم بدرګه کیږي.

## ویکي لیکس

د پرمخ تللي کمپیوټرونو او ټیلیفونونو اوس په هغه زرګونو حکومتي اسنادو ته لاره پیدا کړه چې یو وخت پټ او مخفي ګڼل کېدل. د ۲۰۱۰ م په وروستیو کې د ویکي لیکس د لارې دې اسنادو د ژورنالیزم په نړۍ کې یو انقلاب راوستو. د دوه نوي ( ۹۲ ) زرو اسنادو د خلکو لاس ته ورتلل ډېرو لوړو ځایونو کې هغه خلک په اندېښنه کړل چې د سازشونو په سیاست کې لاس لري. دا چې ویکي لیکس د ژورنالیزم برخه وګڼو که نه؟ دا د بحث وړ بله مهمه موضوع ده.

## د پټو( مخفي) سر چینو ساتنه

د یو شي د پټ ساتلو مانا دا وي چې ژورنالیست د مرکو نه علاوه هم هره ورځ داسې بې شمېرو خبرو ته لاسرسی لري چې نور خلک تري نه خبریږي. د معلوماتو لویه سرچینه ولس وي او که ته له یو چا نه د ځینو خبرو په اړه معلومات اخلئ نو کېدای شي چې هغه درته په باور کې خبره وکړي او درته دا هم ووایي چې زما نوم وانه اخلې. تاسو د هغو معلوماتو سره څه کوئ؟ که د خپلو ملګرو، د کور غړو او یا د

خپلوانو سره یې شریکوئ نو دا د ژورنالیزم د اصولو خلاف خبره ده. تاسو که ډېر هم په نورو تاکید وکړئ چې بل چا ته مه وایه خو دا په ستاسو په اختیار کې نه وي. یو نه یو ځای هغه خبره رسوا شي او که څوک درنه خبر شي چې تاسو د هغه پټې خبرې نورو ته کړي دي نو بیا به چرې هم معلومات نه درکوي. که څه هم د معلوماتو د باور لپاره د خلکو نومونه اخیستل ضرور وي. خو ځینې وخت خلک نه غواړي چې نوم یې واخیستل شي،خلک په کومو حالاتو کې درته وایي چې زما نوم مه اخله:

۱. په دې ویره چې که مشران یې خبر شي نو ورته به زیان اړوي.
۲. دوی به د نورو خلکو نه په ویره وي چې ددوی په اړه به غلط فکر وکړي.
۳. یو کس به په لوړه عهده کار کوي خو دومره اختیارات به نه لري چې په سرکاري توګه هغه معلومات ښکاره کړي.

که تاسو د هغوی د غوښتنې درناوی ونکړو نو ممکن بیا درسره همکاري ونه کړي. د خبر د سرچینې د پټولو لپاره نیم معلومات هم د هغوی شناخت څرګندولی شي. د بېلګې په توګه د لوړو زدکړو په وزارت کې د مالي چارو یو مسول. که د مالي چارو په څانګه کې دوه یا درې کسان کار کوي نو ستاسو د معلوماتو سرچینه موندل به ګران کار نه وي. ددې پر ځای که ووایئ چې د لوړو زدکړو یو چارواکی، ځکه د لوړو زدکړو اداره لویه وي او په ډېرو خلکو کې څوک نشي معلومولی چې دا کس به څوک وي. کله کله ستاسو مدیر به درنه د هغه سرچینې نوم وغواړي ځکه د هغه دنده د خبرسنجول دي. که څوک په خبراعتراض لري او یا ستاسو اداره محکمې ته راکاږي نو ځواب یې مدیر ورکوي. په هغه حالت کې د خپلې سرچینې د اجازې سره د هغه نوم مدیر ته ښودلی شئ چې بیا هغه هم ددې کس نوم پټ ساتلو پړه پرغاړه لري.

اوس په دې کې ستونزه دا ده چې په ډېرو ملکونو کې لکه چې یو ډاکټر یا قانوني وکیل، د قانون له خوا ژغورل کیږي، متاسفانه ژورنالیست دا ژغورنه نه لري.

د خپلو سرچینو د پټولو کار هغه وخت سخت شي کله چې حکومت یا محکمه (عدالت) درنه ددې غوښتنه وکړي. که تاسو دمحکمې خبره نه منئ نو ممکن بندي مو کړي. مونږ داسې بېلګې لرو چې خبریال یې د خپلې خبري سرچینې په نه څرګندولو د اوږدې مودې لپاره بندي کړ دی ځکه چې دوی په داسې کار کولو د محکمې توهین او سپکاوی کړی وي. کله کله د عدالت له خوا د ډاډ ورکولو په ژمنه دوی هغه سرچینه ورته ښودلی وي او کله داسې هم کیږي چې پخپله هغه مخفي کس ځان راڅرګند کړي. که څه هم ژورنالیست ته ویل شوي وي چې د قانون په دایره کې دننه پخپل مسلکي

کارونه تر سره کوي، خو د سرچینې د پټ ساتلو کار کله کله غیر قانوني شي او له بده مرغه ژورنالیست په کې راګیر شي.

www.safiahaleem.com

# ادامه برخه

www.safiahaleem.com

# په دې برخه کښې

## دژورنالیزم اصول، قانون او اخلاق

انصاف او انډول

د خپرونوتګلاره

د ټولنې غوښتنه

د ژورنالیست مسئولیت

د حریم درناوی

مرکه کوونکو سره انصاف

بې پرې پاتې کیدل

د ټولنې استا زیتوب

د خپلې ادارې اصولو ته درناوی

د اخلاقو څارنه

بې خونده ژورنالیزم

بې خونده عکسونه

د حساسو موضوعګانو راپور

د جرم راپور

د محکمې راپور

سپکاوی

د سپکاوې قانون او مطبوعات

د سپکاوې شرایط

په سپکاوې اوتوهین کې قانوني توپیر

د سپکاوې دفاع

شخصي او ولسي معاملې

کینه یا بدنیت؟

www.safiahaleem.com

د تکرار بندیز

وېبپاڼې او د توهين قانون

انساني حقوق او سپکاوی

د کیسې د اتل امنیت

د خپرونو حقوق اوخوندیتوب (دتخیل غلا)

د خپرونو د حقوقو تاریخ

اخلاقي بندیز

د تخلیق لمنه

کاپي رایټ یا د چاپ حقوق

د بندیز ممانعت

ژباړه او حقوق

د نوم یادول

د مطبوعاتو قانون

د هنر مند حقوق

www.safiahaleem.com

# دژورنالیزم  اصول ، قانون او اخلاق

## حقایق یا ریښتیا معلومول

د نړۍ په وروسته پاتې هیوادونو کې حکومت تل دا هڅه کوي چې هغه څه د خلکو غوږونو ته ورسوي چې د چارواکو په ګټه وي. ځینې شرکتونه د خپلو کار کوونکو زبېښاک کوي خو نه غواړي چې نور ترې خبر شي.  کله د ولس مشران د دروغو په ویلو خلک غولوي. همدغسې ولس د یوې غمیزې پر وخت د احساساتو له کبله داسې خبرې کوي چې ریښتیا نه وي. د دوو ملکونو یا ډلو د جنګ پر وخت له حقایقو پرده پورته کیږي.په انګریزي ژبه کې یو متل دی چې، په هر یو جنګ کې لومړی قرباني  "ریښتیا  " وي. یعني هره غاړه د ریښتا وینا پرځای نیمه ریښتیا، لږه ریښتیا او کله کله بېخي دروغ وایي.زیات وخت داسې شوي دي چې د ځواب نه ډېر شوې ده او یا مرکه کوونکي له ژورنالیست پوښتنه غبرګه کړې وي.

### انصاف او انډول

انصاف یو داسې ټکی دی چې په ورځني ژوند کې یې مونږ ډېر کاروو. خو په ژورنالیزم کې له نور هر څه یې اړتیا زیاته ده، ولې؟
یو تن په ولسوال تورلګولی دی چې هغه پخپلې ولسوالۍ کې ژوند نه کوي. ایا مونږ سره ددې ثبوت شته؟ کېدای شي یو ژورنالیست ووایي چې زه د ولسوال دفتر ته ولاړم نو هلته هېڅوک نه و او په دروازې غټه تاله قفل ځوړند و. خو دا د هغه تور پخلی نشي کېدای. د خلکو د خبرو له اورېدو وروسته ژورنالیست د ښو او د بدو په اړه پخپل ذهن کې کیسه جوړوي.  هر راپور لکه د کیسې وي او په هره کیسه کې زمونږ یو اتل او یوبد کس پکار وي. خو ژورنالیست به رېښتوني ژوند ته ګوري. راپور افسانه نه وي.  د ریښتیاوو په لټه به تاسو یا د ولایت د دفتر نه په دې اړه معلومات واخلئ چې ولسوال کوم ځای

ژوند کوي. د هغه سره به ترخپله وسه انصاف کوئ او د کیسې بل اړخ نه به هم خپل اوریدونکي یا لوستونکي خبروئ.

کله کله د حقایقو د معلومولو لپاره یو ژورنالیست "بل کس له ګرېوانه نیسي " که یوتن د بډو په تورتورن دی او د میډیا نه ځان پټوي، نو تاسو یوازې هغه وخت دده د کور څارنه کولی شئ چې راپور مو د ولس په ګټه وي اوخپلې اداري درته اجازه درکړې وي. ټوپکسالار، قاچاق وړونکی او داسې نورې منفي څیرې ممکن زمونږ د خواخوږي وړ نه وي. خو د ژورنالیست کار په ټولنه کې ددوی د بد عمل اغیز راڅرګندول دي. یاد ولرئ چې ژورنالیست قاضي نه وي.

## د خپرونوتګلاره

تاسو که د سینما په پرده یا په تلویزون هنري فلمونه کتلي وي، نو پام به مو وي چې په سر کې یو سند ښکاره کوي چې ورباندې ځینې شمېرې وي. دا ښايي چې فلم د کوم عمرخلکو لپاره د کتلو وړ دی. لکه ۱۲ یا شپاړس ، په ځینو "پي جي " لیکلي وي چې مانا یې ده، دا فلم ماشوم د خپل مور یا پلار سره کتلی شي. دانګریزي توری "یو " مانا یونیورسل وي یعني ټول یې کتلی شي.
د دې علت څه دی؟

## د ټولنې غوښتنه

په برتانیا کې دملي تلویزوني شبکې د نهو بجو نه وړاندې داسې پروګرام یا فلم نه ښکاره کوي چې د ماشومانو لپاره یې کتل مناسب نه وي. لکه داسې فلم چې دجنګ ، وژنو ، جنسي یا بوږنونکي منظرې ولري. داسې هیوادونه هم شته چې هلته د تلویزون په پرده په خبرونو کې د وژل شویو خلکو څیرې، پرې شوي غړي یا د وینې په ښودلوحکومت بندیز لګولی وي.
د پښتنو په ټولنه کې هم داسې معیارشته چې ژورنالیست یې له پامه نشي غورځولی. د ښلګې په توګه په سپین ږیرو ملنډې وهل د منلو وړنه وي. هره ټولنه د پېښو په راپور کې د ژبې، په فلم کې د ځینو مناظرو اوعکسونو ته د زغم یوکچه لري.د یوهېواد په میډیا کې په ځینو ټوکو به خلک وخاندي. خو په نورو کې ممکن په قهر شي یا هېڅ پرې پوه نشي. د سلمان رشدي ناول " شیطاني ایتونه " او د

ډنمارک کارټون جوړونکي په اروپا کې دومره نه وه پېژندل شوي څومره چې  په ایران ، پاکستان او افغانستان کې د خلکو په غبرګون سره، نړۍ وپېژندل.

## د ژورنالیست مسئولیت

ځیني ژورنالیستان کله چې غلط خبر خپور کړي یا حقایق یې غلط راوخیژي نو وایي چې مونږ وخت پیدا نکړو ځکه مو دا خبر هم دغسې تېرکړو. ددې په ځواب کې مونږ ورته هغه اصول په ګوته کوو چې د غلط خبر د تېرولو پر ځای هېڅ یې مه نشروه چې حقایق دې نه وي موندلي.  په لوی لاس د چا سپکاوي، په راپور کې  د داسې تورو او الفاظو کارول چې د یوې ډلې ستاینه وشي، د ژورنالیست شخصیت راټیټوي.  د ثبت شوي مواد په ایډیټ کې به هم ژورنالیست د انصاف نه کار اخلي او خپل مسئولیت به پېژني.

## د حریم درناوی

د یوې پېښې حقایق معلومول د ژورنالیست دنده ده خو ورسره باید دوګړو حریم هم وپېژني او که کنج کاوي کوي نو ددې لپاره ورسره یو دلیل وي.  هغه خبرې چې تاسو سره یو چا په پټه یا په باور کې کړې وي چې په انګریزي کې ورته  "آف دا ریکارډ  "وایي هغه د خپرولو اجازه نه لرئ.
لویو نړیوالو خپرونو ته میلمانه ورځي او سیاسي مشران  د ژورنالیستانو سره ډېرې خبرې شریکوي. ځیني سیاسي مشران له مرکو پرته هم د ژورنالیستانو د پوهاوي لپاره ورته معلومات ورکوي چې ولس ترې خبرنه وي. په دې وخت کې یو مشر په دې ټینګار کوي چې دا خبرې د خپرولو لپاره نه دي. بل دا چې که یو سیاسي شخصیت تاسو په شخصي توګه پیژنئ نو د هغه کړه وړه یا بد عادتونه تاسو پخپلو خپرونو کې نشئ راوستلی.

بیلګه

**"یومهم سیاسي مشرسره می د مرکې هڅه کوله خو دی به بوخت و. یوه ورځ دده سکرتر راته ټیلیفون وکړو چې بله ورځ سهار وختي مرکې ته ورشم. هغه مشر څه موده وړاندې د امریکایي توکو د پریکون ( بایکاټ) اعلان کړی و. کله چې دده په**

**کورکې د ناستې په کوټه کې ورسره کېناستم نو د سبا ناری اود چایو لوښي هم کېښودل شول. مشر راسره خبرې هم کولی او چای موهم څښل. بیا ده د رېیرې جوړولو لپاره پاکي راوغوښتله چې د یو امریکایي شرکت نوم پرې له ورایه ښکارېدو. کله چې مې ترې پوښتنه وکړه نو ډېرې په بې شرمۍ یې راته وویل، دا زما نه دي، د زوی به مې وي."**

عبدالحي کاکړ(د بي بي سي د کویټې خبریال ۲۰۰۲م)

که تاسو هغه وخت مرکې ته تللي وای، نو د مرکې راپور کې به مو څه لیکل؟
ممکن هر یو ژورنالیست د دې ځواب، جلا جلا ورکړي. څوک به د امریکایي پاکۍ ذکر وکړي او څوک به یې نه کوي. ژورنالیزم کې همدغسې د نظر اختلاف وي او د یو کس ځواب هم غلط یا سم نشي کېدای.

## مرکه کوونکو سره انصاف

په مرکو کې د ادب او د اخلاقو ساتنه ډېره ضرور ده. که څه هم زمونږ پوښتنې، کلکې، د ننګونې، شک څخه ډکې او د موضوع سره برابر پکار دي خو ژورنالیست دا حق نه لري چې د احساساتو په مقابل کې په قهر شي او هغه د چا خبره "خپرې " ولګوي. تاسو پاروونکې پوښتنې کولی شئ خو مرکه کوونکي ته باید پوره موقع ورکړئ چې خپله دفاع وکړي.

## بې پرې پاتې کیدل

د ژورنالیزم یومهم اصل دا دی چې په هره لانجه کې یوې یا بلې غاړې ته په یوه سترګه وکتل شي.
(چارچینو، د اروزګان د مرکز ترینکوټ ښار شمال لوېدیځ ته د هلمند باغران او د دایکنډي کجران ولسوالۍ په ګډه پوله لرې پرته ولسوالۍ ده. دلته د نورو ستونزو ترڅنګ، نه ښوونځی شته او نه هم روغتیایي کلینیک. ددې یو اوسېدونکی نجار اکا وایي، چې په ټوله ولسوالۍ کې هېڅ ښوونځی فعال نه دی او په زرګونو ماشومان د زدکړې نه محرومه پاتې دي. اوس دوی اړ شوي، چې پخپل لګښت خپلو ماشومانو ته یو ښوونکې ونیسي. هغه وایي " موږ د نفر پر سر معلم ته پنځه سوه روپۍ ورکوو، حکومت

دې زموږ د ښوونې او روزنې غم وخوري، مکتب دې راته جوړ کړي، قلم او کتابچې دې راته راکړي. د ښوونځي د نشتوالي ترڅنګ د دوی په ولسوالۍ کې کلینیک هم نشته او دوی له ډېرو روغتیایي ستونزو سره لاس او ګرېوان دي . په دې ولسوالۍ کې د ژوند هېڅ اسانتیاوې نشته اود لارې د بندېدو له کبله، د خوراکي توکیو بیې دومره لوړې شوې، چې څوک یې د رانیولو وسه نه لري).

دا راپوربه په حقایقو ولاړ وي خو دا جمله درته څنګه برېښي چې دولسوالۍ په زرګونو ماشومان د زدکړو نه بې برخې پاتې دي ؟

ما ته پخپله څو پوښتنې پیدا شوې. لومړی دا چې په دې ولسوالۍ کې څومره خلک ژوند کوي؟ بله دا چې دلته څومره ښوونځي دي؟ درېیمه دا چې د زده کوونکو شمېره په کې څومره ده؟

## د ټولنې استا زیتوب

اوس په نړۍ کې د هر توکم (نژاد) خلک خپاره دي اوپه ځینو سیمو کې د ګڼو کلتورونو او فرقو خلک ژوند کوي. دا د ژورنالیست دنده ده چې د خپلو راپورونو لپاره د هرې ډلې خلک راوغږوي. په دې به استعداد لرونکي نوي خلک راوړاندې کیږي، بل د خپرونو لوستونکي یا اورېدونکي وربانديې باورکوي او دربیم، د خپلې ټولنې د ناخوالوخبرېږي.

په یویشتمې پېړۍ کې څومره چې د رېښتاوو د معلومولو لپاره هلې ځلې رواني دي، هماغومره د مصلحت، د خپلوانو او د ملګرو د خفګان له وېرې او یا د خپل کار اسانولو لپاره له رېښتیا وینا ډډه کیږي. زمونږ د ټولنې ډېرخلک رېښتیا وینا تش د نورو لپاره ښه ګڼي. د حکومت د فساد، بډو رشوتونواو د ناوړې چلند پر ضد خلک رېښتیا وینا ته ډېر ارزښت ورکوي، خو کله چې داسې کس پخپله هم داسې یو چا سره مخ شي چې دده چلند ته ګوته ونیسي نو دا یو ناوړې عمل بولي.

## د خپلې اداري اصولو ته درناوی

هرې ادارې خپلو کارکوونکو ته د کاراصول ټاکلي وي او د میډیا لپاره هم داسې اصول شته چې ژورنالیست ترې باید خبر واوسي. د بېلګې په توګه دا اصول چې د یو نااندریز راپور د خپرولو وروستۍ فیصله د چا له خوا او په کوم بنیاد کیږي. یا دا چې د بهرني فشارد مخنیوي لپاره څه پالیسي ده؟ ځینې خبریالان خپل شخصي کاروبارهم کوي اوکله کله په یو وخت کې څو ادارو ته راپورونه ورکوي.

دوی به په نظر کې نیسي چې دا ټول له یوبل سره ټکر ونه کړي. که هغه د یو تجارتي شرکت لپاره کارکوي او ورځپاڼې ته تجارتي خبرونه هم ورکوي نوستاسو په نظر څه ستونزه لري؟

کله کله د یوې ورځپاڼې لوستونکي، یا د راډیو اوریدونکي او نور کله بیا لویې ادارې یا شرکتونه، ژورنالیستانو ته د درناوي ( یاخپل ښه نیت ښودلو) لپاره ډالۍ ورکوي. د دې لپاره هم حد ټاکل شوی وي. د بېلګې په توګه، یو قلم یا کتاب ممکن ومنل شي خودغالۍ اخیستو اجازه ونلري او که څوک ورله په زوره داسې شی ورکوي نو اداره به خبروي. هماغسې چې ژورنالیست د بډو رشوتونوراپورخپله دنده ګڼي، پخپله به هم ځان پاک ساتي.

بیلګه

**یو ژورنالیست راته کیسه وکړه چې له بهر ملک نه د پېښور هوایي ډګر ته ورسېدو. هلته د ګمرک یو کس دده پاسپورټ ولېدو او ویې کتل چې دې د افغانستان اوسېدونکی و. له ده یې پوښتنه وکړه چې په سامان کې درسره څه دي. ده ورته وویل، یوه کیمره ده او یو کمپیوټر.هغه کس دده پاسپورټ واخیستو او ورته یې وویل چې "کله سامان تر لاسه کړي نو زما دفتر ته راشه،ده همداسې وکړل.هلته یو افسر ورته د سترګې مه شي نه وروسته وویل چې دی د کمپیوټر او د کیمرې د راوړلو اجازه نه لري نو ځکه دوی ته به دوه زره روپۍ فیس ورکوي.هغه ورته وویل، سمه ده خو تاسو به د دې پېسو یو سرکاري رسېد ما ته راکړئ. افسر او دده ملګری یو څه حیرانه شول . څو شېبې وروسته دوی له دفتره ووتل او یو بل کس ورته کېناستو او ویې ویل، د هوایي ډګر اصول بل شان دي، مونږ تا ته رسېد نشو درکولی. ده ورته وویل، متاسفانه دی د خپل دفتر مشر ته د دوو زرو روپو حساب ورکولو لپاره باید رسېد ولري. شېبه وروسته یو بل کس راغلو ، دده پاسپورټ یې بېرته ورکړو او دی یې بې له پېسو پر ېښودو.**

د فساد او د رشوت مخنیوی هماغه وخت کېدای شي چې وګړي د رشوت ورکولو نه انکار وکړي. ژورنالیست هم د ټولنې یو غړی دی اوکه پخپله د خپلې ګټې لپاره د قانون نه سرغړونه کوي نو د یو خاین سړي راپور به په کومو سترګو ورکوي؟

## د اخلاقو څارنه

په پرمختللو ملکونو کې د ژورنالیستانو لپاره ټاکل شوي معیار د لار ښوونې لپاره وي. ژورنالیست پخپله رضاکارانه ( داو طلب) د هغو اصولو درناوی کوي. که په خپرونو کې ددې درناوی ونه کړي نو څوک ورله سزا نه ورکوي. خو په هغه حالت کې دده د سر د پاسه یو بل سر یاني "ایډیټر" وي چې د غلط او یا د کمزوري راپور د خپرېدو مه نیسي. په ځینو ملکونو کې د ژورنالیستانو د څارنې لپاره یوه ټولنه وي چې د اړتیا پر وخت ولس ورته شکایت کولی شي. کله کله د ژورنالیستانو اتحادیې دا کار په غاړه اخلي.

## بې خونده ژورنالیزم

په ژورنالیزم کې د حقایقو د بیانولو سره-سره د داسې الفاظو، عکسونو او د جملو د کارونې نه ډډه کیږي چې په اورېدو او لېدو یې د خلکو کرکه ترې وشي. کله داسې وي چې په تلویزون کې د جنګ حالت ښودل کیږي چې په کې د مړوجسدونه هم وي. په پرمختللو ملکونو کې د داسې راپور نه وړاندې اعلان کیږي چې ځینې منظرې کېدای شي د خلکو د خپګان سوب شي. دا اعلان ددې لپاره وي چې که څوک هغه وخت وغواړي نو د تلویزون د پردې نه سترګې اړولی شي. د قتل د راپور پر وخت د پېښې په ځای کې د وینو، د وجود د غړیو او داسې نورتفصیل د ښودلو اړتیا نه وي او نه چا ته ګټه رسولی شي، په تېره بیا د راډیو یا د تلویزون په راپور کې. ډېر خلک کمزوری زړه لري او که څه هم ستاسو راپور د ماشومانو لپاره نه دی خو د راډیو غږ ماشومان هم اورېدی شي. د پښتو په خپرونو کې که څوک د چا د رنګ او یا د نسل په اړه په ملنډو خبره وکړي نو دا بې خونده ژورنالیزم ګڼلی شو. په دې اړه به په بل ځای تفصیل درکړو.

## بې خونده عکسونه

په ورځپاڼې یا وېبپاڼې د عکس خپرولو نه وړاندې دا پوښتنې له ځانه وکړئ چې...
یو عکس بربنډ خو نه دی او په قانوني توګه پاک دی که نه.
ایا د ټولنې د کومې برخې وګړي خو به پرې خپه او په غوصه نشي. په دفتر کې له خلکو وپوښتئ او که کولی شئ نو یوې مېرمنې ته یې وښایئ څکه هغوي حساسې وي.
آیا دا یوازینی عکس دی چې د مضمون سره سمون خوري؟
ایا دا کیسه دومره مهمه ده چې بې له هغه عکس نشي خپرېدی.
ځینې ورځپاڼې داسې عکسونه خپروي چې څه پیغام نه ورکوي خو د کتونکو لپاره په زړه پورې وي. د بېلګې په توګه د یوې ښځې عکس چې ښکلې وي یا ښکلې جامې یې اغوستې وي. داسې عکس څه خاص پیغام نه ورکوي خو د ورځپاڼو د خرڅلاو وسیله شي او خلک یې خوښوي. په یوې وېبپاڼې د اوچتو پوندو لرونکو بوټانو د تاوان په اړه یو راپور خپور شوی و چې ډېر ښه معلومات یې لرل. ورسره یې د یوې ځوانې جینۍ عکس و چې په فرش ناسته وه او د ډېرو اوچتو پوندو بوټان یې په پښو و. د جینۍ کمیس له ګونډو هم بره ختلی وچې د پښتنو لپاره ښایي د منلو وړ نه و.

## د حساسو موضوعګانو راپور

د ژورنالیست لپاره په ځینو موضوعګانو راپور جوړول ګران کار وي که څه هم هغه د ولس په ګټه یا د وخت اړتیا وي. د بېلګې په توګه تاسو په مېرمنو د جنسي تیري په اړه راپور جوړول غواړئ خو ټولنه تر اوسه دا د شرم خبره ګڼي چې یوه ښځه دې دا کیسه په ډاګه نورو خلکو ته وکړي. په داسې حالاتو کې تاسو د جنسي اړخ پر ځای ددې قانوني، رواني او په ټولنې ددې د ناوړو اغېزو اړخونه هم پلټلی شئ. په حساسو پېښنو کې د هغو کسانو ساتنه د ژورنالیست مسولیت وي چې ورسره ظلم شوی وي. په زیاتو ټولنو کې ماشومان او ښځې په کمزوري دریځ کې وي. کله کله مظلوم د خپل غږ اوچتولو په تور محکوم شي او که یو څوک د راپور له کبله قرباني شي نو داسې ژورنالیزم د منلو نه وي. په دې موضوع به بل ځای هم رڼا واچوو.

## د جرم راپور

د راپورلپاره د پلټنو پروخت ژورنالیست دې هېر نه کړي چې د هغه دنده د پولیسو نه توپیر لري. پولیسو سره د هغه هېواد قانون مل وي ، ددوی دنده د قانون نه د سرغړونې مجرم نیول او محکمې ته يې سپارل وي. ژورنالیست به د هغې جرم په اړه معلومات راټول کړي. دا چې که د یو دوکان نه غلا شوې ده نو د څه شي دوکان و، څه وخت غلا وشوه او څومره تاوان یې اړولی دی. د دوکان خاوند که حاضر وي نو له هغه پوښتنې کولی شي. که ځینې خلک د پېښې پر وخت موجود و نو هغوی سره خبرې کولی شي. که پولیسو بیان جاري کړی وي نودا هم پخپل راپور کې اخیستی شي.څه چې ژورنالیست نشي کولی هغه پخپل راپور کې د یوچا په نښه کول دي.
د بېلګې په توګه پولیس وایي چې دوی یو کس نیولی دی چې دوی وربانديې شک لري. تاسو هماغومره معلومات او د مشکوک توری کارولی شئ.

## د محکمې راپور

په یوغلا کې تورن کس ترهغې مجرم نه وي چې محکمې له خوا پرې تور ثابت شوی نه وي او سزا یې ورته نه وي ورکړې که یوکس د پولیسو له خوا ونیول شي نو تاسو د هغه په اړه یوازې دا ویلې شئ چې " دا کس د پولیسو له خوا په غلا تورن دی " همدغسې تاسو محکمې ته تلی شئ او هلته کې د یوې قضیې په اړه ټول قانوني بحث هم اورېدی شئ خو ددې راپورنشئ ورکولی. په ځینو ملکونو کې دمحکمې په راپور مکمل بندیز وي او تر هغه چې فیصله نه وې شوې تاسو د وروستي راپور لپاره معلومات راټولوئ. هدف یې دا دی چې د مجرم سره انصاف وشي. په لویو ادارو کې ډېرځلې نوي ژورنالیستان محکمو ته وراستول کیږي چې هلته د قانوني نقطو نه هم خبر شي او د ټولو خبرو نه لنډ معلومات هم راوباسي چې د فیصلې په ورځ ترې خپل تفصیلي راپورجوړ کړي.
ډېر خلک دقانون په ژبه نه پوهیږي او دا د ژورنالیست دنده وي چې خپلو اورېدونکو یا لوستونکو ته د قضیې مفهوم واضح کړي. ژورنالیست که پخپله خبرنه وي نو کولی شي چې د یو وکیل یا د پولیسو نه پوښتنه وکړي او لومړی پرې خپل ځان ښه پوه کړي. په محکمو کې یوتوری چې ډېرکاریږي " دعوه " دی. کله چې مونږ وایو " پولیس دعوه کوي چې هغه کس ددوی نه تښتېدو نو ځکه یې ووېشتلو "، نو مانا یې دا وي چې دا د پولیسو خبره ده. کېدای شي داسې نه وي شوی. ممکن پولیس دروغ ووایي. که پولیس یو کس د " غل " په نوم یادوی نو تاسو ورته دا نوم نشئ اخیستی تر هغه چې

پرې غلا ثابته نه وي. خو تاسو د غلا ذکر کولی شئ، د بېلګې په توګه یوزرګر وايي چې د هغه له دوکانه د سرو زرو ګاڼې غلا شوي دي. تاسو ویلی شئ چې د زرګر دعوا ده، ځکه مونږ خبر نه یو چې دده دوکان نه رېښتیا غلا شوې ده او که نه. کله چې حقایق او د محکمې فیصله په ډاګه شي نو تاسو د "دعوه" توری نشئ کارولی. همدا اصول د قتل او د قاتل د محکمو په راپور کې کارېږي.

ځینې مطبوعاتي ادارې د محکمو راپور ضرور نه ګڼي، خو دا یوه مهمه دنده ده. په تېره بیا په وروسته پاتې ملکونو کې ولس د خپل قضایي نظام، پولیسو د فعالیت اود قانون د محدودیت نه خبرول پکار وي. د قانون نه بې خبرې د وګړو پر ژوند اغېز لري او هغه ملک چې قضایي سیستم یې په جنګ کې زیانمن شوی وي، په کې نوره هم مهمه ده چې خلک د یوې جنایي پېښې راپور پولیسو ته وکړي، مجرم دې ونیول شي، محکمه اوبیا سزا ورته ورکړل شي.

## سپکاوی

په ۱۹۸۶ م کې لندن ته راغلې یوې میلمنی نه می پوښتنه وکړه چې دغرمې څه خوړل غواړي. هغې د میکډونالډ خوړنځي نوم راته واخیستو. دا د چټک خواړو ( فاسټ فوډ) هغه شرکت دی چې برګر، چپس او داسی نور خواړه خرڅوي. تاسو ډوډی یا هم هلته خورئ او که وخت درسره نه وي نو له ځانه سره یې وړئ. ماهغه میلمنه د ښار په منځ کې دمیکډونلډ یوخوړنځي ته بوتله نو په دروازه یوځوان راته وویل، دا ډوډی مه خورئ. دده په کمیس د ګرین پېس ( شین امن) نوم لیکلی وچې فعالینو یې هغه وخت د میکډونالډ پر ضد مبارزه پیل کړې وه. ځوان راته معلومات راکړل چې هغه ډوډی روغتیا ته څومره تاوان رسولی شي. مونږ ته یې یوه پاڼه هم راکړه چې ورباندی لیکلي و، "میکډونالډ کې څه خرابي ده؟ هغه څه چې دوی نه غواړي تاسو ترې خبر واوسئ" په دې پاڼه کې دخوراکي توکو د کیفیت لکه د غوړ، مالګې او داسی نورو نه علاوه دې خبرې ته یې هم ګوته نیولې وه چې دا شرکت د خپلو کارکوونکو په حق تیری کوي او خواړه چې په کومو ډبلیو کې ورکوي ، په هغې د برازیل ځنګلونو او چاپېریال ته یې تاوان رسولی و.

د دې ډلې مبارزه ترڅلورو کالو روانه وه او هغه وخت په مطبوعاتو کې دې ته ورته شرکتونو او ددوی د خواړو په اړه راپورونه خپرېدل. په ۱۹۹۰ م کې میکډونلډ د "شین امن "د دوو فعالینو پر ضد د لندن په محکمه کې د توهین دعوه وکړه، په دې اساس چې د دې کمپاین په نتیجه کې دمیکډونالډ شهرت

www.safianaleem.com

او د دې کاروبار ته زيان رسيدلی و.  محکمې د تحريک د غړو پر ضد فيصله وکړه او دا ډله يې څلويښت زره پونډه جريمه کړه. خو ترهغې په ولس کې دميکډونلډ نوم دومره بد شوی و چې شرکت له مبارزينو يې د پېسو د اخيستو نه ډډه وکړه او دوی ته يې دکمپاين د ختمولو خواست وکړو.

د کمپاين دواړو مبارزينو دبرتانيا د حکومت پر ضد د اروپا دانساني حقوقومحکمې کې دعوه دايره کړه چې په دې ملک کې د توهين او د سپکاوي قانون د دوی د بيان په ازادۍ يو تېری دی.هغې محکمې د دوی دعوه ومنله چې دوه کسان د يو نړيوال شرکت پرضد مبارزه کوله خو د برتانيا حکومت ورسره هېڅ قانوني مرسته ونکړه. اروپايي محکمې، د ۲۰۰۵ م په سر کې د برتانيا حکومت ته امر وکړو چې دې دوو کسانو ته دې ۵۷ زره پونډه تاوان ورکړي او د شلوکالو وروسته دا قضيه پای ته ورسېده.

هرهغه ملک چې اساسي قانون لري، هلته د سپکاوي او د توهين مادې هم ليکلې وي.  په وروسته پاتې ملکونو کې وګړي ډېر وخت له دې خبر نه وي او نه څوک محکمه کيږي.  خپلواکه ميډيا مطبوعات بايد ددې قانون چوکاټ وپېژني او خپلو ژورناليستانو ته هم پوهاوی ورکړي.

## د سپکاوي قانون او مطبوعات

د هر ژورناليست لپاره دسپکاوي دقانون نه ځان خبرول هومره ضرور دي لکه چې يو ډاکټر د انساني وجود نه خبر وي. نن هر کس د بيان د ازادۍ خبره کوي او ځينې ژورناليستان داسې ګڼي چې ددوی مسلک ورته دا اختيار ورکړی دی چې هر څه يې زړه غواړي هغه خپاره کړي.مسلکي ژورناليست ، ګنګوسې، غيبت او د چا په اړه د ټوکو او ملنډو کيسې نه خپروي. خو په لويديځ کې د فلمي ستورو او داسې نورو نامتو کسانو د ژوند په اړه ولس دا سې خبرې په شوق اوري او لولي.هلته ژورناليست د داسې خبرونو د ورکولو لپاره يو څه خپلواکه وي خو د دې هم حد ټاکل شوی دی.  هغه ملکونه چې د ستورو د ژوند په اړه د خبرونو ورکولو ازادي ژورناليست ته ورکوي، ورسره يې يو لړ شرطونه هم ايښي دي.

پرمخ تللو ملکونو کې د مطبوعاتو د ازادۍ سره جوخت د توهين او د سپکاوي مادې هم د پارلمان له خوا فيصله کيږي.خو دا مادې په يوه ورځ کې نه دي ليکل شوي. په تېرو شپيتو کالو کې هرهيواد د خپلو اړتياوو سره سم په دې مادو کې بدلون راوستی دی. اوس هم په ځينو ملکونو کې هرنوی پارلمان

داسي قوانینو ته د وخت په تردو بیا له سره گوري او بدلون په کې راولي.  لیکلي او د وینا د سپکاوي، ښکنځلو او د نورو بدو الفاظو لپاره سزا بېله بېله وي. زمونږ په هېواد کې ډېر خلک په دې باور دي چې په ټولو اروپايي ملکونو کې به د سپکاوي قانون يو شان وي.  خو داسې نه ده او د هر ملک پارلمان د خپل کلچر ته په کتنه او د خلکو په خوښه دا مادې د قانون نه وباسي یا په کې يې ځايوي.یوه بیلگه یې په فرانسه کې د ښځو سر پټولو قانون دی.هلته ښځې د کور نه بهر سر په لوپټه نشي پټولی.هماغسې لکه چې په ایران او سعودي عرب کې ښځه لوڅ سر د کور نه بهر نشي وتلې.

## د سپکاوي شرايط

لومړی: چې يو کس د خپروني په نتيجه کې پخپلې ټولنې یا هېواد کې د نفرت ، شرم ، سپکاوي،کرکې او د ملنډو وړ وگرځي.

دويم: د خپروني له کبله د يو کس نوم یا دده دکاروبار شهرت  ته تاوان ورسيږي. دا تاوان مادي او معنوي دواړه کېدي شي، لکه  دخپروني نه وروسته دټولنې نورغړي له دې کس ډډه وکړي او یا ورسره خپلوي پرېږدي.

دریيم:په خپرونه کې د چا د جنايتونو په اړه داسې تور ولگول شي چې حقيقت نه وي او په نتيجه کې هغه کس رسوا او شرمنده شي.

څلورم:خپرونه د يوکس د داسې ناروغۍ په اړه وي چې په خبرېدو يې خلک له ده ډډه وکړي او په نتیجه کې هغه کس ځان له يوازې او له ټولنې گوښه پاتې شي.

## په سپکاوي اوتوهين کې قانوني توپير

که څه هم د هر يو ملک د ژبې پر اساس دسپکاوي لپاره بېل بېل توري کارول کيږي، مونږ به د انگريزي ژبې دوه توري چې د ژورنالیست لپاره يې پوهاوی ضروردی، راواخلو. په دې ژبه کې لایبل ( توهين ) ليکلي، توهين مانا ورکوي.د سلانډر(ترټل یا ښکنځل) د شفاهي یا زباني توهين مانا ورکوي. د دې دواړو تعریف ، د دې شرايط او قانون کې د دې سزا هم توپير لري. په انگريزي کې يو بل توری  " سليز " دی. مانا يې دا وي چې تاسو يو چا لپاره داسې ژبه وکاروئ چې هغه پرې سپک شي.

## د سپکاوي دفاع

لومړی:هره هغه خپرونه چې په کې د یو چا د جرم پلټنې شوې وي او ریښتیا وي،په محکمه کې د ژورنالیست دفاع ده.

دویم: که یوکس د چا پر ضد یوه شخصي پاڼه کې ریښتیا لیکلي او هغه یې د ټولنې غړو ته ویشلې وي، نو ریښتیا یا حقایق به یې دفاع وي.

دریم: که ژورنالیست د خپلو پلټنو پراساس ریښتیا ولیکل نو که د چا توهین هم په کې شوی وي، په قانون کې ورته سزا نشي ورکړل کېدای. که دا ژورنالیست خوک محکمې ته راکاږي نو ترټولو لویه دفاع به یې د هغه پلټنوحقایق وي.

څلورم: که ژورنالیست په محکمه کې روان د یو قتل د قضیې رپورټ ورکوي نو دی تر هغې وربانديې ملامت نه وي چې د تورن کس په مخالفت کې څه ونه وايي.

پینځم: په یوچا مسلکي نیوکه یانقد، هم دژورنالیست دفاع ده. دی کولی شي چې د یو فلم په جوړونکي، یا په دې کې د کارکوونکو مسلکي کسانو د کار په کیفیت نیوکه او خپل منفي نظر پرې څرګند کړي.

شپږم: که یو کس مړ وي نود هغه د جرم یا بل ناوړې چلند په اړه ژورنالیست لیکنه کولی شي، خو په دې شرط چې ریښتیا وي او ثبوت هم ولري.

اووم: کله کله د یو مړکس خپلوان ، دده د ژوند د ځینو اړخونو د نه خپرېدو په اړه له محکمې د بندیز امر اخلي. که داسې وي نو بیا له دې بندیز سرغړونه نشي کېدای.

## شخصي او ولسي معاملې

که یو کس غواړي چې ژورنالیست یا دده اداره د سپکاوي د قانون تر مخې محکمې ته راکاږي نوهغه خپرونه پخپله ترټولو لوی ثبوت وي او دا چې په دې کې خپرېدونکي مواد دروغ دي.هغه کسان چې د یوې ادارې سره کار کوي او د ادارې له خوا دعوه لري، دوی به نه یوازې د خپرونې ثبوت ، بلکه دا به هم ثابتوي چې دا دروغ دوی سره دکینې او دښمنۍ پر اساس د تاوان اړولو لپاره لیکل شوي دي.

## کینه یا بدنیت؟

که یوژورنالیست د یو چا په اړه داسې مواد خپاره کړل چې هم دروغ وي او هم ترې دی خبر و چې دا دروغ دي، نو دا بد نیت او کینه ګڼل کیږي. د دې دعوه که څوک په محکمه کې کوي نو مدعي به ثابتوي چې خپرونکي ژورنالیست ورسره کینه لري.

## د تکرار بندیز

د سپکاوي یا د توهین د پېښې ، راپور ورکولو پر وخت ژورنالیست هغه توری یا جملې نشي کارولی چه لانجه یې زېږولې ده. د سپکاوي د تورو یا جملو په تکرار ژورنالیست پخپله هم راګیرکېدای شي. یوه بیلګه یې دا کېدای شي چې الف خان د بدل ګل د کورنۍ په اړه وویل چې ټول.....دي. تاسو په ورځپاڼې کې خپل راپور لیکئ چې الف خان د بدل ګل کورنۍ په .......یاده کړه. ستاسو دلیل دا دې چې د .........د الف خان الفاظ دي، زما نه دي. قانون دا درسره نه مني. په راپور کې د ښکنځلو تکرار مانا تاسو پخپله هم د هغه کس توهین کوئ.

## وېبپاڼې او د توهین قانون

ځینې ژورنالیستان داسی فکرکوي چې دوی که د کمپیوټر د لارې یوې وېبپاڼې ته په بدل نوم لیکنه وکړي نو څوک یې نشي نیولی. نن تاسو د پښتو وېبپاڼې وګورئ نوپه ځینو لیکنو کې به درته ښکنځلو ته ورته توري ښکاره شي. یوچاپه بدل نوم لیکنه او خپل حریف یې د سپکاوي په تورو یاد کړی وي. دداسې لیکنو مسولیت د وېبپاڼې د چلوونکو پرغاړه وي. هغسی چې په نورو مطبوعاتو کې د سپکاوي قانون منل لازم دي، وېبپاڼې هم له دی قانون مبرا او استثنا نه دي.

## انساني حقوق او سپکاوی

په ملګرو ملتو کې د انساني حقوقو د کمیسیون جوړېدل ډېره پخوانی خبره نه ده. په ۱۹۹۳ م کې دا کمیشن جوړشو او په ۲۰۰۶ م کې یې غړو دې ته د یوې شورا درجه ورکړه چې اوس په ټولې نړۍ کې د دې حقوقو د تطبیق او د قانون د خپرولو لپاره کار کوي.د انساني حقوقو تعریف او د دې لیکنه زرګونو کاله پخوا هم شوې وه چې مونږ یې څو بېلګې، د لرغوني پارس، د هند د اشوکا د وختونو په ډبرو او د اسلام د مقدس دین د یوې مهمې برخې په توګه پېژنو. خو د دې حقوقو نه د سرغړونې سزا او د هغې لپاره عمومي قانون جوړول په شلمې پېړۍ کې د پام وړ وګرځېدل.

په افغانستان کې د کورنیو جنګونو پر وخت ځینو کسانو نه یوازې انسانان وژلي دي بلکه په لوی لاس یې د دې هېواد شتمني لوټ کړې ده. د داسې کسانو د جرمونو په اړه پلټنې او د دې خپرول نه یوازې پېچلی کار دی بلکه خطرهم لري.د افغانستان یو ژورنالیست پخپلو پلټنو کې د یوکس پر ضد ثبوت تر لاسه کړل چې د یو کلي خلک یې په لوی لاس وژلي دي. په راپور کې شهادتونه او د خپلوانو خبرې خپرې شوې. په بله ورځ هغه تورن کس محکمه کې دعوه کوي چې په دې خپرونو د هغه پر انساني حقوق تېری شوی دې نودا دعوه سمه ده که نه؟

په ټولې نړۍ کې د متحده ایالاتو مطبوعات د هر ملک نه زیات خپلواکه ګڼل کیږي.په هغه هېواد کې په اساسي قانون کې تر ټولو لومړی ترمیم د ده مطبوعاتو د ازادۍ په اړه و. خوهلته د قضیو شمېره هم ډېره لوړه ده او هر ژورنالیست د سپکاوي او د توهین له قانون ځان خبرول خپله دنده ګڼي.

## د کیسې د اتل امنیت

یو کس د حقایقو د معلومولو لپاره د ژورنالیست سره همکاري کوي اوخپل ځان په خطر کې هم اچوي. ددې کس امنیت د ژورنالیست دنده وي او پخپل راپور یا په پروګرام کې داسې څه ونه وایي چې دی پرې رسوا شي.
د یوې نړیوالې ادارې د تلویزون ډلې غوښتل چې د پاکستان په صوبه خیبر پښتونخوا کې د اپینو نه د هیروین جوړولو د کارخانو په اړه پلټنې وکړي. راته یې خواست وکړو چې په پېښور کې ورته څوک معرفي کړم چې ورسره په پلټنو کې مرسته وکړي. ما یو کس پېژندلو چې د مخدره موادو د مخنیوي په اداره کې یې کار کوو. هغه ورته یو سړی پیدا کړو چې د افغانستان نه راوړل شویو اپینو د یوګودام ساتنه یې کوله. سړي په دې شرط د ژورنالیست کیمرې ته اجازه ورکړه چې دده مخ به په فلم کې نه ښیي او د اپینوغونډاري یې په لاس کې ونیول چې له نږدې یې په کیمرې عکس واخیستل شي.د کیمرې چلوونکي دده د مخ عکسونه هم اخیستل او ورته یې ډاډ ورکړو چې وروسته به فلم پاکوي او دده څیره به ترې وباسي. په بله میاشت کې دا راپور د هغه سړي د څیرې سره په تلویزون خپورشو. کوم کس ته چې ما خواست کړی و، هغه فلم ولیدو او سخت په قهر شو. تاسو څه فکر کوئ چې اپین ساتونکی به له کوم جنجال سره مخ شوی وي؟

د ژورنالیست اخلاقي فرض وي چې هغه خلک له خطره وژغوري چې د راپور لپاره په پلټنو کې یې ورسره مرسته کړې وي. په دې اړه د هر یو ملک خپل قانون وي. د بېلګې په توګه د برتانیا قانون دا دی چې ژورنالیست خپل د معلوماتو سرچینه پټه ساتلی شي. خوکه په بدو او رشوتونو تورن یو کس تاسو سره د راپور په پلټنو کې مرسته کوي نوده سره به څه کوئ؟ د قانون په ژبه داسې کس د "سلطاني ګواه " په نوم پېژندل کیږي او د دې کس د ژغورنې پړه د خپرونو پر غاړه ده.

## د خپرونو حقوق اوخوندیتوب (دتخیل غلا)

تاسود ژورنالیست په توګه په یوې موضوع کار وکړو، راپور مو جوړکړو او د یو تلویزون شبکې درته وویل چې له خپرولو وروسته به یې درته ښې پیسې درکوي. په هغه شپه دا راپورخپورشي خو ستاسو د نوم یادونه نه کیږي. ستاسوغبرګون به څه وي؟ که د راپور په سراو پای کې شبکه د یو بل ژورنالیست نوم یاد کړي، نو بیا به څه کوئ؟ که خبر شئ چې هغه بل ژورنالیست ته د دې راپور لپاره پیسې هم ورکړل شوي دي نوممکن د قهراو مایوسۍ احساس وکړئ. دا درته لویه نا انصافي وبرېښي. خو د انصاف غوښتنه به له چا او څنګه کوئ؟ د یو کس په کور کې غلا وشي نو پولیسو ته ورځي، د غلا پلټنې کیږي او که مجرم ونیول شي نو هغه ته سزا هم ورکړی کیږي. خوکه څوک د چا لیکنه غلا کړي نو څوک به ورله سزا ورکوي؟

په ۱۹۹۷ م کال کې یو خبریال د راډیو د یوې ژوندۍ خپرونې پر وخت له پاکستان ټیلیفون وکړو او له هغه مو د یوې پېښې تازه راپور واخیستو. څو شېبې وروسته یو بل خبریال چې له هماغه ښاره به یې کله کله راپورونه راکول، ټیلیفون وکړو او په قهریې راته وویل چې هغه ټول معلومات چې شېبه وړاندې مونږ خپاره کړل، دده نه یې اخیستي و.راته یې دا متل هم وویلو چې، " توري دې لالا وهي مړی دې عبدالله " هغه ژورنالیست ممکن ریښتیا ویل خو زمونږ دلیل دا و چې د هغه سره هیچا د ژوندي راپور اخیستو ژمنه نه وه کړې.

د انسان ذهني استعداد بې ساری دی او په نړۍ کې هره ورځ په لکونو انسانان د خپل ذهن پکارولو د تخلیق له مرحلې تېرېږي. دوی کیسې لیکي، انځورونه ، موسیقي، شعر او داسې نورهنر پنځوي.هماغسی چې په نړۍ کې د مادي شتمنې د غلا لپاره خلک فعاله وي، دیو تخلیق د غلا لپاره هم خلک فعاله دي. د دې غلا د مخنیوي لپاره د تخلیق د حقوقو قانون موجود دی.

www.safiahaleem.com

## د خپرونو د حقوقو تاریخ

په ۱۴۴۰ م کې د چاپ لپاره په المان کې لومړی ماشین جوړ شو. تر هغې د یو لیکل شوي کتاب د نورو کاپیانو په جوړولو کله کله کاتبانو څومیاشتې واړولې.د اروپایي کلیسا مشرانو به هڅه کوله چې په لاس لیکلي انجیل یوه کاپي هرځای ته ورسوي. د چاپخانې د ایجاد سره په پنځلسمې او شپاړسمې پېړۍ کې ددوی کار اسانه شو. د حکومتي فرمانونو زر خپرول هم اسانه شول . حکومتونو او کلیسا که څه هم هغه وخت د تبلیغ اسانه لاره وموندله خو د حکومت مخالف او د کلیسا پر ضد فعالینو ته یې هم کار اسانه کړو. په نتیجه کې اروپایي حکومتونو د چاپ شوي مواد اختیار له ځان سره وساتلو. د دې تر مخه د حکومت له اجازې پرته د چاپ ځایونه (مطبع) چا نشوي جوړولی.کومو چاپ ځایونو چې اجازه لرله، هغوی دا حق هم تر لاسه کړو چې ددوی له خوا چاپ شوي کتابونه بل چانشوې چاپولی. د چاپ د حق موده وټاکل شوه چې له هغې مودې وروسته نورو هم کولی شو چې هغه کتاب چاپ کړي.

په راتلونکو کلونو کې لیکوالانو د دې قانون د عملي کولو لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې. اخر په ۱۸۸۶ م کې د سویټزرلینډ د برن په ښار کې څو اروپایي ملکونو یو تړون وکړو چې تر مخه یې نه یوازې د لیکوال، بلکه د انځورګرانو او نورو هنرمندانوحق خوندي کړل شو. په افریقایي او اسیایي مستعمرو کې هم د کاپي رایټ قانون په نولسمې پېړۍ کې معرفي شو. انګلستان پخپلو مستعمرو کې په ۱۹۱۱ م کې دا قانون معرفي کړو. د برن کنوینشن په یوې پېړۍ کې څو وارې بدل رابدل شو او د نړۍ ډېرو ملکونو له خوا خپل کړی شو. په ۱۹۸۰ م کې د اروپایي اتحادیې له جوړېدو وروسته د حقوقو په قانون له نوي سره کار وشو چې د دې ملکونو دګډ بازار په لوري یوګام و. په ۱۹۹۱ م کې دې کمیشن په قانون کې څو مادې ورزیاتې کړې چې د غړي ملکونو له خوا یې وړاندیز شوې و. په دې کې د سټیلایټ د لارې خپرونو، راډیو او د تلویزون د پروګرامونو بیا خپرول شامل و. په ۲۰۰۴ م کې د ذهني مال د خوندیتوب ماده په کې ورزیاته کړل شوه.

په سر کې د بندیز قانون یوازې د کتابونو د کاپي کولو لپاره و. د وخت په تېرېدو پرژباړې او دکتاب نه د یو ماخذ په توګه د کار اخیستو هم بندیز ولګېدو.د ماخذ مانا دا لکه چې څوک د کتاب کیسه بیا پخپلو

الفاظو وليکي. د کتاب نه علاوه په دې بنديز کې نقشې، د موسيقۍ د نوټ پاڼې، ډرامې ، انځورونه، عکسونه، د تعميراتي نقشو کاپي، د غږ کاپي، د فلمونو کاپي، او اوس د کمپيوټر پروګرام شامل دي.

## اخلاقي بنديز

په نړيوالو قوانينو کې يوه ماده د دې لپاره وساتل شوه چې که څوک د بل چا دليکنې نه پخپلو ليکنو کې ګټه اخلي نو لږ تر لږه د هغه ليکوال نوم دی ياد کړي.د هر ملک پارلمان د دې لپاره خپل قانون لري او وايي چې که يو خوا د علم او د معلوماتو د خپرولو پلوي کوي خو له بلې خوا ليکوال ته حق ورکوي چې ليکنه دده دنوم سره خپره شي. په نړۍ کې اوس د "انټلکچول پراپرټي ارګنايزيشن " په نوم اداره شته چې وايي د دې قانون دوه هدفونه دي. يود خلکو ولوله راوپاروي چې تخليق کوونکي ته په عزت معاوضه ( حق الزحمه) ورکړل شي. بله دا چې ولس په ارزانه بيعه ليکلي مواد تر لاسه کړي.

## د تخليق لمنه

د بيا چاپولو په بنديز کې کيسې ( شفاهي اوليکلې) ، ناولونه، ډرامې، مقالې، مضمونونه، انشايې، اداريې او فلمي کيسې شاملې دي. په ولسي کيسو دا بنديز نه وي.
شعر، سندرې، موسيقي ( پرته له ولسي سندرو او له موسيقي)
د فلمونو سي – ډي او کيسټ،
نقشې او د شرکتونو د شعار نښې او نومونه

## کاپي رايټ يا د چاپ حقوق

هر هغه کس چې د ليکلو استعداد لري او پخپله ليکنه کوي، د دې د خپرولو حق هم لري. په عربي ژبه کې د حقوق التاليف او د حقوق الطبع د انګريزي کاپي رايټ وي. دا حق د تخيل ژغورنه نه کوي بلکه د دې تخيل اظهار ژغوري. دا حق د يو ټاکلي مودې لپاره وي او د دې مودې نه وروسته هغه ليکنه د ولس شتمني ګڼلی شي. يو ليکوال کولی شي چې خپل دا حق يوې ادارې يا کس ته د تل لپاره وسپاري.

www.safiahaleem.com

په زیاتو کتابونو به تاسو د پښتې دننه دا جمله لوستلې وي چې د دې کتاب حقوق د لیکوال سره خوندي دي.  مانا دا چې که څوک هغه بیا چاپول غواړي نو باید د لیکوال نه اجازه واخلي. همدغسې هر هغه څه چې د یو کس د ذهن تخلیق وي، پرته له اجازې څوک نشي خپرولې.

## د بندیز ممانعت

لکه چې وویل شول، ولسي کیسې او موسیقي یا شعر په دې پابند نه وي. که څوک په یو چاپ شوي کتاب تبصره کوي نود نقد لپاره د دې یوه برخه یا څو لیکې کارولی شي او د اجازې اړتیا نه وي. همدغسې په یوهنري فلم، موسیقي یا شعر نیوکه کېدای شي. هغه څېړونکي چې په کتابتون کې پخواني کتابونه لولي او بیا د هغې معلوماتو پر اساس یو مضمون، مقاله او یا کتاب لیکي، له بندیز پابند نه دی خو د داسې کسانو لپاره د څېړنې اود لیکنې خپل شرایط او بندیزونه دي.  په هرملک کې ځینې اسناد داسې وي چې حکومتونه یې له ولس پټ ساتي او د دې لپاره هم موده ټاکل شوې ده. لکه په برتانیا کې د حکومت سره خوندي راپورونه دېرش کاله وروسته د بندیز نه خلاصیږي او د ولس لپاره پرانستل کیږي.

## ژباړه او حقوق

نن ډېر لیکوالان داسې هم دي چې له نورو ژبو ادبیات خپې ژبې ته اړوي. د داسې ژباړو لپاره د لیکوال یا د چاپ ځای نه اجازه اخیستل پکار وي.همد غسې د یوې بلې ژبې په کیسه یا ناول که څوک فلم جوړوي نو هم د بندیز شرط پرې لازم وي. هغه کتاب چې سل کاله پخوا چاپ شوی وي، له دې بندیز ازاد وي خو که خپرونکو پخپله ورباندې بندیز لګولی وي نو له هغوی اجازه اخیستل پکار وي.

## د نوم یادول

کله کله د یوې لیکنې لپاره تاسو د پخواني خپاره شوي موادو نه ګټه اخلئ.  د بېلګې په توګه د دې درسونو لپاره د بیلګو غوره کول، یا د نوي راپورد جوړولو لپاره د تېرې ورځې د خبر ذکر کول. که دا مواد یو څوک لیکې او یا پخواني خپور شوی خبر وي چې هر چا اورېدلی وي نو د دې د یادونې اړتیا نه وي چې خبر موله کومه اخیستی دی.  خو که دا مواد بل ځای نه وي خپور او ورځپاڼې یا وېبپاڼې د خپلو

سرچېنو له قوله پرې خبر ليکلی وي نو بيا يې يادول لازم وي. دا کار ستاسو راپور ته درنښت ورکوي. بل که تاسو پخپل راپورکې د يوهمکار له خوا راټول شوي موادو نه ګټه اخلئ نو د هغې د ونډې يادونه يو شريفانه کار دی. همدغسی د همکار په غوښتنه د نوم نه يادول هم مهم دي په تېره بيا که د هغه ژوند ته پرې خطرجوړېدی شي.

## د مطبوعاتو قانون

هر يوهېواد پخپل اساسي قانون کې د خپرونو لپاره ځينې شرايط لري چې د "ميديا لا " يا د مطبوعاتو قانون ګڼلی شي. کله چې څوک وايي، خپرونې زادي يا خپلواکې دي نو دا مانا نه ورکوي چې هر څوک به په دې پلمه هر څه خپروي.په افغانستان کې د کلونو راهيسې د خپرونو لپاره د خپلواکه پاتې کېدو هڅې رواني دي. د حکومت او د ژورناليستانو د اتحاديې تر منځ د خبرو په څو پړاوونو کې دا کارترسره کيږي.

## د هنر مند حقوق

متمدنو ملکونو د هنراو د تخليق د درناوي لپاره نړيوال قوانين لاسليک کړي دي او د دې ترمخه که څوک د هنر مند د اجازې نه پرته دده سندره، کيسه يا ليکنه چاپ او خپور کړي نو محاکمه کېدای شي.د ليکوال ترژوند دا بنديز وي او بيا دده له مړينې وروسته يوه موده ټاکل کيږي چې دا موده په هر ملک کې توپير لري. زيات ملکونه د ليکوال له مړينې پنځوس کاله وروسته د هغه د ليکنو د بيا چاپولو اجازه ورکوي. همدغه موده د فلمونو او د موسيقی د کاپي کولو په اړه هم وي. ځينو ملکونو کې دا موده اتيا کاله او سل کاله هم ده.په ځينو معاملو کې ليکوال يا چاپوونکي پخپلو موادو بنديز لګولی وي او شرط يې ايښی وي چې که چا له دې سرغړونه وکړه نو محکمې ته به يې راکاږي.
په ۲۰۱۲ م د اکتوبرپه لومړيو کې "ګوګل " هغه قانوني جنګ وبايللو چې و
اووه کاله پخوا د امريکا د کتابونو د خپرونکو ورسره پيل کړی و. د ګوګل پلان دا و چې کتابونه بې له څه لګښت "سکين " کړي او پخپل " ډيجيټل کتابتون " کې يې وساتي.دوی لا پخوا شل ميليون کتابونه سکين کړي او خلک يې په انټرنيټ کې وړيا "ډاونلوډ " کولی شي. دوی دا کار ځکه وکړو چې غواړي د علم اوډپوهې رڼا هرې خوا ته خپره شي. په يوې لېرې سيمې کې چې زده کونکي کتابتون نه

لري او د معلوماتو لپاره ورسره بل څه وسیله نشته،  په انټرنیټ کې علمي کتاب ورته د یوې خزانې په څېر وي.

خو د امریکا د کتابونو د خپرونکو ټولنې دا د هغوی او د لیکوالانو په حقوقو تېری وبللو او محکمې ته یې راښکل.  د دوی دلیل دا و چې یو لیکوال د کتاب په خپرولو ځان له نفقه ګټي.  د دې کتاب خپرونکو په ادارو کې کارکوونکي په دې لاره روزګار کې پاتې دي.  ګوګل ولې په مفتو کې دا هر څه په نورو خلکو ووېشي.  په ګوګل کې د کتاب د سکین کولو اختیار دې د خپرونکو سره وي.  که د چا یو کتاب پکار دی، یا دې په بیه واخلي او که نه کتابتون کې دې ولولي.  دا قانوني جنګ اووه کاله روان و او اخرخپرونکي بریالي شول.  اوس د کتابونو د سکین فیصله به د چاپ ادارې کوي.ددې نه وړاندې د فلمونو په اړه هم محکمې د فلم جوړونکو په ګټه فیصله کړې وه.
په انټرنیټ د هر ډول خپرونو او دې ته د ولس لاسرسی د هغو خلکو لپاره د اندېښنې وړ شو چې خپل تخلیق د لارې ځان له ډوډۍ ګټي.دا یو داسې انقلاب و چې حکومتونو  د مطبوعاتو قانون ته په کتو په کې بدلون راوستلو. هغه خلک او په تېره بیا ځوانان چې په نوې ټکنالوژۍ کې هره ورځ نوي شیان کشف کوي، ددوی استعداد خپل وروستی حد نه پېژني.که ستاسو روزګار په ژورنالیزم کې وي او د یو راپور لپاره مو پلټنې وکړې نووړیا به یې میډیا ته د خپرولو اجازه ورکړئ؟

## هرهیواد د خپرونو لپاره قانون لري چې ژورنالیست ترې باید ځان خبر کړي

# نهمه برخه

www.safiahalem.com

# په دې برخه کښې

## د ژورنالیست ننګونې

ډیسک ژورنالیزم

ژېړ ژورنالیزم

پرتلییز ژورنالیزم

ښځه او ژورنالیزم

مسلکي چلند

ایډیټر

فشارونه

د مفتو ډوډۍ

د مفتو ټکټ

ډالۍ او تحفې

رشوت

ماما خیلي

روایات

خپل باور

د پښتو ژورنالیزم

د پښتو وېبپاڼې

د ژورنالیست امنیت

د جنګ راپور

د ګواښ سره چلند

د امن پر وخت امنیت

د خطر جاج

www.safiahaleem.com

# د ژورنالیست ننګوني

ځینې خلک په دې ټینګارکوي چې مسلکي ژورنالیست هماغه وي چې په دې مضمون کې یې لوړې زدکړې کړې وي. نوربیا وایي چې دا ضرور نه ده بلکه د ژورنالیست کېدو لپاره لوړو زدکړو ته اړتیا نشته. دا دواړه خبرې افراطي دي، ځکه د هرې ټولنې شرایط، سیاسي حالت او کلچر د بل نه توپیر لري.که څوک وایي چې ژورنالیست ارو مرو په ژورنالیزم کې ماستري کړې وي، نو په وروسته پاتې هېوادونو کې چې تر اوسه لوی شمېر خلک په کې د زدکړو نه بې برخې دي ددې امکان لږ دی.بل خوا که څوک وایي چې زدکړو ته اړتیا نه لري ، نو بیا ژورنالیست به خپل کار څنګه سر ته رسوي؟ دربېم فکر دا دی چې که یو کس پوهه لري، متعصب نه وي، د پوښتنې جرات په کې وي او ژبه یې ښه وي نو د معمولي زدکړو سره هم بریالی ژورنالیست کېدای شي. د نورو انساني علومو په پرتله ژورنالیزم نوی علم اومسلک دی او په تېرو څو لسیزو کې لکه د یوې لویې ونې څانګې یې هرې خوا خپرې دي.

## څو اړخیزه ژورنالیزم

### ډیسک ژورنالیزم

د میډیا هره اداره خپل یو مرکزي دفتر لري چې په کې د خبرونو کوټه، د مدیر دفتر، د عکاس لابراتوار او د کاپي کولو ماشینونه اېښي وي. د وخت د تېرېدو سره په دې دفترونو کې نوې کاري وسایل کېښودل شول او هغه کار چې پخوا انسانانو کوو اوس یې ماشین کوي.

د هرې سیمې د خبریال راپورونه د خپرېدو نه وړاندې په دې دفترکې " تصفیه " کېږي. وړاندې مو وویل چې که د جنګ د ډګر نه څوک راپور ورکوي نو دا د یو اړخ خبر وي. په دفتر کې د بل اړخ د خبریال راپور هم تر لاسه کېږي، د دواړو معلوماتو پر اساس پر حقایقو ولاړ راپور یا خبر د چاپ یا د خپرونو لپاره لیکل کېږي. په دې دفتر کې هره ورځ یو مدیر دنده پر غاړه لري چې د خبریالانو سره په ټیلیفون کې اړیکې وساتي او د راپور نه پرته ترې نور معلومات هم واخلي.

www.safiahaleem.com

په دفتر کې د ډیسک یا میز تر شا کارکوونکو ته ډیسک ژورنالیست ویل کیږي چې پخپل مسلک کې رسېدلي او د خپرونو د تیارولو جوګه وي.په لویو ادارو کې داسې ژورنالیستان کله کله د خبریال دنده پرغاړه واخلي او د پېښو د ځای نه راپورونه خپروي چې دده د کار برخه وي. په دې توګه ژورنالیست د خبرونو د راټولولو عملي تجربه تر لاسه کړي. یو ډیسک ژورنالیست له پکار دي چې پکارل کې یو وارې ارو مرو د دفتر نه بهر(خبریالي) وکړي. یوه بېلګه یې نړیوالوغونډو کې ګډون وي.

## ژېړ ژورنالیزم

د "ژېړو مطبوعاتو ژورنالیزم" توری په لومړي ځل امریکا کې دهغو ورځپاڼو لپاره وکارېدو چې هیجاني خبرونه یې خپرول.د شلمې پېړۍ په سر کې د نیویارک ځینو ورځپاڼو، د اصلي حقایقو پر ځای د سر خبر په داسې تورو لیکلو چې خلک یې اخبار په پېسو اخیستو ته اړایستل.د یو فلمي ستوري د طلاق، د یو سیاستوال د چا سره نامشروع اړیکې، د کاروباري خلکو د عیش او عشرت کیسې به یې په داسې ژبه ولیکل چې لوستونکي به په تلوسه شول. ددوی د خبر سر چېنې به ناخرګنده وي او دیوې پېښې حال به یې د مبالغې داسې حد ته ورسوو چې خبر به دروغ شو. ځینو ورځپاڼو د خپل کاروبار د پراخولو لپاره "د سپږې نه خانم جانه" جوړوله.

اوس په ژورنالیزم کې "ژېړ" توری د هر هغه ژورنالیست لپاره کاریږي چې غیر مسلکي اوغیر اخلاقي کارونه کوي.خو تاسو دا ډول ورځپاڼې یا مجلې اوس هم موندلی شئ چې مخپاڼه یې په یو یا دوو تورو ډکه کړې وي. عکسونه په کې ډېر وي. له ځانه جوړې شوې مرکې، د دروغو عیني شاهدان او د داسې متخصصې خبرې یې رااخیستې وي چې څوک یې نه پېژني.د داسې ژورنالیزم خوښوونکي پخپله د ولس وګړي وي چې دا ناروا کار نه ګڼي.

دامریکا یوې اوونیزې په ۲۰۱۲ م ډسمبر په میاشت کې د پاکستان د خارجه وزیرې حنا رباني او د بلاول بهټو ترمنځ د اړیکو خبرخپورکړو چې سرچینه یې د "لویدیځ استخبارات" و.په پاکستان کې په دې څو ورځې راپورنه خپاره شول او بیا خبر ورک شو.د پښتو یوې ویبپاڼې دا خبر خپورکړو نو د لوستونکو شمېره یې زیاته شوه چې رنګا رنګ تبصرې یې کولې او ځینو خوپه دې پلمه ښکنځلې ولیکلې چې بې له سانسور خپرېدې. په هغې ویبپاڼې کې دا ترټولو زیات لوستلی خبرشو چې څو

میاشتې یې د مخ په پاڼه اېښی و.په "ژېړ ژورنالیزم " کې د خبر اخلاقي یا قانوني اړخ پر ځای د لوستونکو شمېرې او " کاروبار " په پام کې نیول کیږي.

## پرتلییز ژورنالیزم

په یوېشتمې پېړۍ کې پرتلییز (مقایسوي) ژورنالیزم نړیوال اوګڼ کلتوره خبرونو او راپورونو ته لاره هواره کړې ده.دا هغه مضمون دی چې مسلکي ژورنالیستان یې د زدکړو پر وخت ورسره مخامخ کیږي. د نړۍ په بېلا بېلو ټولنو کې د ژورنالیست د ونډې په اړه څېړنې کیږي او زده کوونکي یې د نورو ټولنو او هېوادونو سره پرتله کوي.هغه ژورنالیست چې یوازې د خپل هېواد په اړه د خبرونو راټولولو ته لیواله وي اونور معلومات یې له پامه غورځولي وي، کله کله پخپل مسلک کې وروسته پاتې شي. په یوېشتمې پېړۍ کې افغانستان ته د اتوېشتو نه د زیاتو ملکونو پوځ ورلیږل شوي دي چې د ناټو او د ایساف تر چتر لاندې خپلې دندې سر ته رسوي. څومره ژورنالیستان د ناټو او د ایساف د تګلارې نه خبر وي؟ په دې اړه دوی څومره معلومات لوستي وي؟

د پرتلییز ژورنالیزم څو اړخونه دي؟

۱.د یوهېواد خپرونو یو خبر په کوم اړخ خپور کړی دی. د بېلګې په توګه د افغانستان د پخواني ولسمشر استاد برهان الدین رباني د مړینې خبر ملي او خپلواکه میډیا څرنګه خپورکړ. بېلا بېلو ورځپاڼو، راډیوګانو او وېبپاڼوپه دې څه تبصره وکړه او کومې نانډرۍ یې رامنځ ته کړې؟

۲. په بل هېواد کې یوې انساني غمیزې ته ځایي ( افغان) خپرونو څومره پام وکړو او د خپلې ټولنې لپاره یې ترې څومره اخیستنې وکړې؟ یوه بېلګه یې په ۲۰۱۰م کې د پاکستان سیلابونه و.

۳.ستاسو په هېواد کې یوې پېښې ته نړیوالو خپرونو څومره پام وکړو؟ د بېلګې په توګه کله چې جمهور رئیس په یوې غونډې کې افغانانو ته د روغې او د امن غږ کوي نو هغه خبر په نړیوالو مطبوعاتو کې څنګه خپریږي.

www.safiahaleem.com

۴. یوې نړیوالې ستونزې په اړه ستاسو د هېواد مطبوعات څومره خپرونې کوي. یوه بېلګه یې د چاپیریال د ساتنې اود هوا ککړتیا ده. په دې اړه د هر یو ملک تګلاره بیله ده او په ځینو کې ددې په اړه هېڅ قانون یا بندیز نشته. ولې؟
۵. په اوسني وخت کې څوک او په کومه لاره په "یوټیوب " کې د خپرېدونکو موادو مخه نیولی شي. یوه ورستی بېلګه یې هغه فلم دی چې یې د اسلام د دین توهین شوی و او په ډېرو ملکونو کې یې د خلکو قهر راوپاراوه .
۶. د نړی ځینې ملکونه چې بې وزله دي، څومره پخپل سیاست کې خپلواکي لري؟

## ښځه او ژورنالیزم

ژورنالیزم اوس یو مسلک دی اود ښځو لپاره په کې د خپل استعداد د ښودلو موقع وي.د نولسمې پېړی د وروستی لسیزې نه هم وړاندې په اروپا کې ښځو د ژورنالیزم په ډګر کې د مدیرانو او د راپورونو د تحلیل کوونکو په توګه کار کوو.د شلمې پېړی په سر کې کله چې د یورپ او د شمالي امریکا ښځو د کور نه د بهر کار کولو لپاره مظاهرې کولې نو ددوی راپورونه د ښځوله خوا هم خپرونو ته ورکړل کېدل. وروسته په ادبیاتو او د هالیوډ په فلمونو کې د ښځې خبریال کردار هم د کیسې یوه برخه شوه.
خو اوس پوره یوې پېړی د تېرېدو سره هم په ژورنالیزم کې د ښځو شمېره هغومره نه ده څومره چې خلک فکر کوي. په برتانیا کې د ۲۰۱۲ م د شمېرو تر مخه ددې هېواد په ملي ورځپاڼو کې درې برخې مدیران او خبریالان سړي او یوه برخه یې ښځې دي.په یو پرمختللي هېواد کې چې دا حال وي نوښایي چې ډېری ښځې تر اوسه یا خو دې مسلک ته زړه نه ښه کوي او یا د سړو په دې نړی کې د هغوی لپاره ځان له ځای پیدا کول ګرانه خبره ده.
په پښتو ادب کې ښځه یوازې معشوقه وي او عاشق یې حاسدانه ژغوري. په دې لړ کې ځینو کلیشه یي جملو د هغې حیثیت په یو چوکاټ کې بند کړی دی چې ښځه نازکه وي، حیاناکه اوپټمنه وي.د ښځې دا ایډیل له ماشومتوبه د خلکو په ذهن کې پاتې وي او ځینې وخت ښځه پخپله هم په دې چوکاټ کې خوشاله وي.
بل خوا د ژورنالیست تعریف دا دی چې هغه د کلکو اعصابو خاوند، زړه ور، د حقایقو د موندلو لپاره هر وخت تیاراو د خلکو لپاره د انصاف غوښتونکی وي.د ډېرو خلکو په نظر ښځه په دې چوکاټ کې ښه نه

www.sailaaleem.com

ښکاري. د بېلګې په توګه وايي " که په یو ځای کې ځانمرګی برید وشي نود راپور لپاره یوه ښځه خبرياله تللې شي؟ موخه يې دا وي چې ښځه نرم زړه لري او ممکن د مړو ژوبلو حالت که وګوري نو د راپور پر ځای پخپله راپورشي.خو ددې نه هم زياتې دښځينوو ژورناليستانو ستونزه د سړيو سره يو ځای کار کول دي.د هغې کړه وړه، متاهلتوب او مجردتوب، ميړه يې څه کوي؟ د چا لور ده؟ د چا خپله ده؟ دا هغه پوښتنې دي چې د هغې د کار نه زيات مهم ګڼل کيږي.بله خوا زموږ په ټولنه کې اوس هم خلک چې يوه ځوانه ښځه يوازې سفر کې ووينې نواندېښمن شي.په داسې ټولنه کې د خبرونو يا د مرکو لپاره ښځه که يوازې ولاړه شي نو ممکن د ټولو سترګې ورته کږې وي.

هغه ښځې چې په ريښتيا د ژورناليزم سره شوق او مينه لري دا لانديني شرايط ورته پکار وي.

۱.پخپل ځان باور اوخپل هدف درته روښانه وي چې دا د ټولنې يو خدمت دی.

۲.د خپلې کورنۍ ملاتړې واوسې چې پکار کې درته خنډ ستونزه جوړه نه کړي.

۳. دومره زدکړې چې د راپورونو د ليکلو او د پېښو د بيان لپاره ضرور وي.

۴. د ژورناليزم هغه ژانر په اړه معلومات ولري چې په کې کار کول غواړئ، لکه راډيو، تلويزون، ورځپاڼه يا وېبپاڼه.

۵. د خپلې ټولنې د ستونزو په اړه پوهاوی او ددوی د خپرولو يا د نه خپرولو حد دې وپېژني.

## مسلکي چلند

د ژورناليزم په ډګر کې د ښځو کار د هرې خوا نه څارل کيږي.د نورو فشارونو سره سره ښځې د نورو نه ډېرې زيار باسي چې يوه بريالۍ ژورناليسته واوسي. که د هغې پکار کې څه نيمګړتيا وي نو ممکن همکاران يې لومړۍ پيغور دا ورکړي چې " دا د نارينو کار دی " ددې لپاره ځينې لارې دي چې له داسې پيغورونو نه ځان وژغوري.خپل کړه وړه، لباس او د تګ لپاره مناسب پيزار ستاسو د شخصيت حال وايي.په دفترونو کې ډول سينګار او فيشن ته اوس هم ډېر سړي په درنه سترګه نه ګوري او که يوه ښځه وايي چې دا د هغې خپله خوښه ده نو ممکن څوک د هغې کار جدي ونه نيسي. د کار هماغومره پيټې واخلئ چې نورو خلکو ته ورکړل کيږي او خان له دا پلمه مه جوړوئ چې " دا د ښځو کارنه دی " که يوې سيمې ته د تلو جوګه نه يئ نو خپل ايډيټر او مشر په وخت خبر کړئ او د هغې پر ځای بل کار ته اوږه ورکړئ.د ښځو سره د مرکو پر وخت ډېر ځلې داسې کيږي چې هغوی درسره د

www.safiahaleem.com

خپل شخصي ژوند ځینې ناخوالې شریکې کړي.دا خبرې ضروري نه دي چې تاسو نورو همکارانو ته وکړئ. خو که یوه داسې ستونزه په ګوته کوئ چې ممکن نورې ښځې هم ورسره مخ وي نو کېدای شي چې د بل راپور لپاره یوه موضوع شي.ممکن د هغې خبرې په سکرپټ کې ولیکئ.
په ځینو موضوعګانو ښځې له خبرو ډډه کوي اوکله کله هېڅوک نه وي چې ترینه نظر واخلئ. په داسې حالاتو کې د مصنوعي یا ساختګي مرکو نه ډډه وکړئ.د یوې ژورنالیستې په اړه چا راته وویل چې هغه تل د خپلې کورنۍ د مېرمنو سره مرکې کوي او کله کله خو ورته د غږ د بدلولو هم وایي.دا یو ډول غلا ده اوپه هغې ژورنالیستې او دا ډول ژورنالیزم بیا څوک باورنه کوي.  کله کله داسې هم وشي چې یوې ښځې درسره مرکه کړې وي خو وروسته پښیمانه شي او ددې د نه خپرولو خواست او غوښتنه کوي.د هغې دلیل ته به غوږ نیسئ او د خپرولو بله لاره به ورته په ګوته کوئ.
په ۱۹۹۵ م کی د جلال اباد ښار په الایي لیسه کی مې د یوې ښوونکې مرکه په ټیپ کې ثبت کړه. هغې راته خپل ځان راپېژندلی و او د هغه وخت د حکومت پر ضد یې ډېرې خبرې کړې وې.  په ښوونځي کی د بې شمېرو نورو جینکو سره د مرکو نه وروسته چې لویې دروازې ته روانه وم نوهغې ښوونکې راپسې منډې کړې. په غوږ کی یې راته وویل چې ددې خبرې دې هېڅ خپرې نشي. مرکه مهمه وه او ما ورته ډاډ ورکړو چې نوم به یې نه اخلم، خو دې راته وویل زما غږ په کلي کی خلک پېژني او جنجال راته پېښ نشي.  په اخره کی مې په دې قانع کړه چې زه به په ستوډیو کی په تخنیکي توګه د دې غږ واړوم چې څوک یې ونه پېژني ( په هغو ورځوکی کمپیوټر کی ثبت نه کېدو).
د ښځې د کار یوه ستونزه دا وي چې هغه د کور چارې هم پر مخ بیایي او د مدیریت د غونډو او یا پکاري غونډو کې د ګډون نه ډډه کوي چې ناوخته یا د کار د وخت نه وروسته کیږي.  که دا مو د هرې ورځې ستونزه وي نو باید کورنۍ په دې پوهه کړئ چې دا ستاسو د کار یوه برخه ده.  یوې مېرمنې راته یو ځلې وویل چې " زما د مېړه زما ډالري معاش ډېر خوښ دی خو زما ناوخته کور ته ورتلل یې نه خوښیږي "
د خپرونو چلونکي زیات وخت د ښځوملا تړ او ننګه کوي او د مرکو لپاره ورته موټر ورکوي.کله کله دوی د نورو ژورنالیستانو په ډله کې لېرې ځایونو ته استوي چې په ډاډه زړه کار وکړی شي.

**ایډیټر**

هغه معلومات چې ژورنالیست راټول کړل یو منطقي ترتیب ته اړتیا لري. د یوې مرکې څومره خبرې مهمې دي؟ د خلکو نظر ته به څومره ځای ورکوئ؟ کومې جملې تکراري دي او ایستل یې ښه دي؟ دا هغه نقطې دي چې تکړه ژورنالیست یې ژر فیصله کولی شي. کله کله د مرکې یوه برخه یو ژورنالیست ته مهمه ښکاري او بل یې لازم نه ګڼي. دواړه به ددې لپاره خپل دلایل لري او ممکن دواړه سم وي. کله ډېرښه راټول شوي مواد په یوې بې منطقه فیصلې خاورې ایرې شي. په داسې وخت کې د "ایډیټر "نظر اخیستل کیږي.

په ورځپاڼو کې ایډیټرد "مدیر " په نوم پېژندل کیږي. په یوې ادارې کې ممکن د یو نه زیات مدیران پکار بوخت وي او د هرچا خپله ټاکلې دنده وي. په ورځپاڼو او مجلوکې زیات وخت مشر مدیر (ایډیټران چیف)، برخه لرنکی یا لیکونکی مدیر( کنټریبیوټینګ ایډیټر) یانې هغه مدیر چې پخپله هم د خپرونو لپاره لیکنې کوي، جاج اخیستونکی مدیر (کاپي ایډیټر) چې د چاپ نه وړاندې ټوله پاڼه یا مجله له سترګو تېروي او انتظامي مدیر( مینیجنګ ایډیټر) چې د کارکوونکو د معاشونو او دخپرونې د مالي چارو مسولیت ور له غاړې لري. په راډیو او تلویزون کې اداري مدیر( ایګزیکیټیف ایډیټر) چې د خپرونو تګلاره ټاکي او د ورځې مدیر (ډیسک ایډیټر) چې په هغه ورځ د خپرونو مسول وي. په لویو ادارو کې د خپرونو او د پروګرامونو د ژانر په حساب هم مدیران ټاکل کیږي. د بېلګې په توګه د سپورټ، اقتصادي خپرونو اوفلمي خپرونو لپاره ځانګړي مدیران وي. په وړو ادارو کې کله نا کله یو کس ټول کارونه سر ته رسوي.

د مدیرانولپاره خپله ځانګړې تګلاره وي او زیات وخت د خپرونې ټول مسولیت یې پر غاړه وي. پخپلې ادارې کې زیات خلک چې دده د لاس لاندې کار کوي، ترینه خوشاله نه وي. هغه ګیلې مانې چې په دفترونو کې کیږي، مدیرترې هم خوندي نه وي اود فشار سره مخ وي. که د یوې پېښې خبر په سمه توګه نه وي خپور شوی او یا څوک پرې خوشحاله نه وي نو،مدیرله هغې خوا هم تر فشار لاندې وي.

## فشارونه

هر ژورنالیست د خپل مسلک په اصولو کې دننه د کار کولو هڅه کوي. خو دی ځان له یوازې نه وي او نه دا کولی شي چې څه مناسب ورته ښکاري هغه به خپاره کړي.هر څوک غواړي چې ژورنالیست دې هغه څه ووایي یا ولیکي چې د هغه کس خوښه وي. دا تر ټولو لوی فشار وي چې ژورنالیست ورسره مخ

وي. دده لپاره مهمه دا ده چې تر خپل توان دې د داسې فشارمقاومت وکړي. کله کله به په کې بريالی نه وي خو په نړۍ کې هېڅ شی مکمل نه وي.

پخپله ژورنالیست هم نیمګړتیاوې لري او د یاد وړ خبره دا ده چې ستاسو اداره درته د کار لپاره معاش درکوي. ددې په بدل کې غواړي چې تاسو خپل کار د ادارې له خوا ټاکل شويو اصولو ته په درناوي سر ته ورسوئ. خو ځینې خبرې اسانې نه وي، د بېلګې په توګه، که تاسو د حکومتي ورځپاڼې لپاره کارکوئ نو د حکومت نه معاش اخلئ. دا به درته ګرانه وي چې د حکومت په پالیسيو انتقادي راپور ولیکئ ځکه حکومت به چرې اجازه درنه کړي چې یو خبر ددوی په تاوان په کې خپور شي. بلکه داسې خبر به هم خپروئ چې هېڅ معلومات نه لري. له هغو راپورونو د خپرولو نه به ډډه کوئ چې د حکومت په پلوي نه وي یا ورته د تاوان رسېدو خطر وي. په وروسته پاتې او بې وزلو ملکونو کې دا ستونزه زیاته ده.

هغه ورځپاڼې یا راډیو ګانې چې خپلواکه وي یا دعوه کوي چې خپلواکه دي په تجارتي اعلانونو چلېږي. د خپل عاید د زیاتولو لپاره کله کله دوی د سپورټ یو فیچر د یو شرکت په ملاتړ جوړوي. د بېلګې په توګه افغانستان کې د چایو یو لوی شرکت د اخلي پخلي یو پروګرام لپاره تلویزون ته پیسې ورکوي چې ددوی کاروبار پرې زیات شي.

ممکن ستاسو مشر د هغه سپورټي پروګرام یا تفریحي پروګرام لپاره یو اوږد راپور درنه وغواړي. تاسو د یو ژررنالست په توګه فکر کوئ چې لس دقیقې به یو راپور لپاره بس وي خو مدیر درنه پنځلس دقیقې د پروګرام جوړولو وايي.په دې وخت کې تاسو مدیر قانع کوئ چې که داسې مو وکړل نو د نورو راپورونو وخت به ونیول شي، یا ممکن سبا ته نورو لپاره هم هغه هومره د وخت غوښتنه وشي.بله دا چې د راپور بې ځایه خبرې ممکن لوستونکي یا د اورېدونکي خوښ نشي او هغه په راتلونکي کې د ورځپاڼې لوستل یا د راډیو اورېدل بند کړي. داسې هم کېدای شي چې د پوډري شېدو پلورونکي چې ستاسو اخبار کې یې اعلان خپرېږي ګوانښ وکړي چې نورو اعلانونولپاره پیسې به نه درکوي تر هغه چې د مور د شېدو په اړه راپور د ورځپاڼې په منځنیوپاڼو کې خپور نکړئ، چې لږ خلک یې ولولي.

پکار خو ده چې ستاسو مدیرداسې ګوانښونو ته هېڅ پام ونه کړي او د هر راپور د ارزښت په اړه پخپله بې پرې فیصله وکړي چې د خپرېدو وړ دی او که نه.دا په پرمختللو او شتمنو ملکونو او لویو ټولنو کې امکان لري چې د یو نه زیات خپرونې په کې خپرېږي اوخلک یو بل نه پېژني. خو په وړو ځایونو کې ګرانه وي چې هلته خلک یو بل پېژني او وړې خپرونې یو څو اعلانونو په خپرولو خپل اخبار چلوي.

دوی نشي کولی چې داسې ګټور شرکت د لاسه ورکړي. په ځینو ځایونو کې اعلان خپرونکي ممکن حکومتي اداره وي. مونږ د پښتو مطبوعاتو په اړه چې د خلکو نه پوښتنه کوو چې دوی ورځپاڼه ولې په پېسو نه اخلي نو کله کله ځیني کسان ګیله من وي چې په هغو پاڼوکې اعلانونه زیات او خبرونه لږ وي. د داسې فشارونوسره به تاسو څه کوئ؟

د ډېرو راډیوګانو او د تلویزون چینلونه خپل پروګرامونه د تجارتي شرکتونو پرمرسته خپروي.د پروګرام د وړاندې کولو پر وخت باید ددې خیال وساتل شي چې د هغې عمومي پیغام د یو شرکت بې ځایه تبلیغ نه وي.په هغو ملکونو کی چې حکومت د ولس نه د راډیو یا تلویزون پېسې اخلي، د اعلانونو کچه په کنټرول کې وي. خوځانګړې میډیا ازاده وي چې د اعلانونو د لارې دپروګرامونو لګښت پیدا کړي. خو پوښتنه دا ده چې یو شرکت ته څومره اجازه ورکول کیږي چې هغه په پروګرامونو کی ونډه ولري.یو بانک درته د یو پروګرام د لګښت پېسې درکوي. تاسو د پروګرام له خپرېدو وړاندې، وروسته او وقفه کی ددوی اعلان خپروئ. تر دې تاسو د خپل قرارداد له مخې سم روان یئ. خو که د هغه بانک د درغلی راپورنه خپروئ، نو د دې ادارې خپلواکي تر شک لاندې راځي.

## د مفتو ډوډۍ

کله کله د یو شرکت یا د حکومتي ادارې مشر تاسو ته د ډوډۍ میلمستیا کوي او ددې لپاره مو یا خپل کور ته رابلي، یا ښه لوړ رستورانت ته مو بوځي. هدف یې دا وي چې ستاسو ملګري شي. د ژورنالیست لپاره تاسو هم دې مګرتیا ته اړ یئ ځکه هغه کس ممکن د خبرونود سر چینې په توګه تاسو سره مرسته وکړي. خوپام مو وي چې هغه له تاسو ناوړې ګټه وانخلي، لکه د یو خبر د خپرولو یا د نه خپرولو لپاره دربندې فشار راوړي یا توقع ولري چې د مرکې پر وخت تاسو ترینه کلکې پوښتنې ونکړئ. دا به هماغسې وي لکه چې د پېسو په بدل کې د چا او د چا لپاره خپر خپروئ.

## د مفتوټکټ

تجارتي شرکتونه ځینې وخت د ژورنالیستانو سره د ملګرتیا لپاره هغوی ته د سفر او د نورو ملکونو ته د تلو لپاره د طیارې الوتکو ټکټ ورکوي. کله کله دا سې ټکټ د ژورنالیست لپاره جایز وي، لکه یوهوایي شرکت بل ملک ته لومړی پرواز پیل کوي نو تاسو په کې ددې لپاره سفر کوئ چې یو راپور پرې جوړ

کړئ. خو هغه شرکت نشي کولې چې ستاسو له خولې ځان ته اعلان وکړي یا په راپور کې د خپلې خوښې مواد ځای کړي. دا خبره د سفر نه وړاندې د شرکت سره سپینه کړئ او که هغوی پرې خوښ وي نو هله تللی شئ. که د شرکت هدف دا وي چې ستاسو د ورځپاڼې د لارې ځان ته ښې خبرې راوباسي نو دا ورسره سپینه کړئ چې تاسو به حقایق لیکئ. وړې ورځپاڼې چې ډېرې پیسې نه لري داسې د مفتو ټکټونو ته لیواله وي خو خپل وجدان څوک د یو ټکټ لپاره نشي خرڅولی.داسې ډول د مفتو ټکټونه یو وړوکی ژورنالیست پخپل سر نشي اخیستی او لومړی دې د خپل مدیر سره پرې خبرې وکړي.

دلته یوه بله ستونزه هم د یادولو وړ ده. ژورنالیستانو ته د حج یا د عمرې ټکت د حکومت له خوا ورکړل کیږي. ځینې خلک په دې عقیده دي چې حج پخپلې حلالې ګټې کیږي، ځینې نور بیا وایي چې ژورنالیست دومره پیسې ټول عمر کې نشي سپما کولی چې حج پرې وکړي نو ځکه دا یې یو چانس وي. ددې فیصله د هر ژورنالیست پخپل لاس کې وي.

## ډالۍ او تحفې

زیات وخت که ژورنالیست ته وړې تحفې څوک ورکړي، لکه قلم، نکټایي شال یا ټوپۍ نو هغه اخیستل ممانعت نه لري. خو دا تحفه دې دومره لویه نه وي چې ژورنالیست پرې په بیه واخیستل شي. د ژورنالیست لپاره تر ټولو ښه لاره دا ده چې ځان سره فکر وکړي چې که دې شرکت په راتلونکي کې هم داسې تحفه رانکړه نو زما یې څه تاوان دی. که هغسې تحفه ستاسو لپاره هیڅ مانا نه لري نو بیا ستاسو وفاداري یې نه ده اخیستې. خو که تاسو په راتلونکي کې هم د هغسو تحفو لپاره تلوسه لرئ او غواړئ چې تل هغه شرکت درته ډالۍ درکوي نو مانا دا چې هوس مو کیږي. ددې مخنیوی وکړئ او شرکت ته ووایئ چې داسې ډالۍ دې په اینده کې نه درلیږي. مهمه خبره دا ده چې که ډالۍ هر څومره وړه وي، بیا هم ستاسو مدیر باید ترینه خبر وي. نورو خلکو لپاره هم دا یو درس وي چې ستاسو اداره او پخپله تاسو د خپلو اصولو پابند یئ .

## رشوت

رشوت اخیستل بې ایماني ده او په هره ټولنه کې ورته بد ویل کیږي. د ژورنالیست لپاره دا لکه د پيغلې بکارت دی چې یو وارې ولاړ شي نو بیا نه جوړیږي. که یو ځلې مو له چا د خبر خپرولو په بدل کې پیسې واخیستې نو بیا هېڅوک درباندې باور نه کوي. د خبر د خپرولو، ددې د بدلولو او یا د نه خپرولو وړاندیز ژورنالیست ته هغه وخت کیږي چې ځان له یوازې وي. ددې لپاره چې که ژورنالیست حال وویلو نو هغه کس چورلټ انکار کولی شي چې ما دا کار نه دی کړی. که تاسو د داسې حالت سره مخ کیږئ نو سمدسلاسه یو بل همکار کوټې ته راوغواړئ او رشوت ورکوونکي ته ووایئ چې خپل وړاندیز دې تکرار کړي. زیات امکان ددې وي چې هغه کس داسې ونه کړي خو که خپل وړاندیز یې تکرار کړو نو تاسو به یو شاهد ولرئ چې دفاع مو وکړي. په هر حال سمدلاسه خپل مدیرخبر کړئ.

## ماما خیلي

په ډېروټولنوکې یو کس د هر چا نه په سر کې د خپلې کورنۍ سره پت پالونکی وي. د پښتنو په کورنۍ کې د مور پلار، اولادونو، د ماما، ترور او د هغوی د اولادونو سره نږدې اړیکو مانا دا ده چې دوی ټول به خوشاله ساتئ. کله کله د پوره قام خلک ستاسو خپلوان وي. که تاسو د داسې ټولنې غړي یئ نو پوه شئ چې په ژورنالیزم کې "ماماخیلي " نه چلیږي.
ژورنالیستان د خیل او قام له خوا د فشار سره مخ کیږي. په وړو ټولنو او ښاریو کې دا ستونزه ډېره وي چې هلته مو هر څوک پېژني. تاسو که په داسې ځای کې کار کوئ نو پوهیږئ چې د خپلې ادارې د اصولو پر ځای کولو کله کله د خپل قام یا ټبرسره خیانت کوئ. ستاسو حال به هغه ډاکټر ته ورته وي چې د خپل د دښمن قام د یو غړي ژوند ژغوري او د خپل قام د قهر او غضب سره مخ کیږي. په هغه حالت کې د کور کلي نه د ایستلو په اړه څوک سوچ هم نشي کولی.
د داسې حالاتو نه ځان ایستل به درته ګټور وي. که خپل مدیر درته وایي چې د یو داسې پېښې په اړه راپور جوړ کړئ چې په کې ستاسو د کورنۍ غړي شامل وي نو ورته ویلی شئ چې دا کار به درته ګران وي او دنده دې بل چا ته وسپارل شي.که بل ژورنالیست ته کار وسپارل شي نو بیا په هغې کې مداخله مه کوئ او څومره چې درنه کیږي ځان ترې ګوښه وساتئ.

www.safiahaleem.com

په داسې حالت کې تر ټولوسخت مشکل د مدير وي چې د خپرونو مسئوليت لري او ځان ترې نشي ايستلی. که دوی خپلې کورنۍ ته هم دا پيغام ورکړي چې دي مسلکي کار کې څه نشي کولی نو يوه بېلګه جوړېدی شي.

## روايات

هغه ټولنې چې د خپلو دوديزو رواياتو نه د يو عصري او موډرن حال ته د چټک بدلون سره مخ وي، هلته دا شخړې ډېرې وي چې پخوا به مونږ کارونه په دې ډول کول او اوس داسې کيږي. د بېلګې په توګه د بيان ازادي د اوسني عصر يوه مفکوره او د غرب نه راکړه شوې ده. د پښتنو په دوديزه ټولنه کې د قام د مشرانو خبره حتمي وي او کشران يې نشي چيلنج کولی. د مشر په وړاندې ځوک خبره نشي کولی او که ځوک داسې وکړي نو د " سپين سترګي " نوم ګټي.په لويديځه ټولنه کې داسې نه وي، هلته يو ماشوم خپل پلار ته " ستوپډ " ( بې عقل) ويلی شي او هر کس تشوقيږي چې خپل نظر ووايي.ځوان ژورناليستان د خپلو مشرانو ژورناليستانو خبره رد کړي او يا ورسره مخالفت څرګند کړي. په ميديا کې د هر عمر او د تجربې خلک کار کوي او ښه اداره د ښځې نر او د سن انډول ساتلی شي. مشر ژورناليستان چې په يوې اداري کې يې کلونه کلونه کار کړی وي، په اصولو خبر او محافظه کار وي. ځوان ژورناليستان د نوي ټکنالوژۍ‌نه خبر وي، ذهن يې تازه اوزيات توان لري. دا دواړه ډلې په يو بل فشار اچوي او کله کله د کار په ځای کې شخړه جوړه شي. غوره خبره دا ده چې ژورناليست په هر سن کې چې وي، خپل ذهن دې پرانستی وساتي. د خپل همکار خبره دې واوري او له هغه دې زدکړه وکړي. که په يوه نقطه ددوی تر منځ اختلاف پيدا شي نوفيصله دې خپل مدير ته پريږدي.

## خپل باور

ځينې ژورناليستان دا ويلی شي چې په دې مسلک کې د اخلاقو معيار پخپل ځای، خو ددوی ټولنه خپل ارزښتونه او دودونه لري. دا خبره سمه ده خو د اخلاقو اساس هر ځای کې يو دی. دروغ ويل په هر ځای او هر مذهب کې ناروا کار دی.که ستاسو په يو راپور چا ته تاوان رسيږي نو د خپرولو نه يې ډډه وکړئ، نه چې دروغ په کې ګډ کړئ. همدغسې ممکن تاسو د يوې مذهبي عقيدې منونکي يئ، خو د بل عقيدې ته به هم هغه درناوی کوئ لکه چې تاسو يې ځان له غواړئ. د هغه عقيدې د منونکي

خبرې نیمایي اخیستل یا له هغوی سمې پوښتنې نه کول د خپل مسلک سره خیانت دی.که پوهیږئ چې د بل کس یا ټولنې سره به د عقیدې پر اساس انصاف نشئ کولی نو د کار نه وړاندې خپل مشر خبر کړئ.

## د پښتو ژورنالیزم

د هرې ټولنې خپلې ځانګړتیاوې وي او د وخت د تېرېدو سره په دی کې بدلون راځي. یو وخت یې وګړي یو ډول لباس اغوندي، څو کاله وروسته بل ډول رواج شي. خو انساني ارزښتونه او اخلاقو کی بدلون نه راځي. دروغ، غلا، قتل او رشوت هره ټولنه په هر دور کی غندي. همدا ارزښتونه د ژورنالیزم بنسټ وي. د ریښتیا وینا هڅه په هر وخت او هر ډول حالاتو کی شوې ده. د دې ښکاره بېلګې یې د هغو افغان ژورنالیستانو قتل ، تښتونه او ترور دي چې جرم یې خپل مسلک و.

په افغانستان کی دمسلکي ژورنالیزم عمر لږ دی او د شلمې پېړۍ د پیل راهیسې د ادبي مجلو د لارې وده وکړه. خو ددې پېړۍ زیات کلونه په جنګ جګړې کې تېرشول. کله چې په افغانستان کې یو قانوني حکومت رانسکور شو اود پخواني شوروي اتحاد په ملاتړ حکومت د خلکو نه د خبرو اختیار واخیستو نو افغانانو د کډوالۍ ژورنالیزم ته وده ورکړه. هغه څو پاڼې چې د هېواد نه بهر په پښتو ژبه خپرېدې، د یو یا بل جهادي ګوند په مالي مرستولیکنې کولې. لویو نړیوالو ادارو په پښتو ژبې کې د راډیو د یوې خپرونې پیل کړی چې مسکو، واشنګټن او لندن یې په سر کې و. تهران اوډیلي لا پخوا پښتو خپرونې لرلې.

د یوېشتمې میلادي پېړۍ د پیل نه کله چې د افغانستان سیاسي وضع بدله شوه نونوي ځوانان د ژورنالیستانوپه توګه وروزل شول. بې شمېرو لویو وړو پاڼو، مجلو، راډیوګانې او د تلویزون شبکو پکارپیل وکړو.یو شمېر وېبپاڼې جوړې شوې او ښایي هغه کمی چې په تېرې پېړۍ کې پیدا شوی و، ډېر ژر پوره شي.

د ژورنالیزم د لارې د پښتو ژبې پرمختګ زمونږ د سترګو په وړاندې دی او په یو بل د نیوکو، ښکنځلواو سپکو سپورو سره هم یو څه نا څه د بیان د ازادۍ نه خلکو کاراخیستی دی.هماغومره چې ښکنځلې خپرېږي، له هغې زیات یې دغندنې لیکونه وي. دا د لارې هغه مشکلات دي چې نورې ټولنې هم

www.safiahaleem.com

ورسره مخ دي. که نن په نړۍ کې وګورئ نو د ډېرو پرمختللیو هېوادونو میډیا همداسې غلطیانې کوي چې خلک ګوته په خوله ورته پاتې شي.

## د پښتو ویبپاڼې

په افغانستان کې په مستعارو نومونو لیکنې نوې خبره نه ده.د زورواکه حکومتونو له خوا د خلکو د شکنجه کولو او د وژلو پېښو ځینې داسې انسانان رالوی کړل چې اوس خپله نیوکه په یو ادبي چوکاټ کې نشي کولی.نوې تکنالوژۍ که یوې خوا ته داسې کسانو لپاره د زړه د بړاس ایستلو لاره پرانستې ده نو بلې خوا ته د سپکو لیکنوته هم پراختیا ورکړې ده.ددې ویبپاڼو چلوونکي کله کله پخپله هم خبر نه وي چې سپکاوی څه مانا لري.
د ژورنالیستانو روزنه او د پروګرامونو ارزیابي په یو ډېر کلک سیستم ولاړ دي.هر وخت چې یو څوک اشتباه وکړي، هغه ته لار ښوونه کیږي او مناسب ګامونه پورته شي.په سر کې پخپله ژورنالیست دې جوګه وي چې خپله اشتباه ومني او دراتلونکي لپاره ترې پند واخلي. که داسې نه وي نو د هغه مدیر ورته دا اشتباه په ګوته کوي. د یو اړخیزو مرکو، د مرکو د ایډیټ نه غلط کارونه او د خبر په لیکلو او ویلو کې تېروتنې له هر چا کیږي خو دا که په لوی لاس وشي نو د ژورنالیزم د مسلک سره خیانت دی.
وروستۍ خبره هم همدغه چې ژورنالیست قاضي نه وي. دده کار خلکو ته د پېښې حقایق په انصاف او بې انډوله ورکول وي.
د پلټنو لپاره تاسود ملک قانون نشئ ماتولی او نه د بل چا په حق تېری کولی شئ، خو دا کار هغه وخت کېدای شي چې پایلې یې د ولس په ګټه وي. د مطبوعاتو لویې ادارې د خپل ولس په ګټه د پلټنوحق لري خو د بحث وړخبره دا ده چې یو ژورنالیست ترکومه کچه د پولیسو سره مرسته کولی شي؟

## د ژورنالیست امنیت

"وایي چې په ځینو لومړنیو ټولنو کې به چې کوم چا بد خبر راوړ نو د بد شګوم د اثر د مخنیوي لپاره به قاصد وژل کېده. " ( د نجیب منلي لیکنه، قاصد. ۱۹ جنوري، ۲۰۱۱ م)
انساني تاریخ ته پام وکړئ. د نړۍ پر مخ انسان کله د یو بل سره د خبرو جوګه او په ډلو کې یې ژوند پیل کړو نو د وینا ازادي ترې واخیستل شوه. د یوې ډلې مشر به هغه څوک و چې د متو زور یې لاره او نورو خلکو به له وېرې دده په وړاندې هره خبره نه شوه کولې. کله کله به ریښتیا وینا د ځینو افرادو او یا د ډلې لپاره د زغم وړ نه وه، نو یا به یې وینا کوونکی ووژلو یا به یې دېته مجبورکړو چې تېښته وکړي.

په یوښتمی پېړۍ کی د بیان ازادي ته خطر د ټوپک یوه ګولۍ ده، چې د ژورنالیست د وژنې او دده ملګري د تهدید لپاره بس وي. په وروستو پاتې ملکونو کی چې یوه زوره وره ډله په واک کی شي نو د مطبوعاتو لپاره داسې قوانین جوړوي چې څوک له هغې سرغړاوی ونه کړي.که څوک داسې کوي نو خبریې سانسور (سینسر) شي. که خبر خپور شي نود ژورنالیست په دروازه پولیس، دده بندي کول اوترې پوښتنې یې پاېله وي.
د هر یو ملک قانون په دې اړه شرایط ټاکلی وي.په هغو ملکونو کی هم چې جمهوري نظام لري او خپرونې یې ازادې وي، د قانون نه سر غړونه نشي کېدې. کله کله قانون اجازه درکوي خو ژورنالیست یا مدیربه یې پخپله فیصله کوي چې څه کول پکار دي.د انسان ژوند د یو راپور نه زیات ارزښت لري.

خبر

**د ۱۹۹۲ م نه تر ۲۰۱۱م په افغانستان کی دوه وېشت ژورنالیستان ( نړیو وال او ځایي) د خپلې دندې د تر سره کولو لپاره وژل شوي دي. په دوی کی یې ډېرو د جنګ راپورونه ورکول.**

(د ژورنالیستانو د دفاع کمیټه. ویب پاڼه)

اوس په نړۍ کی د مطبوعاتو زیاتوالی او د دې د پرمختګ سره سره داسې ادارې او اتحادیې جوړې شوي دي چې د ژورنالیستانو دمسلک د خوندیتوب لپاره غږ وباسي.په هر هېواد کی د ځایي ژورنالیستانونه علاوه په نړیواله کچه داسې اتحادیې شته چې د بندیزونو د څارنې سره سره د ژورنالیستانو د امنیت ستونزې په نظر کی ساتي. د ګوابښونو پرمخ دوی احتجاج کوي، د مطبوعاتو د قانون جاج اخلي او خپل پوره وس کوي چې واکمن د بیان ازادی ته پړ کړي. له بلې خوا داسې ډلې هم شته چې پخپله په ژورنالیستانوکی د نژاد او د تعصب د لېرې کولو لپاره کار کوي. دوی ژورنالیستانو ته پوهاوی ورکوي چې د راپور په ورکولو کی د انساني حقونو درناوی وکړي. د کار په ځای کې د ښځو ژورنالیستانو د مشکلاتو نه باخبر واوسي.د ماشومانو د حقونو نه خبر واوسي.
دلته د افغانستان یو ځوبېلګې به درته ولیکم چې زما د سترګو لیدلی حال دی.

ژورنالیست موټر د سړک په غلط لوري ته روان کړی و او کله چې پولیسو ودروو نو ورته یې په قهر وویل " ته خبر یې چې زه څوک یم.....زه پلانی یم. څه فکر کوئ چې په دې پېښه کی ژورنالیست ته څه تاوان پېښېدی شوې؟

یو کس چې ډېر معلومات یې لرل خو خبرو ته حاضر نه و، ژورنالیست ورته وویل، که دا خبرې دی راته وکړې نو یو څه پېسې به درکړم.

داسې چلند د ژورنالیست لپاره څومره خطر لري؟

په هغه لاره چې ژورنالیست سفرکوو، دده لپاره نوې وه اوپه دې اړه یې یوازې د ټیکسي چلوونکي معلومات بس ګڼل.

له کومو خلکو به د نامعلومې لارې معلومات کوئ او ولې؟

## د جنګ راپور

نړیوالې اداري د بېلا بېلو سیمو د جنګونو خبر له نورو وړاندې ورکول یوه بری ګڼي.د دې لپاره ځینې اداري دخپلو ژورنالیستانو د ژغورنې تابیا هم کوي.دوی ته داسې کورسونه ورکوي چې څه نا څه پوځي روزنې ته ورته وي چې دوی پرې د هر ډول خطرته پام وکړي. یو څو بېلګې یې دا دي.

۱. په سخت جنګ، بمباریو او ډزو کی ځان ژغورل او د دې لپاره وړاندې نه داسې وسایل لرل لکه مرمۍ ضد واسکټ او خولۍ اغوستل.

۲. په هغو ځایونو کی چې ماینونه وي، ځان او خپل مګري ژغورل او له ماینونو ځان خبرول.

۳. د تښتونې او د یرغمل کېدو نه د ځان او د ملګرو دساتنې لارې.

۴. د ټپي کېدو په حالت کی ځان او خپل ملګري ژغورل.

۵. د مظاهرو او داسې نورو جلسو د راپور ورکولو پر وخت ځان خوندي ساتل.

## د ګواښ سره چلند

هغه ژورنالیستان چې د خپلې دندې لپاره وژل شوي دي، ټولو ته شفاهي او لیکلي ګواښونه ورکړل شوي و. د داسې ګواښونو سره دبېلا بېلو خلکو غبرګون هم بېل وي. ځینې داسې دي چې د اندېښنې

www.safiahaleem.com

سره هم دې ګواښونو ته په جدي سترګه نه ګوري. نور دا يوه ننګونه ګڼي اوپه پلټنو اخته شي چې دا ګواښ به د چا له خوا وي،په دې لړ کی يو څو خبرې د پام وړ دي.

۱. هر ګواښ، که ليکلې، تيليفون يا مخامخ وي، جدي ګڼل پکار دي.

۲. ژورناليست دې سمدلاسه خپله اداره يا مشر له دې خبر کړي.

۳. د خپل کورغړي چې ورسره په دې لړ کې مرسته کولی شي، خبر کړي.

۴. که ګواښونه ډېر زيات او د اندېښنې وړ وي، نو پوليس ته هم خبر ورکول پکار دي.خو دا په هغه حالت کې امکان لري چې پوليس د مرستې وړ وي.

۵. ژورناليست دې خپلو خپرو شويو راپورونو ته پام وکړي چې کومه يوه موضوع د دې سوب ګرځېدلې ده.که غلط مواد يې خپور کړي نو هغه دې اصلاح کړي.  که معلومات سم وي نو ګواښ ورکوونکي ته دې قناعت ورکړي چې دا يې دنده وه.

۶. په ځينو ټولنو کی کله کله داسې ګواښونه د خپلو خپلوانو له خوا هم کيږي چې  هلته د يو بل نه رخه او کينه کيږي.

## د امن پر وخت امنيت

داسې فکر کيږي چې ژورناليست يوازې په هغو ځايونو کی د خطر سره مخ وي چې په کې جنګ وي. خو په زرګونو ژورناليستان هره ورځ د خپل کار لپاره له دفتر او کور نه بهر ډول ډول خطرونو سره مخ وي چې يو څو بېلګې يې دا دي.

۱. د ټريفک پېښې، ټکر، ګاډي بندېدل، د ډريور بی خبري يا بی پروايي.

۲. د رستورانت ډوډی يا د څښاک له کبله ناروغي.

۳. په سيلاب، واورې، زلزلې او باران کی د پناه ځای نه لرل.

۴. دکيمرې، ټيپ، کمپيوټر او کله کله د موټر لپاره د يرغلمل نيونکو له خوا تښتونه يا وژنه.

۵. د لويو دفترونو مخ ته ولاړ ساتندويانو له خوا وهل ټکول.

۶. د فلم جوړولو يا غږ ثبتولو پر وخت له لوړځای پر ښوتل.

## د خطر جاج

د کار په هرځای کی یو څه نا څه پټ خطر داسې هم وي چې د کارکوونکو ورته پام نه وي. د بریښنا له بربنډو مزو واخلئ یو څوک پکارغذ هم تېپي کېدای شي. زمونږ په دفترکې څو کسانو او ما پخپله هم کله کله پکارغذ لاس پرې کړی اویوې همکارې مې د سټوډیو په غټه دروازه کې ګوتې دومره ټپي کړې چې په امبولانس کې یې روغتون ته یوړله.

که خبریال لېږې پرتو سیمو ته د راپور لپاره ورځي نو د هغه ګاډي جاج دې واخلي چې په کې سفر کوي. د ډریوراو د موټر اسناد، اضافه ټایر،د دې د بدلولو وسایل او په غرونو یا واورو کې د ورتګ وسایل ضرور دي. د لارې د امنیت، د سړک حالت او د بېرته راتګ شرایط د وړاندې نه معلومول پکار دي.همدغسې د استوګنې، ډوډی څښاک اود نورو اړتیاوو لپاره د وړاندې نه معلومات پکار وي.

## ژورنالیست د هرې خوا نه تر فشار لاندې وي او باید ددې فشار د وړلو توان ولري

www.safiahaleem.com

# لسمه برخه

www.safiahaleem.com

# په دې برخه کښې

## تفریح او تعلیم

ورځپاڼه او تفریح

راډیواو تفریح

تلویزون او تفریح

تعلیمي ژورنالیزم

تاریخ

د تعلیمي خپرونوځانګړتیا

ننګوني

تعلیمي ډرامه

ستونزې

د معلوماتو سرچینې

ننګوني

د ژورنالیزم ژبه

د مرکې پر وخت

تکراري جملې او توري

سکرپټ لیکل

وېره او اندېښنه زېږول

سټیریو ټایپ

بې خونده الفاظ

د کرکې او د نفرت الفاظ

صفتي توري

ټوکې او ملنډې

معیاري ژبه

www.safiahaleem.com

# تفریح او تعلیم

هره میډیا ولس ته معلومات، تفریح اوزدکړې د ورکولو مسولیت لري. تر اوسه مونږ د معلوماتو په برخه کې ډېر څه وویل اود تفریح په برخه کې ځینو ژانرونو لکه فیچر په اړه مو خبرې وکړې. پوښتنه دا ده چې ایا زدکړه یا تعلیم د تفریح او معلوماتو نه بېلېدای شي؟ د ساینس یو خبر که ستاسو معلومات زیاتوي نو دا د زدکړې برخه وي.زدکړه هماغه وخت کېدای شي چې ذهن ورته اماده وي اومعلومات په تفریحي بڼه ورکړې شي نو د ډېر وخت لپاره یاد پاتې وي.ددې بیلګه هماغسې ده چې ماشوم ته د دارو ترخه ګولۍ د شاتو سره ورکړل کیږي.

## ورځپاڼه او تفریح

هغه هر څه چې لیکلي وي او خلک یې پخپله ژبه لوستلی شي، معلوماتو سره زدکړه یاني تعلیم هم درکوي. که نور څه نه وي خو یو نوی توری ترې زده کولی شئ.خو په دې پاڼو کې تفریح کوم ځای وي. مونږ کله چې د تفریح توری کارو نو دا د انګریزي د " پلیژر " یعني د خوند متبادل وي.د مرګ ژوبلې په خبرونو کې ممکن خوند نه وي خو یو خوندور کالم یا مضمون چې طنز هم په کې وي د تفریح وسیله شي.ځینې لیکنې داسې هم وي چې د لوستلو نه وروسته یې تاسو له نورو سره شریک کړئ ځکه تاسو ترې خوند اخیستی وي.خو د پښتنو په ټولنه کې خلک د زدکړې هغه پړاو ته نه دي رسېدلي چې لوست نه خوند واخلي. په ځینو ورځپاڼو کې د خوند او د تفریح لپاره ځانګړي فیچرونو ته ځای ورکړل شوی وي، د بېلګې په توګه، پخلی، فیشن او لباس، سپورټ، لنډې کیسې، ټوکې، کارټون، معماوې، چیستان او د هنر مندانو د ژوند حالات.

## راډیواو تفریح

د راډيو تفريحي پروګرامونه د ټولنې د هر وګړي لپاره وي. دروغتيا د پروګرام جوړونکي ممکن داسې فکر وکړي چې دا د لويانو لپاره دی خو دا به نه هېروي چې ماشوم يې اورېدای شي.يو وخت مې د راډيو لپاره د ښځو لپاره پروګرام جوړاوه او کله چې سروې وشوه نو څرګنده شوه چې د هغې اورېدونکي زيات سړي و.ما د ټوکو لپاره د پروګرام لپاره په اعلان کې وويل چې دا پروګرام د ښځو لپاره دی خو سړي يې هم اورېدای شي. د راډيو د تفريحي پروګرامونو ښه والی دا دی چې په لږ وخت کې زيات خلک په وړيا توګه ترې خوند اخيستی شي.خو د پروګرام جوړوونکو لپاره هرڅه په الفاظو کې بيانول وي چې کله کله ګران کار وي.د راډيو تفريحي پروګرامونه موسيقي، سپورټ، هنر، ادب، شعر، پخلی، ډرامه او کيسه کېدای شي. خو ځينې اداري ساينس، او د ماشومانو پروګرامونه هم تفريحي ګڼي او ددې لپاره ځانګړې خپرونې جوړوي.

## تلويزون او تفريح

د غږ او د متحرک تصوير چې څومره اغيز وي، ليکلي توري او دا تش غږ ممکن هغومره اغېزناک نه وي.ماشومان د کارټوني فلمونو، ښځې د هنري ډرامو، د پخلي او د فيشن د پروګرامونو خوښوونکي وي او هره شبکه د وخت په حساب دوی ته دا تفريحي پروګرامونه وړاندې کوي.يو کس د خپلې کورنۍ سره يو ځای د فټبال، کريکټ او داسې نورې لوبې ژوندۍ ليدلی شي. داسې مېرمنې هم شته چې په ښوونځي کې يې زدکړه نه وي کړې خو د تلويزون د لارې يې ډېرمعلومات تر لاسه کړي وي.په کلي کې مې يوه ښځه ولېدله چې ماشوم لپاره يې "ايټالوي پاسته " پخوله. دا يې د تلويزون نه ياد کړي و. خو اوس هم په وروستو پاتې ملکونو کې ډېر خلک ترې بې برخې پاتې دي ځکه دا ګران وي اوبرېښنا که نه وي نو څوک ترې ګټه نشي اخيستی.

## تعليمي ژورناليزم

د شلمې پېړۍ په دويمه لسيزه کې د راډيو تعليمي پروګرامونو کې به عمومي معلومات ورکړل کېدل او ورسره د ملاتړ لپاره ځينې چاپي پاڼې او کتابګوټي هم په خلکو وېشل کېده.خو په لسو کالو کې د برتانيا په ښوونځيو کې راډيو اورېدل د ماشومانو د زدکړو يوه برخه شوه او ورباندې ځانګړي درسونه

خپرېدل.نورو ملکونو هم د راډيو نه په گټې اخيستو د خپل ولس د زدکړو لپاره ځانگړې پېسې بېلې کړې او دا يې د حکومتي تگلارې يوه برخه کړه.

وروسته د کالج او د پوهنتون لپاره هم خپروني کېداى او اخر د " اوپن يونيورستي " ( پرانستي پوهنتون) مفکوره رامنځ ته شوه چې لېږې پرتو سيمو کې زده کوونکو د راډيو د لارې خپلې لوړې زدکړې ترسره کولى او د داسې پوهنتون شهادت نامه لکه نورو د کار په ډگر کې د منلو وړ شوه.د تلويزون د جوړېدو سره په دې زدکړو کې نور هم پرمختگ وشو او ځانگړي پروگرامونه يې ښودل چې د زده کوونکو نه علاوه عامو خلکو هم ترېنه گټه اخيستې شوه.

په ځينو ملکونو کې د "اوپن يونيورستي " خپرونو لپاره وختونه وټاکل شول چې څو وارې پروگرامونه تکرار وي چې زيات خلک ترې گټه واخلي.

په لږ وخت کې ډېرو خلکو ته ارزانه بيه خپروني د راډيو هغه ځانگړتيا ده چې د نوې تکنالوژۍ سره يې هم بدلون نه دی موندلی. راډيو ارزانه وي، بيټري يې هر ځاى موندل کيږي او د اړتيا پر وخت له ځان سره يې وړې شئ.هغه کروندوگر چې ليک او لوست يې نه وي کړی، هغه ښځې چې په کورونو کې ناستې وي او هغه زده کوونکي چې په کور کې برېښنا نه لري، د راډيو له خپرونو گټه اخيستی شي.

## تاريخ

د نولس سوه دېرشم راهيسې هر هغه ملک چې راډيو پروگرامونه يې لرل د ښوونځيو لپاره ځانگړې خپروني پيل کړې او د ساينس نه علاوه د موسيقی، هنر او د نورو علومو د زدکړې برخه يې ورته وټاکله. د لنډو او د منځنيو څپو سره سره کله چې د ايف-ايم د لارې ځايي راډيوگانو کار پيل کړو نو د راديو د لارې د تعليم لمنه نوره هم پراخه شوه. جاپان په ۱۹۳۳ م کې د ښوونځيو د هر يو صنف لپاره راډيويي پروگرامونه او چاپي مواد خپرول.

په ۱۹۴۱ م کې په راديو لومړي زراعتي پروگرامونه دکاناډا نه پيل شول چې کروندوگرو ته به يې معلومات ورکول.همداسې خپروني په هند کې هم پيل شوې.د ژبې د ښوونې او د تلفظ لپاره راډيو تر ټولو اغيزمن و.

## د تعليمي خپرونوځانگړتيا

ځينې خلک په دې باور دي چې د تعليمي خپرونو جوړونکي ژورناليستان نه بلکه معلمان ( استادان) پکار وي ځکه ددوی کار له خبري ژورناليزم نه توپيرلري. خو د يو شو ټکو نه علاوه ددوی دواړومسلکي دنده يو شان وي.

۱. د تعليمي ژورناليستانو کار د خبرونو تر شا ولسي ستونزو او ددوی د حل د لارو په اړه وي.

۲. دوی سياسي مرکې او راپورونه يا بحثونه نه کوي او خپرونې يې زيات وخت د خپرېدو نه وړاندې ثبت شوي وي.

۳. دراپورونو د وخت وروستی حد يې غزېدلی وي چې د څو ځلې خپرېدو توان ولري.مانا دا چې که پروګرام يې مياشت وروسته هم خپور شي نو مواد په کې زوړ نه وي.

۴. هر يو راپور د حقايقو پر بن سټ جوړوي چې په انصاف او انډول ولاړ وي.

۵. د ولس د مدني ستونزو نه ځان خبروي او اړوندو چار واکو سره پرې خبرې کوي. يو ماهر يا متخصص هم لري چې د ستونزو حل په ګوته کوي.

۶. د موادو په ايډيټ کې هم هغه شرايط په نظر کې نيسي چې د مطبوعاتو په قانون او اصولو کې يې ذکر شو ي دي.

۷. که يوښوونکی وغواړي نو د تلويزون په پرده خپلو زده کوونکو ته درس ورکولی شي.د رياضي او د ساينس د زدکړو لپاره تلويزون ډېر اغيزمن وي. خو د ښوونکي لپاره د وخت وېش، د درسونو نه هغه توکي ايستل چې څوک پرې ستړی شي يا بې خونده وي، د ژورناليست کار وي.

## ننګونې

سره له دې چې راډيو او تلويزون د تعليم ورکولو لپاره ډېرې اغيزمنې وسيلې ګڼلی شي، خو په دې کې ننګونې هم شته:

۱. ځينې وخت د تعليمي پروګرامونو د خپرولو هدف سياسي او يا خپل ځان ښودل وي.

۲. کله کله دا د يوې تجربې په توګه پيل شي او کله چې خلک يې اورېدو ته ورمات شي نو په کې د يوې يا د بلې ډلې پروپاګنډ او تبليغات ته ځای ورکړل شي.

www.sajjahaleem.com

۳. که څه هم تعلیمي پروګرامونه په یو هېواد کې د ښوونې او روزنې د وزارت له خوا خپریږي، کله کله د پروګرامونو جوړونکو وربانديې ښه فکر نه وي کړی او بې پلانه خپرونې کوي.

۴. د تعلیمي پروګرامونو د پیل کولو نه وړاندې دا د ولس ځینو استازو ته اورول کیږي چې د پیغامونو ارزښت واضح شي .که داسې ونشي ممکن د ښوونې هدف تر لاسه نشي.

۵. هیڅ یو تعلیمي خپرونه بې له مستقل ارزیابي ( سروې) بریالی کېدای نشي. څکه په دې پروګرام جوړونکو ته اندازه کیږي چې د خلکو په ژوند کې ددې پیغامونو په اورېدو څه بدلون راغلی دی که نه؟

۶. د دې پروګرامونو اورېدونکو د پوهې کچه یو شان نه وي او د ژورنالیست زیات وخت یو متوسط راپورجوړولو ته اړ وي. نتیجه یې دا وي چې پیغام د هېڅ چا لپاره نه وي او د خلکو لپاره په زړه پورې نه وي.

۷. ځینې شرایط د ژورنالیست په اختیار کې نه وي، لکه د خپرونو وخت، لګښت، د خلکو خوښي یا ناخوښي او د هغوی سروې ګانو تنظیموونکي چې اورېدونکو نه پوښتنې کوي.

۷.د پانګې ورکوونکو له خوا فشار او ددوی اجنډا ته درناوی.

## تعلیمي ډرامه

د دویم نړیوال جنګ نه وروسته په انګلستان کې د کرنې د ښیا رغونې لپاره یوه تعلیمي ډرامه " دي ارچر " په نوم په ۱۹۵۰ م کې ددې د " راډیو فور " نه خپرېدل پیل شول.دا ډرامه په ایمبریج نومې فرضي کلي د خلکو په ژوند راڅرخېده او په اوونۍ کې دوه وارې ښېلا ښېل تعلیمي پیغامونه خپرول. د ډرامې کیسه په زړه پورې وه او په لږه موده کې یې اورېدنکي ډېر شول. دا ډرامه تر اوسه خپریږي او کیسه یې د تعلیم پر ځای تر ډېره بریده ټولنیز ده. په افغانستان کې د راډیوتعلیمي پروګرامونه د نولس سوه اویاییمې په لسیزه کې د لنډې مودې لپاره خپرېدل خو د سیاسي بدلون او ورپسې د جنګونو له کبله په کې ځنډ راغلو.د شلمې پېړۍ په وروستۍ لسیزه کې د هغه وخت بي بي سي د پښتو څانګې مشر ګوردن ایډم " د " آرچر " په ډول د یوې افغانې ډرامې مفکوره وړاندې کړه چې په پېښور کې یې بنسټ کېښودل شو. هغه افغان لیکوالان او هنر مندان چې په مهاجرت کې یې ژوند کوو، په کار

وګومارول شول چې تعلیمي ډرامه "نوی کور نوی ژوند " په نوم یې جوړه کړه. دا نوم یې ورته ځکه وټاکلو چې د افغانستان نه د روسانو د وتلو نه وروسته ډېر خلک بېرته خپلو کلیو او کورونو ته ورتلل او هغه ستونزې چې دوی ورسره مخ شول، زیات وخت د ډرامو کیسه به یې جوړوله.د ډرامو د جوړولو لپاره نړیوالو مرستندویه ټولنو له خوا پانګه ورکړل کیږي او د بي بي سي ونډه ددې خپرول و.

## ستونزې

په راډیو یوه هنري ډرامه خلک د تفریح او د خوند لپاره اوري.دا خوند او د ډرامې تفریحي اړخ په تعلیمي ډرامې کې ساتل ګران وي. په هنري ډرامه کې یوه کیسه د ژوند انځور وي خو په تعلیمي ډرامه کې کیسه یو هدف یا موخه لري.ددې په اورېدو به خلک څه زدکړه وکړي؟ کله چې د ډرامې لیکوال د یو پیغام پابند شي نو د هغه تخیل هم په کې قید شي. دا هغه ستونزه ده چې کله کله هنري لیکوالان زړه نه ښه کوي چې تعلیمي ډرامه ولیکي. هغه ملکونه چې داسې ډرامې خپروي، د یو پر ځای ډېر لیکوالان لري چې په ګډه لیکنې کوي. څو مدیران ددوی د سکرپټ جاج اخلي او که مناسب وګڼي نو ترې جملې ویستلې شي یا په کې نورې خبرې ور زیاتولی شي. نورې ستونزې یې دا دي:

١. که یوه ډرامه تر کلونو خپریږي نو د لیکوالانو لپاره د پخوانیو کیسو او د کیریکټرونو یاد ساتل وي.که یو ماشوم په یوه ډرامه کې د پنځو کالو دی نو بل کال ته به د شپږو کالو وي او که مور یې د اوولسو کالو وه نو اوس به د اتلسو وي.

٢.د پیغامونو تکرار به څو واري او د خبرونو سره تړلی وي او که نه؟

٣.که په یوه ډرامه کې اورېدونکو ته د ماین د خطر په اړه پیغام ورکړل کیږي نو دا پیغام به بل ځلې په کوم ډول او کله خپروي.

٤.د کیریکټرونو لوبونکي که په اصل ژوند کې بل ځای کډه وکړي نوپه ډرامه به یې څه اغیز وي.

٥.د یونامتو کریکټر وژل به په اورېدونکو څه اغیز ولري او په کیسه کې به څومره بدلون راولي.

٦.د هرې ډرامې په پای کې د تلوسې ساتلو لپاره څه پکار دي چې خلک ددې بله برخه اورېدو ته وهڅیږي.

www.saflaleem.com

## د معلوماتو سرچينې

په تېرو پاڼو کې مو د خبر د سرچينې ذکر وکړو. د تعليمي خپرونو لپاره پخپله خبرونه يوه سرچينه وي. په يو ځای کې سيلاب راغلی وي او په خبرونو کې هلته د مرگ ژوبلې او تاوان کچ ښودل کيږي يا دا چې چا ورسره مرستې وکړې يا ونه کړې او خلک په څه حال دي.د تعليمي خپرونو ژورناليست هغې سيمې کې سيلاب ځپلو ته د ورپېښو ستونزو جاج اخلي، ورباندې معلومات راټولوي، د بېلگې په توگه د ځنبلو اوبه پاکې نه وي نو په هغه حال کې خلک څه کولی شي.د انسانانو او د څاريو د ناروغيوپه اړه معلومات او د هغوی درملنه څنگه او کوم ځای نه تر لاسه کېدای شي.دا هغه دنده ده چې ممکن د خبرونو د ورکولو نه يې ارزښت زيات وي. د خبرونو نه پرته د تعليمي خپرونو لپاره د معلوماتو نورې سرچينې او ورسره تړلې ستونزې دا دي.

۱.د راډيو خبري خپرونې، ورځپاڼې، تلويزون، دا د وروستيو معلوماتو لپاره ښې سرچينې دي خو تر څو تاسو خپل پروگرام جوړوئ او د خپرېدو لپاره يې تياروئ، په دې کې ځينې شيان اوړېدلي وي يا ممکن اړتيا يې نه وي.

د بېلگې په توگه، تاسو د سيلاب ځپلو پاره د اوبو د پاکولو لارې چارې ورته ښايي، او تر هغې مرستندويه ټولنو ورته نه يوازې د اوبو پاکولو " فلټر " لگولی وي بلکه په بوتلو کې پاکې اوبه هم رسولي وي.

۲.ولسي وگړو سره خبرې، مرکې او د دوی د ژوند ژواک په اړه معلومات. عامو خلکو سره د ژوند تجربې وي چې نورو ته پرې گټه رسېدای شي. خو کله کله دا معلومات ساينسي نه وي،يوې مېرمنې راته وويل چې " سياه دانه " چې د کلونجي په نوم يې هم پېژنو، د سلو ناروغيو علاج دی. دا هغه دعوه ده چې په ساينس کې نه ده ثابته شوې.

۳. د مرستندويه ټولنو خبري پاڼې او نور ليکلي معلومات چې د خلکو د پوهاوي لپاره خپرې شوې وي.د يوې ځانگړې ناروغی د مخنيوي يا د درملنې لپاره حکومتونه لارې چارې لټوي او د روغتيا ټولنې ورسره مرسته کوي. خو داسې خپرونې د يو ټاکلي وخت لپاره وي او په هرو څو کلونو کې نوې څېړنې کيږي اود هغوی په نتيجه کې پيغام هم بدليږي. يو وخت د جذام د مرض په اړه دا نظر و چې ساري ناروغي ده او ددې مريضان به يې له ښاره بهر په ژوند کولو اړ ايستل. وروسته طبي څېړنو وښودله چې دا مرض ساري نه دی او درملنه يې هم پيدا شوه.

۵. درسي کتابونه، دایرت المعارف ( انسایکلوپېډیا) او قاموس،هر هغه ژورنالیست چې د تعلیمي خپرونو دنده پر غاړه لري، له دې لیکلي سرچینو ګټه اخیستی شي.خو کله کله دا لیکلي معلومات هم زاړه وي او په کار ده چې د یوې بلې سرچینې سره یې هم سپیناوی وشي.

۶.که انټرنیټ ته مو لاس رسیږي نو په هغه کې یو شمېر لټونکي وسیلې ( سرچ انجن) لکه ګوګل نه کار اخیستی شئ.نن سبا ډېر ژورنالیستان د مخې سره " ویکیپیډیا " راواخلي او ددې لیکلي معلوماتو نه د پروګرام سکرپټ ولیکي.د انټرنیټ معلومات نوي وي خو ضرور نه ده چې سم هم وي. د برتانیا د زدکړو په سیسټم کې داسې بندیز لګول شوی دی چې که یو محصل د ویکیپیدیا نه اخیستل شوي معلومات لیکلي وي نو هغه ته نومرې نه ورکوي. په دې کله شمېرې غلطې راخيژي، کله د تاریخي پېښو نېټه یې سمه نه وي او نور کله په کې عامو خلکو دومره ګوتې وهلې وي چې د ملنډو وړ وګرځي.د تعلیمي پروګرامونو جووړونکو له په کار دي چې له انټرنیټ دې معلومات واخلي دی خو بیا د یوې بل سرچینې سره یې هم پرتله کړي.

## ننګونې

د تعلیمي پیغام د خپرولو لپاره میډیا ته د مرستندویه ټولنو او حکومتونو له خوا پېسې ورکړل کیږي. د یوې ناروغۍ مخنیوی د واکسین د لارې کیږي. که په خپرونو کې ددې واکسین لپاره تبلیغات وشي نو ممکن ډېر خلک وژغورل شي، په تېره بیا ماشومان.خو د افغانستان په شان غرني هېواد کې واکسین لېرې پرتو سیمو ته یوړل ډېر وخت نیسي. که په هغه واکسین وخت تېر شي او دا مسموم وي نو پړه به یې د چا په غاړه وي؟

د کرنې د پروګرامونو لپاره ډېر وخت هغه لوی شرکتونه پېسې ورکوي چې کیمیاوي سره او نور داسې مواد جوړوي. په یو کلي کې کروندګر د خپلو سابو او ترکاري د چینجو د وژلو لپاره په اوبو کې " اینجه " ګډوي چې یوه لرغونې او پاکه لاره ده او انساني روغتیا ته هم وربانديې تاوان نه رسیږي. د کیمیاوي سرې جوړونکي خپلې ګټې ته ګوري او له دې سره یې غرض نه وي چې د اینجې راټولوونکي

به پرې وځپل شي.دا د تعليمي خپرونو جوړونکو اخلاقي دنده ده چې د يو شرکت د تبليغاتو نه وړاندې وګوري چې پرې خپل ولس ته څو تاوان نه رسيږي.

## د ژورناليزم ژبه

د بل هر مسلک په پرتله په ژورناليزم کې د ژبې سمه کارونه مهم ځنډل کيږي. ژبه د خپل پيغام بل ته د رسولو يوه وسيله ده. ژورناليست خلکو ته خبر او معلومات ورکوي او دا په هغه ژبه پکار وي چې اورېدونکي، کتونکي يا لوستونکي پرې پوهه شي.

## د مرکې پر وخت

د مودب تورود کارولو سره سره په مرکه کې د ميلمه ننګونه يا چيلنج ضرور وي. کله کله يو ميلمه ډېره رسمي ژبه وايي او په پښتو کې عربي، فارسي يا د انګرېزۍ توري کاروي. په داسې حالاتو کې که امکان وي نو له هغه خواست کولی شئ چې د ولس ژبه دې وکاروي. ځينې وخت ژورناليست د يونالوستي کس سره ډېره ادبي ژبه وايي، چې هغه پرې نه پوهيږي او دا ستونزه د ولسي وګړو سره د مرکو پر وخت ډېره پېښيږي. کله کله ژورناليست د هرځواب په پای کې "يو جهان مننه، تشکر" او داسې نور توري کاروي. په دې کې شک نشته چې د پښتنو ټولنه دوديزه ده خو د مرکې پر وخت د داسې تورو کارول يو خو د ژورناليست کمزوري ښايي او بله د راډيو اورېدونکي يا د تلويزون کتونکي ترې بېزاره شي. خبرې رواني خوند کوي او هغه څه چې د خبرو تسلسل ماتوي، له هغې ډډه پکار ده. د ثبت شوې مرکې نه داسې ټولې اضافه جملې او توري ايستل کېدای شي.

## تکراري جملې او توري

ستاسو په نظر.......څه فکر کوئ......ايا .....څرنګه چې... په داسې حال کې چې.....
په يوه مرکه کې دا ډول الفاظو تکرار اورېدونکي او لوستونکي ستړي کوي.همدغسې د ځواب په پای کې "ښه ډېر ښه" په راډيو او تي وي کې ستونزې زېږولی شي.د بېلګې په توګه يو سياسي مشر د انتخاباتو له نتيجو خوشاله نه دی او د خبرو په پای کې وايي، "دا ټوله پروسه له فساده ډکه ده" او ژورناليست ورته سر هم خوځوي او "ډېر ښه" هم وايي.داسې جملې ستاسو د بې طرفه پاتې کېدو

مخه نیسي. یوخبریال مې ولیدو چې دبم د چادنې پر ځای کې یې یو چارواکي نه د وژل شوو او ژوبلو شووحال اخیستو او پخپله یې د جملې په پای کې "ډېر ښه " ویل. د راډیو او تلویزون مرکه کوونکي د میلمه په ځواب که سر وخوځوي نو دا بهتر او غوره وي.

## ژباړه او ترجمه

د یوې اندازې تر مخه د یوېشتمې پېړۍ په سر کې شپږزره نهه سوه ژبې ویل کیږي چې ځیني یې تر اوسه لیکدود نه لري. دا هم یو حقیقت دی چې د یوه ژبه بل ته اړول امکان نه لري ځکه د هرې ژبې دویلو او لیکلو سیستم له بل توپیرلري. مونږ یوازې د یوې ژبې نه مفهوم یا مطلب بلې ته اړوو چې ژباړه نومیږي.په پښتو کې ژباړه د ترجمې متبادل ګڼل کیږي خو د " انټرپریټیشن " لپاره ځینې کسان د ترجمانۍ توری کاروي. دا د یو کس زباني ( شفاهي) خبرې هماغه شېبه په بلې ژبې اړول کیږي. ژباړه د یو راپور، خبر یا د مرکې د لیکلي متن نه په لیکلي بڼه خپریږي.د ژورنالیست د کار یوه برخه ممکن د نورو ژبو نه خبرونو او راپورونو ژباړه وي چې په نړیوالو خپرونو کې هره ورځ کیږي.د ژباړې خپل شرایط دي.

۱. ژباړونکی باید په هغو دواړو ژبو مکمل حاکمیت ولري چې په کې کار کوي.که څوک له انګریزي پښتو ته ترجمه کوي نو پکار ده چې د انګریزي محاورې سره بلد وي.

۲. د لیکلو نه وړاندې یو لیکلی راپور یا خبر پوره ولولئ او بیا یې ژباړه پیل کړئ.

۳. قاموس یا ډکشنري درسره مرسته کولی شي خو د هر یو توري مانا نشي درکولی. کله کله د یو توري لپاره په بله ژبه کې د یو نه زیات توري وي او که غلط توری وکارول شي نو د جملې مفهوم کې به ناسم وژباړل شي.

۴. د پښتو په شان په نورو ژبو کې هم لهجې شته او د تلفظ ځینې توپیرونه د غلطي ترجمې سبب کېدای شي.

۵. د ژباړې پر وخت لنډې جملې او یوه جمله په څو برخو کې په وېشلو مفهوم واضح کیږي.

۶. هغه توري چې پخپله ژبه کې یې متبادل نه لرئ، په زوره ورته نوي توري مه جوړوئ. په دې به بل ځای هم خبرې وکړو.

د یوې لویې مظاهرې پر وخت پولیسو په خلکو اوبه وشیندلې چې په یو ځانګړې ګاډي کې راوړل کیږي او په انګریزي کې ورته " واټرکینن " توري کاریږي. " کینن " په انګریزي کې توپ ته وایي. یو

کس هغه ګاډی " د اوبوتوپ " په نوم وژباړلو او خبرونه يې لوستل. مشر ورته په قهر و چې که په تلويزون يې د مظاهرې راپور ليدلی وای نوهغه ګاډي ته به يې توپ نه وای ويلی.د ژورناليست لپاره دژبو د علم نه پرته له پېښوځان خبرول هم ضرور دي چې د راپورونو په ژباړه کې ورسره مرسته کوي.
په هغو ټولنو کې چې د يوې نه زياتې ژبې په کې ويل کيږي ډېر الفاظ د ژباړو د لارې په ژبه کې راغلې وي.ښه خبره دا ده چې د هغې ژبې ويونکو نه د توري اصلي مانا وپوښتل شي. يو ژورناليست د دې جملې ژباړه وکړه چې د برتانيا وزيراعظم ټوني بلير د بوش کوکرې ( کوترې) دی. په انګريزي کې د کوکري لپاره د " پوډل " توری کاريږي اوپه لويديځ کې خلک يې بد نه ګڼي. مانا يې دا وه چې برتانيا خپله تګلاره نه لري او څه چې امريکا ورته وايي هم هغسې کوي.
په انګريزي ژبې کې " واچ ډاګ " هغه سپی وي چې خپل بادار ته د خطر پر وخت په غپا خبر ورکوي. دا يوه محاوره هم ده او د داسې کس لپاره کاريږي چې په هر څه يې نظر وي اوکه څوک غلط کار وکړي نو خلک پرې خبر وي.په کابل کې د ژورناليستانود روزنې په يوکورس کې د ايرلينډ يوې ښوونکې وويل چې ژورناليست لکه د " واچ ډاګ " په شان وي. د هغې د ژباړونکي ژبه بنده شوه او حيران ولاړ و چې څنګه پنځلسو ژورناليستانو ته " څارونکي سپي " ووايي.زه هم هلته وم نو هغې ښوونکي ته مې وويل چې په دې ټولنه کې چا ته "سپي "ويل ښکنځله ده نو د "واچ مين "(څارونکی سړی) به بهتر وي. خو هغې له يې خوند ورنکړو چې " واچمين " هغه مفهوم نه ورکوو چې دې غوښتو.
په ډېرو ځايونو کې ممکن تاسو خپل الفاظ او جملې په دې توګه وليکئ چې په مفهوم يې خلک پوهه شي .

## سکرپټ ليکل

سکرپټ يا متن ليکل د ژورناليزم يو مهارت دي او تکړه ژورناليست هماغه وي چې راپور، خبر اومضمون پخپله ليکلی شي. په تيلويزون او کله کله په راډيو کې د وياند لپاره نورو خلکو سکرپټ ليکلی وي. ددې د ليکلو پر وخت ځينو ټکو ته پام کول پکار وي.

## وېره او انديښنه زيږول

د ډېرو معلوماتو او د حقایقو د بیانولو په جوش کې ځینې ژورنالیستانو نه هېرشي چې د یو خبر ژبه په خلکو کې وېره او اندېښنې زېږولی شي.خلکو ته خبرداری ورکول او په هغوی کې وېره پیدا کول دواړه توپیرلري.که د موسمیاتو اداري د یوې سختې سیلۍ وړاندوینه کړې ده نو تاسو د هغې خبر د لیکلو پر وخت ممکن دا خبرداری ورکړئ چې " که ترکاري یا میوه مو په بام د اوچولو لپاره ایښي دي نو راټول یې کړئ " خو دا ویل چې کورونو ته دزیان خطردی، یا سیلۍ به ونې له بیخه وباسي، د هغو معلوماتو نه ډرامه جوړوي.که په یو ځای کې د کولرا یوه پېښه شوې ده نوپه خبر کې دا لیکل اندېښنې پیدا کولی شي چې کولرا ژر خپرېږي. د کولرا د مخنیوي لپاره ممکن تاسو د یو ډاکټر یا د روغتیا پال سره خبرې وکړئ چې نورخلک باید څه وکړي. د راډیو اورېدونکي ماشومان هم وي او په هغوی کې وېره او اندېښنه زېږول غیر اخلاقي کار دي.

## ستېریو ټایپ

د انسانانو یا د یوې ټولنې په اړه مونږ کله کله یوه عمومي مفکوره لرو او په هغې باورهم وکړو. د بېلګې په توګه زمونږ د ټولنې ځینې خلک په دې باور دي چې د سپین پوست " لرونکي ( اروپایان ) هوښیار خلک وي، پنجابیان هره ورځ دال خوري او یهودان پېسې راټولوي. که داسې خبره د یوې ډلې لپاره ریښتیا هم وي، نو هلته به ځینې خلک داسې هم وي چې ددې مفکورې په چوکاټ کې نه راځي.دا هغه ستونزه ده چې په هره ټولنه کې شته او د تعصب ښکارندویې وي.د پښتو محاورو او متلونو کې یې څو بېلګې شته دي لکه " د اصل نه خطا نه وي " مانا هغه کس چې په خټه د لوړې کورنۍ وي، غلطي نشي کولی. دا خبره هیڅ حقیقت نه لري او بله د " اصل " تعریف هم څوک نشي کولی.زمونږ د ژبې نورې داسې جملې، لکه "ښځې ناپوهې وي، یا د لوړسړي عقل په پوندو کې وي، کلیشه یي جملې دي چې که کوم د ژورنالیست په خپل راپور، مرکه او خبر کې یې کاروي د هغه پر ناپوهی دلالت کوي.

په خبري پروګرامونو کې دداسې ډول متلونو او " ستېریوټایپ " لپاره هیڅ ځای نشته.په تفریحي پروګرامونو کې یو چا که په مرکه کې داسې خبره کړې وي نو تاسو دا د حقایق په توګه نشئ خپرولی. یوه بېلګه یې د لویدیځ ځیني مطبوعات دي.جرایم په هرې ټولنې او ملک کې کیږي. خو که په لویدیځ کې یو مسلمان جرم وکړي نوترڅو چې د " ترهګرو " سره یې اړیکې ثابتې نشي، د حقایقو قتل روان وي.

## بې خونده الفاظ

په تېرو پاڼو کې مو په دې خبرې کړې وې چې ځينې توري که څه هم يو حقيقت په ګوته کوي، که ټولنه يې په اورېدو يا په لوستلو د کرکې احساس وکړي نو هغه بې خونده وي. ښکنځلې، ښيرې ( ښيراوې) او د يو عيب ذکر په ملنډو کول بې خونده وي. کله کله ځينې ژورناليستان ددې لپاره چې د وينا کوونکي ريښتوني احساسات وښايي، هغه توري له مرکې يا راپور نه، نه وباسي چې په کې بدې ردې ويل شوي وي.داسې توري په اصل کې د مضمون په متن يا مانا څه اغېز نه کوي.

په پښتو کې د بدن د ځينو غړو لپاره داسې توري کارېږي چې هغه ښکنځلې وي.د تعليمي پروګرامونو جوړونکو لپاره دا يوه معما وي چې څنګه خلکو ته پوهاوی ورکړي بې له دې چې څوک پرې ناراضه شي. همدغسې د جنس په اړه خبرې کول د راډيو د لارې ګران وي ځکه هر څوک يې اورېدای شي خو دا ممکن په ورځپاڼې يا په مجلې کې يو څه په اسانه وليکل شي. زيات وخت طبي نومونه د خلکو لپاره د منلو وړ وي ځکه ډاکټران دا توري کاروي. خو دلته بله ستونزه دا وي چې بيا د ولس ډېر وګړي په هغه ساينسي جملو نه پوهيږي. د ژبې په کارونه کې قانون هم په نظر کې ونيسئ. د بېلګې په توګه د بډو يا د رشوت توري ممکن په قانون کې يوه مانا ولري او په ولس کې بله. جنايت، قتل، بې پته کول، زبرزنا، جنسي تېری او داسې ډېر نور توري په قانون کې خپل تعريف لري او د يوې قضيې پر وخت به هماغه کارول کيږي.

په پښتو کې د معيوبينو لپاره چې کوم توري کاريږي هغه کله کله د چا د سپکاوي لپاره کاريږي.د بېلګې په توګه " ړوند يا ړنده " د پښتو سوچه توري دي خود سکرپټ ليکلوکې مونږ د " نابينا " توري کاروو. د پک يا ګنجي، چېړا( هغه چې په خبرو کې يې ژبه بنديږي) ګونګي، کاڼه، ګوډ، شل شوټ او داسې نورو لپاره متبادل توري څه دي؟

## د کرکې او د نفرت الفاظ

که ژورناليست هر څومره بې پرې پاتې کېدو هڅه وکړي، ځينې خبرونه دده احساسات هم راپارولی شي.د انسان په حيث مونږ د هرې ورځې د پېښو نه بې تفاوته نشو پاتې کېدای.مرګ ژوبله، د انسانې غړو ليدل، د بمونو او د ګوليوغږ د هر انسان په حواسو اغېز کوي.د بېلا بېلو انسانانو غبرګون هم توپير

لري. یو کس به خاموشه وي، بل به په قهر او درېیم کېدای شي په ژړا شي. کله کله ژورنالیست ددې احساساتو تر اغېز لاندې چې خپل سکرپټ لیکي نو لوستونکي یې په الفاظو کې لوستلي یا اورېدلی شي. دلته د پښتو وېبپاڼونه یو څو بېلګې مې رااخیستې دي.

١. "زمونږ د استخباراتو په سترګو پردې خورې دي او دغه سترګه له چخو او خځلو ډکه ده، ټول لګیا دې زمونږ سترګو ته خاورې راشیندي او نظام هم لاس نه لري چې خپله سترګه پاکه کړي ".

٢. "..... ځکه د کرزي د غضب په جهنم کې خو مونږ د افغانستان دننه له نژدې دېرش میلیونه وګړو سره سوځو؟ آیا زمونږ د دوزخیانو درد مونږ خپله ښه درک کولای شو او که د اروپا او امریکا اجنتیان؟ "

٣. "... د مخکنیو اندېښنو سره سم چې په پنځو کالو کې به دغه پوهنتون په بشپړه توګه تنظیمي پوهنتون وي، دا دی دغه اندېښنه د رباني خان زوی په واقعیت بدله کړه او خپل پلان یې ښه بربنډ کړ...... "

خپله کرکه او مایوسي په الفاظو کې راوستل د راپور نه زیات په تبصره، انشایه ( کالم) او مضمون کې زیات ځای لري.خو " بې خونده ژبه " بیا هم د منلو وړ نه وي. داسې الفاظ د مضمون په متن هېڅ اغیز نه کوي خو په لوستلو ممکن د خینو خلکو په زړه کې نوره کرکه او یا مایوسي پیدا کړي. دداسې متن د لیکلو نه وروسته پکار ده چې لیکوال د یو ساعتونو لپاره لیکنه پر ځای پرېږدي او وروسته یو وارې بیا ورته کتنه وکړي. د خپرېدو نه وړاندې هغه جوش او کرکه چې لیکوال یې احساسوي، وروسته نه وي پاتې. نو داسې لیکنه ولې د نورو د تکلیف سوب شي.

## صفتي توري

دا هغه توري وي چې د یو کس یا د فعل ښه او بد په کې بیانیږي. لکه چې د تاریخ په لیکلو کې د صفت توري نه کاریږي، په ژورنالیستکي لیکنه کې " صفت " ځای نه لري. دلته د یو مضمون یوه جمله د بېلګې په توګه مو رااخیستې ده. "

ملاله نورنو لکه یو د پوهې، صداقت او میړانې تاریخي مشعل وګرځېدله. د ملالې مفکوره، مبارزه او فعالیت به تل په افغانانو کې لکه سره لمبه توده او روښانه وي. که ملاله لکه شمعه په خپلو وینو کې

وتپیدله او وسوځېدله، مگر په خپل شتون اوسرو وینو یې ټوله سیمه روښانه کړه. اوس د پښتنو په غیرت، همت، پښتونولي او میړانه پورې اړه لري، چې د خپل ټبر د خپلواکي او د ظلم نه د ساتلو لپاره څه کوي.

دې ته ورته لیکنې ممکن د یو کس احساسات څرگند کړي خوهغه کس چې مضمون د معلوماتو لپاره لولي، له دې جملو څه گټه تر لاسه کوي؟

## ټوکې او ملنډې

د یو تفریحي پروگرام وړاندې کوونکو به یو بل سره ټوکې کولې چې پروگرام پرې خوندور شي. یوه ورځ یې دا ټوکه په ژوندۍ خپرونه کې وویله. "یوې بدرنگې ښځې د واده په دویمه ورځ له مېړه پوښتنه وکړه چې په سخرگنۍ کې له چا چا مخ پټ کړم؟ مېړه ورته وویل، بس ما ته مخ مه ښکاره کوه، نوره دې خپله خوښه ده " ډېر خلک ممکن دا ټوکه ساده وگڼي خو په یوه ټولنه کې هم ټول خلک ښکلي نه وي او بله دا چې هر کس د ښکلا خپل معیارلري. دربیمه دا چې یو کس هم دا توان نه لري چې د زېږېدو پر وخت خپل شکل یا د پوستکي رنگ پخپله خوښه بدل کړي.( په پلاسټک سرجري ممکن ځینې شیان بدل شي) ددې ټولو اخلاقي خبرو سره سره دا ټوکه د ښځو د سپکاوي اړخ لري چې ممکن سړي یې احساس نه کړي.

ټوکه یوه ساده او بې ضرره خبره وي چې خلک یې په اورېدو وخاندي، ملنډې د چا د سپکاوي لپاره وي چې که د یو کس په شخصیت وخاندئ خو هغه د شرم یا د خجالت احساس وکړي. د ملنډو خبره ممکن د ډېرو خلکو د خپگان سوب شي.تاسو د خپلو ملگرو په یوه ډله کې چې کومې ټوکې کوئ ممکن هغه د نورو د پاره د اورېدو یا د منلو وړ نه وي. ستونزه په دې کې ده چې که خبر نه یئ چې څوک به پرې خفه شي یا خوشاله نو هغه خبره مه خپروئ.

د تفریحي پروگرامونو جوړوونکو لپاره لار ښوونه دا وي چې نژادي او مذهبي ټوکو د خپرولو نه دې ډډه وشي. هغه ټوکې چې د چا د عیب په اړه وي او جنسي ټوکو د خپرولو نه وړاندې خپل ایډیټر سره مشوره وکړئ. د سکرپټ په لیکلو کې یا ساتئ چې وروستۍ جمله به څه وي چې خوندور وي.دې ته په انگریزي کې " تهرو اوي لاین " وایي. زیات وخت دا په سکرپټ کې نه وي. تاسو که په راډیو

www.safiahaleem.com

اوربدونکي الفاظو او جملو ته ډېر پام کوي او هغه جملې هم د هغې لهجه او ستاسو د غږ په تمسخر پوهیږي.

## معیاري ژبه

د ژبې د معیاري کولو لپاره مطبوعات ډېرمهم رول لوبوي. د هرې ژبې میډیا د معیاري ژبې څو اصول ټاکلي وي.د بېلګې په توګه عربي ژبه د شلو ملکونو رسمي ژبه ده او د هر یو ملک په مطبوعاتو کې هماغه کلاسیک ( ادبي) ژبه کارول کیږي چې دقران کریم ژبه ده.د تونس او مراکش خلک پخپلو کې چې کومه عربي ژبه وایي په هغې د سوریې یا د عراق خلک ممکن پوهه نشي ځکه په هغې عربي کې فرانسوي او بربري ( قبایلي ) توري ګډ شوي دي. خو د تونس او د مراکش تلویزون، راډیو او د ورځپاڼو ژبه کلاسیکي عربي وي.د بي بي سي د عربي څانګې ځانګړتیا په دې کې ده چې کله د کار لپاره د عادي مرکې او ازموینې نه علاوه یوه ازموینه د عربي ژبې هم وي. دژورنالیست لپاره په کلاسیکه عربي کې لیک لوست ارو مرو پکار وي. که څوک وغواړي چې په مطبوعاتو کې کار وکړي نو کلاسیکې عربي زدکړې ته اړوي. یو وخت د انګریزي ژبې همدا حال و. یوازې هغو خلکو په مطبوعاتو کې کار کولی شو چې د انګریزي ادبي ژبه به یې زده وه.

آیا دا کار په پښتو کې کېدای شي؟

د یوېشتمې پېړۍ په سر کې هغو پښتو چې ډېرو نویو خپرونو ته لاره جوړه کړه مونږ په لنډه موده کې څو نوي ژورنالیستان په کار ولګول. دچټکو روزنو لپاره مې د ځانګړو کورسونو ته ورواستول. یو کس درې میاشتې کار وکړو نو یوه ورځ مې کېنولواو د کار په اړه مې دده خبرې واورېدې چې که ستونزې وي نو حل یې کړو. هغه راته زړه نا زړه خبرې کولې او بیا یې وویل " ډېر معذرت غواړم، ما د کله راهیسې چې "دلته " کار پیل کړی دې، خپله پښتو ژبه رانه هېره شوه "

دا هغه ستونزه ده چې د پښتو ژبې هر ژورنالیست ورسره مخ کیږي، ځکه د پښتو هم لکه د نورو ژبو، سیمه ایزې لهجې او ډولونه لري او هر کس غواړي چې دده لهجه دې معیاري او رسمي وګڼل شي.نورو بیا ددې د سوچه کولو په کمپاین لاس پورې کړی دی او که څوک خبرې کوي نوپه نیمایي کې یې وترټي چې دا د پښتو توری نه دی.یوه ډله کسان چې اوس په بهر ملکونو کې ژوند کوي او درې څلور

www.safiahaleem.com

ژبې يې زده کړي دي، په دې غم کې دي چې پښتانه دې يوازې پخپله ژبه کې تعليم وکړي، که نه پښتو به ختمه شي.

که څوک په يوې سيمې کې ډوډۍ ته "مړۍ" يا ونې ته "درخته" او ښايسته ته "خشته" وايي نودا د ملنډو او د ټوکو نه پرته د يوې سيمې مروج توري دي چې په لارو کوڅواو کورونو کې يې هره ورځ په زرګونو خلک کاروي او پرې پوهيږي.د پښتو ژورناليست بايد ددې ټولو لهجو نه خبر واوسي ځکه د مرکو پر وخت د هر ډول خلکو د ژبې او لهجې سره مخامخ کيږي. زمونږ ستونزه دا ده چې ښه نوميالی ژورناليست به وي او په خلکو کې به نوم هم لري. خو کله چې يو ناشنا توری واوري نو سمدلاسه پرې ملنډې وهي او مخالفت يې پيل کړي چې دا د پښتو توري نه دي او "مونږ خو چرې په ژوند دا توری نه دی اوريدلی " پوښتنه دا ده چې " ښه اوس خو دې واوريدو، څه پرې کوې؟ " د پښتو نه يې وباسې؟ منې يې؟ که کاروې يې؟

نوې ټکنالوژۍ که يوې خوا ډيرو خلکو ته د ليکلو اسانتياوې ورکړې دي نو بلې خوا ستونزې يې هم زيږولي دي.د پښتو ويبپاڼو او د فيسبوک کاروونکو ليکنو ته چې وګورئ نو ښايي لوستل لږ او ليکل ډير شوي دي. ځينو وېبپاڼو په لوی لاس د املا په بدلولو لاس پورې کړی دی او دليل يې دا دی چې ځوانان خپلې ژيې کې خبرو او ليکنو ته مات کړي.دوی طالب په تاليب، شاه محمود په شامامود او مجاهد په موجاهيد اړولي دي. يو کس چې داسې املا يې ليکلې وه، دليل يې راکړو چې مونږ غواړو پښتو د عربي تورونه پاکه کړو.ځينې نور د ژبې د ولسي کولو لپاره خلک په "خلګ " او زراعت په "زرات " ليکي. نور ددې د ادبي کولو لپاره ستونزه، په ستونځه او کيسه په قيصه ليکي.

په تېرو دېرشو کالو کې د پښتو ميډيا څه نا څه د تورو او اصلاحاتو په معياري کولو بريالۍ شوې ده.د ژورناليست دنده دا ده چې پخپل کار کې هر څومره کولی شي، ساده ژبه دې وکاروي. د يو ملک مشر د خپل ولس سره د هغوی د پوهې په کچه خبرې کوي او چرې هم دومره لوړه ادبي ژبه نه وايي چې څوک پرې پوه نشي.دا د ژورناليست لپاره يوه بيلګه ده او مهم کار خو دا دی چې خلک پخپله خبره پوه کړې او خپل مطلب ورته سم او پوره ورسوي.

**په تفريحي ښه معلومات او زدکړه ورکول، لا د خپرونو خوند زياتوي**

# د ليکوالې په اړه

صفيه حليم په پښتو او انګريزي ژبو کې د شپاړلسو چاپ شوو کتابونو ليکواله ده.څېړونکې او ژورناليسته صفيه حليم په پېښور کې زېږېدلې ده او لوړې زده کړې يې هلته او په سکاټلينډ کې کړې دي. لس کاله ښوونکې وه او بيا يې د ژورناليستې په توګه د بي بي سي له پښتو څانګې سره پوره شل کاله کار وکړ. د سيمې له بېلابېلو شمېره سياسي او غير سياسي شخصيتونو سره يې مرکې کړې دي. افغانستان او قبايلي سيمو ته يې سفرونه کړي او په اړه يې نه يوازې راډيويي راپورونه او پروګرامونه چمتو کړي،بلکې د دغو سيمو په تړاوو يې يو لړ ليکنې هم کړې دي. هند، ترکيې، مصر، چين، امريکا، ايران او د اروپا د يو شمېر هېوادونو په ليدو يې د نورو تولنو حالت هم ليدلی او سفرنامې يې ليکلې دي..



په ۱۹۹۴ کال کې د بي بي سي د پښتو څانګې مشره وټاکل شوه او لس کاله پر دغې دندې پاتې شوه،په ۲۰۰۳ کال کې د دريو مياشتو لپاره هند ته ولاړله او دغلته يې پر مېشتو پښتنو څېړنه وکړه او د راډيويي پروګرامونو ترڅنګ يې پر هندمېشتو پښتنو څېړنيز کتابونه هم وليکل.

په ۲۰۰۴ کال کې د افغان ژورناليستانو د يوې روزنيزې پروژې مشره وه،او د يوه کاله په ترڅ کې د هېواد په بېلا بېلو ولايتونو کې څه باندې دوه سوه ژورناليستان وروزل.

اوس يې په بي بي سي کې دنده پرېښې ده او د خپلې سيمې د تاريخ په اړه پر ليکنو او څېړنو بوخته ده.

د صفيه حليم پښتو چاپ شوي اثار : ( اګست ۲۰۱۶ )

1. د سندباد اووه سفرونه (د ماشومانو ادبيات)ـ ۱۹۹۳ ـ
2. نيمګړی انځور (لنډې کيسې)ـ ۱۹۹۹ ـ

www.safiahaleem.com

3. ښکلی کتاب (نثر)ـ ۲۰۰۱ م ـ
4. زبېښاک (ناول)ـ ۲۰۰۲ م ـ
5. د ډېوې په غېږ کې (لنډې کیسې)ـ۲۰۰۳ م ـ
6. د نړۍ ولسي کیسې (نړیوال ادبیات)ـ ۲۰۰۵ م ـ
7. دنیا (ناول)ـ ۲۰۰۵م-
8. ښایست (لنډې کیسې) ـ ۲۰۰۷م -
9. د هندوستان پښتانه (بهوپال) (څېړنیز)۲۰۰۸ م
10. د هندوستان پښتانه (مالیر کوټله) (څېړنیز) ـ ۲۰۰۹م-
11. د هندوستان پښتانه (بهار) (څېړنیز) ـ ۲۰۱۰ م-
12. د هندوستان پښتانه (باره بستي) (څېړنیز) ـ ۲۰۱۱م -
13. ژورنالیزم (پوهنیز)ـ چاپکال ـ ۲۰۱۳م -
14. سواستو (ناول) ـ ۲۰۱۳ م -
15. د هندوستان پښتانه (روهېلکهنډ) (څېړنیز) ۲۰۱۴ م –
16. دوه کتابونه ( لنډې کیسې)
17. ټیپو سلطان او شاه زمان (تاریخ)
18. عجب خان اپریدې (تاریخ)

آنلاین کتابونه

1.افغانستان ته د لومړي انګریز سفر(څېړنیز) (۲۰۱۳)
2.زنداني نبمر ۱۵۵۵۷ (۲۰۱۴)
3.د لوی لوبې لوبغاړي (۲۰۱۴)
4.کیم –ژباړه (۲۰۱۲)
5.اولیور ټویسټ- ژباړه ( ۲۰۱۲)
6.د مونټې کرسټو نواب- ژباړه ( ۲۰۱۲)
7.وسلې ته مخه ښه- ژباړه ( ۲۰۱۲)

www.safiahaleem.com

8.غرور او تعصب- ژباړه ( ۲۰۱۲)

9.غمژن نسل – ژباړه ـ( ۲۰۱۲)

10.ترسلو کالو یواځې- ژباړه (۲۰۱۲ م)

11.ربیکا- ژباړه ( ۲۰۱۲ م)

12.کیمیاګر- ژباړه (۲۰۱۲ م)

Books in English

1. Visuals for Language Teaching, Longman, UK
2. Culture Smart! Pakistan

www.safiahaleem.com

www.safiahaleem.com

# Journalism


Author:
Safia Haleem